# اووه ګامه مزل

( يُونليک )

دَ سياحتي هر اړخېزه سېل او دَ پښتون سېلاني دَ ادراکي مشاهدو په رڼا کې...
( دَ ملائيشيا ، سنګاپور ، تهائي لېنډ ، ايران ، ترکي ، سري لنکا او دَ انډونيشيا سفري حال )

---

# افضل شوق

Ketabton.com

له اړخه دَ

سکام ادبي اکېډمۍ کوئټه

ketabton.com - The Digital Library

# حقوق محفوظ


| | |
|---|---|
| کتاب | اووه ګامه مزل |
| لیکوال | افضل شوق |
| کمپیوټر آپرېټر | محمد طارق فېروز |
| لاسي عکسونه | میرا جان ( ژوب ) |
| ټائیټل | ډاکټر باقي دُرانی |
| دَ مصنف لاسي عکس | مارسېلا ډیخا ( بارسلونا - سپېن ) |
| دَ چاپ کال | جولائي ۱۹۹۲ع |
| دَ چاپ شمېر | ۵۰۰ |
| خپرونکې اداره | سکام ادبي اکېډمی کوئټه |
| بهیه | ۲۰۰ کالداري |

سمسو ر ویب پانې پېنځم کلیزي په ویاړ

ketabton.com - The Digital Library

# انتساب دَ کتاب ( دَ کتابي برخې)

زړه ته راتېر ملګري او جدید پښتو شاعر ښاغلي سهېل جعفر په نوم

## انتساب دَ کتاب ( دَ برېښنائي برخې )

دَ هر هغه پښتون په نوم ، چې نه یوازې ځان دَ پښتو په تول درنوَي ، بلکې دَ پښتون قام دَ سرلوړۍ په نېک نیت ځانته په انساني نړۍ کې ځانګړې بڼه غوره کولو په خاطر خپل فکري ځغل دَ علاقایت ، مقامیت او مکانیت له محدودو رُجحاناتو او سوچونو څخه دَ لا محدود انساني نړئیز آفاقیت په لور ساتل خپل پښتني ننګ ، پت او اصل مرام ګڼي –

افضل شوق

ketabton.com - The Digital Library

# مننه ...

- دَ خپل محترم اُستاد رب نواز مایل ، چې دَ هغه دَ راهنمائي په سوب زه نن شاعر او ادیب یم –
- دَ ابراهیم عطائي ، چې دَ ځینو تاریخي حقائقو وضاحتونه یې راته وړاندي کړو –
- دَ ډاکټر خدائیداد خان ، چې نه یوازې یې په سُوچه پښتو لیکلو وَ پارَولم بلکې کومک یې هم راسره وکړو –
- دَ طاهر آفریدي ، چې ماته یې نه یوازې دَ سفرنامې لیکلو مشوره راکړه بلکې دَ چاپ کولو وعده یې هم راځخه واخیسته –
- دَ سعید گوهر ، چې گټَورې مشورې یې راکړې –
- دَ سهېل جعفر ، چې په گټَورو مشورو باندې یې زه نن دَ دې کتاب خالق کړم –
- دَمحمود ایاز ، چې دَ کتاب په پروف ریډنګ او چپائي کې یې کومک راسره وکړو
- دَ محمد طارق خان فېروز ، چې په ډېره مینه او اخلاص یې دَ دې کتاب کتابت په کمپیوټر وکړو –
- دَ میرا جان ، چې په ډېره مینه یې دَ دې کتاب دَپاره لاسي عکسونه جوړ کړو –
- دَ ډاکټر باقي دُراني ، چې دَ کتاب دَ ټائیټل په جوړَولو یې زما دَ دغه یُون لیک مسوده درنه کړه –
- دَ رامبلاس سټریټ بارسلونا سپېن نامتو مصورې مارسبلاډیخا ،چې دَ کتاب دَبېک ټائیټل دَپاره یې زما عکس په لاس جوړ کړو –
- دَ سید محمد انور شاه ، چې هر قسم تکنیکي کومک یې راسره وکړو –

ketabton.com - The Digital Library

# فهرست


- څو خبرې ---
- دَ سهېلي لمر ختيځې اېشيا په زړه کې
- دَ مونکي ګاډ په جنت کې
- دَ تهائيانو په کرانګ تهيپ کې
- هلته... چرته چې سترګې ژغېږي
- دَ جمال په دُرشل کې
- دَ جنت څخه لرې جنت
- هلته لمر دَ شپې راخېږي
- خوب مې ليدو ... خو ، ويده نه وم
- له ښکلا څخه تر ښکلا پورې
- دَ سېلاني په خير... خپل ځاني سفري تاثر

ketabton.com - The Digital Library

# ستا خدائي نه شوه بربنډه

چې مې زړه غواړي الوت ته
نو ، لاسونه مې وزَر شي
او په بڼه دَ مارغه شم
دَ هوا په اوږو کښېنم
او آسمان ته په ختو شم
بيا چې څو په ما کې وَس وي
الوځمه
الوځمه
هن تر دې ... چې ستړی شمه
او وزَر مې دواړه شل شي
بې وسي راسره مل شي
هم په سترګو تياره راشي
هر څه زما وړاندې فنا شي
په فضا کې معلق شم...
په دې خيال ، چې
لويه ربَه !
څونې پورته دی ،
دا عرش ستا
دَ انسان له خاورين فرشه ،
چې مزل کې دَ پېړيانو
فاصله نه شوه رالنډه
ستا خدائي نه شوه بربنډه

ketabton.com - The Digital Library

# څو خبرې ...

دَ نقشې له رُویه دَ انسانانو دَ پاره جوړه شوې دغه نړۍ چې په وړو او غټو ټاپُوګانو باندې اړه لري ، که یوې خواته په یوه لمر روښانه ده نو بلې خواته دَ جوړښت، رنګونو او موسمونو په اړه ځای ځای بدله او ځانګړې هم ښکاري - دا توپیر څله تر منځ راغلی دی؟ ... ولې دَ یوه ټاپُو انسانان دَ بل ټاپُو دَ انسانانو څخه ، نه یوازې په ښکاره کړو وړو اه په ګوُنو بدل بدل دی بلکې په سوچ او فکر ، خوُی او بُود ، ژبو او ژوند کولو کې بېخي ځان ځانته... چرته په ازل کې دَ ژوند وندې وېښلو په وخت زه او زما په چاپېر کې راغونډ کړل شوي انسانان تش په ژوند ( دَ ساه په اړه ) راسپارلو خو نه یُو غولول شوي ؟ که هو.. نو بیا دَ پرون په مقابله کې نن موږ څله دَ اخلاق او کردار په اړه ، نه یوازې خپل غوره حېثیتونه بائیلو بلکې دَ پرمختګ تعمیري جذبه او دَ نورو قامونو سره دَ مثبتې سیالۍ کولو سوچ هم نه لرو - که یَه... دا سې خبره هم نه ده ، ګوا انسان په فطرت یو رقم دي او ټول ټال له خاورو څخه جوړ شوي دي .. نو بیا دا خبره مزغو ته راځي چې څله بیا زموږ دَ هوارو او ډبَرینو سیمو خلګ په تېره پښتانه دَ نړۍ دَ نورو قامونو په سر هیڅ ګڼل کېږي ؟

هو .... دا هغه سوچونه دي ، چې زه یې په شاعر ځان سپلاني کړم – اوس شاعري په خپل ځای ، خو پښتني هوډې زه په دې خبره مجبوره کړی یم ، چې دَ څلورنیمو ورځو په دې بې باوره ژوند کې دَ خپل مانده وَس په سمه هغه ټولې بندې دروازې خلاسې کړم ، چې له مودو راهسې په ټکولو په یو بل باندې ځکه نه شوې راخلاسي چې تر منځه روابط نه لري - چرته رواجونه دَ لارې خنډ جوړ شوي دي ... چرته نسلي او لساني توپیر منځ ته راغلی دی او چرته مذهبي کرَ کې ... لارې تر منځ جوړې دي ، خو دَ خورو ازغو او ځیژو کاڼو سره سره دومره دېوالونه په کې ولاړ دي ، چې دَ دوؤ ګامونو لاره به مزل لنډَولو کې نیم عمر

ketabton.com - The Digital Library

خوُري – کرَکه څله .... محبت څله نه ...؟ کېدلی شي ، دَ دې خبرې ځواب هم هغه وخت وَمومم چې کله زه دَ نړۍ په ورستني ټاپُو باندې ګامونه کښېږدم... منم چې کار ګران دی او دَ دې خارمږي ژوند هم هیڅ نه ده معلومه ، چې کله رسیۍ وَشلوي – خو بیا مې هم په خپل سر دَ زړه سره داقول دی ، چې وَس به تر آخري ساه پورې نه ورڅخه ګرانوَم - او خدائی پاک دې وکړي ، چې په خپل دې نېک مشن کې بریالۍ شم –

په " اووه ګامه مزل " نامې سفرنامې کې چې ما دَ لیکلو کوم اسلوب خپل کړی دی ، هغه دَ یو عام سېلاني دَ طرزِبیان څخه بېل په دې وجه دی چې زه له اصله شاعر یم - او شاعر دَ ژوَر نظره سترګو لرلو پرته که دَ مصلحت څخه کار نه هم اخلي ، خو ذوق یې بیا هم شاعرانه وي - ګوا حقائق هم په افسانوي او ډرامائي انداز څېړي - نو ځکه ما هم وَس کړی دی او هغه ټولې پېښې او خبرې مې په ښکاره ، مګر په شاعرانه انداز نوشته کړي دي ، چې زه ورسره مخامخ شوی یم او یا په ما باندې راغلې دي - زما په فکر، که لوستونکی وَغواړي نو دَ سېل دَ حال احوال سره سره په ما باندې راغلو پېښنو په رڼا کې دَ هغو هېوادونو په حقله خپلې رائیې هم غوره کولی شي ، کوم چې ما ببخي دَ نېږدې څخه لیدلي دي –

دعوه نه کوم ، خو دا به وَوایم چې په دې سفرنامه کې دَ لیدل شوؤ هېوادونو په حقله ما ځینې داسې تاریخي او معاشرتي حقائق هم راغونډ کړي دي ، چې دَ مخه هیچا کېدلی شي ځکه نه وي څېړلي ، چې په یوه نا یوه وجه به قلم ورسره ملګري نه وي کړې - او ما داسې ځکه کړي دي... ولې ، زه غواړم چې دا نړۍ او په نړۍ باندې خور وور معاشرتي ژوند دَ حقائقو په رڼا کې نه یوازې وَوینم بلکې پښتو لوستونکو ته یې هم وړاندې کړم - مطلب دا ، چې زه اراده لرم ، چې دَ سېل سره سره دَ سېل حالونه ( نبغ په نبغه ) لیکل هم جاري وَساتم-

........ افضل شوق

ketabton.com - The Digital Library

# دَ سهېلي لمرختيځې اېشياء په زړه کې

تاثراتي لنډيز ---

"دَ خبرو تر حده اسلام خو په هر اسلامي هېواد کې شته ، ګوا په جامو مسلمانان او يا دَ شپې او ورځې دَ پرله پسې لمونځونو دَ پاره جوګه په مُوسلو ولاړ مسلمانان .... چې په عملي ژوند کې دَ انسانيت په اړه تول مانده لري - نو وَ به وايم ، چې که دَ سُوچه مسلمانۍ کردار او بې ساري اخلاق خبره منځ ته راځي ، نو دَ ملائيشيا دَ سپېڅلو خلګو ( مسلمانانو ) مثال نه ورکول دَ حقيقت څخه سترګې اړَول دي - مګر دا بېله خبره ده چې دَ دې ځاى دَ خلګو زړَې رواجي جامې څوکه څوکه خپل مشرقي طرز بائيلي او مغربي انداز په تېزۍ خپلوي لګيا دي" ( شوق )

ketabton.com - The Digital Library

# شعرونه

دَ خپل رُوح له اضطرابه
راته دا سې څرګند ېږي
چې هم ته هغه رانې یې
چې دَ زړه له سلطنته
دَ خلوص په قافله کې
زما دَ سترګو تر چوکاټه
هره شپه راوړې وَماته
په ځولۍ کې دېره مینه
او دَ سرو ګلو هارونه ،
خو چې څنګه بیا سهار شي
نو دَ درَستې شپې خوبونه
تېر له تا سره وختونه
په ما وَلیکي شعرونه
( شوق / کوالالمپور - ملائیشیا /۱۹۹۲ع )

---

دَ هوټل ګرېنډ کانټینېنټل کوالالمپور په لویه دروازه چې څنګه ور دننه شوم ، وَ دربېدم ، شاوخوا مې په دې پراخه او ښائیسته غوندې لابي کې وَکتلو او بیا خپل ښي لاس ته جوړ دَ استقبالیې Reception کاؤنټرونو په لور روان شوم - لا نه وم ورته رسېدلی چې دَ کاؤنټرونو تر شا په نیمه خلاسه دروازه کې ولاړې انجلۍ ته مې پام شو ، چې په ما کې یې سترګې داسې اچوَلي وې لکه ما چې پېژني .... او بس چې څنګه کاؤنټرونو ته وَ رسېږم ، نو دا به ژغ راباندې وکړي - ځکه خو مې له اوله ګامونه دَ هغې په لور چسپ شوي ؤ - ژغ یې نه راباندې

ketabton.com - The Digital Library

وکړو ، خو چې تر څو پورې دَ کاؤنټرونو سره جوخت ولاړ وم نو دې راته کتلو - دلته مې دَ خوُنې دَ پاره کارډ کولو ، هلته مې سوچ په دې انجلۍ کې بند ؤ .. او په وار وار مې ورته کتلو هم – خلاص وېښته ، په تندي باندې ټيکه او په ژېړې هندي جامې کې دا سې ښکاره کېدله ، لکه جوړه چې دَ مودو راهسې زما په تمه ولاړه وي - بس که حېرت وړی وم ، نو دې خبرې ته چې ګيرډۍ غنم رنګې څېرې يې حال نه وئيلو - ګوره چې دا اوس زما په رنځ اخته شوې وه او که مې په تن پراخو پښتني جامو ته حېرانه وه - په مزغو چې به مې څومره زور ورکړو ، معامله به هومره کړکېچنه شوه - مګر ناشُوده خو يې هغه وخت وکړو ، چې زه څنګه له دې ځايه دَ لفټ په خوا روان شوم ، نو دې دروازه شاته پورې وهله او دوه ګامه مخته راغله - بيا نه يم خبر چې دې په کاؤنټرونو باندې ولاړو Malay انجونو سره څه خبرې کولې ؟

خبره دا وه ، چې زه په دې فائيو سټار هوټل کې ځکه اوسېدو ته راغلی وم ، چې دَ انټرنېشنل کونسل آن مېنېجمنټ آف پاپولېشن پروګرام ICOMP په څورلس ورځنې نړيوال ورکشاپ کې ، چې دَ زياتې آبادۍ په کشالو باندې ؤ ، دَ پاکستان دَ غړي په توګه مې ګډون په کې درلودو - کوم چې په دولسمه جنورۍ ۱۹۹۲ع ګوا بل سبا سهار پېئيل کېدو - خو دې وخت زه دَ هوټل په ۲۳م پوړ کې په ۲۳۰۱ نمبر کوټې کې ناست په ټېلي ويژن کتو کې بوخت وم ، چې اووه نيمې بجې شاوخوا ته ډاکټر ثريا ابراهيم رشيد نامې ښځې په فون خبرتيا راکړه ، چې نن ماځُستن په اتهه نيمې بجې به دَ ټاکل شوي پروګرام په سمه دَ ICOMP په درنه ډوډۍ کې دَ ګډون دَ پاره له هوټل څخه روانېږو .. او وئيل يې که تاسو مهرباني وکړئ ، څه لس منټه دَ مخه لاندې لابي ته راشئ ، نو ښه خبره به وي - ما ورته وئيل... ̎هو، حتماً به درځم ̎ او بيا په تياري بوخت شوم –

ketabton.com - The Digital Library

څه وخت ورسته زه دَ هوټل په لابي کې دَ ډاکټر ثریا او ځینو نورو دَ ورکشاپ په سلسله کې راغلو ملګرو سره ولاړ دَ سفر حال مې ورته تېرَولو - ګوا داسې دَ کراچۍ څخه تر بنکاک پورې په یَو جهاز کې او بیا له بنکاک څخه تر دې ځایه په بل جهاز کې راغلم - غرض دا چې، څه وئیلي ، څه اورېدلي ، چې څُوکه څُوکه سړي او ښځې ، چې دَ بېلو بېلو هېوادونو سره یې اړه لرله هلته غونډېدل شروع شول -

اتهه نیمې بجې یوه سړي په موړ باندې ژغ وکړو ..." ګاډیانې تیارې دي ، راځئ چې ځو ..."

بیا چې څنګه روانېدو ، نو ګورم چې هغه انجلۍ په هغه نیمه خلاسه دروازه کې بیا هغسې ولاړه او په هغه رنګه راته ګوري.... مګر څله ؟ دا سوال مزغو له ځکه راغلو، چې دې وخت خو زه په پښتني جامو کې هم نه وم - رښتیا خبره دا ده ، چې سوچ مې په کې بند شو او بیا درسته لاره نه شوم پوهی چې څنګه او په کومو لارو وېګنان تر Titi Wangsa نامي ځای پورې وَرسېدو - بس چې له وېګنه کښته کېدمه ، نو لومړی نظر مې په مخامخ دوؤ بورډونو باندې وَلګېدو - په یوه باندې لیک ؤ "نېلایان رېسټورېنټ" او په بل "سلامت دیتانګ" ګوا "ښه راغلې" - دلته داسې ښکاره کېدو ، لکه تر لرې لرې پورې چې مېله لګېدلې وي - په سرو ، ژېړو او شنو بلبونو کې عجیبه غوندې دَ شاعرۍ موسم او دَ مستۍ مُوډ ؤ ، چې څنګه څنګه مخته تلو ، رڼاګانې زیاتېدلې - بیا څه مخته لکه موړ چې کشتۍ ته وَ ختو – ولې چې اوس دَ لرګي په دَړو باندې روان وو او دواړو خواؤ ته اوبه ځرکېدلې – په هر مېز دَ یوه نا یوه هېواد پرچۍ پرته وه - ځان مې دَ پاکستان تر مېزه وَرسَولو ، چې څنګه په چوکۍ کښېنستمه ، نو یو سړي راباندې ژغ وکړو ...

ketabton.com - The Digital Library

"زما نوم نسیم دی ، زه دلته په پاکستانی سفارت خانې کې تهرډ سېکرټري یم"
بیا راسره داسې غاړې وتو لکه زه چې دَ ده سکه ورور وم او حالونه مو یو بل ته سره تېرَول شروع کړو - اوس که یوې خواته ما له ده سره خبرې کولې ، نو بلې خواته مې ګېرچاپېره سترګې هم غړَولې – عجیبه غوندې ښائیسته ځای ؤ ، آسمان خو بالا دَ رېستورېنټ په بام راڅخه پټ ؤ ، لاکن نور هر لور خلاسه خلاسي وه –
کله چې ټول مېلمانه کښېنستو ، نو نورمیان نامې ښځه مخامخ دَ واړه ټاپُو په رنګه جوړ ستېج ته وره غله او دَ " سلامت دیتانګ " وئیلو ورسته په ملې (Malay) ژبه کې دَ هرکلی سندره دَ سازونو سره وئیلو ته چمتو شوه - نور خو نه وربانډې پوهېدمه، بس چې کله یې دَ نړیوال ورکشاپ دَ غړو یعني دَ مېلمنو نومونه یې اخیستلو، نو یو ځل مې خپل نوم هم تر غوږه شو – بیا له دې سندرې ورسته په ستېج باندې ډله ډله انجونې او هلکان چې قامې جامې یې اغوستې وې راغلو او خپل رواجي رقص یې پېئیل کړو - اوس دلته څُلو خواړه خوړلو او هلته سترګو دید کولو ، چې یو وخت مې یوه ښکلې Malay پېغله ، چې کټ مټ دَ شهزادګۍ په بڼه سازه کړل شوې وه دَ سترګو شوه او سوچ مې په کې بند په دې خبره شو، چې هغه شهزادګۍ له یوه مېزه دویم ته او له دویمه دریم ته او دغه رنګه کرار کرار زموږ په خوا را روانه وه - دا یوازې نه وه ، یو کېمره مېن هم ورسره ؤ، چې دَ شهزادګۍ تصویرونه یې دَ هر راغلي مېلمه سره اخیستلو- نو ځکه چې څنګه څنګه یې زما په لور فاصله رالنډَوله ، هومره هومره مې زړه واکې ورته شلولې - بیا چې زموږ تر مېزه راورسېده ، نو کېمره مېن راته وائی ...
"سر ! تاسو مهرباني وکړئ ... دَ یو تصویر دَ پاره له دې انجلۍ سره وَدرېږئ"
څنګه انجلۍ زما لاس په لاس کې واخیستو او څنګه یې دَ ځان سره وَدرَولم ... ؟
نه یم خبر ، خو چې بیرته په چوکۍ کښېنستمه ، نو نسیم صاحب راته وائي ...

ketabton.com - The Digital Library

" ستا دغه تصویر به سبا یا بل سبا سفارت خانې ته رالېږل کېږي "
په ما لکه ګوزار چې وَشي ، له خُلې مې یَو دم ورته وَوتو " ولې ؟ " او اوس به مې لا بدن دَ بېلابېلو امکاني خطراتو له سوبه بَژي نیولو، چې نسیم زما په حالت وَخندلو .. وئیل یې ...
ه پرېښانه کېږه مه - دا دَ انټرنېشنل پروټوکول یوه لازمي برخه ده - ګوا دَ سرکاري مېلمه یوازي ځانته تصویر دَ ریکارډ دَپاره په داسې موقعو کې اخیستل بې عزتي ګڼل کېږي - ځکه ورسره یو داسې شهزادګۍ له څنګه ته درَوي "
دې خبرو مې نه یوازې له ځایه ښوربدلی زړه بیرته په ځای کړو ، بلکې په خپل حېثیت هم پوهی شوم - بیا تر یولس نیمي بجو پورې دَ شپې رنګارنګ محفلونه وو، چې دَ تېږو سترګو تنده یې راماتوَله .. او بیا چې له دې ځایه ولاړېدو ، نو نسیم صاحب راته په کلکه وَوئیل ... چې
" څنګه ورکشاپ په ۲۵مه جنورۍ سرته وَرسېږي ، نو زموږ دَ خوا به ګاډۍ درشي ، او دوې درې ورځې به زموږ په مېلمستیا کې تېرې کړئ "
خدائی شته ، چې دَ ده په دې ستډېر خوشحاله شوم –
*****
دې وخت دَ سهار اتهه نیمې بجې وې او دَ هوټل په رېستورېنټ کې مې خوړل ځیښل کولو ، چې یو سړی دَ خپلې خوا راغلو او " ګوډ مارننګ " کولو سم دستي دَ ما سره په مخامخ چوکۍ کې کښېښنتو ...
" ماته ډاکټر کنول وائي ... زه له انډیا څخه په دې ورکشاپ کې دَ ګډون کولو دَ پاره راغلی یم "
که څه هم ده دا خبره په انګرېزۍ کې وکړه ، خو ما ورته په اُردو ژبه کې په خپله باره کې حال ورکړو - په دغه شناخت زه تر ده او دائی تر ما زیات خوشحاله شو او بیا یو خواته خوراک ، بل خواته خبرې ، چې دَ برایه شپې له تاؤده محفله راپئیل شوې او دَ نن دَ ستې ټوؤر په فېصله حتمي شوې –

ketabton.com - The Digital Library

نهه نیمې بجې زه او ډاکټر کنول ټکټونه په لاس کې دَ Bestasy Travel وَ بس ته وَ ختو - په بس کې څه نور سړي او ښځې هم وې ... بس چې څنګه دَ هوټل له کېټ څخه دَ جالان راجه لاؤت په تور سړک مخته روان شو ، نو دَ ډرائیور شاته سیټ کې ناست ګائیډ څُلې ته مائیک وَنیولو –

" سلامت دیتانګ ... هېواد ملائیشیا ، چې دَ ۱۳ ریاستونو Confederation نوم دی ، آبادي يې دې وخت ۳ ـ ۱۸ ملیونه ته رسېدلې ده - دلته ۵۰ فیصده مسلمانان ، ۳۰ فیصده چینیان ، ۱۰ فیصده هندوان او داسې نور نور مېښته دي - ۹ ریاستونه موروثي باچهان لري او دَ دغو نهو باچاهانو په خوښه هر ریاستي باچا پنځه کاله په ملائیشیا باندې باچهي کوي - کوالالمپور چې دې وخت یې موږ په جالان اسماعیل باندې روان یُو ، دَ ملائیشیا دارلحکومت دی "

بیا چې څنګه دَ جالان اسماعیل او جالان امپانګ دَ چوک څخه تېرېدو ، نو ګائیډ وئیل ...

" دا کینې لاس ته چې کومه ښائیسته ودانۍ تاسو وینئ .. دا ملائیشیا ټوؤرسټ انفارمېشن کمپلېکس دی ، چې لویه دروازه یې جالان امپانګ ته خلاسېږي "

ګائیډ چې په کوم کوم لور زموږ توجه اړَوله ، هلته په جدید طرز جوړې ودانۍ ولاړې وې ، چې دواړو اړخونو ته یې زرغونې ونې او شنه چمنیان ښکاره کېدو - خو ما دَ ګائیډ خبرې هم په ډائرۍ کې نوشته کولې ... وئیل یې ،

" ملائیشیا یو آزاد خیاله اسلامي هېواد دی – دلته مذهبي آزادي ده - که تاسو یو کال دلته تېر کړئ ، نو خپله به وَ ګورئ ، چې دلته دَ مسلمانانو دَ اخترونو پرته چائینیز نیو ائیر ، کرسمس او دېوالي هم په ډېر خوند لمانځل کېږي "

ګائیډ چې څنګه دا خبره سرته وَرسَوله ، نو بس دَ سیګنل په سره لائټ وَدرېدو - دا یو چوک وو او څلور طرف ته روډونه ښکاره کېدو - دَ نوي ماډل موټرانو سره سره موټرسائیکلان هم زیات ښکاره کېدو ، چې جوړه جوړه انجونې او هلکان ورباندې ناست وو - له دې څخه سړی اندازه لګولی شي ... چې ملائیشیا

ketabton.com - The Digital Library

ځومره خپل واکه اسلامي هېواد دی ، چې مينه په کې جُرم نه او مئين په کې واکمن ....

چې بس ځنګه دَ شنګرېلا هوټل سره ورته دغه چوک څخه مخته روان شو ، نو ګائيډ دَ اوبو ګلاس په غاړه اړَولو ورسته خبرو ته يو وار بيا ملا وَتړله ...

" کوالالمپور ته " ګارډن ستي آف لائټس " وئيل کېږي - دې وخت موږ دَ Equatorial Hotel سره تېرېږو او هغه مخته هلټن هوټل دی - نو ما خبره کوله ، چې که په تاسو کې ځوک دا دَ رڼاګانو ښار دَ شپې خواته کتل غواړئ ، نو هغه دي مونږ سره تماس وَنيسي "

دَ دنګو دنګو او ښائيسته ودانيانو په دې ښار کې موږ مخته روان وو ، چې يو وخت ګائيډ وئيل ...

" زموږ ښي لاس ته دا غټ دَ سايه وان په رنګه جوړ ستېډيم نګارا دی - او دا بل چې مخته په څه فاصله ښکاري ، مرداکا ستېډيم دی - او اوس چې موږ تاسو کوم ځای ته وړو ، هلته لېک ګارډن، ورسره نېشنل مونامنټ او بيا آسيان پارک .... درې واړه ځايونه دَ کتو وړ دي "

ښه ډېر وخت ورسته بس دَ نېشنل مونامنټ نامي ځای سره وَدرېدو ، ټول سړي او ښځې دَ بس څخه راکښته شولو او په دې وړه ، مګر ښائيسته غوندې دُنيا کې يوې بلې خواته وَوېښل شولو – ما او ډاکټر کنول هم يو خواته مخه وکړه - دلته دَ يو ښائيسته او غټې ودانۍ پرته دَ فوارو په مابېن کې دَ کاڼو په يو غټ بلاک باندې دَ عسکرانو بُتان دَ اوسپنو څخه داسې جوړ کړل شوي دي ، چې ورباندې دَ بُتانو ګمان لږ او دَ ژوندئيو باور زيات کېدو - دا بُتان په کال ۱۹۶۶ع کې دلته لګول شوي ؤ - او بله خبره دا ، چې دلته ډېر زيات سره او سپين خلګ چې دَ بېلو هېوادونو سره يې اړه لرله ګرځېدو - څه تصويرونه مې واخيستو او مخته دَ Asean Park په لور روان شولو - له دې ځايه ډېره ښائيسته لاره ورَغلې وه – په آسيان پارک کې هر لور دَ شنو چمنيانو په منځ کې دَ نادره آرټ ځينې چُونړ کړل شوې نمونې دَ نمائش دَ پاره ايښول شوي وې - دَ ځينو سرونو او ځېرو پرته

ketabton.com - The Digital Library

زياتره داسې کاږه واږه شيان، چې دَ لرګيانو او له کاڼو څخه جوړ ؤ ، چې ورته په لومړي کتو يې سترګې کمال ته نه رسېږي – دا ټول شيان دَ آسيان نامي نړيوال تنظيم دَ ملګرو هېوادونو، لکه سنګاپور، تهائی لېنډ، فلپائن، بروناي ، انډونېشيا، او ملائيشيا دَ فنکارانو دَ آرټ نمونې وې -

دَ آسيان پارک څخه چې زه او ډاکټر کنول دواړه دَ روډ په دې بل اړخ لېک ګارډن خواته روان ؤ، نو دَ يوې انډين ښځې په کتلو ما ته دَ هوټل دَ لابي هغه انجلۍ چې څوکه څوکه يې زما په زړه کې کور جوړولو ډېره راپه زړه شوه - ځکه خو مې بيا بيا تر شا ورته کتلو - خبر دلته هر لور لکه ځنګل چې وي او په منځ کې يې ښې ډېرې اوبه ډم ولاړې وې - دا يَو غټ کړوُم وو، په دې کې خلګو وړې وړې کشتيانې چلوَلې - او دَ قدرت له ننداړو څخه يې خوندونه اخيستلو - ګوا چا په يوازې ځان او دَ ژوند دَ ملګري سره - فطرت په سُوچه ښه کې سترګو ته ښکلاګانې ښکاره کولې - دَ دې ښنې او ځنګلي سيمې ځينې برخې دَ کتو وړ وې - لکه په قدرتي چاپېر کې جوړ دَ هوسيانو ځای ، دَ رنګارنګ ګلونو او دَ ونو ګڼ باغ ، دَ ۵۰۰۰ بېلا بېلو مارغانو ځانته ښائيسته علاقه – مګر خلګو تر ټولو زياته دلچسپي دَ تنکو عبدالرزاق ، چې دَ دې هېواد خلګ ورته " دي فادر آف ډويلپمنټ " هم وائي دَ ژوند په هغو نخښو او شيانو کې اخيستله چې ده تر استعمال لاندې راوړې ؤ ... لکه کور، لائبرېرۍ ، جامې او نور نور - موږ به لا نور هم ګرځېدلې وای ، که وخت راسره وی –

دولس بجې بس مخته روان شو او ډېر ژر دَ يوې ښائيسته غټې ودانۍ مخته وَدرېدو ، ګائيډ وئيل...

" بخښنه غواړم ، دې تکې سپينې ودانۍ ته تاسو بې دَلاس ليک اجازت نامې نه شئ دننه کېدلی - ولې چې دا پارليمنټ هاؤس دی - هغه مخامخ ولاړ هسک ټاور هم دَ دې هاؤس برخه ده - که څه هم په ملائيشيا کې باچهي نظام دی ، خو دَ انګلېنډ په رنګه .. ګوا دَ ملک وزيراعظم دَ قامي اسمبلۍ يعني Dewan Rakyat په اکثريتي خوښه ټاکل کېږي - دغه رنګه په هر رياست کې رياستي

ketabton.com - The Digital Library

اسمبلیانې وجود لري چې ځان ځانته وزیر اعلی ټاکي - دَ دې پرته سبنټ ، ګوا
Dewan Negarat هم شته ، چې دَ غړو چُوڼ یې باچا سلامت خپله کوي"
بس بیا مخته روان شو ، چې یو وخت مونږ په جالان تون باندې جوړ ښکواني
ټیمپل سره په اړخ تېرېدو ، نو ګائیډ وئیل...
" لکه څنګه چې مخ کې ما تاسو ته وئیلي ؤ ، چې آزاد اسلامي هېواد دی... نو دَ
دې مثال دا ښائیسته دَ هندوانو مندر هم دی - چې یَو وخت درست وران شوی
ؤ- لاکن ګورنمنټ په خپل خرڅ په کال ۱۹۸۵ع کې بیرته جوړ کړو او څه ۲ ـ ۱
ملیونه ډالرونه یې ورباندې وَلګولو"
دَ دې ښائیسته تاریخي هندو ټیمپل په بام بې شمېره ښائیسته او رنګ برنګه
بُتان داسې جوړ کړل شوې ؤ ، چې دَ لرې څخه هم ښکاره کېدلو - ما که څه هم دې
وخت مندر ته کتلو ، خو په مزغو کې مې دا خبره راغلې وه چې دا مندر به نه
وای... که په مونږ کې جوړ وای ... هو ، ځکه خو مې دَ بامیان بُت او ځینې نور غېر
محفوظه تاریخي ودانیانې او پلارني آثار له خیاله ډېر ژر په کنډراتو کې بدل
بدل پرېښېدو - او بیا چې څنګه دا مندر دَ سترګو څخه پټ شو ، نو په ډاکټر
کنول کې په خوب ویده هندو راویښ شو او وئیل یې ...
" دې مندر ته چې مې وَ کتلو ، نو زړه ته دا خبره راغله ، لکه دلته چې ډېر پخوا هم
هندوان پاته شوي وي"
ما وئیل ...
"هو ، ډاکټر صاحب.. ، تاریخ هم داسې واي ، چې په کال ۱۲۰۰ع کې دَ ملاکه ملې
باچهي مخ کې دا سیمه چې ځنګل ؤ دَ هندوانو او بدها منونکو تر واک دلاندې
پاته شوې وه - او بیا اسلام خورېدلو ورسته دلته په کال ۱۵۱۱ع کې Dutch ګوا
دَ نیدرلېنډ خلک هم راغلي دی –ولې چې دا سیمه دَ لمرختیځ او لوېدیځ دواړو
خواؤ خلګو دَ پاره مهمه وه - ګوا دَ سېلانیانو او سوداګرانو لاره په دې ولات
باندې سپره وه"

ketabton.com - The Digital Library

موربخبرې کولې ، چې بس دَ جي پي او او سېنټرل مارکيټ څخه تېر شو او چائينا ټاؤن شاپنګ ائيريا نامي خوش رنګه ځاى ته وَرسېدو –

چائينا ټاؤن دَ جالان پټانګ ، جالان سلطان او جالان باندر په مابېن کې دَ چينيانو يوه ګڼه علاقه وه – يو پراخ روډ له يوه سره تر بله سره پورې له رنګا رنګه سايه واني رېړهيانو څخه داسې ډک ؤ، چې لاره په کې نه کېدله - دلته زياتره خوراکي شيان خرڅېدلو - ځاى په ځاى له سرونو سره ، مګر پخې کړل شوې هېليانې او وَچ کړل شوي ماهيان راځړېدلو - او بيا خود لکه چې دې خلګو ملخان او دَ اوبو موريانې او نور خسمانان هم په خوند خوړلو، چې په هره پنځمه يا شپږمه رېړهۍ کې پاخه پراته ؤ – دلته ښځې دَ سړيانو څخه يو په لسه زياتې وې - ډاکټر کنول چې په عُمر څه راڅخه غټ وو ، ګوره چې زړه يې څله وَتخنېدو ، چې وئيل يې ...

" زړه مې غواړي چې دَ دې ښائيسته او نازکو انجونو دَ لاس يَو شئى وَخورم " ځواب مې ورکړو ...

زما خو زړه ته نه کېږي.... که يې خورې ، نو خوره يې ... زه به درته وَدرېږم "

بيا مې تر لاس وَنيولو او دَ پخو ملخانو وَ رېړهۍ ته مې وَدرَولو ...

" دا وَ خوره "

ده چې دَ چشمکو تر شا ورته وکتلو ، نو اوس به يې يَو څه وئيلو، چې دَ رېړهۍ وَ بل اړخ ته ولاړې چينې انجلۍ ورته وائي ...

" وايه ... ! څومره غواړې ؟"

په ډاکټر لکه ټک چې وَشي . يو دم يې شاته ټوپ کړو او وائي...

ياره ! دا دي څه خسمانانو ته وَ درَولم "

او بيا تر برېټو دلاندې تر ډېره پورې موسېدو - چائينا ټاؤن ، يو خو خپله دَ سېل ځاى وو او بل ورسره جوخت دَ کوالالمپور تر ټولو غټ او ښائيسته مارکېټ ، چې سېنټرل مارکېټ په نامه پېژندل کېدو ، هم زيات خلګ ځانته ورکښَولو –

ketabton.com - The Digital Library

درې بجې خواته نېشنل آرټ ګېلري ودانۍ ، ماجت نګارا ، انډيا ماجت او دَ ښار ځينې بازارونه راښکاره کولو سره سره موږ پنځه بجې هوټل ته وَرسَول شولو - که څه هم ستړی وم ، خو ماځيګری مې دَ هوټل په لابي کې تېر کړو - بيا دَ ماښام ډوډۍ خوړلو ورسته ، ما غوښتلو چې ژر سترګې وَلګوم - ولې چې سبا ته دَ ورکشاپ لومړۍ ورځ وه - نو ځکه تر څه وخته مې ټي وي کتله او بيا دَ ويدېدو په نيت په پلنګ باندې وَ غزېدم – خو چې څنګه مې سترګې سره ورتلې ، نو سوچونو بيرته دَ هوټل لابي وَ انجلۍ ته مخامخ وَدرَولم ... او له خياله ما ځينې پُوښتنه وکړه ...

" خبرې ولې نه کوې ؟ "

دې راته وئيل ، چې ...

" ګونګۍ يم ... ژبه نه لرم "

او بيا دَ لاس په اشارو راته ګډه شوه - دا سوچ څه ؤ ، چې زما دَ سترګو څخه خوب وَ تښتېدو او ښه مې په ياد دي ، چې تر ډېره وخته پورې خوب نه راتلو –

*****

دَ ټېلي فون په زنګ مې سترګې راخلاسې شوې - ګهړۍ ته چې مې وَکتو ، نو دَ سهار پنځه بجې وې ... حريان پاته شوم ، چې دې وخت دَ چا ټېلي فون کېدلی شي ؟ خېر، چې دَ ټېلي فون رسيور مې دَ غوږو سره وَنيولو ، نو دا هغه ثبت شوی Awaking call وو ، چې پرون سهار يې هم زه زما په خوښه په اووه بجې ژغوَلی وم - مګر پرون چې دا کال څومره خوږ او ښه راباندې لګېدلی ؤ ، نن هومره راباندې وَ غمېدو - يو دم مې رسيور کښېښولو او په سر مې بړستن راواړَوله ... خو مجال ؤ، چې خوب راغلی وی - ولې چې خشم مې خوب تېښتولی ؤ - که څه هم دَ بې خوبۍ دَلاسه مې بدن ويده ؤ ، خو سترګې مې نه سره ورتلې- چې ښه په ځان پوهی شوم چې زياته خوب نه کېږي ، نو رسيور مې راپورته کړو او آپرېټره مې په لائن راويستله...

ketabton.com - The Digital Library

" اوس څو بجې دي " ما پُوښتنه وکړه
پنځلس منټه بالا پنځه بجې ... ولې خبر خو دی ؟"
خبر خو نه دی ، بس دا حال راکړه ، چې زما دَ Awaking Call وخت څو بجې وو "
"سر یَو منټ"
او څو لمحې ورسته يې ژغ بيرته زما تر غوږو شو ...
" اووه بجې سر ! "
که څه هم دا په سر سر راته ژغېدله ، خو دلته زما دا حال ؤ ، چې ابله مې وَس نه په رسېدو ، ګنې تر غاړې به مې نيولې وای –
" ښه ، چې دَ ويښېدلو وخت مې اووه بجې ؤ، نو دا زه دي په پنځه بجې څله راوَژغولم ؟ "ما پُوښتنه وکړه -
دا څه چپ غوندې شوه ... اوس به يې لا څه وئيلو ، چې بيا مې وار ورباندې وکړو ...
"عجبه خلګ یاست"
دې په ماته څُله بخښنه وَغوښتله او دَ خپلې ورانۍ دَ پاره يې دَ پښېمانۍ اظهار هم وکړو – لاکن لا زه وم، چې مزغو مې ټکهار درلودلو ...
"ستا په دې سورې سورې خو ، نو اوس ماته خوب نه راځي"
او په خشم مې ټېلې فون بند کړو او بيرته مې سترګې پټې کړې - زياته به دَ يوه نا يوه سوچ په نيلې باندې سپرېدمه ، چې بيرته دَ ټېلې فون ګهنټۍ وَ ګرنجېده ...
" سر ! ستا دَ بې وخته ويښېدلو دَ پاره زه يَو ځل بيا بخښنه غواړم"
که څه هم له خشمه ورته خوَځکېدمه ، خو په پسته ژبه مې ورته وَوئيل...
"څه خبر دی... بل وار خيال کوه"
او بيا ...." خوب نه درځي ؟" دې په نرمه پُوښتنه وکړه
" يَه "

ketabton.com - The Digital Library

زما دا ˝ يَه ˝ څه وو ، چې انجلۍ په وړې او پستې خندا کې راته وَوئيل ...
˝ غم مه کوه ... زه به دې وخت در تېر کړم ˝
ما وئيل ˝ هغه څنګه ؟ ˝
˝ هغه داسې ، چې تر اووه بجو پورې به خبرې درسره کوم ˝
په ما دَ دې دا خبره داسې ښه او خوږه غونډې وَلګېده او دَ نه غوښتلو پرته مې هم ورته څُله ويړه کړه ...
˝ ښه ښه وايه ˝
زما خبره لا تر سره نه وه رسېدلې ، چې دا راته وائي ...
˝ که زه دا وَوايم ، چې دا هر څه ما له کسته وکړو ، نو ....... ؟ ˝
˝ له کسته ؟ ˝
دا توری څه وو ، چې اېله مې رسيور دَ لاسه وَ نه لوېدو ...
˝ مګر څله ؟ ˝
دې په وازکې غونډې انداز وئيل ...˝ هغه ځکه ، چې ...˝ او بيا يې مخته خبره په خوږه خندا کې داسې سر ته وَرسَوله ....
˝ زړه راته وئيل .. هغسې هم يوازې يم ... راشه چې تا راوينښ کړم او څه خبرې درسره وکړم .... او بس دا دی راوينښ مې کړې ˝
دَ دې خبرې ورسته ، لکه هغه چې زما دَ ځواب په هيله چپ شوه او دلته زه نه پُوهېدم، چې څه ورته وَوايم ... خو څه وخت ورسته هغې سړه واخيستله او راته وائي ...
˝ يَو منټ ˝
ګوره چې دَ چا فون وو او يې دَ چا Awaking Call آن کولو - په دې چپه چپيا کې ما له تندي څخه خولې وچې کړې ... لږ مې همت سره په يَو ځای کړو او چې څنګه دا په لائن راغله، نو مې ورته وئيل ...

ketabton.com - The Digital Library

" ښه ښه ، که داسې خبره ده ، نو بیا خو دې ډېر ښه وکړو ، چې دې راوېښ کړم ... هووون ښه ، نو په دې خبره سر راخلاس کړه ، چې تا زه لیدلی هم یم که بس مازې...."

لا به مې خبره مخته کښنَوله ، چې هغې زما خبره ماته کړه...

" ولې نه ، ما نه یوازې لیدلی یې ، بلکې ډېر ښه دې پېژنم هم ... هو ، په دې چې دَ هوټل دَ آپرېټر مخې ته دَ هرې خوُنې چارټ پروت وي – او بیا زه خو کله کله ... زما مطلب ، چې اول ځل مې وَلیدې، نو دَ یَو ټُرک ځوان ګمان مې دربانديې وَشو، خو بیا چې ستا دَ خوُنې چارټ مې وکتلو، نو هغه ته ټُرک نه بلکې پاکستانۍ وختې او نوم دې ... دا دی"

دا ژغېدله او ما هان ... هون ورته کولو ، خو چُړت مې هلته په لابي کې په کاؤنټرونو ولاړو انجونو کې ، کله یوې انجلۍ خواته تلو او کله بلې ته... او پرته له داسې سوچونو مې هم دَ دې خوارې ژغ تر شا پټه څېره نه کړه سهي - بیا عجبه خبره دا هم وه ، چې Awaking Call دَ دې انجلۍ په خوارې ژغ کې ثبت شوی ؤ - خیر دغه رنګه دَ دې انجلۍ خوږو خبرو او زما په خوُشو سوچونو کې دَ سهار اووه بجې شوې –

*****

دغه ورځ دَ ورکشاپ دَ افتتاحي ناستې او Tea Party ورسته غرمه یولس بجې خواته دَ ډاکټر ایم - اې - ستار، چې دَ ICOMP ایګزېکټېیو ډائزېکټر هم ؤ ، په مشرۍ کې دَ ورکشاپ لومړۍ غونډه سم دَ لاسه دَ نېشنل پاپولېشن اېنډ فېمیلي ډویلپمنټ بورډ LPPKN ملائیشیا چې دَ هوټل ګرېنډ کانټینېنټل څخه په څه فاصله دَ یوې هسکې پلازې په دویشتم پوړ باندې ؤ ، په حال کې پېیل شوه - دې وخت دَ ورکشاپ ملګري په یوه غټه دائره کې ناست وو - دَ پېژندګلوۍ ضرورت ځکه نه شو پېښ ، چې دَ هر ملګري مخته په مېز باندې دَ هغه نوم او هېواد تختۍ پرته وه - ډاکټر ستار، چې په "ورلډ پاپولېشن پالیسي" باندې خپله مقاله وړاندې کوله ، نو په یوه نا یوه اړه به په کې دَ

ketabton.com - The Digital Library

پاکستان ذکر خامخا راتلو ... لکه دا چې " دَ پاکستان دَ آبادۍ دَ زیاتوب شرح دَ حېرت وړ ده " - لنډه دا ، چې څنګه به دَ پاکستان ذکر راغلو ، نو دَ ورکشاپ ښځو او سړیانو به ما ته داسې په حېرانتیا وَ کتلو ... لکه دا هر څه هر څه چې هلته په پاکستان کې زما له وجې کېږي - او بیا دَ مقالې ورسته دَ سوال ځواب سېشن پیل شو - په دغه توده څېړنه کې دَ الازهر یونیورسټۍ دَ ډاکټر مراد په دې ورکشاپ کې ګډون ، که یوې خوا ته زه حریان کړی وم ، نو بلې خوا ته دې سړي فېمیلي پلاننګ په قرآن ، سنت او نورو مذهبي اړو داسې ثابتَولو ، لکه دا پروګرام چې پیل کړی مسلمانانو وي - دغه ورځ دَ ورکشاپ لومړۍ ورځ دَ چیني ملګري "ین یاؤ زانګ" په پرله پسې چپیا ، دَ بنګله دېش دَ "باقي سرکار" دَ پنډو چشمکو دَ شیشو تر شا په حېرت حېرت یوبل خواته کتلو ، دَ انډین "ډاکټر کنول" په څالاکۍ ، دَ ګانا دَ "کوفي" نامي تور یار په پُوښتنو ، دَ LPPKN ملائیشیا دَ "چوا " په ډېرو ژغېدلو ، دَ نائجېریا دَ "مارګرېټ" دَ هیڅ نه منلو ، دَ کینیا دَ "ماریه موسومي" په خندلو راخندلو ، دَ ماؤریشئیس دَ هندوي پېغلې "سوبهراتي" په غور اورېدلو ، او دَ مالدیپ دَ "احمد خلیل" په بې ځایه تنقیدونو کې مائیګر پنځه بجاؤ شوې –

ګوا ، یَو وار بیا زه وم او زما دَ ترږو سترګو تنده ، چې دَ هوټل په لابي کې دَ هغې ښکلې څېرې وَ دیدن ته نه یوازې مضطربه وې بلکې شاعر زړه هم دَ فراق په تراخه اور کې داسې سوځېدو ... لکه ما چې په مودو مودو مینه ورسره کړې وي .......

منم ، چې مئین نه وم ورباندې ، خو زړه مې ځینې صبر کېدو هم نه ........

" دا هر څه ګوره چې څه وو ؟ "

دَ دې سوال ، که به مې هر څو په مزغو زور ورکړو ، خو ځواب یې په ګوتو نه راتلو - هرڅه هرڅه ، خو دَ زړه په تختۍ مې دا نظم بیا بیا دَ " هما " په نامه داسې نوشته کولو ، لګیا وم ....

" اې په خپل حُسن غاوِرې !

ketabton.com - The Digital Library

تا هم کړي دي وزرَې
په مثال دَ هما غوندې
ځکه
نه کړې په ما سیورى
داسې نه
چې زه باچا شم
او زړګى دي کړم تر لاسه
( شوق / کوالالمپور - ملائیشیا /۱۹۹۲ع )
*****

ماښام دَ باقي سرکار او ډاکټر کنول سره دباندې دَ ښار په سېل وَوتم - په تنګ تنګ کې دَ هوټل سره په څه فاصله " یوهان پلازه " ته وره غلو - دَ پلازې په هر پوړ کې دوکانونه جوړ ؤ ، چې زیاتره ملې او چینائي انجونو چلولو - دَ دُنیا هر شئی په کې خرڅېدو - دَ رنګا رنګه رڼاګانو ، رقم رقم څېرو سره سره دَ دې مارکېټ دغه له شمېره وَ تې دوکاندارې انجونې په رنګینو جامو کې ، چې سکرټونه او پېنټونه یې اغوستې وو دَ ښکلا دَ سېوا کولو اصل سوب ګڼل کېدې - غرض دا ، چې دَ ګودر دَ ماځیګري تنده ورباندې ښه ماتېدله - کله یو دوکان ، کله بل دوکان ، کله چاته خندلې ... چا راته خندلې او کله چا سره سترګې اړ باسلي – دغه رنګه تر څلورم پوړه پورې په لفټونو کې وَ ختو - دلته یَو وخت په خیال کې څنګه ما دا لفټونه او" موؤنګ ستېئیرز " دَ خپل هېواد په یو شاپنګ پلازه کې وَ لګولو ، نو سم دستي دَ بجلۍ دَ پټ پُټانې احساس زما دغه دَ ویښو خوب بې تعبیره غوندې کړو او زړه راته وئیل ، چې ...
" کرار کښېنه نادانه .... چرته چې بجلي په خپل حال نه وي ، هلته دَ رڼاګانو او مشیني ژوند تصور کول لېونتوب دی
دَ شپې چې تر ډېره وخته پورې ناست وم ، دَ لېونو غوندې به کله په لفټ کې بالا خوُنې ته وره غلم او کله به لاندې لابي کې دَ مطلوبې اندېین انجلۍ دَ کتو په

ketabton.com - The Digital Library

تمه .... بیا دَ وخت دا ظلم لا ببل ؤ، چې دولس بجو خوا ته ما دَ نا اُمېدۍ ورسته ثنګه په لفټ کې قدم ږدلو ، نو هلته دَ کاؤنټر ترشا هغه انجلۍ راښکاره شوه - خو راغبرګ ځکه نه شوم ، چې یو ګام مې په لفټ کې ایښی ؤ - ما وئیل ... څه خبر دی بیرته به را کوُز شم ... مګر چې ثنګه بالا خوُنې ته ور دننه شوم ، نو دَ ټېلې فون زنګ ګړنجېدو ... او بیا بیرته لاندې ځکه نه راغلم چې دَ هوټل آپرېټرې زه په ټېلې فون باندې تر نیمې شپې پورې اختته ساتلی وم -

*****

وخت مخ په وړاندې روان وو او تاریخونه اوښتو - ګوا ورځ په ورکشاپ کې، مائیګریان او ماښامونه دَ ښار په چکرونو کې ښه په خوند تېرېدلو ، لګیا ؤ- یعنې په کوالالمپور کې مې زړه دومره لګېدلی ؤ، چې ورځخه دَ بیرته تګ احساس به زه په ګنټهو ګنټهو پرېښانه ساتلم- مګر کولی مې هیڅ نه شو، ولې چې دَ وخت دَ نیلي باګې چې به مې ثومره په خپل ځای باندې درَولو دَ پاره راټینګولې ، نو دا نیلی به په هومره چسپاندۍ مخته په ترپکو روان ؤ- مخ مخ ته ښکلې ننداري وې او شا شا ته سپېرې دُوړې - او دغه خو وجه وه ، چې په ستړیا نه پوهېدم .... بس کله یَو ځای کله بل ځای- ګوا هر وخت په لیدو کتو کې بوخت ښکاره کېدم - چې زړه مې بیرته خپل ځای ته ځله نه راتلو ؟ که څه هم هغه دَ روسلینا نامې پېغلې چې دَ LPPKN سره یې اړه لرله ، خبره ، چې ...

" شوق په طبعیت سېلانی دی ... هر وخت کله په یوه روډ ( جالان ) کله په بل روډ باندې لیدل کېږي "

دَ ورکشاپ دَ ۱۷مې جنورۍ ۱۹۹۲ع لومړۍ دوې غونډې په دې اړه ډېرې اهمې وې ، چې هر ملګرې دَ خپل خپل هېواد په باره کې دَ خاندانې منصوبه بندۍ په اړه مقاله وړاندې کوله - خو چې کله زما مقاله پائی ته وَ رسېده . نو عبدالباقي سرکار ته دَ مقالې اورَولو دَ پاره بلنه ورکړل شوه - ده چې ثنګه مائیک اوچت کړو ، نو دَ مقالې اورَولو دَ مخه یې ماته برګ برګ وَ کتلو او پئیل یې له دې خبرې وکړو ...

ketabton.com - The Digital Library

" بنګله دېش چې له پاکستان څخه دَ هندوستان په کومک يَو خپل واکه هېواد جوړ شو ، نو تاسو خبر ياست ، چې موږ ته څه راپاته شوي ؤ.....؟ "
ده به اوس يوه ناوړه خبره کوله، چې ځان مې تر ده لومړی کړو ...
" ولې باقي صاحب ! چرته ستا اشاره خو ستا دَ ملک دَ باد و باران او سمندري طوفانونو په خوا نه ده ؟ "
دا خبره څه وه، چې ټولو وَخندل او باقي سرکار هم غابنونه سپين کړو .... ځواب به يې په نره راکولو ، چې راملي بن عثمان ، چې دَ LPPKN ملائيشيا ډائرېکټر جنرل ؤ ، مېز وَټکولو او خواست يې وکړو .....
" نو پرسنل اټېک پليز "
بيا که څه هم درسته ورځ په يو بل باندې " پرسنل اټېکونه " وَ نه شو ، باقي سرکار دَ خپلو پنډو عېنکو تر شا ګړۍ ګړۍ داسې راته په قهرناکه نظر کتلو را کتلو ، لکه ما چې يې په زخمونو مالګې دُوړَولې وي –
سبا سهار دَ رياست ترينګانو په دوره دَ دوؤ شپو دَ پاره تلو... خو عجبه ناپېښه دا وه ، چې هغه دواړې انجونې ، لکه چې خبرې وي .... ځکه خو يوې په لابي کې په ديدنونو موږ کړم او بلې بالا په خوُنې کې دَ ټېلي فون په خوږو خبرو - هرڅه هرڅه ، خو خبره بيا هم هغه رنګه وه - يعنې چا ، چې خبرې راسره کولې .. هغه دَ سترګو وړاندې نه راغله او چا ، چې سترګې په سترګو کې راته بيا بيا اچوَلې .. هغې خبرې نه کولې - که څه هم ما ډېرې هلې ځلې وَکړې ، خو بريالی نه شوم -
*****
دَ ۱۸مې جنورۍ سهار نهه بجې په دوؤ مرسډيز بسونو کې ، چې سيټونه يې دَ جهاز له سيټونو کم نه وو ، دَ ترينګانو رياست په لور روان شولو - چې څنګه بسونه دَ کوالالمپور په قطبي خوا مخه وکړه ، نو رياست Pahang ښار Bentong زموږ لومړی منزل وو - دَ ښائيسته پراخ سړک دواړو خواؤ ته ، که څه هغه هواره مځکه وه او غرئيزه علاقه ، ورباندې تر لرې لرې پورې شنېزه او ګڼې درختې ښکاره کېدې - په لاره کې وړې او غټې آباديانې هم مخې ته راتلې - دَ

ketabton.com - The Digital Library

کورونو په اړه یې خاص خبره مخې ته دا راغله ، چې یَو ، خو یې کورونه واړه او دَ لرګیانو له دَړو او بانسونو څخه جوړ شوي وو او بل، هیچرته مې دَ خوُنو شاوخوا ته دېوالونه تر سترګو نه شو - خونې له مځکې څخه درې څلور فټه بالا جوړې وې او دَ دغو خوُنو دلاندې چې کوم خالي ځای ؤ ، هلته یا خو چرګې او یا بُوزې او پُوسونه تړل شوي ؤ - دلته په ښځو کې دَ مخ پُټولو رواج نه ؤ، ټولې لوُڅ مخ ګرځېدلې - ایراني او عربي وزمه وړوکي دُسمالونه یې په سرونو پېچلې ؤ - اوږده پراخ سکرتونه او پنجابي لنګ یا هندي ساړۍ ته نیږدې نیږدې جامې یې په تن وې - سرې زیاتره په تورو خولیانو کې لیدل کېدو -

یَو وخت بسونه دَ Bentong ښار څخه یو څه رادې خوا ، یانې په لنډه لار ( بائي پاس ) باندې څه مخته په Karak هائي وې روان وو مزل یې لنډَولو - دَ Karak ښار شاته پرښَولو ورسته Maran او بیا Temerloh نامې ښارونه هم شا ته پاته شولو - او دې وخت موږ دَ ریاست Pahang ساحلي ښار Kuantan په لور مخه کړې وه – دَ قدرتي ننداړو څخه خوندونه اخیستلو سره سره په بس کې دَ ناستو ملګرو ګپه هم خوږه وه - چا ټوکې کولې ، چا خندلو، یو نیم په سنجیده خبرو چمتو وو او چا به دَ نورو دَ خبرو څخه خوندونه اخیستلو سره سره یوې بلې خواته حریان حریان کتلو- غرض دا ، چې ماځپښین خواته بسونه په Kuantan کې دَ South China Ocean یعنې دَ سهېلي چینائي سمندر په څنډه جوړ Merlin Resort Inn نامې رېسټورېنټ ته وَرسېدو - دا رېسټورېنټ خاص دَ سمندر په غاړه دَ ښائیسته کاڼو او لرګیانو څخه داسې جوړ کړل شوی ؤ، چې سور سمندر مخامخ ښکاره کېدو- او سمندر څخه لږ رادې خواته ، ګوا دَ سمندر دَ غاړې او دَ رېسټورېنټ په منځ کې خلاسه مځکه یا خو په شنو چمنیانو نیول شوې وه ، یا بیا سوئمنګ پولونه په کې جوړ شوي ؤ – چرته چې سره سپین خلګ ، چې زیاتره په کې ښځې وې لمبېدلو - ځینې ښځې او سړي دَ Sun Bath کولو په نیت په اوږدو سپینو چوکیانو باندې پراته ؤ - موږ ته نیږدې مخامخ دوې ښځې ، چې ځیګرونه یې لوڅ بربنډ وو پرتې وې – نو ځکه دَ

ketabton.com - The Digital Library

هوټل په برانډه کې ناستو خلګو بلې خواته لړلړ او هغو ښځو ته زيات کتلو - خو دَ الازهر يونيورسټۍ ډاکټر مراد خليل په وار وار غوږونو ته لاسونه وړلو او وئيل يې ...

" دومره آزادي هم انسان ته نه ده په کار .... "

مګر په ډاکټر کنول دا خبره ، لکه چې بده وَلګېده ، چې په ځواب کې يې ورته وَوئيل...

" ډاکټر صاحب ! په دې کې نو اوس څه بده خبره ده ، دېر څه خو يې پټ ساتلې دي"

لنډه دا ، چې چا په پټه ځُله تماشه کوله او چا ورباندې خپلې رائيې ورکولې - هن تر دې چې ، دَ زموږ دَ ډلې ښځو هم يو بل ته په غوږونو کې خبرې کولې او بيا بيا يې ورته کتلو - دَ غرمې ډوډۍ خوړلو ورسته ټول ملګري په پارکونو يا دَ سمندر په غاړه دانه وانه شول - ښه مې په زړه دي چې دلته يو وخت دَ پېغلې سوبهراتي دَ تندي ټيکې او خلاسو وېښتانو ما ته دَ هوټل ګرېنډ کانټينېنټل دَ لابي هغه انجلۍ رايادو کړه، چې زما په زړه کې يې ځای جوړ کړی ؤ –

چې له دې رېسټورېنټ څخه بسونه روانېدو ، نو نری نری باران هم ورېدو - يَو خواته باران او بلې خواته شنه مځکه او دلته په بس کې دَ ما سره لا دا ظلم ېبل، چې سوبهراتي زما دَ ښی لاس په دوؤ سيټونو کې دَ کړکۍ دَ خوا په سيټ کې دَ Lous دَ انجلۍ سره داسې کښېنستله، چې دَ خبرو کولو په وخت به يې خلاس وېښته په څېره باندې داسې را ايله شولو ... لکه جوړه چې په سپوږمۍ باندې نرۍ اوريځ راغلې وي - نو ځکه خو مې سترګې دَ هغې په لور کږې شوي وې او تر ډېره مې ورته کتلو - خو يو وخت چې دَ هغې راته پام شو ، نو مخ يې په يوه جټهکه هغې بلې خواته داسې واړَولو ، لکه زما په سترګو کې چې سور اور وي او دا په ژوندي ځان ستی کوي - او بيا چې به يې په هېره يا له کسته کله مخ راواړَولو ، نو لکه ټپې زمرۍ ، چې ايله يې وَس نه رارسېدلو ، ګنې په مخ به يې منګولې رالګولې وی - دَ سوبهراتي په دې خاموش ظلم مې فېصله وکړه ، چې

ketabton.com - The Digital Library

څنګه له ترینګانو څخه راغبرګ شم، نو دَ هغې انډین انجلۍ سره به خبري کوم –
او په داسې سوچونو کې یو وخت دَ ریاست ترینګانو لومړی ښار Kemamen
څخه مخته تېر شولو –
ماځُستن اتهه نیمې بجې خواته بسونه ترینګانو ښار ته ورسېدو – دا یو غټ ، ښائیسته، دَ وړو او غټو ودانیانو ښار ؤ - ځای په ځای چمنیان او هر لور پراخ پراخ سړکونه جوړ ؤ - دلته موږ دَ دوؤ شپو دَ پاره دَ ښار په منځنۍ برخه کې په هوټل ډیسا ، چې په یوه زرغونه غونډې غوُنډۍ باندې جوړ وو کې کښته کړلی شولو - دَ ماځُستن ډوډۍ خوړَلو ورسته ملګري ډله ډله په لانونو کې کښېنستو - زموږ ډله چې په کې دَ فېمیلي پلاننګ بورډ کوربنه لیلاوتي دَ خپل معصومیت سره ، ډاکټر ثریا دَ شوخۍ سره ، ډاکټر کنول یو وار بیا دَ خپلې ځلاکۍ او رنګینو ټوکو سره ، او زه دَ خپل شوق سره، زما دَ خوُنې په خلاس کاریډور کې په چوکیانو کښېنستو- او تر یولس نیمو بجو پورې دَ شپې په خبرو او ټوکو ټکالو اخته ؤ –

*****

سهار نهه بجې موږ په بسونو کې وَ " وسیما دارالایمان " ته وره غلو - په دې نوي ډؤل جوړې غټې ودانۍ کې دَ ترینګانو ریاست دَ انتظامیې دفترونه ؤ .... دَ وزیراعلی او سټېټ سېکرېټري دفترونه هم هلته ؤ –لومړی ناسته مو دَ سټېټ سېکرېټري سره په کمېټي روم کې وَشوه –او بیا ورپسې وزیراعلی دفتر ته ورَغلو- دَ ملاقات ورسته موږ یو ښائیسته هال ته ور وړلی شو - هلته زموز په مېلمستیا کې وړوکی لاکن خوندَور تقریب وَشو - دَ تقریب ورسته هر مېلمه ته وزیراعلی ترینګانو په خپل لاس دَ زېړو یعنې Bross جوړ څیزونه نخښه کې ورکړل شو - هلته حال دا ؤ، چې ریاستي وزیراعلی دَ خپل ساده او درانه خوُی او بُود له کبله هر مېلمه سره جلا جلا خبرې کولې - بیا دَ دې شاهي ډوډۍ خوړَلو ورسته دَ اووؤ ملکونو مېلمنو، چې زه هم ور ګډه وم ، دَ ټېلي ویژن ټیم سره دَ وزیراعلی په مشرۍ کې دَ ورکشاپ دَ اهمیت په حقله مرکه وکړه –

ketabton.com - The Digital Library

په دې مرکه کې دَ ورکشاپ په حقله دَ خبرو او حکومتي انتظاماتو دَ ستائينې سره سره ځينې داسې خبرې هم منځ ته راغلې ، چې په کې په يوه نا يوه اړه دَ دې هېواد خلګ وَ ستائيلي شو - لکه

" دا خلګ ټې ساري مسلمانان دي "

دَ نرانو سره سم يې ښځې هم ژوند کولو ته جوګه دي"

" هر وخت موسکني او خندني ښکاره کېږي "

او وَ به وايم، چې ملائيشيا ته راغلی هر سړی نه يوازې دا هر څه محسوسولی شي بلکې دَ سترګو وړاندې يې ليدلی هم شي -

يوه نيمه بجه موږ يو نرسري هوم ته دَ ستېټ سېکرېټري په مشرۍ کې دوره وکړه - دلته دَ څلورو کلونو څخه کم ماشومان دَ روزنې دَ پاره په بېلو بېلو لوبو کې بوخت ساتل شوي ؤ - ډوک مې ښکل کړو ، ډوک مې واخيستو او دَ چا سره مې بازۍ وکړې .... دغه رنګه مې دَ خپل وړوکې زُوې قاميار خان تنده پرې ماتوَله- دَ ماشومو فرښتو له دې جنته موږ دَ دستکارۍ يَو اداري ته وره غلو - هلته ټول کارونه انجونو ، چې واړه رومالونه يې په سرونو پېچلي وو کولو - يو ځای رخت جوړېدو ، بل ځای رنګېدو او دريم ځای يا خو ټاپې ورباندې لګېدلې يا بيا دَ هرې انجلۍ په لاس کې درې درې بُرشان دَ بېلو رنګونو وو ، چې دَ مشين غوندې تېز تېز چلېدلو او په رختونو باندې يې نقش نګاري کوله - دَ خندنئيو څېرو له دې ځانګې موږ يوې بټۍ ته يُو وړل شولو - دلته لکه زموږ دَ هېواد دَ سندهي اجرک ، دغه رنګه ټوکران په اېښېدلو اوبو کې رنګول کېدو او بيا يې دَ وړو بلاکونو په کومک ټاپې ورباندې لګولې - دا دَ ملائيشيا بوتيک ، دَ ګائيډ له قوله ، په دُنيا کې ډېر زيات خوښَول کېږي - او بيا موږ له دې ځايه دَ ژېړو او سپينو زرو شيان جوړَولو کارخانې ته بوتلل شولو - کارخانه خو يې نه کړه راښکاره ، خو دَ فلم په ذريعه يې دَ ځينو شيانو دَ جوړَولو عمل راښکاره کړو - او چې له دې ځايه راوتو ، نو هر ميلمه ته يې دَ ژېړو څخه جوړې چاړې ورکړې

ketabton.com - The Digital Library

، خو دومره په مینه ، چې ماته چاړه راکولو په وخت زړه حلق ته راغلو - او زړه راته وئیل چې دا خلګ دَ ژوند په هر ډګر کې په زړونو منګولې لګوي –
مازیګر چې بسونو دَ هوټل ډیسا په لور مخه وکړه ، نو ترینګانو دریاب ته ورته جوړ سېنټرل مارکېټ سره ډاکټر ثریا بس وَ دروَلو ، ماته یې را ژغ کړو ...
" شوقه ! په دې مارکېټ کې ستا دَ کتو دَ پاره ډېر شیان دي – که غواړې نو کښته شه شاپنګ وکړه "
ما وئیل .... "هو"
او بیا مې ډاکټر کنول دَ لاسه وَنیولو او په نه ساعت کې دواړه کښته شولو - موږ چې څنګه کښته شولو ، نو څه ګورم چې لیلاوتي هم راکښته شوه او درې سره ملګري په مارکېټ ننوتلو - دلته ملائیشئین بوتیک ، دَ ژېړو او سپینو زرو جوړ ځیزونه ، دَ کانئیو جوړې خولیانې ، توَري ، په لاس کشیده شوي رختونه او پړوني دَ کتو وړ ؤ - ډېر په کې وګرځېدو – ما څه شیان واخیستو او چې له دوکانه دباندې راووَتم ، نو لیلاوتي هم له مخامخ دوکان څخه راووَته - په لاس کې یې ملائیشئین رومال وو ، وئیل یې راته...
" دا واخله زما له خوا ستا کور ودانې ته نخښه "
که څه هم ما نه ورڅخه اخیستله ، خو چې دَ ډاکټر کنول دا خبره ( په اُردو کې ) ، ګوا "وایې خله ... ګنې دَ خوارکۍ زړه به مات شي" تر غوږه شوه ، نو مې ځینې تر لاسه کړه - اوس مخته خدائی خبر ، چې ما هغه ماشوم زړه مات کړو او که جوړ ...
*****
په دې بله ورځ بیا موږ ؤ او هغه زړه لاره ، ګوا بیرته په هغو ښارونو راتېرېدلو – خو دې ځل یَو هم په بس کې چپ نه ؤ - دَ ډاکټر ثریا په کست هر میلمه دَ خپلې علاقې یوه یوه سندره تېره کړه – په عُمر یَو هم هلک نه ؤ ، خو دې وخت هلکوالی ، ګوره چې څله په هر یوه کې سر راپوته کړی ؤ ...؟ چپ له دې چې په Kuantan ښار کې موږ دَ غرمې ډوډۍ دَ Merlin Inn په ځای په Hyatt Restaurant کې وَخوړله – کوم چې هم په خپل ځای غټ او ښائیسته رېستورېنټ ؤ – بیا یو دوه

ketabton.com - The Digital Library

ځایه بسونه دَ تېلو اچوَلو دَ پاره په پمپونو وَ درېدو .... ګنې روان روان به وو - ځکه خو په اول ماښام هوټل ګرېنډ کانټېنېنټل کوالالمپور ته راوَرسېدلو - دَ سترِیا وساکولو ورسته زه دَ شپې یولس بجې خواته لاندې لابي ته را کښته شوم - مګر دَ بېخې انتظار کولو پرته هم هغه غنم رنګه ښېره ما وَ نه لیده او نه بالا په خوُنې کې ټېلي فون وګرِنجېدو - یَو خوا ته سترِی وم او بل دَ انتظار داسې سترِې او زاوال جن ساعتونه... وایم چې زه یو ځل بیا خرِو اوبو دَ مخه کرِی وم - اوس به لا دَ مایوسی دَ دریاب مستو څپو دَ غم وَ سمندر ته ور غورځوَلم، چې دَ پخوا دَ یوې شپې په رنګه ، چې دَ لفټ په خوا ور روان شوم، نو دَ کاؤنټرونو دَ شا دروازه خلاسه شوه - زه به اوس بیرته راغبرګېدم، چې هغې انجلۍ په ځان پسې دروازه بیرته پورې کرِه... او زه هم غېرت اخیستی په لفټ کې بالا وَ ختم - اوس چې څنګه ورځې شپې مخ په ورِاندې لنډېدلې ، ما ته خپله ماته هومره هومره باوري کېدله - او په ځان مې خندلې هم نه شو، ولې چې دَ خپله لاسه او ښه په هوش کې مې ځان په دې جنجال کې اچوَلی ؤ –که مې څه هم ډېرې هلې ځلې وکرِې ، خو نه ما هغه دَ لابي ګونګۍ انجلۍ وَژغوَله او نه مې دَ خوارِه ژغ تر شا پټه ښېره دَ سترګو ورِاندې راغله - بیا دَ حېرانتیا خبره دا ، چې ورځخه صبرېدم هم نه - لکه جورِه چې یې جادو راباندې کرِی وي - خیر ، وخت تېرېدو .... ښه یا بد ، تېر شو

سبا دَ ورکشاپ ورستۍ ورځ وه - داسې خو زه له دې ځایه په ۲۷مې جنورۍ ۱۹۹۲ع دَ بنکاک په لور تلم، لاکن دَ سبا ماښام نیت مې سنګاپور ته له ډاکټر کنول سره دَ تلو ؤ- ولې چې تر دغې ورځې پورې دَ پاکستانۍ سفارت خانې له خوا راسره کرِي قول په سمه دَ مېلمستیا بلنه لا نه وه راغلې - خیال مې دا ؤ، که سبا تر مازیګره هم ګاډۍ راغله،نو دَ سنګاپور پروګرام به کېنسل کرِم ، ګنې داسې به ولارِ شم او داسې به بیرته راشم –او بیا به مختته ګورم، که مې نورې شپې کولې او که په هغه ۲۷مه نېټه دَ جنورۍ به بنکاک ته ځم - غرض دا، چې دغه شپه چې څنګه لابي له دیدنونو څخه راخلاس شوم ، نو هلته په خوُنې کې دَ

ketabton.com - The Digital Library

ټېلي فون په تارو کې ايله ما او آپرېټرې يو بل ته وَ نه ژړَلو - ښه مې په ياد دي ، چې هغې په دې شپه ببخي ډېرې خبرې راسره کړي وې –

سهار مې په Awaking Call سترګې راخلاسې شوې – درست کال مې دَ آخري ځل دَپاره ډېر په خوند واورېدو - چې څنګه مې رسيور کښېښولو ، نو تر پرونه پورې خلاسې ټولې دروازې راباندې بندې شوې- نور خو نور ، دَ برايه شپې قول هم آپرېټرې په ځاى نه کړو .... چې وئيل يې سهار دي په خوشحالۍ رخصتَوم– مګر دَ Awaking Call سره هر څه هرڅه داسې پاته شول ، چې زه يې يوازې خپلو مايوسيانو او غمونو ته پرېښَولم - لا به نور نور په زړه کې ژړېدم، چې دروازه وَ ټکېده ، ګهړۍ ته مې وَ کتو ، دَ سهار ۱۳ منټه بالا اووه بجې وې - يو دم زړه راته وَوئيل ....

¯ دا هغه ده ¯

چې څنګه مې دروازه خلاسه کړه ، نو څه ګورم چې دَ آپرېټرې په ځاى دَ هوټل دَ لابي انډين انجلۍ مخامخ راته ولاړه ده .... نه هيلو .... نه هائى .... يَو دم مې دَ خلې څخه ورته وَوتو ....

¯ ته ؟ ¯

دي دَ ځواب په ځاى په کاريډور کې يوې بلې خواته وکتو او په څرَپې خوُنې ته رادننه شوه ... بيا ساه کېدلې ساه کېدلې دَ چوکۍ په خوا وره غله - بس چې څنګه کښېنسته ، نو يې فقط دومره وَوئيل .....

Shut The Door Please

او په ما خوله ځکه را ايله شوه ، چې دا هغه ژغ ؤ ، چې هره شپه به ما په ټېلي فون باندې اورېدو –

ketabton.com - The Digital Library

# دَ مونکي ګاډ په جنت کې

تاثراتي لنډيز ...

" دَ انسان عظمت ، دَ قانون احترام او دَ ژوند په اړه دَ پرمختګ څومره اخلاصمنه جذبه چې دَ سنګاپور په خلګو کې شته ، داسې مثال مې بل هيچرته نه خو وَليدو او نه مې دَ چا څخه واورېدو - نو ځکه دَ دې فائن ستي په باره کې په باور سره وايم، چې دَ مځکې په سر دَ داسې جنت جوړَونه يا خو دَ مونکي ګاډ کرشمه کېدلی شي او يا دلته مېښته دَ مونکي وزمه انسانانو دَ پرله پسې زيار نتيجه .... ګنې انسانان خو موږ هم يُو ، چې دَ لاسو خيرې لا هم نه شو صفا کولی "
( شوق )

## پټ پټانی

چې له ګرومو مې دا زړه بډه وکړي
مځکه آسمان راباندې تنګ شي دُوني
چې دَ مرګ ويره ما په تېښت مجبور کړي،
پرېږدم خپلوان او وَ پرېږدو ته لاړشم
دَ نړۍ هغو هېوادو ته لاړ شم
چرته، چې غم نه وي تر لرې لرې
چرته ، چې وي دَ خوشحاليانو موسم...
خو ، درېغه درېغه ځان ساتلی نه شم
که هر څو پټ شم او ترې منډه وکړم
غمونه زما په تعاقب وي هر ځای
زه يم دَ مخه او دوئ ټول راپسې
بيا چې مې ساه راولي څُلې ته څنګه،
په خپلو پلونو شم راغبرګ وَکور ته

ketabton.com - The Digital Library

او بس په داسې رنګه پټ پُټانې
ټوکې کوې راباندې ژوند هر کله

(شوق / کوالالمپور- ملائیشیا /۱۹۹۲ع)

---

دَ ملائیشیا ائیرلائن فلائټ نمبر MH 613 ټکټونه په جېب کې زه او ډاکټر کنول دَ ۲۵ مې جنورۍ ۱۹۹۲ع په مازیګر څلورنیمې بجې دَ ګرېنډ کانټینېنټل کوالالمپور په ګاډۍ کې کښېنستلو ... ګاډۍ چې څنګه روانه شوه، نو تر شا مې وَکتو او دَ مینې وَ دې دنګ او هسک مزار ، چې زما ارمانونه په کې ښخ ؤ ، ته مې آخري ځل لاسونه پورته کړو - بیا چې څنګه څنګه ګاډۍ دَ Subang ائیرپورټ په لور مزل لنډَولو، نو زړه مې وار په وار بډه کوله - که څه هم زما فاتح پښتون زړه ته پته وه چې بل سبا به بیرته دَ سنګاپور څخه دلته راځم او بیا به یې ترېې تنده دَ مُهېش ورې په دیدن ماتوم - لاکن ګوره چې په ده څه ټکه رالوېدلې وه ، چې په ځای دَ هوَسېدو یې ژړَلو –
هسې خو مې دَ سرکارې پروګرام په سمه له دې ځایه په ۲۷مې جنورۍ VIA بنکاک کراچۍ ته دَ تلو نیت ؤ– لاکن وَ سنګاپور ته په دې لنډه دوره پخپل خرڅ ځکه روان وم، چې ما وئیل ، سهار ته مې دَ سنګاپور ته کتو ارمان په زړه پاته نه شي - پروګرام مې داسې جوړ کړی ؤ، چې نن شپه او دَ سبا درسته ورځ به په سنګاپور کې تېرَوم او سبا ماځُستن لس بجې به په ټرېن کې بیرته کوالالمپور ته را روانېږم - او بل سبا به په سرکارې ټکټ غرمه دولس نیمې بجې دَ بنکاک په لور مخه کوم - هم هغه ورځ به دَ تګ له مخه دَ چائینا ټاؤن سره جوخت سېنټرل مارکېټ په مېن ګېټ کې له مُهېش ورې سره دَ ټاکلې وخت په سمه لیدل کتل هم کومه–

ketabton.com - The Digital Library

شپږ بجې جهاز پورته شو او دَ سنګاپور په لور يې مخه وکړه - يوه ګنټهه ورسته بيا زه او انډين ملګرى ډاکټر کنول دَ سنګاپور په ائيرپورټ کې دَ انټري کولو دَپاره په لائن کې ولاړ ؤ- که يوې خواته دا ائيرپورټ زما سترګو ته په خپل جوړښت او لوړ ښائيست ښه وَيسېدو ، نو بلې خواته په دې ائيرپورټ کې ما ته خپله پېژندګلوي دَ پاکستاني په حېثيت کولو کې خورا ګرانه هم پرېوته - هغه داسې ، چې دَ ايميګرېشن په کاؤنټر ناستې انجلۍ ( کلرکې) ماته ګوته وَنيوله او وئيل يې ...

" ته پاکستانى نه يې "

او زما دَ پاسپورټ تصوير ته يې داسې په ژوَر نظر بيا بيا کتلو ، لکه ما چې دَ بل په پاسپورټ کې خپل تصوير لګولى وي - ډېر مې ورته وَ وئيل ، چې ...

" باور وکړه ، زه پاکستانى يم "

مګر دا وه، چې هر ځل يې سر يوې بلې خواته ښورَولو او په تکرار يې راته وئيل ...

" نو ... نو ... يُو آر ناټ پاکي .... پاکي ، بلېک بلېک "

اوس که په يَو بله موقعه داسې چا راته وئيلى وى ، نو ډېر به خوشحاله شوى وم - چې ځه ياره ! شکل دي سپين پوستو ته شوى دى...... مګر دلته زه په دې خبره خورا ډېر پښېمانه وم او هڅه مې کوله چې دَ خپل سېل دَ لارې دا خنډ ژر تر ژره لرې کړم - خو هغه کلرکه وه چې زما دَ پاسپورټ پاڼې يې اړوَلو را اړَولو ورسته دَ ځان سره يو خواته کښېښولو او زما تر شا يې ولاړو مسافرانو ته په پاسپورټونو دَ انټري ټاپې لګول شروع کړې – دَ څه انتظار ورسته چې بيرته هغې انجلۍ ځان سره نيږدې ولاړ دَ ائيرپورټ يو بل کارنده ته خدائى خبر چې څه وَوئيلو او دَ سر په اشاره يې دَ هغه ځوان توجه راواړَوله - هغه خوان هم يَو وار سر تر پايه راته وکتلو او بيا يې پوښتنه وکړه – لاکن زما په ځواب يې داسې سترګې په سترګو کې راته واچوَلې ، لکه جوړه چې ، يو غټه ښکنځا مې ورته کړې وي..... سر يې يوې بلې خواته وَ ښورَولو او دَ ځان سره وَبُوتلو - دوئ ماته

ketabton.com - The Digital Library

او زه دوئ ته حريان وم ...، چې يَو دم مې په مزغو کې راغلو، چې شوقه ! بس دی ... ډېره وَشوه .. ځان ورته پښتون کړه ، ګنې بې ګناه به يې ترلی يې - او سرې سترګې مې دَ دوئ په سترګو کې واچولې او څه غوندې په کلکه لهجه کې ورته ګډ شوم ...

" زه له اصله Pathan يم Pathan ، خو دَ ډيورېنډ دَ کرښې په لمرختيځې خوا ، ګوا په پاکستان کې مې کور دی "

لا به مې نور څه وئيلو، چې دوارو يو بل ته وکتلو ، څه سره وَ هم بُوښېدو او بيا انجلۍ راته واي...

" يس پتهان... پتهان "

دواړه وَ موسېدو او دَ بخښنې غوښتلو ورسته يې په پاسپورټ ټاپه وَلګوله ، چې پاسپورټ يې راکولو، نو دَ نوم په ځای يې وئيل راته ....

Ok , Take this Pathan

ماخُستن اتهه بجې خواته په ټېکسي کې کښېنستو، ډاکټر کنول وَ ډرائيور ته وئيل ، سرنګون روډ ته مې وَرسوه ، بيا به مې نو خود په کرايه کمولَو کې څه جنجال هم ورسره کړی وي - ولې چې داسې کول خو هندي او پاکستاني کلتوري خاصه ګرځېدلې ده – هم په دې خو شايد چې دې سنګاپورين ډرائيور خوا بده کړې وه - چې په درسته لاره يې دَ ځان سره ګرېز ختو - نور نه پوهېدم ، خو دَ ځُلې څخه يې " بارګېنينګ ... بارګېنينګ " او " لټل انډيا .... لټل انډيا " رنګه تورې په تکرار سره وَ تو - خو ما او ډاکټر خوند ورباندې اخيستو او ورته خندلو مې هم - بس چې يَو وخت سړي په رښتيا راوارَوله او نورنور توُند شو، نو ما په ملا وَ ټکولو او ورته وَمې وئيل ...

" څه برِ برِ دي خبرې ... پيسې درکوؤ ... مُفت مې نه وړې ، ګاډی وَدرَه ... موږ کښته کېږو "

سړي چې دَ کښته کېدو واورېدو ، نو کرار شو ، خود لکه چې وَوېرېدو. چرته دا خلګ پوليس ته نه وَواي ... بيا دا نوره پاته لاره مې دَ سړک دواړو خواؤ ته ولاړو

ketabton.com - The Digital Library

ښائیسته او په رڼاګانو جل بل دنګو دنګو ماڼیانو او ودانیانو ته په کتلو تېره کړه - شپه وه ، مګر زموږ تر ورځې رُوڼه او ډېره زیاته رنګینه هم - څه نیمه ګنټهه ورسته ټېکسي ودرېدو ، ډرائیور وئیل ...
" دا لټل انډیا ، ګوا سرنګون روډ دی"
ډاکټر کنول یَو ځل مخ کې هم سنګاپور ته راغلی وو - چې دَ ټېکسي څخه راکښته کېدو ، نو یې مخامخ غټې مار کېټ ته په لاس اشاره کولو په وخت وئیل ...
" خان بهائي .... یه مصطفی مارکیټ هی"
مارکېټ او ورسره ورته جوړ ښائیسته دوکانونو او رش ګش دومره خوند راکړو ، چې زړه مې غوښتو ... چې ورته په چکر شم - لاکن بیا مې په اوږه راټال درانه بېګ ته پام شو ، نو ډاکټر کنول ته مې ور ژغ کړو ...
ډاکټره ! اوس ته دَ مخه او زه درپسې ، هوټل راښئیه ، چې له دې بېګونو خلاس شو"
بیا دائی دَ مخه او زه ور پسې ، څو هوټلانو باندې وګرځېدو - مګر هر هوټل دومره ګران وو ، چې وَس مو نه په رسېدو – چې ښه سترې شولو ، نو ډاکټر کنول دَ یَو لارَوي څخه دَ انډین ګیسټ هاؤسونو تپوس وَکړو- دَ لارَوي په ښول شوې لاره روان شولو ... خدائی حق دی ، چې ښه ډېر سترې هم وو- مګر دَ سترِیا وساکولو حاجت مې ځکه نه محسوسَولو ، ولې چې زموږ له مخه یوه ځُورې او چټه غوندې پېغله ، چې ښائیسته خو نه وه ، لاکن په تک تور او تنګ مني سکرټ کې یې ټکې غورځوَلې او زموږ مخ مخ ته روانه وه - یَو دوه ځله خو یې مخ هم راواړَولو - ګوره چې اوس دا موږ ته چُړت وړې وه او که یې څه بل مطلب ؤ ..؟ ډاکټر ته مې څُوکه غوندې وَوئیل ...
" چرته دَ دې انجلۍ وَکور ته خو مې نه وړې ، چې دَ سرنګون روډ څخه دا دَ مخه ده او موږ ورپسې پسې روان یُو؟ "

ketabton.com - The Digital Library

ډاکټر وَخندل او اوس به یې لا څه وئیل ، چې هغې انجلۍ بیا شاته وَکتلو او وَ موسېده ... نو ځکه دَ ډاکټر ځواب په خلې کې پاته شو او راته وئیل یې ...

"خان ... خیال رکهنا ... یه لړکي مجهې اچهي نهین لګتي"

ما ورته وئیل ...

"فکر مه کوه ، دومره لا هم کمزوره نه یم ، چې هر چا ته به زړه په لاس کې ږدم"

ما چې څنګه دا خبره کوله ، نو هغې انجلۍ دَ یَو دوکان په تړه باندې پرتې چوکۍ کې ناست ځوان ته لاس پورته کړو ، وئیل یې ...

" هائی "

دَ هغې انجلۍ " هائی " څه وو ، چې دَ پښو دلاندې مې مځکه وَخته – ما او ډاکټر یَو بل ته داسې وَکتو ، لکه دواړه چې ښه مزېداره بې وقوفان جوړ کړل شوې ؤ - او په دې خبره کې څه شک هم نه وو پاته شوی ... ولې چې هغه انجلۍ ، انجلۍ نه بلکه Lady Boy یعني "نرښځئی" ؤ-

*****

دَ دواړو په صلاح دَ یَو تامل کورنۍ دَ بالائي پوړ په یوې خوُنې کې Paying Guest جوړ شولو - خونه څه وه ، بس هسې ساده کوټه وه - نه په کې حاجت ځای او غسل خانه وه او نه بل دَ ضرورت خاص شئی - بس دوه کټونه پراته ؤ، چې وربان‌دې نیالیانې او څادران پراته ؤ- باک مې ځکه نه کولو، چې مازې شپه تېرَول ؤ - او بیا ډاکټر دومره خوشحاله ؤ ، لکه جوړه چې خپلو عزیزانو ته راغلي وي - ولې نه ، که یې سکه عزیزان نه هم ؤ، خو په بهګوانانو خو ورګډ ؤ- له زړه یې منلو که نه، خو زما او دَ هغوئ دَ مخه یې دَ دې کور په تاخچو کې پرتو بهګوانانو ته په وار وار جوړه لاسونه نیولو ضرور - په دې کورنۍ کې دوې سُرتوَرې او په رنګ هم تکې تورې او لغوَړنې ، دوه ځوانان او دَ هغوئ زړو مور او پلار استوګنه کوله - دې ځوانانو او پېغلو زمونږ داسې خدمت کولو ، چې که مې غوښتې وای نو دَ ماما زامن یې جوړېدلی شو – لاکن دَ یوې شپې خبره وه، بس یَو رنګه مې تېرَوله–

ketabton.com - The Digital Library

څه درې پاوه وخت مې هلته سترِیا وسا کړه او تیاري ورسته دباندې راوَوتو ... په سرنګون روډ کې په یَو اندین هوټل کې مې دال او چاول وَخوړَلو او مصطفی مارکیټ ته په سپَل شولو - شه خوش رنګه مارکیټ وو - لاکن دَ کوالالمپور دَ مارکیټونو په سر بیا هم نه ؤ – په دې مارکیټ کې په ګرځېدو راګرځېدو مې یَو ځای نابېره شېرینه پښتو تر غوږه شوه ... وَدرېدم او شاته چې ګورم ، نو دوه کچه ځوانان ، چې پښتنې جامې یې په تن وې ، خپلو کې خبرې په پښتو کولې - دومره خوند یې راکړو ، چې ژغ مې ورباندې وکړو ...

" پښتانه یاست ؟ "

هغوئ وئیل ..... " هو پښتانه یُو "

" دَ کوم ځاي ... ؟ "

دوئ وئیل .....

" دَ چمن "

دا " چمن " توری یې داسې په خُله راغلو ، لکه دا چمن ښار چې جوړه ځانته یَو بېل هېواد وي - په خبرو خبرو کې مې بیا ورځخه پُوښتنه وکړه ...

" دا الیکټرانکس سامان خو دلته ډېر ګران دی - که څه هم زموږ هېواد ته له دې ځایه ورځي "

په هغو دوؤ هلکانو کې یوه وئیل ...

" هو ګران دی ، چې یَو یَو شئی اخلې ... مګر موږ خو دَ کنټېنرانو په حساب له دې ځایه سامان وړو .. ځکه راته ارزان پرېوَځي "

اوس که څه هم هغه دواړه هلکان تر موږ په عُمرونو باندې واړه وو ، خو دې غټو خبرو یې موږ ورځخه په حېثیت واړه او نابلده وَ یسَولو ... او مخته ورځخه تېر شولو - په ګرځلاؤ کې چې ښه سترِي شولو ، نو بیرته دَ تامل کورنۍ په لور روان شولو - چې دې وخت له موږ څخه په ډېره فاصله باندې پاته شوی ؤ - نو ځکه تر هغه ځایه رسېدلو پورې موږ ښه ډېر سپَل کولی شو -

ketabton.com - The Digital Library

دَ سرنګون یوه اړخ ته سپین ماجت او ورسره ورته دَ چینیانو وړه غوندې اوپن ا
ئیر عبادت ګاه وه - ماجت کې مې دَ ماځُستن لمونځ ادا کړو او مخته له ډاکټر
کنول سره تېر شوم - چې کله دَ چیني عبادت ګاه سره په څنګ کې تېرېدو ، نو څه
ګورو ، چې چینائي نران او ښځې لاس په لاس ، په یوه غټه دائره کې په یَو څیز
باندې شاوخوا ګرځېدو راګرځېدو - په مخونو یې سره شنه، تور او ژېړ رنګونه
لګولي وو او قسم قسم لفظونه یې په ګډه له خُلو څخه راوتلو - دلته ډاکټر کنول
دَ دې چینائي مېلې کتلو سم دستي راته وَوئیل ...
" یار ه ! دې چینائی عبادت کولو انداز ته چې وګورم ، نو ستاسو دَ دین په
رېښتونولی مې باور شي "
یَو وار مې لا خبره حلق ته راغله ، چې ورته وَوایم، چې نه یوازې دَ چینایانو څخه
، بلکې .... خو بیا مې زړه ته راغلو ، چرته راڅخه خفه نه شي - ځکه مې په "هو"
کې ورسره "هو" وَتړلو - او یَو وار بیا دَ سنګاپور دَ رُوڼې شپې په خوش رنګیانو
کې رنګېدلو دَ ده په خوښه او ملګرتیا جوګه شولو-
*****
دا شپه راباندې دېره په زاوال تېره شوه – یَو خواته غوماشې وې ، چې کرار ته
یې نه پرېښوَولم او بلې خواته دَ زړې پنکهې کړَېی - ډاکټر بختَور لا ښه وو ، ژر
ویده شو - لاکن زه وم ، چې سترګې مې نه سره ورَتلې - یَو اړخ بل اړخ اوېښتم
او زړه مې غوښتو چې په یَو کتاب یا رساله باندې سترګې کرارې کړم - لاکن
داسې مې هم ځکه نه شو کولی ، ولې چې دَ دباندې دَ بلبونو په لړه رڼا ، چې دې
وخت دَ کهړکیانو دَ شیشو څخه دننه راتله ، کې لوست نه شو کېدلی او دَ خوُنې
بلب مې هم په دې نه بلوَلو ، چې په خواږه خوب ویده هندو یار مې نه شو
راوېښوَلی – بس دې وخت زه وم او ډؤل ډڼل راځرمه شوې سوچونه ، چې یَو
وخت یې هغو اژدهاګانو مخامخ وَ درَولم، چې دَ چیني یا منګولي نسل بُدها
منونکو خلګو په برخه دَ خوُش بختیۍ، سوکالۍ او نورو ښو علامتونو په څیر
ورَغلې دي ... "چرته دا ځناور خو بُدها نه دی ورته په ګوتو کړی ..؟ "

ketabton.com - The Digital Library

او بیا مې په خپل سوچ او فکر دَ دې خبرې داسې نفي وکړه ... چې دَ تاریخ له رُویه بُدها په درست ژوند کې
چپ دَ مارانو له باچا "ناګا" څخه نور داسې رنګه ځناوران نه دي یاد کړل شوي – نو ، خبره بیرته دې ځای ته وَرسېدله ، چې دغه اژدها خود لکه چې دَ افسانوي علامت په توګه دَ دوئ په پخوانئیو افسانو ، نکلونو ، کیسو او متلونو کې غوره کړل شوی دی ... او بیا کرار کرار دغې ځناور دَ بُدها منونکو په مذهب کې ځای موندلی دی - ځکه خو نن دَ دې نسل خلګ چې په کومو هېوادونو کې هم په زیات شمېر مېښته دي ، هلته دَ دې اژدها ښودنې نه یوازې په سرکاري مونوګرامونو کې شوې دي بلکې په قامي او مذهبي مېلو کې هم دَ رنګینو رختونو څخه یې جوړَونې او ښودنې په خصوصیت سره کېږي –
خو دَ پورتنئیو ذکر شوؤ خبرو پرته موږ دغه اژدها نه یوازې دَ تهائي لېنډ ، لاؤس، وېتنام، برما ،کمبوډیا ، او نېپال رنګه ملکونو دَ پاره دَ اېډز په شکل کې دَ تباهۍ علامت ګڼلی شو ، بلکې دَ چین او انډیا دَپاره یې دَ زیاتې آبادۍ هغه بلاهم، چې خلګ به ډېر ژر په وَږو او پاڼو خوړَلو باندې مجبور کړي - او بیا دغه اژدها دَ سنګاپور دَ خلګو دَپاره قانوني ویره، دَ سري لنکا دَپاره دَ خوشحالیانو دُښمن، دَ هانګ کانګ ، کوریا او ملائیشیا دَ پاره دَ صنعتي انقلاب زېرى او دَ پاکستان یا برما دَ پاره دَ منشیاتو لعنت او عذاب هم ګڼلی شو - غرض دا ، چې په داسې رنګه ګډ وډ سوچونو کې دَ نیمې شپې خواته خوب په خپله پسته غېږه کې واخیستم -
*****
دَ سهار چائی او ډوډۍ ( ناری ) مې په ډېرو لږو پیسو په تامل کورنۍ تاوان کړه او دباندې راوَختو - په لومړي نظر دَ دباندې چاپېر دَ لمر په رڼا کې داسې راته ښکاره شو ، لکه موږ چې په انډیا کې ګرځو- سنګاپور او دومره زیات انډین ... ؟ سر مې دَ ټېکسي ډرائیور په هغه خبره یو دم خلاس شو ، چې وئیل یې ..." دا لټل انډیا دی " – خېر، دَ دې لټل انډیا دَ مېن روډ ، ګوا سرنګون روډ دَ یَو بس

ketabton.com - The Digital Library

ستهاپ دَ ښائيسته ټکټ کېښن څخه مې ټکټونه تر لاسه کړو او دَ سېنټوزا روټ بس ته وَ ختو - په دې بس کې په شمېر يو څو سيټان وو، چې دَ خواپاکۍ يو مثالي ماحول په کې زما په رنګه دَ يو کليوال سړي دَ پاره دَ حېرت خبره نه يوازې سوال کوله بلکې دَ دې بس دننه دَ خلاسې خلاسۍ ماحول دَ روح دَ خوشحاله کولو په څير ځواب لټولو ته مجوره کولم هم - عجبه خو دا وه، چې په دې بس کې هيڅوک هم دَ بل په اوږه نه وو سپور ... هرې سوارلۍ ځان ځانته پراخ سيټونه درلودلو –ګوا سړي دَ سړيانو سره نه او نه ښځې دَ ښځو سره ناستې وې ، بلکې دلته ښځې او سړي يو بل سره څنګ په څنګ په ښائيسته او غټو سيټونو باندې پټه څُله ناست وو- هيڅ قسم شور شرابه نه وه - زه دَ يوې زړې آنټي ، ګوره چې دَ کوم هېواد وه ، په څنګ کې کښېنستم او ډاکټر زموږ مخته په سيټ له يوې چټې پېغلې سره اوږه په اوږه کښېنستو .... او په وار وار به يې تر شا داسې راته کتلو لکه جوړه چې هغه ټُوره وهلې وي –

دغه بس دَ ښائيسته ، څرکېدونکو او دنګو دنګو ودانيانو په منځ کې په جوړ هوارو سړکونو باندې مخته منډه وهله - شاوخوا غوره شوی چاپېر هغه ... دَ چا خبره په ما وَمنله، چې سنګاپور ته Fine City نه يوازې دَ ښائيسته ښار له سوبه وئيل کېږي بلکې دلته که څوک دَ ټرېفک دَ قوانينو خلاف ورزي کوي او يا هر قسم سخن څېزونه غورځوَي. نو سمدستي يې پوليس جرمانه کوي - هم دغه وجه وه ، چې يَو هم داسې ځای مې په سنګاپور کې تر سترګو نه شو، چې زړه پرې خراب شوی وي - هرخواته خواپاکي او ښائيست وو، چې سترګې يې ګټلې - ما دَ سنګاپور په ښائيست خوند اخيستو او زما مخته ناست ډاکټر کنول دَ څنګ انجلۍ سره وړې، سړې او خوږې خبرې کولې - يَو وار مې لا په اوږه هم وَ ټُمبلو، لاکن ظالم ګرسره چُرت را په کې نه وَهلو - نو ځکه بيا نو ما هم دائی خپل عشق ته ابله کړو -

سېنټوزا ، دَ سنګاپور سره جوخت يَو وړوکی ټاپُو ( جزيره ) وو- دلته ډېر پخوا يوه عسکري چهاونۍ وه - لاکن اوس دَ خلګو دَ سېل دَپاره درست ټاپُو او

ketabton.com - The Digital Library

شاوخوا دَ سمندر غاړې په کار راوړل شوې وې - دې واړه ټاپُو ته دوې لارې تللې وې – یوه سمندري لاره وه ، چې دَ Ferry ، ګوا وړو ، غټو کشتیانو په ذریعه سړی ورتلی شو او بل، دَ سنګاپور دَ خوا ، له سمندري غاړې دَ هسکې میناري څخه دَ سېنټوزا تر ساحلي میناري پوري په چئیر لفټ کې ـــ په دواړو لارو سړی په لس منټه کې ورته ښه په کراره رسېدلی شو – موږ دَ لفټ چئیر ټکټونه وکړو او میناري ته په ساده لفټ کې وختو- چې کله په چئیرلفټ کې دَ سېنټوزا په خوا روان وو، نو تر لرې لرې پورې دَ سنګاپور غټې ، ښائیسته او ښېخي دنګې ماڼیانې ، ودانیانې او ښائیسته کورونه داسې ښکاره کېدو ، لکه هغه چې دَ خوبونو یوه ښاریه وي - او دلاندې دَ سمندر په شنو اوبو کې واړه او غټ لانچونه او کشتیانې هم دَ کتلو وړ ننداري وړاندې کولې - موږ دلته له بالا څخه خورا ډېر عکسونه هم واخیستلو او ځانونه مې دَ دې خوبَولې ماحول برخه کړلو-

په سېنټوزا کې ۲۲ واړه سټېشنان یا دَکتو ځایونه جوړ وو ، چې په ټولو باندې یَو Mini Train ، ګوا وړه رېل ګاډۍ راګرځېدله - ښه خبره دا وه، چې بیا بیا به دَ ټکټ اخیستلو ضرورت نه پېښېدو – په یوه ټکټ هر سټېشن ته تګ کېدلی شو - تر ټولو لومړی موږ دَ Butterfly Park نامې سټېشن په لور وره غلو - چرته چې دَ رنګارنګ ګلونو ، زرغونو بُوټو او چمنیانو دغه ښائیسته پارک هغه وخت لا نور نور هم دَ رُوحاني سکون راکولو پلمه شو، کله زموږ سترګې هغو ښائیسته تمترو ته په کتو شوې ، چې فضا یې ګل ورینه او داسې رنګینه کړې وه ، لکه شمال چې دَ رنګارنګ ګلونو پاڼې یوې بلې خواته الوَځوي - دَ یوې اندازې په سمه ، دلته پنځوست قسمه ... څه کم او زیات دوه نیم زره تمتري خپل مخته آزاد دَ ګلونو شاوخوا الوَځي را الوَځي - داسې خو هر تمتری وَ ځانته په ښائیست کې ځانګړی وو، خوځینې داسې تمترې هم لیدل کېدو، چې دَ یو ماشوم په رنګه مې زړه ورته ټالۍ وهلې او غوښتلو مې چې وَ یې نیسم او بازۍ ورسره وکړم - لاکن داسې مې نه شو کولی ... ولې چې دلته هر څه ته قانون

ketabton.com - The Digital Library

تحفظ وربخښلی دی – ځکه خو ، هر څه او هر کس دَ يَو سيستم دلاندې ژوند ته په خوشحالۍ اوړې ورکوي - خير ، له دې ځايه چې څنګه بيرته موږ په وړې رېل ګاډۍ کې کښېنستلو ، نو په وړه ډبه کې په مخامخ دوؤ سيټونو باندې دوې جاپانۍ انجونې کښېنستې - ګوره ، چې ما او ډاکټر کنول ورته دَ بلې دُنيا مخلوق ښکاره شولو ، که بل څه چل وو ، چې يَو دم يې کېمرې آن کړې او راته وائي ...

" که تاسو خوا نه بدَوئ ، نو موږ له تاسو سره ګډ تصويرونه اخلو "

وړی څه غواړي .... فقط دوې ډوډۍ - ډاکټر ورته په ځواب کې له ژبې سره سم دَ سر په اشاره وَوئيل ...

" ولې نه .... ولې نه .... يقيناً "

او بيا يَو وار يوه انجلۍ زموز په مابېن کې کښېنسته ... هغې بلې تصوير واخيستو او بيا دويمه راسره کښېنسته ... دغه رنګه مې په ګډه ډېر زيات تصويرونه واخيستو - يَو وخت دَ لاس په اشارو کې ما ورڅخه پُوښتنه وکړه ...

" يوازې ياست ، که څوک نرينه هم درسره دی ؟ "

زما په دې سواليه اشارو دواړو په خپله ژبه کې راته ګډې شوې ...

ډاکټر ته مې وئيل ...

ياره ! دا انجونې څه وائي ... سر دې ورباندې خلاسېږي ، که څه ؟ "

هغه په خندا ځواب راکړو ...

دوئ وائي ، چې له موږ سره ملګرې شي او بس "

زه پوهی شوم ، چې ډاکټر ټوکه راباندې وکړه ، نو ځکه مې دَ خپلې خوا داسې وار ورباندې وکړو ...

" يَه يَه دوئی دا نه وائي ... بلکې دوئی وائي ، چې ستا په رنګه پلار او زما په رنګه ورور لري "

او بيا موږ دواړه په خندا سر شولو - دَ خوند خبره دا وه ، چې هغو انجونو هم راسره خندلو او په خندا خندا کې يوې زما لاس هم داسې وَنيولو ، لکه زما په

ketabton.com - The Digital Library

خبره چې یې سر خلاس شوی وي - ډاکټر چې زما لاس دَ جاپانۍ په لاس کې ولیدو ، نو یې وئیل ...
" ما نه وئیل ... چې دَ دوئی څه مطلب دی؟ "
او بیا ګوره ، چې څله نه ما لاس ورځخه راټول کړو او نه دې په کراره ایله کړم - دَ ډاکټر کنول خبره کېدای شوه ، چې ربښتیا شوی هم وی ... بس که موږ دَ Musical Fountain نامي فوارو ، چې تر ورځې دَ شپې خواته په دې خوند کوي چې نه یوازې دَ هرې فوارې دَ اوبو رنګ په بېلو بېلو رڼاګانو ځانګړی وي بلکې خوارږه سازونه هم ژغوي ، څخه مخته په دې بل سټېشن نه وی کوُز شوی - لاکن دا څه دوئی خو هلته پاته شوې او بیا یې لاسونه داسې راته ښوروَلو ، لکه دَ دوئی وخت چې زموږ سره ښه تېر شوی وي ... یَو وار لا زړه راته وئیل ... چې بیرته ورشم او ورسره څنګ کې کښېنم ، لاکن چې ډاکټر ته مې پام شو ، نو دَ خواهش په مرۍ مې پښه کښېښوَله -
دلته دَ Under Water Sea World نامي ځای دَ کتو وَړ دی - که وَوایم ، چې په دې Sentoza کې تر ټولو زیات زړه خوشحالوَنکی او دَ حېرت وړ ځای دغه یَو دی ، نو غلط به نه یم - ولې چې دِ شیشې جوړ یَو غټ ټیوب دَ سمندر په تله کې داسې لګول شوی ؤ ، چې ورځخه دَ سمندر دَ مخلوق او رنګین ماحول ننداره په آسانه کېدلی شوه - ټکټونه مې واخیستو او په Moving Belt وَ دربدو - دا غټ ګرځنده بېلټ کرار کرار مخته روان وو ، دَ سمندر ښائیسته او رنګا رنګ مخلوق ، لکه ماهیان ، کیشوګان ، کومباران او شنه بُوټې ( اوبږۍ ) په خپل فطري چاپېر کې ډېر ښائیسته ښکاره کېدو - ځای په ځای دا ټیوب تر خطرناکو پانړونو دلاندې داسې تېر کړل شوی ؤ ، چې کله به سړی ورځخه تېربدو ، له ډېرې ویرې به یې زړه دَ حلق ژبه ښکلوله او سترګې به یې وازې نیولې وې چې چرته هغه غره هومره پانړ ورباندې را ایله نه شي - غرض دا ، چې دَ ماشومانو سره سره دَ ځوانانو دَ پاره هم ډېرې زړخوښیانې په کې لیدل کېدې

ketabton.com - The Digital Library

په سپنتوزا کې ، يَو بل ځای دَ "مني ټرېن" چې دوئی ورته "مونو ريل" هم وئيلو ، څخه کښته شولو – دا يوه ښائيسته سمندري غاړه وه -- که يوې خواته پېغلې او ځوانان ، واړه او زاړه دَ سمندر په اوبو کې لمبېدلو ، نو بلې خواته ، تر لرې لرې پورې په رېګ باندې پراته هم وو او Sun Bath يې کولو - زه او ډاکټر هم په رېګ باندې وَ غزېدو او ځانونه مې دَ دې رنګين او ښائيسته سمندري غاړې په رنګونو کې وَرنګولو ، ګوا په خپله وَ نه لمبېدو ، خو دَ نورو خلګو لمبېدل مې په هډو واخيستو –

بيا يَو پارک ، بل پارک وګرځېدو او دولس بجو خواته په چئير لفټ کې بيرته دَ سپنتوزا دَ وړې لاکن ښائيسته دُنيا څخه دَ سنګاپور دَ ښار وَ مځکې ته راغلو - ما سره دغه يوه ورځ وه ، نو ځکه مې غوښتلو ، چې ډېر ځايونه وَوينم - په بس کې کښېنستو او Tang Dynasty نامې تاريخي ځای ته وره غلو - دا دَ براعظم ايشياء تر ټولو لوی تاريخي او ثقافتي پارک ؤ - دلته وړې لوې دَ زړې زمانې چينائي طرز ودانيانې دَ ټانګ زمانه اقتدار يادونه تازه کوي - پارکونه او ودانيانې دومره په ترتيب جوړې وې ، لکه ېخوا چې نه ، په نن زمانه کې جوړې کړل شوي وي - محلونه، دَ مشهورو چينائي شاعرانو کورونه او دَ عدليه ودانۍ دَکتو وَړ ځايونه ؤ -

دلته په پلنو پلنو دېوالونو يې موږ له يوه سره تر بله سره چکر وَ وهلو - يَو ځای دَ ښزوګۍ مجسمه هم جوړه شوې وه ، چې ورته په ډېر احترام يې مونکي ګاډ هم وئيلو - داسې داسې ښکاره کېدو ، لکه دَ زړې زمانې چينايانو چې دا ښزوګۍ ( توبه نعوذُ باالله ) خدائی يا دېوي منلې وي – پرته دَ پُوښتنو ، که څه هم چا غوره ځواب رانه نه کړو را ، لاکن دَ دې باوجود هم دَ دې مجسمې په حقله دَ دې ځای دَ اصل چينائی خلګو عقيدت دا څرګندَولو ، چې دَ دې مونکي ګاډ ځانته يَو تاريخي او مذهبي حېثيت پاته شوی دی او خبره وه هم دغه رنګه ، ولې چې مونکي ګاډ که څه هم په ښکاره ژوندی نه وو ، خو دَ منونکو دَ عقيدې له کبله فېض يې ورته رسېدلو - دا عقيده ، چې څومره زړه نه منله ... خو سترګو دغومره

ketabton.com - The Digital Library

باور ورباندې په دې وجه کولو ، چې دَ مونکي ګاڼ جنت دَ سنګاپور په نامه ځانته په درسته نړۍ کې په هره اړه ساری نه درلودلو ... لاکن دا بیا بېله خبره ده ، چې Raffless نامي انسان دَ سنګاپور دغه ښکلې سیمه لومړی ځل دُنیا ته په ګوته کړې وه - دَ ډاکټر کنول دَ دې پُوښتنې ، ګوا....

" دا بُت ، خو زموږ دَ بهګوانانو څخه زوړ نه دی "

په ځواب کې ما ورته وَوئیل...

" بخښنه غواړم ، دا دعوه ته هم نه شې کولی "

ډاکټر زما په خوا داسې څه غوندې په تریو تندي را وَکتل – خود زما خبره ، لکه چې بده ورباندې وَلګېدله، ځکه خو مې مخته وَ نه څېړله .... هو ، په زړه کې مې وئیل چې ، چې آیا ، دائی په دې خبر وو هم ، که نه ، چې دَ بُتانو دَ جوړوَلو تاریخ دَ انسان دَ وجود هومره پخوانی دی – غلط به نه یم، که وَوایم، چې کله حضرت آدم علیه السلام سترګې رُوښولو په وخت دَ خدائی پاک دَ کلیمې سره پېوست دَ حضرت محمد صلی اللهُ علیه واله وسلم نوم په حقله پُوښتنه دَ حضرت جبرائیل علیه السلام څخه وکړه، نو دَ حسد او رشک سلسله شروع شوه – او بیا ورپسې هابیل او قابیل دَ شر او امن پېلامه شولو ، نو انسانان څُوکه څُوکه په دوؤ ډلو کې سره وَوېښل شولو - یوه ډله دَ رحمان په لاره او بله دَ شېطان په لاره روانه شوه ... او له دې سره سره دَ ښه ژوند کولو او سر ساتنې تکل او احساس په انسانانو کې دَ دُنیا جوړونکې او ژوند سپارونکې خالق دَ لټولو تجسس پیدا کړو - او هر چا دَ خپل خپل سوچ او فکر په سمه خدائیان ټاکل شروع کړو – ځینو انسانانو ته سجدې لګول شروع کړې او ځینو په عقلي دلیلونو غرونه، لمر، سپوږمۍ، اور، اوبه، هوا او غټ ځناوران خدائیان وَګڼلو او دَ هغوئ عبادت کولو دَ پاره یې دَ هغوئ په بڼه دَ ختو او لرګیانو ، یا بیا دَ کاڼو څخه بُتان جوړوَلو ته چمتو شول - هم دغه رنګه دَ خدائیانو په جوړوَلو دَ مجسمه سازۍ آرټ پئیل شو –

ketabton.com - The Digital Library

درې نيمې بجې خواته زه او ډاکټر کنول دَ سنګاپور ښار وَ چائينا ټاؤن ته وره غلو – دلته هم هغه رنګه کيسه وه ، لکه دَ کوالالمپور په چائينا ټاؤن کې - ګوا هغسې رنګين سابه واني دوکانونه او ريړهيانې، چې په کې اکثره خوراکي شيان خرڅېدلو ، دَ کتو وړ ؤ - هر لور چينائي پېغلې ښکاره کېدې - دلته مور له يوې ريړهۍ سره وَدرېدو او په ولاړو مې دَ وريژو غابونه صفا کړو – مور خو شوم، خو دَ ډوډۍ بار مې نه شو ورباندې مات ... مجبوري وه، څه مې کولی شو - ولې چې دَ دوئ وَ نورو خوراکونو ته مې زړه نه کېدو - خېر، دَ سترګو تنده مې نو ښه په کې سړه کړه او بيا له دې ځايه مختته روان شولو – مرينه سېنټر، رېفلس شاپنګ سېنټر او فېسټيول شاپنګ سنټر ، چې درې واړه دَ سنګاپور غټ او نامي مارکېټونه وو ، کتو سره سره مازيګر خواته په آرچرډ روډ کې له يوه سره تر بل سره پورې وګرځېدو راوګرځېدو - دلته دَ کتو وَړ خبره دا وه، چې نرينه وو که ښځې ... زياتره دَ جامو او ظاهري کړو وړو څخه داسې ښکاره کېدو ، لکه دَ دې علاقې خلګ چې دَ High Gentry سره اړه لري - ولې چې دَ کبر دَلاسه هر يَو په کې په ملا غوټ ماتېدو ... ښائيست هم په کې زيات وو ، خو له بده مرغه دې زړه مې ورڅخه استفاده نه شوه کولی - غرض دا ، چې په دې آرچرډ روډ کې دَ سترګو خوړَولو پرته ، چې سړی پلازه سنګاپوره او لکي پلازه ، چې په هره اړه ساری نه لري ته وَرشې ، نو زړه په رنګ رنګ ښکلاګانو باندې جارېدو ته په سينه کې په ټوپونو شي ، ولې چې دلته په حُسن غره سنګاپورين ځېرې تر نورو ځايونو په شمېر زياتې ليدل کېږي - ګوا زما او دَ هندو ملګري هم څه دغه رنګه حالت وو ، چې دَ سترګو تنده مې ، په ځای دَ ماتولَو ... نوره نوره زياتته شوه او آخر پای دباندې را وَوتو - خبره دا چې، ما به سنګاپور نور نور تر پښو ايستلی وای ، که ډاکټر کنول راته جوړه لاسونه نه وای نيولې او وئيل به يې راته ...

" خانه ! تا خو په يوه ورځ کې دَ سنګاپور ټول خوندونه واخيستو "

او خبره وه هم دغه رنګه ، دَ سترِيا احساس راته ځکه نه کېدو ، چې يَو خو هر لور ښکلاګانې وې او بل مې دا اراده کړې وه، چې شپه به درسته په ټرېن کې په

ketabton.com - The Digital Library

خوب تېرَوم - ولې چې هغه دَ چا خبره، چې دَ ټرېن او ځانګو خوب يَو برابر دی ، ښه سترړيا په کې وسا کېږي - خېر، دَ لمر پُټېدو سره سم زه او ډاکټر کنول سرنګون روډ ته بيرته وَرسېدو –

ماځُستن دَ تياري ورسته مې بېګ په اوږه راوَځړَولو او انډين ملګري په اجازت په ټېکسي کې کښېنستم ... ټېکسي چې څنګه روان شو، نو دَ کنول غوړېدلې څېره په لومړي ځل رانه مړَغونې غوندې ښکاره شوه – داسې يې لاسونه راته وَښورَول، لکه زما وَ بېلتون ته چې يې زړه نه کېږي - خدائی حق دی ، چې زما زړه هم له هغه څخه دَ بېلېدو له سوبه ډېر خفه وو- ځکه خو تر ډېره مې تر شا شا ورته کتلو او خپل خوارِه هندو يار څېره مې په ذهن او زړه کې په وروستي ځل ثبت کولو هڅه کوله - درسته لاره مې دَ ډاکټر سره دَ تېر کړل شوي وخت فلم بيا بيا له سره کولو او په نمناکو سترګو مې هغو خوش رنګه لمحو ته زړه پسخولو ، چې ده به په ټوکوټکالو کې راسره ګډَولې - څنګه رېلوې سټېشن ته ورسېدم ... په دې نه شوم پوهی او چې لړ په حال کې شوم، نو څه ګورم ، چې ټکټ او پاسپورټ مې په لاس کې او زه دَ سنګاپور رېلوې سټېش په غټ حال کې دَ کاؤنټرونو خلاسېدو په تمه ولاړ وم - دا رېلوې سټېشن په هره اړه زما دَ هېواد تر غټ او ښائيسته ائيرپورټ څخه يَو په سله ښه او صفا ؤ –

ټرېن په لس نيمې بجې دَ شپې دَ سنګاپور رېلوې سټېشن څخه دَ کوالالمپور ملائيشيا په لور مخه وکړه - دَ دې صفا او ښائيسته ټرېن ډبو له يوه سره تر بله سره پورې تر خپلو په مابين کې لاره درلودله او داسې ښکاره کېدو، لکه درست ټرېن چې په يوه اوږده ډبه باندې اړه لري - ولې سړی په آسانه له اولې ډبې څخه تر آخېرنۍ ډبې پورې تلی راتلی شو - او بل ، دَ ډبو ترمنځه جوړې دې لارې داسې ځرګندَولو لکه دلته چې مسافران په رېل ګاډيانو کې بې ټکټه سفر نه کوي او نه دَ ټي ټي دَ چېکنګ په وخت له يوې ډبې څخه بلې ډبې ته ځان پُټولو دَپاره هلې ځلې کوي - لنډه دا ، چې په خپل برت وزمه اوږده سيټ باندې کښېښولو او دَ نيږدې ډائينګ کار په يوه صوفه وزمه چوکۍ کې کښېنستم -

ketabton.com - The Digital Library

زما شاوخوا ځيني نور خلک هم ناست ؤ – دَ زياتره خلکو سترګي په ما کې کېدای شي په دې وجه ښخې وې ، چې دَ څېرې کړو وړو مې له ناستو ټولو خلکو سره هيڅ سمون نه خوړلو - ولې هغوئ ټول پيت پوزې وو او زه په کې دَ کاکاشاهي دَ نسل يوازينی کس وم - يَو وخت مخامخ ناسم ځوان ، چې په څنګ کې يې ګرل فرېنډ ناسته وه ، له ما پُوښتنه وکړه ...

Hi Mr. Where do you come from?

او بيا يې زما دَ ځواب انتظار لا نه وکړو او خپله يې مخته وئيل ...

Are you Indian?

ما ورته وئيل ...

" يَه .... زه انډين نه يم "

لا به مې نور ورته وئيل ، چې بيا يې پُوښتنه وکړه ...

" ايرانی يې که عرب ؟ "

ورسره ناستې ګرل فرېنډ يې په خندا کې وئيل ...

" نو ... نو انګلېنډ "

او دَ دوئی په خبرو دَ نورو ناستو خلکو هم راته پام شو .. نو ځکه مې په خندا ورڅخه پُوښتنه وکړه ...

" زه او انګرېز ... دا خبره تا څنګه او په کومه حواله وکړه ؟ هغه خو سره او سپين خلک دي او زه .... زه خو "

انجلۍ چې لا يې هغه رنګه غاښونه سپين کړي وو ، وَوئيل ...

" All looking same same "

دا خبره چې يې کوله نو لاس يې په خپله پوزه باندې ايښی وو - ګوا ټول دَ جګې پوزې خلک يَو رقم مونږي - دَ پېژندنې په اړه دا مجلس تر ډېره پورې تود وو ... که څه هم ستړی وم او خوب ته مې ټالۍ وهلې ، خو دَ دې مجلس څخه پورته کېدو ته مې زړه په دې نه کېدلو ... چې په داسې رنګه خو ما دَ دې خلکو دَ روئيو

ketabton.com - The Digital Library

او خوی او خصلت صحیح اندازه لګولی شوه – ولې چې هوشیاران واي ، چې سړی په سفر کې پېژندل کېږي او ما دَ دوئی اندرون ته ادراکي نظر اچولی ؤ – ټرېن ۳۵ منټه سفر کولو ورسته وَدرېدو ، ما پوُښتنه وکړه چې دا سټېشن دی.. هغه هلک وَ موسېدو او راته وئیل یې...

"یَه ... دې وخت ټرېن دَ سنګاپور او ملائیشیا په باډر ولاړ دی او دَ اِن آؤټ تر مرحله تېرېږي"

او بیا چې ټرېن څنګه مخته روان شو ، نو له دې همسفر یارانو څخه مې اجازه واخیسته او په خپل اوږده سیټ باندې وَغزېدم - دَ درستې ورځې ستړیا داسې دَ کاره ایستلی وم، چې څنګه مې سترګې پټې کړې ، نو خوب په خپله غېږ کې واخیستم–او بیا زه وم او چپه راسته خوبونه ... څو ځله مې سترګې هم خلاسې شوې ، خو داسې به مې وَسنجَولو ، لکه زه چې ماشوم وم ... په ځانګو کې پروت یم او څوک مې کرار کرار ځنګوي - نو ځکه به مې سترګې بیرته سره وره غلې -

*****

سهار شپږ بجې خواته مې له خوبه سترګې خلاسې شوې - دې وخت ټرېن له کوالالمپور څخه دَ یوې ګنټهې په واټن باندې ؤ - راپورته شوم ، دَ ډبې وَ واش روم ته وره غلم، مخ لاس مې پرېمنځلو او ږیره پنر تېر راتېر کړو - په ډائینګ کار کې مې لا چائی سمې نه وې کړې ، چې ټرېن دَ خپل ټاکلي وخت څخه تش لس منټه په ځنډ ، ګوا لس منټه بالا اووه بجې کوالالمپور رېلوې سټېشن ته وَرسېدو - په انټري کولو کې څه نیمه ګنټهه وَلګېده - چې دَ سټېشن څخه دباندې راوَوتم،نو لمر نبه بالا راغلی ؤ – پیاده مې یوې خواته مخه وکړه – په دې روډ باندې له ماڅخه پرته بلا ډېرې انجونې او واړه لوی هلکان دَ بېلابېلو سکولونو او کالجونو یونیفارم اغوستي یوې بلې خواته په غټو ګامونو روان ؤ- نیږدې یَو ریسټورېنټ کې کښېنستم او چائی سره مې څو دانې بسکوټونه وَخوړلو – بیا چې سګرېټ ته مې تلی بلوله ، نو دې وخت زما په ګهړی کې دَ دې

ketabton.com - The Digital Library

هبواد په سمه پنځه منټه بالا اتهه بجې وې –ګوا دَ ټاکلي پروګرام په سمه زما او دَ مهُبش وري دَ ديدن تر منځه بس فقط ۵۵ منټه پاته ؤ –

نهه بجو ته لا څو منټه پاته ؤ، چې زه دَ سېنټرل مارکېټ کوالالمپور په غټ ګېټ کې يَو اړخ ته ولاړ وم - شاوخوا مې سترګې غوړَولې او سوچ مې کولو ، چې اوس به راځي ... اوس به راځي ... يَه له دې خوا به راځي ... يَه يَه له هغې خوا به راځي ... بس چې څنګه راغله ، نو لاس په لاس به دواړه مارکېټ ته دننه کېږو ... زه به هغې ته تحفه اخلم او هغه به يې ماته ... هو، کېداى شي چې په يَو نيږدې رېسټورېنټ کې هم کښېنو ... بيا به لس نيمې بجې خواته ورڅخه اجازه اخلم او دا به ضد کوي ، چې هغه هم راسره ائيرپورټ ته ځي - هلته به هغه په ژړا ژړا ما خدائى ته سپاري او زه به ډاډګيرنه وَرکوم ، " ته فکر مه کوه ، زه به هر کله ليکونه درته رالېږم او هغه ټول تصويرونه هم ... کوم چې ما او تا په تېرو ورځو کې په هوټل ګرېنډ کانټينېنټل کې دَ وصال په وخت اخيستي ؤ" - بس دغه رنګه يوې خواته دَ شېخ چلي غوندې په سوچونو کې غرک ترک وم او بلې خواته مې دَګهړۍ ستنې په ډېره چټکۍ باندې دَ لس بجو خواته رواني وې - زړه ماتى به شوم ، خو دَ مهُبش وري هغه پخوانى جنون چې به راپه زړه شو، نو راتګ به مې يې باوري وګڼلو –مګر ترڅو پورې ؟آخير پاى دا باور هم کرار کرار په مايوسۍ او محرومۍ کې بدل شو - اوس که څه هم نا اُميده شوى وم ، له هغه ځاى مې ښوريدو ته زړه نه کېدو –ما وئيل کېداى شي ، چې راشي ... مګر دا نه راتله، نو نه راغله–

لنډه دا، چې په ټېکسي کې کښېنستم ... يَو ځل مې دَ مارکېټ وَ ګېټ او شاوخوا ته سترګې وَځغلولې او ډرائيور ته مې وئيل ....

" ائيرپورټ ته درځه "

دلته ټېکسي دَ ائيرپورټ په لور منډه وهله او هلته زه دَ مهُبش وري په سوچونو کې غرک ... کله وايم ، چې کېداى شي ، ډيوټي يې بدله شوې وي ... کله وايم چې کېداى شي، چه هغه لومړي ملاقات کې لا راڅخه بېزاره شوې وي - بيا له

ketabton.com - The Digital Library

ځان سره وایم ، یَه داسې کیسه که وای ، نو په لومړي ملاقات کې به یې دَ نن دَ ملاقات دَپاره ضد نه کولو - په دغه رنګه ګډو وډو سوچونو کې زه یولس بجې خواته ائیرپورټ ته وَرسېدم - هلته مې هم تر یَو څه وخته پورې هیله وه چې کېدای شي دَ آخیري سلام دَ پاره راشي – ولې چې خبره خو وه چې زه نن دَ فلاني وخت په فلائټ کې دَ دې له هېواده وَځم – قسمتونه مو سره نه وو شوي، نو ځکه دا نه راغله - او ښه مې په یاد دي چې کله دَ تهائي ائیر ویز انټرنېشنل کاؤنټرونه دَ بورډنګ کارډونه وَرکولو دَپاره پرانستل شول ، نو دَ مایوسۍ او محرومۍ داسې څپه راباندې راغله ، چې نه پوهېدمه ، څه وَکړم او بیا مې کولی هم څه شو؟ ولې چې اوس خو وخت زما له لاسو ځخه وتی ؤ –

****

دَ عجیبه غوندې کېفیت سره مخامخ وم .... که مې هر څو ماشوم زړه په ژړا سر ؤ او کرارېدو نه ، خو په ځان پورې خندا هم راتله - ولې چې دَ تعلق په اړه دغه دَ یَو څو ورځو پېښه ، محض یَو اتفاق وو ، نور هیڅ نه ... او داسې پېښې په ژوند کې په هر دویم ګام سړي سره پېښېږي – هرڅه هرڅه ، خو زړه مې په دې ګرَم نه ګڼلو ، چې زړه خو بس زړه دی ... په هرې ښکلا باندې غولېږي او په سینه کې ورته ټوپونه وهي – منم چې وِیرجن کېفیت عارضي ؤ- لاکن دَ یَو شاعر دپاره ... که نور نه ، دَ شاعرۍ کولو سوب په حواله بې معنا نه - نو ځکه مې دَ نه غوښتلو پرته هم خپل دا نظم په زړه باندې بیا بیا راوربدو – که څه هم دغه نظم دوه کاله په خوا په یَو بله موقعه ما په پښین کې په کال ۱۹۹۰ع کې لیکلی وو- خو دې وخت زما دَ کېفیت ، حالت او ختهٔ شوؤ خیالاتو ترجماني یې کوله – نوځکه زه غوارم، چې هغه نظم دلته نوشته کړم .... داسې نه چې زه خپل لوستونکو ته سهار جواب ده یم ....

ketabton.com - The Digital Library

# "خوبَولی تعبیر"

ستا په لیدو راته زړه وَوئیل
هېر زړیه شوقه !
په فرېبي نظر دَ سترګو
غُولېدلیه شوقه !
دا ملاقات هم دَ خوبونو یوه برخه بوله
ځکه چې دا خبره ... هغه خبره وه ... بله نه وه ،
چا ، چې دا ستا قلم په تورو باندې وَژغوئ
چا ، چې په ځان پسې په روغ ځان لېونی کړلې ته
که یَه ، ته وائې...
چې دا خوب نه ؤ
تعبیر ؤ دَ خوب ،
نو دا ښائیست دَ جنۍ نه
دَ یَو پرۍ کېدی شي
او په دې ته هم ښه خبر یې لېونیه شوقه !
چې ښاپېریانې خو اکثره
په خوبو کې راځي

( شوق )

ketabton.com - The Digital Library

# دَ تهائیانو په کرانګ تهیپ کې

تاثراتي لنډيز...

"که څوک انسان تر ځناوره هم په بد او لړلې حال کې ليدل غواړي، نو هغه دې په خپل ژوند کې يَو ځل خامخا تهائي لېنډ ته په چکر شي ... خپله به يې په سترګو وَويني ، چې دغه دَ عظمت په جامه کې پټ انسان چې کله خپلې مخې ته ايله کړلی شي ، نو څومره په اخلاقي توګه وَلو برېږي.....؟ خبره دا نه ده، چې ګوندې دَ دې هېواد خلګ په ښو او بدو نه پوهېږي - بلکې زه فکر کوم چې هرڅه دلته له کسته کېږي - څوک يې کوي ؟... څله يې کوي ؟ او دَ چا په ضد يې کوي ؟ دَ دې خبرو ځوابونه به هغه وخت مخې ته راشي ، چې کله دغه تهائي هېواد دَ نيمې نړۍ دَ خلګو دَ پاره دَ مرګ دَ فرښتې پرته دَ اول يا دويم بادارحېثيت وَمومي"
( شوق )

؟
پتايا او تر بنکاکه
تر آئي لېنډه دَ کورال ما
کومه پېغله
تهائي پېغله
په ښو کې وَ پئيله
خو ، خبر نه يم چې څله ؟
چې يې ځُله ځُلې له راوړله
ما به شاته ځينې ټوپ کړو
په څلورو به وَځغاستم

ketabton.com - The Digital Library

دا به هم وَ روژد ېدله
راپسي به ګرځېدله....
پټ پُټانی به شروع شو ،
زه دَ مخه ، دا تر شا شا
لکه روګې ، رُوح مې اخلي
پُټېدمه .... وېرېدمه
کله یَو" بار"
کله بل" بار"
خو ، نه زه ترې ورنه پټ شوم
اړونه دا ترې شوه پاته

( شوق / پتایا بیچ - تهائي لېنډ / ۱۹۹۲ع )

---

دَ جنورۍ په ۲۷ مه نېټه کال ۱۹۹۲ع کې چې ، څنګه په سبانګ ائیرپورټ کوالالمپور کې دَ تهائي ائیر وېز انټرنېشنل TG 416 کاؤنټرونه بنکاک ته تلونکو مسافرانو دپاره خلاس شو ، زه هم په لائن کې تر ټولو ورسته وَدرېدم - یوې خواته که زه دَ لائن سره سره مخته روان وم ، نو بلې خواته دَ سهېلي لمرختیځې ایشیاء له زړه څخه کرار کرار وتمه هم ، او شاته پرېیښنې یادونه وار په وار راباندې غمېدو هم – نو ځکه مې دَ شاوخوا چاپېر په ورستي ځل په مزغو کې ثبت کولو هڅه کوله - هرچا او هر څه ته مې ډېر په ژوَر نظر کتلو او بیا هغه وخت هم راغلو ، چې ما خپل پاسپورټ او ټکټ له ملائیشیا څخه دَ وتو دپاره په کاؤنټر ناستې" ملې" پېغلې ته وړاندې کړو - انجلۍ یَو ځل ماته وَکتو او بیا یې په پاسپورټ باندې دَ خروج ټاپه وَلګوله او بورډنګ کارډ یې سره دَ ټکټه زما په پاسپورټ ږدلو په وخت وَ وئیل ...

ketabton.com - The Digital Library

" ته دَ څه د پاره روان یې ؟"
" په چکر باندې ځم"
ما ورته په عاجزۍ ځواب ورکړو ، له دې سره وخت لکه چې ډېر وو او یا زه آخیري مسافر وم ، چې راسره په ټوکو شوه ...
" زړه دې لکه چې دلته نه ولګېدو ، چې دومره ژر روان یې او هغه هم بنکاک ته ..."
او بیا یې ځان سره نیږدې دې بلې کاؤنټر وَ انجلۍ ته په خندا خندا کې وَوئیل ...
" په بنکاک کې داسې څه دي ، چې هر ځوان ورته روان دی ؟"
هغې بلې هم وَخندلو او وئیل یې ...
" په بنکاک کې نو... نور څه دي.... بې دَ لېډي... لېډي"
او بیا دواړو په یوه صلاح کلک وَخندلو ... لازمې خبره ده، چې ما به هم ورسره غاښونه سپین کړي وي او په ځواب کې مې لږ غوندې په اړامه انداز کې ژغ ورباندې وکړو ...
" یَه داسې خبره نه ده ، دا لېډي.... لېډي خو دلته هم شته او ولې ته نه یې لېډي مخامخ ناستې انجلۍ خواته چې مې اشاره کولو په وخت دا سې وَوئیل، نو دَ نږدې کاؤنټر هغې انجلۍ زما دَ خبرې په ځواب کې داسې په شرارت وَوئیل ...
" ستا دا لېډي که خوښېږي ، نو پاته شه دلته ... دا به واده درسره وکړي"
او کټ کټ یې وَ خندلو او بیا چې زه مخته تېرېدمه ، نو داسې څوکه غوندې مې په لغازي موسکا کې ورته وَ وئیل ....
" دَ زامنو پلار یم ... وایه څه دې خوښه ده؟" او په خندا ورڅخه تېر شوم –زما په دې شرارت دواړو وَخندل او تر ډېره یې راپسې نارې وهلې ..
" اېډز .... بنکاک ... اېډز "
*****
اوس بیا زه وم ، چې په جهاز کې ناست ، تهائي هېواد ته روان وم - هرڅو چې به مې سوچونه یوې بلې خواته اړَولو هڅه کوله ، نو بیرته به مې مزغو ته هغه توره بلا راننه وته ، چا ، چې دَ نړۍ زیاتره خلګ.. یا خو وَخوړل او یا یې له ډېرې ویرې

ketabton.com - The Digital Library

څخه دَ يو بل له ملاقاته څخه وګرځولو - زه ملامت نه وم، دَ دې ځاى دَ ابېز په باب مې دومر لوستلې او اورېدلې وو ، چې اوس راته تهائې لېنډ دَ انسانانو نه ، بلکې دَ اژدهاګانو، لېوانو، مارانو او سړي خورو ځنګل محسوسېدو - نور خو نور... وايم ، چې دَ تهائې جهاز ائير هوسټسه له څنګه څخه تېرېده ، نو ځان به مې ورڅخه راټول غوندې کړو .... هو، ما ګڼل ، چې چرته دَ هغې په لمس هغه توره بلا را څرمه نه شي - ګوره چې دا ويره مې څنګه يَو دم زړه ته راننوتې وه؟ ګنې له ملائيشيا څخه چې راتلم ، نو داسې هيڅ خبره نه وه - کېدلى شي ، چې دَ ائيرپورټ دَ هغو مستو انجونو ټوکې مې په رښتيا را اړَولې وي - بس په داسې رنګه ګډو وډو وسوسو او واهمونو کې دَ بنکاک په ائيرپورټ باندې له جهازه کښته شوم - ښه مې په ياد دي ، چې دَ ختيه شوې طبعيت له سوبه مې داسې وَسنجَوله ، لکه زه چې دې وخت په مځکه نه، بلکې دَ يوَ لوى اژدها په خُله کې راکښته شوى وم–

دَ بنکاک ائيرپورټ په هره معنا غټ، ښائيسته او خوش رنګه وو – حال دا وو ، چې پنځه يا لس منټه ورسته يا خو يَو جهاز الوتو يا کښېنستو - قسم قسم مخلوق دَ خدائى په کې ګرځېدو - دلته مې زړه څه په ځاى شو او خيال مې کولو ، چې داسې کيسه به نه وي ، لکه چې خلګ په دې هېواد پسې ژغېږي - ګنې په دومره زيات شمېر به دا خلګ دَ لرې لرې څخه ورته نه راتلو - او په تېره هغه سره سپين خلګ ، چې دَ ښه صحت له سوبه يې اوسطاً عمر هم له ټولې نړۍ څخه زيات دى او له هر رقم ناروغۍ څخه نه يوازې خلاس بلکې ځان ژغوري هم - خير، چې له ائير پورټ څخه څنګه دباندې را وَوتم، نو يَو دوه درځنه ټېکسي ډرائيوران داسې راباندې مات شولو، لکه زه چې دې وخت هغه يوازېنى مسافر وم په دې ائيرپورټ کې... ايله يې جامې راباندې نه کړې څيرې –ولې چې هر چا دَ ځان په لور کښَولم – خو زه له هيڅ يَو چا سره هم نه شوم ست او دَ ائيرپورټ ټېکسي سټېنډ آفس ته مې ځان وَرسَولو- يَو ټېکسي مې کرايه کړو او دَ بنکاک دَ بازار په خوا مې مخه وکړه -

ketabton.com - The Digital Library

دلته په سړکونو ډېر زيات ټرېفک وو ... دومره زيات ، چې ګاډي به هر پنځلس يا شل منټه ورسته درېدله – ډرائيورتر ډېره په پټه خُله خپله ګاډي چلوَله ... خو ، يَو وخت يې راباندې ژغ وکړو ...

" سر ! تاسو کوم هوټل ته ځئ ... ګران او که ارزان "

ما ورته وئيل ...

" يَه ډېر ګران نه ... بس داسې برابر غوندې هوټل ته مې بوځه "

ما به لا اوس نور څه ورته وئيلو چې ده يَو البم رامخته کړو ... په البم کې دَ ډؤل ډؤل انجونو تصويرونه لګېدلې وو - بدن مې بڑَې وَنيولو او البم مې بيرته ورکړو - زما په داسې بې رُخئ کې څه هم هغه پوهې شوی وو خو دَ هرڅه پرته يې هم لا بيا لېږي لېږي ، مساج مساج رنګه خبرې راته تکرارَولې – ما ورسره هيڅ نه منلو او نه زه لېونې سپي خوړلی وم چې به مې ورسره منلو - چې کله ډرائيور مايوسه شو ، نو يې په ډېر هنر خبره په بله واړَوله او راته وائي ...

" که ته سبا ستې ټوؤر کول غواړې. نو دَ درستې ورځې په کرايه راسره جوړ شه "

ما وئيل ...

" دا دې نو اوس دَ کار خبره وکړه ... وايه څو به اخلې ؟ "

" دولس سوه بهاته "

ده وئيل ... او بيا دَ څه بارګېننګ کولو ورسته راسره په زر بهاته ست شو - او دوې ګنټې ورسته ، ګوا ماځيګري خواته يې په هوټل ليپرټې کې کښته کړم ، راسره کاؤنټر ته لاړو او په څلور سوه بهاته يې راته خوُنه وَنيوله – او بيا دَ سهار دَ نهو بجو دَ راتګ په قول رُخصت شو –

خوُنه مې دَ هوټل په دريم پوړ باندې وه ... دومره غټه او داسې جوړه وه ، چې يوازې ځان راته په کې بد ښکاره شو - لاکن بيا چې به مې بلا دَ مزغو دروازه راوَټکوله ، نو غوړو ته به مې لاسونه يوړو او کليمې به مې په ځان چُوف کړې - په سرو اوبو وَ لمبېدم او په ټېلي فون مې دَ چائی آرډر ورکړو – دَ تنهائئ غم غلطولو دپاره په دې کوټه کې يوې بلې خواته ګرځېدم او چې يَو وخت مې دَ

ketabton.com - The Digital Library

کهړکۍ پرده لرې کړه ، نو څه ګورم، لاندې سوئمنګ پول دی او تر نیم درځن زیات نرینه او ښځې یا خو په کې لمبېدلې او یا په اوږدو سپینو پټه دارو چوکیانو پرتې وې - یَو وار مې دې زړه لا راته وَوئیلو، چې ورکښته شم ، څه دَ لمبېدو شوق په ځای کړم - مګر بیا راته خپله ایکړې دَ شوق په لاره کې خنډ شوه - ما لا دَ کهړکۍ له شیشو دباندې کتلو، چې دَ خونې دروازه خلاسه شوه ... یَو تهائې ځوان چائی راخیستې وې ، دَ چائی لوښي یې په مېز کښېښَولو ، شاوخواته یې په خونې کې وکتلو او بیا یې په حېرت راڅخه پوښتنه وکړه ...

"ایکړ یې .... دوست نه لرې ...؟ "

ما وئیل ...

" یَه ... ولې ، خېر خو دی چې پوښتنه دې وکړه ؟ "

اوس ګوره چې زما لهجه سخته وه او که زما ایکړې یې په مزغو بار شوه ، چې هغه ځوان یَو دم له خونې څخه وَوتو –

دَ چائی څیښلو ورسته مې دَ بې ریموټه غټې ټي وي په چېنلانو باندې ګوتې وهلې ، چې دَ چائی لوښي وړلو دپاره خلاف توقع یوه ښکلې او ډېره خوُرې شان تهائې پېغله په کوټې رادننه شوه - یَو ځل مې زړه ته دا خبره راغله چې دَ دې خلګو لکه چې په ما دا ایکړې نه پیرزۀ کېږي - خېر ، هغې انجلۍ یوې خواته دَ چائی لوښي ټولوَلو ، نو بل خوا یې ما ته په وار وار داسې په مینه او معنې خېزه یعنې په موسکنې شرارت راته کتلو لکه زه چې یې له ورکو غوښتم او دغه یم چې پیدا یې کړم - ما ورڅخه اخلاقاً پوُښتنه وکړه ...

"په دې هوټل کې کار کوې ؟ "

هغه یو وار وَموسېده او بیا په ماته ګوډه انګلسۍ کې راته وَوئیل ...

"هو ، په دې هوټل کې کار کوم، لاکن دَ روم سروس کار نه ... "

دَ دې په داسې خبره مې زړه ته رالوېدلی شک په یقین بدل شو - او پُوهی شوم چې هغه څه غواړي ، خو دَ هغې دَ داسې اشارتي سَت باوجود مې هم خپلو خوائشاتو مخته ماته نه وَمنله ... ولې چې دا انجلۍ که څه هم دَ سترګو وړاندې

ketabton.com - The Digital Library

راته ډېره ښه او ښائيسته برېښېده ، خو همت مې ځکه نه شو کولې چې خبره بيا تر منځه دَ مرګ او ژوند راغلې وه او ما نه غوښتلو ، چې بې وخته مې دَ اېډز بلا وَ خوُري - ځکه چې ځنګه ځنګه دې تلکې راته درَولې ، هغسې زه ورځخه وار په وار ذهني طور ليري کېدم - آخير پائی چې ويرې راباندې ببخې زور وَ کړو ، نو لاسونه مې ورته جوړه وَنيولو ... لا به مې اوس ورځخه بخښنه غوښته ، چې هغې هم زما په رنګه خپل لاسونه جوړه ونيوَلو او په موسکا دوه قدمه داسې رامخته شوه ، لکه ما چې دَ بخښنې په ځای ورته بلنه وَرکړې وي او راته په تهائي ژبه کې وائي ...
" Kop Khum Krap "
چې مطلب يې شايد دَ "مننې وئيلو" وَتو - ولې چې دغسې توري په جوړه نيولو لاسونو باندې ما دَ تهائي ائير وېز په دروازه کې ولاړو ائيرهوسټسانوله خلو ځخه دَ سوارليانو وَ جهاز ته دَ ورختلو او کوُزېدلو په دواړو موقعو کې دَ " Sawatdee " يانې "هيلو" او "ښه راغلې" رنګه تهائي توري سره ګنډلي اورېدلي ؤ - نو ځکه راته دَ خپلې تېروتنې احساس وَشو او ژر مې لاسونه لاندې وَځنډوَلو او له خُلې مې دَ "سوري ... سوري" تکرار ځه شروع شو ، چې دَ هغې تهائي پېغلې له ځېرې ځخه موسکا يَو دم وَ تښتېده - او په تندي کې يې دَ کرکې دَ تروؤ نرئيو ګوُنځو سره دَ زړه ماتې خاموش اظهار غاړه غړې کولو سم دستي زما له خونې په غتو ګامونو دباندې وَوته - اوس که يوې خواته مې دَ خدائی شکر ادا کولو ، نو بلې خواته مې په خپلې دې نادانسته غلطۍ خندلو هم -
*****
دا لومړۍ شپه مې دَ خوب ځخه پرته په تېلې ويژن کې دَ تهائي ژبو او يو نيم انګلسۍ ژبې چېنلونو کتو يا دَ تهائي ائير وېز دَ يوې معلوماتي کتابچې " اې ګائيډ فار ټؤرسټ" لوستلو او ځه ځه په ګډو وډوخوبونو ليدلو کې تېره کړه - تهائي لېنډ ، دَ سهېلي ايشياء په ۷۲ صوبو باندې اړه لرونکی يَو داسې هېواد دی چې په کې دَ کال ۱۹۹۲ع دَ سرکاري شمېرې له رُويه ۵۰ مليونه خلګ مېښته

ketabton.com - The Digital Library

دي - په کوم کې چې **۹۵** فیصده دَ بُدها منونکې، **۳.۹** فیصده مسلمانان، **۵.** فیصده کرسچن او **۲.** فیصده نور و مذهبونو څخه اړه لري - دلته درجه حرارت سرکال له C˚ **۱۹** څخه C˚ **۳۸** پورې وي - مطلب دا ، چې هلته خو نه دَ جیکب آباد غوندې ګرمي راځي او نه دَ ګلګت او دَ کوئټه غوندې یخ ... دَ براعظم دغه هېواد دَ چیني او هندي ژواکونو تر اثر دلاندې پاته شوی دی - دَ تهائي ژواک ښوؤنه که یوې خواته دَ تهائي طرز کلاسیکل پېښتنګز ، لرغوني آثار، دَ بُدها او ډربګون په خپل خپل غوره ډؤل جوړو بُتانو کې کېږي ، نو بلې خواته یې رواجونه ، بېل بېل اړخیزه تړون ، کشت کرونده ، خوراک څیښاک ، څُوئیونو او ناسته پاسته هم دَ ژواک ښوؤنه په ښه ډؤل کوي -

تهائي ژبه دَ دُنیا دَ نورو ژبو څخه په دې خبره ځانګړې ګڼلی شي ... چې دَ دې ژبې هر توری یَو سېلابیزه Mono Syllabic دی - او بیا یَو توری که په پنځه آوازونو کې وَ وئیلی شي - نو دَ هر (Tone) سره ادا شوی توری بېلې بېلې معناګانې یا مطالب لري - لکه په غټ یا اوچت ژغ کې ˝ Suea ˝ وَ وئیلی شي ، نو مطلب یې دَ زمري وَ ګرځي ... خو که دغه توری په کښته یا واړه ژغ کې له خُلې څخه وَ ایستلی شي ، نو معنا یې دَ ټپرۍ یا غالۍ شي او بیا هم دغه پورتنی توری په ښېخي څوکه او پُس پُسي کې له خُلې راوَځي، نو معنا یې دَ جامې خبرې -

*****

دَ سهار چائې څیښلو ( ناری کولو ) او دَ ضروري تیاري ورسته مې ښېګ په اوږه راوَځښولو او په پروني نیول شوي ټېکسي کې دَ بنکاک ښار ، چې ورته په تهائي ژبه کې Krungthep یعنې ˝ دَ فرښتو ښار ˝ هم وئیل کېږي ، دَ سېل کولو په نیت روان شوم - ټېکسي په بېلابېلو لارو یَو ګنټهه ورسته ˝ ګولډن بُدها ټېمپل ˝ نامي ځای ته وَ رسېدو - دلته هرې خواته ژېړې ګومبتې ولاړې وې او بې شمېره لوی واړه او دَ پخوانۍ زمانې جوړ دَ بُدها بُتان نه یوازې دَ نمائیش دپاره ، بلکې دَ هغوئ په وړاندې دَ عبادت دپاره هم ایښول شوي ؤ - دَ ډرائیور Noi

ketabton.com - The Digital Library

له خلې پته راته ولګېده ،چې ژېړ رنګ دَ هغوئ مذهبي رنګ دی - خاص خبره مې په دې غټ ټېمپل کې دا وَليدله ، چې تهائيان دَ نورو خاورو يا کاڼو څخه جوړو بُتانو په مقابله کې دَ سرو زرو څخه جوړ بُدها مجسمې ته په دومره ګڼ شمېر او داسې په احترام درېدو، چې زړه ته يَو دم دا خبره راغله ... چې خود لکه ... دَ هغوئ په عبادت کې چې دَ ژېړو زرو دخل وي - دَ غېر ملکيانو پرته ، په ژېړو جامو کې پټ سرخريلي دَ بُدها دَ لارې طالبان يوې بلې خواته ګرځېدو- دَ شرافت او دَ ښه والي يې دا حال ؤ ، چې په هيڅا يې کار نه درلودلو او هر کس خپل سېل يا عبادت کولو ته آزاد ؤ - دَ ټېمپل دننه دَ تصوير اخيستلو او له ځپلئيو يا چوَ ټو سره راتللو باندې پابندي وه - چې دَ بُدها له ټېمپل څخه دباندې راوَوتم، نو راسره مل ډرائيور "نوي" څخه مې پُوښتنه وکړه ، چې ...

" دَ بُدها په حقله دې څه خيال دی ؟ "

ده يَو وار ماته په معني خېزه نظر وکتلو، نو يې راته وئيل ، چې ...

"بُدها زموږ ( نعوذوبالله ) خدائی دی ... هغه موږ ته رزق راکوي او دا دَنيا يې جوړه کړې ده"

بيا يې مخته وئيل ، چې ...

" ما هم يولس مياشتې دَ بُدها په يَو ټېمپل کې ملنګي او طالبي کړې ده"

بس دومره وئيلو ورسته داسې چپ پاته شو، لکه له دې پرته ورسره دَ خپل لاسي جوړ خدائی په باب معلومات نه ؤ ، او نه يې ما سره خبره خېړله - ولې چې دَ تهائي لېنډ په قانون کې دا خبره په واضحه ټکو کې نوښته کړل شوې ده ، چې ...

" دَ بُدها، شهنشاه او ملکه تهائي لېنډ په شان کې هر قسم زباني، عملي ګستاخي نه يوازې لوی جُرم دی بلکې تهائي خلګ يې نه برداشتَوي ... "

نو ځکه ما نه غوښتلو، چې دَ بُدها په باب له چا څخه ښه يا بده پُوښتنه وکړم ....

ketabton.com - The Digital Library

خېر ، ټېکسي يَو ځل بيا دَ بنکاک په روډونو باندې مخته روان ؤ او ډرائيور " نوي " زما دَ دې پوښتنې په ځواب کې ، چې ( دا ښځې په روډونو دومره په زيات شمېر څله ګرځي ؟ ) ... نو ده وئيل چې...
" دَ تهائي لېنډ ښځې تر نرانو زيات کار کوي او ډېرې پيسې ګټي - ګوا دَ ښار درست سپک کارونه لکه دوکانونه چلوَل او په سړېل ځائيونو کې خلکو ته تفريح ورکولو کې دوئي ډېر لاس لري "
مطلب دا ، چې که څه هم مسټر نوي په ښکاره خبره نه کوله، خو زما مزغو ته دا خبره بيا بيا راتله ، چې دَ ګټې کولو پرته دَ تهائي ښځې دَ سېلانيانو زړونه ټکورَولو دپاره دَ هغوئ سره په هوټلانو کې اوسېده هم په خوښه او په نره کوي- دغه خبره مې په دې په زړه کې رادننه شوه ، چې دلته په دې ښار کې مې مسافران بې دَ تهائي چاکلېټي انجونو دَ ملګرتيا چرته هم وَ نه ليدو ... او بيا دَ تهائي هېواد قانون هم وائي ، چې
" تهائي ښځې ته بې دَ هغې دَ خوښې لاس وَر وړل نه يوازې اخلاقي بلکه قانوني جُرم هم دی "
ګوا دَ دې خبرې څخه مراد ، دلته په خوښه هر څه هر څه جائز دي –
هو ، دا او داسې نورې خبرې زما او دَ ډرائيور تر منځه کېدلې لګيا وې او سوچونو وهلو ، کې يَو وخت مسټر نوي ګاډی دَ Vimanmek Mansion نامې ځای سره وَدروله - دا ښائيسته ژېړه ماڼۍ چې په چيني طرز جوړه وه او دَ بام نرۍ څوکو يې له آسمان سره خبرې کولې - دَ ډرائيور نوي په قول دا دَ خپل طرز جوړه عالي شانه تاريخي ماڼۍ په کال ۱۹۰۱ع کې باچا Chulatong Korn جوړه کړې وه او په کې له خپلې شاهي کورنۍ سره اوسېدو - اوس دغه ماڼۍ دَ پخوانۍ نخښې په توګه نمائش دپاره خلاسه ساتل شوې ده - دَ دې ماڼۍ عکس په اوبو کې څکه ښکاره کېدو ، چې مخنۍ اوږده او لويه برانډه يې په شنو ډم اوبو کې ولاړه وه -

ketabton.com - The Digital Library

څه وخت ورسته ګاډی د Wat Chetuphon نامې ټېمپل سره ودرېده - زه او مستېر نوي دواړه په لوڅو پښو ور دننه ورغلو – دلته هم هر لور د بُدها رقم رقم جوړ بُتان پراته ؤ - حریان په دې خبره شوم چې د بُدها د څېرې کره وړه او په خاص توګه ستر ګې او پوزه یې څه څه تهائي نسل ته مونېدلي ؤ - او داسې برېښېدو لکه بُدها چې په تهائي لېنډه کې پیدا شوی وي ... که څه هم تاریخ وائي چې د شهزاده سُدهارتا ، ګوا ماتما بُت (بُدها ) زوکړه د نېپال په لومبیني نامې ځای کې شوې وه – دلته یو ځای په تختۍ باندې نوشته ؤ ، چې بُدها له حضرت عیسی علیه السلام څخه **۵۴۳** کاله د مخه تېر شوی ؤ - دائی چې د **۳۵** کالو شو ، نو د ولایت مرتبه یې پیدا کړه او له ځنګل څخه یې د انساني آبادیانو په لورې مخه وکړه - او بیا یې **۴۵** کاله د خپل دین تبلیغ وکړو - ګوا په اتیایم کال ده د خپل عُمر او ژوند رسۍ وشلوله -

یو بل ځای په دې ټېمپل کې د بُدها کومه مجسمه پرته وه ... هلته یې د بالا و شاته د مارانو څو سرونه هم جوړ کړي ؤ ... داسې ښکاره کېدو لکه مارانو چې بُدها په قبضه کې اخیستی وي او یا یې دُښمنان وي او د چیچلو د پاره ورباندې حمله آور وي - لاکن داسې خبره نه وه، بلکې د تهائیانو له قوله دا سرونه د مارانو د باچا "ناګا" سرونه دي ، کوم چې یو وخت بُدها په پټه چیچلی هم ؤ او بیا داسې هم وئیل کېږي چې د ناګا د دې ورانې پېښې ورسته په بُدها باندې ایمان راوړی ؤ - نو ځکه خو ناګا خپل پاته ژوندون د بُدها د سر ساتنې په چوپړ کې تېر کړی ؤ - چې څنګه له دې ټېمبل څخه دباندې راووتم، نو په مزغو کې مې دا خبره وه، ګوا دلته د بُدها بُتان شته ... نو د هغه منونکې هم - څه وجه ده، چې د افغانستان په بامیان نامې زرغونې درې او یا ورسره ورته هزارجات کې د دې مذهب منونکې څله نه شته ؟ چرته چې **۵۳** میتره غټ بُدها کم او زیات څه یو نیم سله کاله وړاندې د یو غره له پاڼ څخه تراشل شوی دی ، وجود لري –

له دې بُدها ټېمپل څخه چې ګاډی مختته تېره شوه ، نو مې له مستېر نوي څخه پُوښنته وکړه چې ،

ketabton.com - The Digital Library

" ته اوس مهرباني وکړه، دَ بُډها له بُتانو څخه پرته هم څه راته ښکاره کړه، چې دَ کتو وَړ وي"

که مې څه هم نه ورته نه وئيل غوښتلو ، خو مطلب مې دا وو، چې چرته مې په ايمان کې فرق نه شي را .... خو بيا هم دَ هغه يې کور ودان چې راته وَموسپدو او وئيل يې...

" دې وخت مورږ دَ روز ګارډن په خوا روان يُو - دا دَ خپل نوعيت نه يوازې ښائيسته او دَ سېل ځای دی بلکې دې ځای ته له لرې لرې هېوادونو څخه سېلانيان هم ډېر به شوق راځي"

خبر ، څه وخت ورسته مورږ دَ روز ګارډن نامي پارک يا ځای ته دَ ننوَتلو دپاره ټکټونه اخيستو ... دا زرغونه او ښائيسته علاقه په ۲۰ ابکړه مځکه باندې جوړه، څو اړخيزه سېل ځای ؤ - دلته دَ تهائي طرز کليوال چاپېر پرته تهائي رواجي رقصونه، لوبې او رقم رقم مېلې او تماشې نه يوازې دَ کتو وَړ دي بلکې سترګې هم ورباندې خوږې کېدلی شي - دَ تهائي پېغلوله خوا دَ تهائي ژواک ښودنې مې تر ډېره پورې وکتلې - دلته به دې لوبو کې دَ ښځو او نرينه آرټستانو دَ رنګينو جامو څخه ها غه دَ برايه دَ لوستلي کتاب خبره نوره پخېدله ، چې دلته ګونډې دَ چيني او انډين ژوند ژواک زيات اثرات دي - دَ واده دَ رواجونو دَ ډرامه ګۍ ( تمثيلي لوبه ) ښکاره کولو په وخت په سټېج باندې يَو تهائي ځوان وئيلو ، چې ...

" په تهائي واده کې دَ ۱۰۸ خواړو اهتمام دَ هلک دَ کورنۍ دَ خوا دَ ناوکۍ او ورابانو ته دومره ضروري خبره ده ... چې که دَ ټاکل شوي شمېر څخه څه خواړه کم وي ، نو دا خبره ممکن کېدلی شي چې واده سر ته نه ورَسېږي"

نو دې خبرې دا څرګندوه کړه، چې په واده کې ولور وي او که جهېز او يا ۱۰۸ خوراکي شيانو غوښتنه .... واده هرې خواته په نړۍ کې نن سبا دَ کور ودانۍ / ورانۍ رواجي لار ليکه وي ... دَ تهائي ژواک ښوؤنې پرته دلته مې دَ فيلانو فُټبال لوبه هم څه وکتله -

ketabton.com - The Digital Library

بیا چې مخته تلو ، نو ډرائیور راته وئیلو ، چې ...
" اوس دې کروکوډائل ته بوځم "
ده به لا نوره خبره مخته وړله، چې ما ورته وئیلو ...
" مسټر نوي .. ! ایله کوه یې ، ماشوم خو نه یم ... بل داسې زړه راکښونکې ځایونو ته مې بوځه پلیز "
ده شاته راوکتل او وئیل یې ...
" نو بیا دې ( Floating Market ) ته یُو سم، هلته هم سېلانیان ډېر ځي "
ورسره مې دا خبره خوښه کړه او ګاډې دَ سمندر په لور مخه وکړه .... یَو وخت ګاډې دَ سمندر له غاړې څخه رادې خواته وَدرېده -
نوي وئیلو ....
" هغه دَ سمندر په مابېن کې دَ وړو وړو نرئیبو کشتیانو ، چې دَ یوې غټې کشتۍ په مثال دَ سبزیانو، غوښو او رقم رقم شیانو مارکېټ ښکاري ... فلوټنګ مارکېټ بلل کېږي... که تاسو وَغواړئ ، نو ورته په چکر تلئ شئ "
او ما هم هغسې وکړه ، څنګه چې ده راته وئیلي ؤ - فلوټنګ مارکېټ ( لامبوزن مارکېټ ) یوه وړه شان دُنیا وه، چې کشتیانې په سلګونو شمېر دَ رقم رقم سوداګانو دَ خرڅوَلو راخرڅوَلو ذریعه دَ زړخوښیانو تر هانده ګرځېدلې وې او دَ کشتیانو دَ چپوګانو وهلو سره سره په زیات شمېر ښځینه دوکاندارانو خپلې خپلې سوداګانې دَ خوړو موسکاګانو سره تړلې خرڅوَلې - ما هم په کې ځان دَ هغې چاپېریال برخه کړو او دَ روحاني تسکین تر هانده مې خوندونه لُوټلو دپاره لستونې پورته کړي وه - نو څکه خو یَو ځای راته یوې چټې تهائي پېغلې په ماته ګوډه تهائي وزمه انګلسۍ کې وئیلو ...
" که تا ته دَ ګائیډ ضرورت وي ، نو زه به درسره ملګري وکړم ؟ ټول بنکاک به درته ښکاره کړم "
لومړۍ خو مې ورته یَه کړو ، لاکن دې چې راته دَ خواست تر هانده بیا بیا خواست وکړو ، نو په پنځه سوه بهات کې مې خبره خلاسه کړه ... انجلۍ ګائیډ

ketabton.com - The Digital Library

څه وه ، ښځې ژر بیا لاس په لاس راسره روانه وه او دَ سترګو تر ګُونجویې لا جلا ټکې راباندې غورځوَلې ... دا ښه راباندې لګېده او که بده، خبر نه یم، لاکن وېرېدمه نه ورځخه، ګوره، چې څله ؟

اوس په ټېکسي کې زما او دَ ډرائیور ځخه پرته Lek ( لیک ) نامي تهائي پېغله هم ناسته وه - داسې ژغېدله ، لکه مورِ چې دَ ډېري مودې راهسې یَو بل پېژنو ، یَو ځای دغه پېغله وائي ...

" دا سخو وت روڼ دی "

" ته سخووت ایله کوه ... بس دا راته وَوایه ، چې تهائي نران څه کوي، چې هر لورې ته ښځې ښکاري او ټول کارونه یې لاس ته کړي دي؟"

ګوره چې په ګائډ پېغلې لیک باندې دا خبره ولې بده وَلګېده .. که څه هم هر لور انجونې او ښځې پرېښېدې او که څه بل غم ؤ ، چې هغې راته په سترګو کې سترګې په ډېرې سنجیدګۍ را واچوَلې او دَ ځواب راکولو په ځای یې راځخه پوښتنه بیا کړه ...

" ولې ستاسو په هېواد کې ښځې کارونه ده کوي؟"

ما به لا ځواب ورکولو، چې هغې پېغلې لیک دَ خپلو نرانو په باب څُله خلاسه کړه ...

" نشیان ... جواریان ... ظالمان ... ځناوران دي دا زمورِ نران... نور هیڅ نه"

غرض دا، چې بیا یې څه په څُلې ورتلو ... نبغ په نبغه یې وئیلو ، مګر زه حریان په دې وم، چې مسټر نوي ډرائیور چې نر ؤ، دَ هغې خبرې اورېدلې او په څُله یې لاس ایښی ؤ - هو، داسې برېښېدو، لکه هغه انجلۍ چې رښتیا وایي - زه هم نر وم، خو په دې غلی وم، چې دَ هغې انجلۍ په پُرهارونو باندې مې مالګې دوړَولي وې - هغې انجلۍ چې ځان ښه سترې کړو، نو داسې په ماته څُله باندې پُوښتنه ورځخه وکړو ...

" دې مورِ په کومه روان یُو ؟ "

ketabton.com - The Digital Library

هغه لکه چې زما په دیغیت پوهی شوه ، چې دَ ځواب راکولو دَ مخه ډرائیور نوي ته په خپله تهائي ژبه کې ګډه شوه ... دَ ښه ډېر ((( مین مین مین ... میاؤن میاؤن میاؤن ))) کولو ورسته LEK په دروغجنې موسکا کې راته وئیل ...

" هې مېن Weekend Market دَ کتلو ځای دی ... بس په یَو څو منټو کې به ورته وَرسېږو "

*****

رښتیا خبره دا وه ، چې دغه Weekend Market نه یوازې دَ بنکاک په غټو مارکیټونو کې یَو مارکیټ ؤ بلکې له لاندېنې پوړ څخه تر آخیري پورتنې پوړه پورې دَ ښائیسته دوکانونو او رقم رقم زړخوښیانو په اړه ځانګړی هم ؤ - دَ نورو مارکیټونو په ډؤل دلته هم درست کاروبار تهائي چټو پېغلو په خپلو لاسونو کې اخیستی ؤ- په پوړ تر سلو څه زیات دوکانونه داسې جوړ ؤ ، چې نه یې دېوالونه درلودلو ، نه یې دروازې وې او نه ځان ځانته بېل بامونه ... بس هر پوړ په یوه ستر هال باندې اړه درلوله او په دې غټ هال کې دَ هر یَو دوکان ځای ټاکنه دَ لرګیانو په ښائیستو دړو یا دَ سپینو اوسپنو په سلاخونو ، دَ فائیبر په رنګینو شیشو او دَ ایلومینئیم په ښائیسته شیټونو شوې وه - له یَو لوړ ځای څخه په دغو غټو پوړونو کې په سلګونو جوړ واړه واړه دوکانونه په یوه نظر کې په آسانه ممکن کېدو - دَ هر یوه دوکان ځان ځانته دَ کارکونکو انجونو دپاره ښائسته یونیفارم ؤ - دلته دَ ژوند هر څه هرڅه خرڅېدلو - ګائیډ پېغلې لیک زه دَ ماشوم غوندې تر لاس نیولی وم او دَ دې بې مثاله مارکیټ په هر پوړ کې او کونې کونې کې دَ ګرځولو ورسته زه دَ یَو ګارمینټس په دوکان تم کړم او ځانته یې یو سوئمنګ کاسټیوم خوښ کړو او بِل یې رامخته کولو سره سم راته په ډېره بېباکه انداز وائي ...

" ورکړه پیسې "

ketabton.com - The Digital Library

ما څه کولی شو ... بس پیسې مې ادا کړې - ولې چې دَ هغې په داسې سپین سترګی باندې ډېر خشم هم راغلو ... خو په زړه مې کانی کښېښوَلو او ورته وَ مې وئیلو ...

" درځه لیک ... چې ځو "

بیا چې څنګه زه او هغه " لیک " له مارکېټ څخه دباندې راوَوتو ، نو قسم قسم وسوسو او ویرو مې په زړه یرغلونه کول شروع کړو - ما وئیل ... " داسې نه چې راباندې تاوان شي " ... او دغسې خبره هم وه – ولې چې زه څنګه یو بل مارکېټ چې دَ اندرا مارکېټ په نوم مشهوره ؤ سره جوخت په کهرانه ګیسټ هاؤس کې دَ خونې نیولو دپاره له ګاډی راکوزېدمه ، نو دا راسره سمه کښېته شوله - ګوره چې په زړه کې یې څه ؤ ؟ خونې ته راسره تللو اراده یې کړې وه او یا یې ځان راباندې تللو هڅه کوله چې راسره څنګ کې دَ ماما دَ لور په شان ښښتې څه وَ دربېده ، چې ورته مې وَ وئیلو ...

" ته درځه په ټېکسي کې کښېنه... زه داسې ولاړم او داسې راغلم "

هغه په مات زړه په ټېکسي کې کښېنسته او څنګه دَ هغه ګیسټ هاؤس دننه لاړم، څنګه مې کوټه َنیوله او څنګه بیرته تر ټېکسي پورې راغلم ؟ نه شوم خبر ... بس که خبر وم، نو دَ هغې تورې بلا دَ ناښکاره موسکنې وحشته او دَ ښائیت په سیورې کې پټ له غلچکې او قهرناکه دهشته ، چې دَ یوې تهائي سپین چکې پېغلې په ښه دې وخت دَ یَو ټوؤرسټ ګائیډ په توګه راخرمه شوې وه -

*****

اوس دَ ماځَستن اته نیمې بجې وې او مورږ لا هغسې په شمېر درې ملګري ... ډوډی مو سره یَو ځای وَخوړَله - مګر دَ ډوډی څخه فاریغېدو سم دستي ډرائیور مسټر نوي راته دَ خپل ټېکسي دروازه خلاسَولو په وخت وئیلو ...

" اوس په کار دی چې زه تاسو ستاسې په خوښه چرته کوز کړم او خوشی سم " بیا یې دَ لږ سوچ ورسته وئیلو ...

ketabton.com - The Digital Library

" که دَ خپل دې فرېنډ سره "لائيو شو" ته تله غواړئ ، نو به مو ورته وَرسَوم .. بيا به زه لاړ شم خپل کور ته"
زما له خوا ورته ځواب ورکولو دَ مخه هغې پېغلې ليک لاسونه زما په اوږو را واچولو، او په ډېره با مطلبه ناز نخره کې راته وائي ...
" هو ، هو ډئير ... مورږ به" لائيو شو" ته ځو"
دَ انجلۍ دې له ورخه اوېښتې سپن سترګۍ خولې راباندې ايله کړې او ځان مې ورځخه را ټولوَلو په وخت مسټر نوي څخه پُوښتنه وکړه ، چې ...
" دا لائيو شو څه وي ؟"
هغه دَ ځواب راکولو په ځای وَموسېدو او هغې مستې انجلۍ ( ګائيډ ) ته په خپله ژبه کې ګډ شو .. او بيا څو ساعته ورسته هغې ګائيډ دَ " لائيو شو" په حقله داسې شرمناکې او غېر فطري او تر ځناورتوب لا هم اوېښتې معلومات داسې په خوند خوند راکړو ، چې ايله مې په زړه دوره نه راغله - خدائې حق دی چې دَ دغې شو څخه څه، وايم ... چې دَ دې انجلۍ دَ بې حيائۍ څخه مې کرکه وَشوه ... او يَو دم مې ژبه په خُلې کې ورته په ښوربدو شوه ...
" ليک .. که ته اوس کور ته تله غواړې ، نو مسټر نوي به هم دَ دې وَکور يا چرته دا تله غواړي وَرسوي"
لا به مې نورځه ورته وئيل چې انجلۍ داسې حريانه غوندې شوه ، لکه ما چې دَ هغې تر"لائيو شو" دَ بې شرمۍ تر هانده ورته بد او ناروا وئيلې وي - نو ځکه خو يې په ډېر سواليه انداز تپوس وکړو ...
" ولې ... زه به له تا سره نه اوسېږم ؟"
دا خبره څه وه، لکه ټک چې يې راباندې وکړو او دَ نن نيمې ورځې او دې ماځُستن په ببلا ببلو موقعو دَ هغې له بېباکۍ په ما کې دننه راجمه شوې ټوله غُصه مې له خلې داسې را بهر شوه چې لکه جوړه زه هم دَ تهائي اژدها په جامه کې راڅرګند شوی وم او دَ سره تړکېدونکې اور لمبې او خړُوځکې مې

ketabton.com - The Digital Library

ورباندې ورَولې - نور به مې څه او څه نه وي ورته وئيلې ، خو په آخيره کې مې ورته وئيل چې...

" مائينډ يُور اون لېنګوېج اوکې ... ته يَوه ګائيډ يې او بس ګائيډ اوسه" هغې به لا اوس معذرت کولو ، چې ما ورته له بټوې پيسې را ايستلو سم دستي وَوئيل...

" دا واخله خپلې پيسې او خپله لار وهه ښه "

او بيا چې په هوش کې راتلم، نو دې وخت دَ ټېکسي دَ شا په سيټ کې ناستې هغې پېغلې ګائيډ ليک زما په لور داسې په سرو سترګو کتلو ، چې څنګه مې سترګې ورسره څلور شوې ، نو په څېره يې دَ مايوسۍ يو رنګ تلو او بل راتلو –

*****

دَ سبل کولو په څلورم سهار ، ګوا په ۳۱ مه نيټه دَ جنورۍ ۱۹۹۲ع دَ " نوري ټرېولز کمپنۍ" په "پتايا سائټ ټريپ" کې دَ اوؤ سرو انګرېزانو او يَو پاکستاني ملګري سره په وېګن کې ناست دَ "پتايا بيچ" په لور روان وم - کم او زيات څه ۱۴۵ کلوميټره لرې دا نامتو سمندري څنډه يا غاړه په تهائي لېنډ کې کتل دومره ضروری ده لکه په پاکستان کې لاهور کتل ، چې پنجابيانو ورسره دَ پاکستاني کېدو شرط ايښی دی - دَ پتايا بيچ په لور تلونکې لارې ځای ځای په وړو او غټو آباديانو باندې په مابېن يا يو څنګ بل څنګ تېرې شوې دي - عجيبه خبره دا وه، چې ښارې سيمې وې او که کليوالې ، دَ سړيانو په مقابله کې ښځې په ښځې زيات شمېر تر سترګو کېدې -

اختر قزلباش چې دَ کراچۍ اوسېدونکی ؤ زما په څنګ کې دَ خپلې تهائي ګرل فرېنډ سره ناست ؤ - ډېر زړ خوږی ، درونډ او خوشحاله ځوان ؤ .. يو ځای يې راته وئيل ...

" داسې خو زه جرمني ته تلم، لاکن تر هلته ورتګ له مخه مې بنکاک په لمبو کې ځان سوځېدو ته زړه وَشو ، نو ځکه دلته راغلم او دا زما ګرل فرېنډ ګرېني ده ، چې راځرمه ده "

ketabton.com - The Digital Library

څنګه ګرل فرېنډ ؟ دَ مغربي اصطلاح په سمون او که هسې دَ تهائي دَ نننې کلتور دَ يَو يا دوؤ شپو ګرل فرېنډ - ما ورڅخه پوښتنه نه وَکړه ... او خپله مې دا خبره وَسنجوله چې هغه دَ يوې يا دوؤ شپو ناوې وه - اختر او ما په اُردو کې دَ يو بل وَ ژړونو ته لارې جوړَولې او نور مې دَ ورورئ احساس ته وده ورکوله - په دې وېګن کې مې دې بل اړخ ته ناست يَو ښکلی او دنګ دَ نيوزي لېنډ ځوان چې نوم يې تهامس ؤ هم په خوُی او بوُد او دَ ګپو په اړه بد نه ؤ – يَو وخت دَ ايډز په باب يې خپله رائيې له داسې دليل سره وړاندې کوله ...

" دَ ايډز عالمي شوشه هسې لاسي خبره ده ، چې دُنيا يې دَ تهائي هېواد په زد کوي .. ګنې دَ ايډز مريضان چې څومره په مختهوتو مغربي هېوادونو کې شته .. دومره هيچرته نه شته"

په دغه رنګه ګپو او کتو راکتو کې يولس بجو خواته موږ دَ پتايا په واړه لاکن ښائيسته ښار کې په ګولډن بيچ نامې هوټل کې خپلو خپلو خوُنو ته وَ رسَول شولو - هو ، مازې دَ پنځلس يا شل منټه دَ آرام په نيت –

دولس بجې يې موږ ټول ملګري نيږدې سمندري غاړې ته بوتلو - دې وخت دَ سمندر دغه مشهوره غاړه چې دَ لرګيانو او کانيانو جوړ سايه وانونه په کې ځای په ځای ولاړ ښکاره کېږي ډېر خوش رنګه ښکاره کېده – تر لانچ پورې په وړه کشتۍ کې وَ رسول شولو او لانچ دَ کورال آئي لېنډ په خوا روان شو – کورال آئي لېنډ ، چې فقط **۴۵** منټه فاصله باندې يوه ډېره وړه مګر بېخي زرغونه جزيره ( ټاپو ) وه ... دې وخت دَ سلګونو سرو سپينو او نرانو څخه داسې ډکه وه چې څوک په بل نه ؤ خبر - که څه هم ټول له جامو څخه تر ډېره هانده خلاس ؤ ، خو دلته دَ يوه سړي هم په ځان دَ سړي ګمان ګوره چې څله نه کېدو - لاکن بلې خواته هره يوه ښځه په يوه نا يوه مستۍ کې بوخت ښکاره کېده ... بلکې زياترې خو په تکو شنو اوبو کې چړپېدې هم - نور خو نور يو ځای زما سترګو لا درې داسې روسۍ ببغلې هم وَ لېدې چې په ښکاره سينو يې سن بات کولو ... حريان ځکه شوم ورته ، چې زموږ دَ ټريپ دَ ګائيډ له رُويه ... په تهائي لېنډ کې دَ سمندر په

ketabton.com - The Digital Library

غاړو باندې دَ سن بات کولو په وخت دَ بدن خاص برخې پټوَل لازي دي .. او دلته چې مې دا حال وَ ليدو ، نو دَ تهائي لبنډ قانون راته څه غوندې کمزوره ښکاره شو – او چې دلته خال خال دَ حکومت سړي او ژوند ساتونکې هم ګرځېدو –

دَ واړه ټاپو په غاړه باندې دَ نور ژوند پرته موټر بوټونه ، آسماني سايه وانونه ( په آسمان کې دَ الوتلونکو چهترياني ) واټرسکوټران او خاي ځای دَ ګېند لوبې هم دَ کټو وَړ او خوندَورې وې - که يو خواته زما په خيال چې زه يوازې هغه سړی هم وم ... چې جامې مې په تن وې – هم ځکه خو به ځينو ماته داسې پورته کښته کتلو لکه زه چې دَ دُنيا دَ داسې رنګه مغربي چارو څخه بې خبره ورته برېښېدم - که څه هم هغوئ په خپل سوچ کې صحيح ؤ ، خو کمزوری مې بيا هم چاته په لاس شايد چې په دې وجه نه ور کوله چې پښتون وم - مطلب، چې زه يو ځل يوې خواته په ريګ باندې ناست وم، چې دوې تهائي پېغلې راوَرسېدې او په څنګ کې راسره کښېنستې او وائي...

" مساج مساج ؟ "

که مې څه هم ورسره دا خبره نه وَ منله ، خو خبرې مې ډېرې ورسره وکړې - دا دواړې مسلمانې پېغلې وې او وئيل يې ...

" دَ مساج کار په تهائي لبنډ کې زياتره مسلمانې پېغلې کوي ، ځکه چې دا تر نورو سپکو کارونو دروند او ښه کار دی "

ما ورڅخه پُوښتنه وکړه ، چې...

" نران مو څه کوي... چرته مې په ستاسو دَ شمېر په سمه نه وَليدو "

هغوئ وئيلو ...

" زموږ زياتره نران په ښار کې خواري کوي او يا دې خوا ها خوا لانچونه چلوَي "

له دې ځايه ماځيګر خواته بېرته پټايا ستېي ته راوړل شولو –

دَ شپې نهه بجې يې Alcazar show ته بوتلو - په دې غټ نندارتون کې دَ تهائي ژوند ژواک ښوونې په نوې او خوندور ډؤل وړاندې کېدلې - دَ حېرت

ketabton.com - The Digital Library

خبره دلته دا وه، چې په لوی ستېج باندې ننداري دَ هري لوبې او ډرامګۍ او سندرې يا بيا بيا رقصونو ورسته داسې ژر ژر بدلېدلې ، چې دَ سړي به ورباندې دَ جادوئي عمل ګمان وَشو - ګوا دَ ستېج درست ماحول به دَ هري لوبې دَ موډ په سمون داسې په تادۍ بدلېدو لکه دا هر څه چې ژوندي نه .. دَ يو فلم برخه وي - له دې خوندورې شو دَ کتلو ورسته موږ ټول ملګري دّ شپې يولس بجې خواته دَ پتايا په فرسټ روډ کښته کړل شؤ ... يو عجيبه غوندې حالؤ په دې روډ - هر لور رڼاګانې ، بارونه ، سازونه ، دمامې ، مستيانې په ښېلاښېلو نومونو باندې سرته رسېدلې او دَ دُنيا جهان ټوؤرسټانو زړونه يې غولوَلو - داسې برېښېدو لکه مځکه چې ځنګېږي ، خو عجبه بيا هم دا وه چې ودانيانې او ماڼيانې دَ دې روډ لا هم هغسې ولاړې وې - په هر دويم ګام ښځې او نرښځيان په رنګينو جامو کې نه يوازې ولاړ ؤ بلکې په ښکاره ښکاره يې وَ خلګو يعنې ټوؤرسټانو ته دَ هغوئ دَ خوښې هر اړخيزه خواهشاتو پوره کولو دپاره بلنې هم ورکولې - ګوا انساني ژوند او اخلاقياتو رسۍ داسې په آزادۍ دَ شيطاني وحشت په نيت شلولې ... چې زما په رنګه يو ساده پښتون يې په بيا بيا غوږونو نيولو باندې مجبوره کولو - نه يوازې دا ، بلکې دَ روډ په دواړو څنډو ولاړو بې شمېره پېغلو داسې رقم بلنې هم ورکولو ته چمتو وې - چا وئيل ، لائيو شو ... لائيو شو ، چا وئيل ، دا ډسکو ... ها ډسکو ، اې ګوګو ، داسې بار هاسې بار او تر دې هانده چې ځينو دَ لېډي هوم ... لېډي هوم مشهوريانې او بلنې هم ورکولې –

غرض دا ، چې دلته ايمان ساتل وَ سړي ته ګران پرېوځي - ولې چې دلته ښځې او سړي دَ مختصرې مودې دَ ربنتې په نيت جوړه جوړه داسې ګرځي لکه هغوئ چې دَ جنم جنم راهسې ملګري پاته شوي وي - بس يَو زه وم، چې نه تش مې دَ ګلانو دَ ښکولو څخه ځان ژغورَلو بلکې دَ پتايا بيچ دَ دغې شپې دَ مستيانو په نوم لوګی شوؤ ګلورېنو لارو کې خورو ورو ازغيانو څخه مې جامې هم ژغورلې - هو، داسې نه ، چې زما په سينه کې زړه نه ؤ او يا سړی نه وم ، خو خبره هغه دَ هوشيارانو، چې زړه ؤ لاکن همت نه - نو ځکه دَ ښېلاښېلو ناښکاره ويرو سره

ketabton.com - The Digital Library

ملګرى يوې بلې خواته په چکر وم - يعنې شايد چې زه هغه واحد سړى وم، چې چرته هم يوه بار کې نه کښېنستم او نه مې دَ پتايا بيچ په رنګونو کې ځان رنګ کړو -

دَ پتايا بيچ په باب دا خبره مشهوره ده، چې دلته دَ دُنيا جهان خلک يا ټوؤرسټان ( په خاص توګه نرينه ) ځکه په زيات شمېر راځي ، چې ورځ په خوب او شپه تر سهاره په ويښه تېرولو عادت دَ رواج ځاى نيولى دى - او بيا دَ ښار دَ سمندر دَ غاړې آمدني په يوه ورځ کې لکه يو لکهه ډالره پورې وي - او په دې کې دَ ګټې زياته برخه دې هېواد ته دَ تهائي پېغلو دَ موسکاګانو او رقم رقم روا کړل شوؤ ناروا اداګانو په بنسټ دَ ټوؤرسټانو دَ زړونو دَ غولوَلو له سوبه لاس ته ورځي - وئيل کېږي ، چې دَ دې هېواد په خوشحاليانو ساتلو کې دَ دغو پېغلو لويه برخه وي - ولې چې هغوئ په خوږو خنداګانو ، ناروا نازونو او اداګانو باندې دَ سيلانيانو جېبونه داسې صفا کوي ، چې دَ يو څو ورځو ورسته دغه سيلانيان خپلو هېوادونو ته ستنېږي ، نو چې دَ جهاز له ټکټه يې بل هيڅ څه هم په جېبونو کې نه وي پاته شوي - داسې ځکه، چې تهائي پېغلې دَ نريناؤ دَ کمزورى رګ نيولو په هنر کې خورا غښتلې ګڼل کېږي - هم شايد دغه وجه وه، چې دغو ماربچئيو تهائيانو ته زما ايکړې بده ښکاره کېدله او هڅې يې کولې چې دغه با ايمانه پښتون هم په يوه نا يوه طريقه ورګېر کړي - خو، ما له هيچا سره هيڅ رقم خبره هم نه منله - خو هغوئ هم شکست نه منلو او ما ته يې په رقم رقم نومونو تلکې درَولې ... خو زه په کې نه شومه ورګېر - هن ، تر دې هانده، چې زه کله دَ خپل هوټل په لابي کې وردننه شوم، نو يَو تهائي ځوان، چې ورسره څنګ کې يوه چټه پېغله هم ولاړه وه دَ ښې ډېري نشې په حالت کې راته وَوئيل ...

" لېډي ... لېډي ؟ " ما که هر څو غوږونو ته لاس وړلو، خو هغه بې غېرته ځوان يوه نه منله او انجلۍ ، چې خور يې ښکاره کېدله تر لاس نيولې زما تر شا شا

ketabton.com - The Digital Library

راروان ؤ - او زه دَ مرګ وام نيولی دَ خپلې خوُنې په لورې په غټو ګامونو روان ....

*****

په دې بل سهار دَ ناری کولو ورسته په وېګن کې Jomthien Beach ، چې دَ پټايا سټې څخه دَ نيمې ګنټهې واټن باندې ؤ ته يوړل شولو - دَ پټايا بيچ په مقابله کې دا بيچ نه يوازې غټ ؤ ، بلکې دَ ځوانيانو، مستيانو او ښائيستونو په اړه ځانګړی هم - دَ ژېړېخون رېګ او تکو شنو اوبو په دغه سمندري غاړه باندې مې په لومړي ځل اوبو ته ځان وَسپارَلو او دولس بجو خواته مې دَ ملګرو سره په وېګن کې دَ بنکاک په لور مخه وکړه ... او په هغو لارو دَ تهائيانو دَ کرانګ تهيپ ( يعنې دَ ځُورو ښار) ته يو ځل بيا روان ؤ - دا ټريپ دَ سېل دَ اهميت څخه پرته په دې وجه راته په ګټه تمام شو، چې دَ اختر قزلباش غوندې غښتلی او خواخوږی دوست مې په برخه شوی ؤ –

*****

بيرته هغه زه وم او کهرانه ګيسټ هاؤس ، چې هم ارزانه ؤ، او هم دَ ښائيسته او خوش رنګه اندرا مارکېټ سره ورته ... دا مارکېټ څه ؤ ، دَ کلي دَ ګودر تنده ورباندې ښه ماتېدله - ما او اختر قزلباش، چې زما دَ هوټل څخه په څه فاصله باندې په مېټرو پېلس کې استوګن ؤ ، هر ماځيګر به موږ په سېل وتو - اختر قزلباش به له تهائي پېغلو سره رقم رقم ټوکې او شوخيانې کولې – يَو ماځيګر، چې موږ دواړه په اندرا مارکېټ کې ګرځېدو، نو اختر قزلباش دَ يوې تهائی سره په شوخۍ کې څه داسې اخته شو ... چې هغې انجلۍ ورته وئيلو، چې ...

" انګرېزي مه وايه ... تهائي وايه تهائي وايه "

" زه پيشي نه يم چې په مياون ميان به درسره ژغېږم "

ده به لا نورې خبرې کولې ، چې هغې تهائي پېغلې دا خبره په ځان څه بده وګڼله او وار يې داسې په تادۍ وَلاس ته کړو ...

ketabton.com - The Digital Library

˝ زه بیا سپی نه یم ، چې ستاسو په رنګه به باؤ باؤ کوم ˝
دا باؤ باؤ یې داسې په خوند او په طریقه ادا کړو ، چې ما او اختر دواړه داسې خندا په سر شولو ، چې دَ هغې په شونډو هم موسکا خوره شوه -
*****
دَ سېل اتم سهار ؤ ، چې دَ کهرانه ګیسټ هاؤس څخه دباندې دَ مېټرو پېلس هوټل خوا ته دَ اختر قزلباش سره دَ لیدلو په نیت روان وم - بس چې څنګه دَ خپل هوټل له روډه دَ ښي لاس په کوڅه وګرځېدم ، نو یَو تور بانجنې کلر موټر کار چې ټولې شیشې یې هم تورې وې ... زما دَ څنګه وَدرېدو ، شیشه کښته شوه او یوه ټین ایجره تهائې پېغله ، چې تور نرم وېښته یې په مخ ځنګېدلو .. په کې ناسته وه ... راباندې ژغ وکړو ...
˝ مېن ... چرته روان یې ؟ ˝
ما ورته وئیل ...
˝ مېټرو پېلس هوټل ته ˝
دې لاس شاته وَغزَولو او دَ شا دروازه یې څه غوندې خلاسه کړه ...
˝ راځه ... زه به دې ډراپ کړم ˝
یَو وار لا زړه راته وَ وئیل ، چې ورسره کښېنم ، خو بیا چې مې دې پټ چارې انجلۍ ته پام شو ، نو انجلۍ راته انجلۍ نه ... بلا ښکاره شوه ... نو ځکه مې لاس ورته دَ شکریه دپاره پورته کړو او وئیل مې ورته ، چې ...
˝ نو تهېنک یُو ˝
او مخته روان شوم - هغې بیا راپسې ناره کړه او ګاډۍ یې زما سره سره روانه کړه او پرله پسې راته ګډه وه ...
˝ Man … Hey Man … No Problem … come come … join me ˝
لاکن زه وم، چې خپله لاره مې داسې په چسپاندۍ لنډَوله ، لکه جوړه چې تهائې اژدها دَ هغې چاکلېټي انجلۍ په بڼه کې راپسې وي او له خُلې څخه مې ورته ˝ No..No ˝ وتلو – لاکن هغه تهائې پېغله هم دومره رډه وه، چې زما په خبره یې

ketabton.com - The Digital Library

سر نه خلاسَولو - زړه مې حلق ته راغلی ؤ - که ورځ نه وی ، نو کېدای شو چې منډه مې کړې وی او بيا غم دا هم ؤ ، چې يو بل خواته په دې کوڅه کې سړي هم کم کم ليدل کېدو او څوک چې ؤ هم، هغوئ خپله خپله لاره وهله .. نه يې په ما او هغې کې باک کولو اونه يې زموږ په لور په هېره راکتلو - ما په بيا بيا هغې ته سوري وئيل او معافي مې ورځخه اخيستله ... او لاسونه مې جوړه ورته نيولی ځکه نه شو ، چې دلته چا ته لاسونه جوړول ... هغه ته هرکلی وئيل دي - خو دَ هرڅه پرته مې غوږونه په بيا بيا ورته وَنيولو ... ځکه چې دَ هغې په دې تکراري ضد ماته خپل مرګ يقيني شوی ؤ - خو دا وه چې ما ته به يې په ماته ګوډه انګلسۍ کې بيا بيا وئيل، چې...

" Come …. Come Join Me …. My Friend … don’t worry "

يَو وخت چې زه دَ مېټرو پېلس هوټل په کوڅه کې وګرځېدم، نو ګاډۍ هم څه شاته پاته شوه - ما وئيل ، چې اوس به ورځخه خلاس شم - ولې چې هوټل اوس بس په يَو څه فاصله باندې ؤ - دغه سوچ مې کولو ، چې ګاډۍ هم راپسې بيا راوَرسېدله - دې ځل خو دومره راسره نيږدې روانه وه ... وايم چې هغې ايله لاس نه راواچولو ... ګنې که يې غوښې وه، نو يې اغوا کولی هم شوم - دا هغه وخت ؤ ، چې مې په مزغو کې دا خبره راغله ... هغه هم دَ حېرت سره ګنډلې ، چې دا هم عجيبه هېواد دی ، چې ښځې يې نرانو ته په ګاډيانو کې لفټونه ورکوي ... که څه هم دَ دې خبرې برعکس زما په هېواد کې کېږي - نو ځکه خو زه په نره ځان دومره عاجزه شوی وم، چې شاپېرۍ راپسې وه او زه لکه چغال په منډه – يَو دوه ځله يې زما توجه دَ ځان په خوا اړَولو دپاره په هارن لاس هم کښېښولو... چې به مې ورته وکتلو، نو دې به په شونډو ژبه تېره کړه او يوه سترګه به يې داسې پټه کړه لکه جوړه چې يې اوړه راپسې تمام شوي وي - او ناپېښه خو هغه وخت وَشوه ، چې زه دَ هوټل په ګېټ څنګه دننه کېدم، نو دَ خدائی په اماني دپاره مې لاس څه ورته پورته کړو ، چې هغې شونډې په خشم کې وَ چيچلې او له ځان سره په ترئيو

ketabton.com - The Digital Library

تندي  وَبُونښېده  -  خود به يې كلكه شكنځا راپسې كړې وي ... او بيا يې په اېكسلېټر پښه داسې كښېښوله، چې ګاډی ايله وانه لوته -
دا واقعه چې مې اختر قزلباش ته دَ هغه په خونې كې وكړه، نو ده زما په حال او شوق ډېر سر وَښورَولو او وئيل يې...
" څه ګولډن چانس دې دَلاسه وركړی دی "
او بيا يې راته وئيل ، چې ...
" داسې پېښې دلته اكثره دَ خوش قسمته غېرملكيانو سره كېږي - يعني  دَ غټو كورنيانو انجونې داسې دَ دوئی دَ راګېرَولو په چكر كې ګرځي راګرځي - ولې چې دغه دَ لوئيو كورنيانو انجونې هرڅه هر څه دلته په خپلو سترګو ويني ، خو دَ خپلو خواهشاتو تسكين دَ عامو انجونو غوندې نه شي كولی – نو ځكه يَو نا يَو غېر ملكي ځوان په تلكه كمې راګېر كړي او څوڅو انجونې ........"
دَ ملګري اختر دا خبرې په ما هم ښې وَلګېدې – مګر دې وخت مې كولی هم څه شو ، چې موقعه مې دَلاسه وتې وه -
دغه ورځ  اختر قزلباش په ضد ؤ، چې  دَ بنكاك يوه تحفه زما په خوښه راته وړاندې كړي – ولې چې دائی نن ماځيګر جرمنۍ ته روان ؤ -  كه څه هم ما نه ورسره منله، خو ده راباندې په زوره وَمنله  ... هو، دَ يَو ښېخې ښه دوست په حېثيت  -  په ټېكسي كې يې كښېنولم او هلته يې بوتلم، چرته چې له ځانګو راشلېدلي ګلونه دَ خزانه په امان او  په هر موسم كې ژوند كولو ته جوګه برېښېدلو - هو ، هم دغه ګلونه خو دي ، چې خوشبويانې پاشي  -  هرڅه هرڅه ، خو حريان په دې خبره وم، چې دَ ملګري اختر دَ اخلاس مخې ته زما په ځُله كې دَ انكار توري څله اقراري شوي ؤ ؟
*****
دَ فرورۍ څلورمه وه، چې زه  دَ بُدها له ښاره په ټېكسي كې دَ ائيرپورټ په خوا داسې مړَغونی روان وم، لكه هرڅه چې مې دلته پاته شوي وي - بس ايله مې وَ نه ژړَلو ، ګڼې نور خو مې طبعيت ښه خټه شوی ؤ -  او عجيبه خبره دا وه، چې

ketabton.com - The Digital Library

دلته دَ راتګ په وخت چې زه څومره له وسوسو او ویرو سره ملګری راغلی وم... اوس دَ تلو په وخت دغومره زړَور او دَ خلګو خبرې راته ایله هوائي خبرې محسوسېدلې - ولې چې ، که لاره هر څومره ازغنه وي ، نو دَ ګلونو طلب ګار تر ګلونو پورې نه یوازې ځان رسَولی شي ، بلکې دَ ازغنو ځانګو څخه جامې هم په خپل هوش او هوشیارۍ ژغورلی شي - او بیا پام خو، زموږ په خړې پړې مشرقي نړۍ کې هم په کار دی - داسې ځکه، چې ولاتونه او هېوادونه که هر څومره بدل بدل دي ، خو انسانان او انساني روئیې دَ خپل خوی او بُود او جبلتې جوړښت له سوبه یَو رقم..... که داسې نه وای ، نو هر انسان به ځان ته مکمل وای او دَ بل سره دَ ملاقات حاجت به یې نه درلودلو –

ketabton.com - The Digital Library

# هلته ... چرته چې سترګې ژغېږي

تاثراتي لنډيز

" په ايران کې اسلام هم شته او اسلامي قانون هم - لاکن ګوره چې خلک ورڅخه دَ فرار لارې ځله غواړي ؟ چرته دَ تاريخي سېکولر ايران دَ منځه تګ خو بې وخته نه ؤ شوی ؟ او يا کېدلی شي چې خلک يې لا تر اوسه په ذهني توګه دې نظام منلو او قبلوَلو ته تيار نه دي.... هرڅه هرڅه ، خو دَ سپلاني دپاره دَ سترګو وړاندې ښکاره ايران ، په هره اړه ساری نه لري ... په ښکاره دَ ژوند کولو طور طريقه په هره معنا کې مغرب وزمه ده ، خو ربښتيا خبره دا ده، چې ايراني ژوند لا خو په معنوي توګه دَ مغرب تقاضې نه پوره کوي ... که څه هم په لاره يې روان برېښي " ( شوق )

## آئيډيل

ما چې کله هم دَ ژوند په ګودر باندې
کومه پېغله ژغوَلې ستا په باب ده
هغې ماته سر تر پايه دي کتلي
بيا يې دومره دي فقط راته وئيلي
چې " دَ خيال په نيلي سپور
اې لېونيه !
دا جنۍ زموږ په کلي کې نه اوسي
شاپېرۍ زموږ په کلي کې نه اوسي "

ketabton.com - The Digital Library

تر یورپ پورې دَ وچې لارې دَ مزل کولو په نیت ما او ملګري جمعه خان کاکړ بېګونه په اوږو باندې راوَخېژولو او په ۲۸م اکتوبر کال ۱۹۹۳ غرمه درې بجې دَ پاکستان دَ سهېلي لوېديځې ځنډې ورستني ښار تفتان څخه وَ ایران ته ورننوَتو - لمر هغه ؤ ، دَ لمر وړانګې هغه ، موسم هغه ... هن چې دَ وختي ژوند کېفیتونه هم هغسې ؤ - خو بس که بدل ؤ ، نو هغه ؤ دَ دې ځای انسانان او دَ دَ هغوئ انساني خصلتونه - ګوا یَو دم دَ علم په رڼا باندې هر یَو کس راته منور غوندې ښکاره کېدو - په مخونو باندې یې کوُنډۍ ږیرې درلودلو او په پتلونو او شرټونو کې پټ ایراني نرینه په ژبو ډېر پاسته او په اخلاق ډېر زیات خوارږه او دَ سپین رنګت او جګ والي له سوبه سترګو ته دَ یَو مهذبه قام غړي برېښېدو - که څه هم دَ دوارږو هېوادونو تر منځه راکښل شوې دَ پُولې کرښه دَ ولانګلو دپاره دَ ګامونو په کچ دَ یَو منټ یا نیم منټ لاره وه - خو زموږ او دَ هغوئ تر منځه دَ دومره زیات توپیر مخې ته راتلل څه وړه خبره نه وه - او بیا چې څنګه موږ دَ ایران په مځکې باندې قدمونه ږدلو ، نو وخت یوه نیمه ګنټهه شاته ټوپ کړو - ګوا دَ پاکستان درې نیمې بجې یَو دم دَ ایران دَ ماخپښین په دوؤ بجو بدلې شوې -

ایران ، چې دَ پاکستان وَ سهېلي لوېديځ اړخ ته په ۱۶۴۸۰۰۰ مربع کلومیټرانو باندې محیط یَو خور وور آزاد اسلامي هېواد دی ، په ۵۲۰۳۱۰۰۰ مېښته خلګو باندې اړه لري - تاریخ وائي ، چې دَ آریائي نسل وګړي، چې کله دَ روس دَ سهېلي برخو څخه دَ نوي مسکن په لټون وَ وتو ، نو ځینو وګړو دَ پارس یعنې دَ نني ایران دَ سیمې په خوا مخه راوکړه او په هغوئ کې ځینې دلته مېښته شولو او پاته نور وګړې برصغیر ته وَرسېدو - بیا دَ وخت سره سره دغه پخواني آرین وګړي ، چې "ماد" او "پارسي" نومېدلو په بېلو بېلو وړو وګړو یا ټبرَونو کې په لساني بنیادونو وَوېښل شول - دَ نن په دې ایران کې دَ فارسۍ سره سره چې کومې نورې ژبې وئیل کېږي ، په هغوکې کرُدي، عربي ، بلوڅي او ترُکي ژبې دي - او ښکاره خبره ده، چې هم دغه ټولې ژبې دَ پخواني آریائي نسل څخه دَ

ketabton.com - The Digital Library

رازبربېدلو ټبَرونو یا وګړو ژبې دي، چې خپل خپل ارتقائي عمل يې تر ننه پورې په بېل بېل تشخیصي توپیر رارسَولی دی – او اوس ځان ځانته قامونه لري - پرته له دې، دغه ایران دَ نړۍ په هغې نومورې سیمې باندې پروت هېواد هم دی ، چې په خاوره باندې يې نه یوازې سلمان فارسي، عمُر خیام، فردوسي، حافظ شیرازي ، سعدي ، امام غزالي او نظیري رنګه ستر او بې ساري انسانان زېږېدلي یا پاته شوي دي ... بلکې دَ رستم غوندې تکړه او زورَورو پالوانانو مسکن هم پاته شوی دی - مطلب مې دَ خبرې دا ، چې دَ پرون په رڼا کې دَ نن ایران هم په درسته نړۍ کې په بېلابېلو میدانونو کې ځانګړې حېثیت لري ... چې دَ روښان سباؤن په لورې نه یوازې تلو ته جوګه دی بلکې دَ دُښمنانو او حاسدانو په سترګو کې کوُټبړي هم –

*****

کله چې مورږ په ټېکسي کې دَ زاهدان په لور روان ؤ ، نو تر ډېره پورې خو دَ مخامخ راتلونکې هرې ګاډۍ څځه وېرېدم او ځان به مې ټول ټول کولو ، چې چرته زمورږ په دې ټېکسي باندې نه راوَخېږي - ګوا دَ مخالف سمت ګاډۍ چې به څومره څومره رانیږدې کېدله ، نو زړه به مې له ویرې حلق ته راغلو .. خو بیا چې به زمورږ کینڼ لاس ته تېره شوه ... نو زړه به مې ایله په ځای شو - خبره ناشُوده نه وه ، مورږ نابلده ؤ - ولې، چې دلته ټرېفک په ښي لاس چلېدو - بس به دغه رنګه حال کې چې څنګه څنګه ټېکسي مختته لاره لنډَوله ، نو دَ تک تور پراخ او هوار سړک دواړو خواؤ ته که څه هم هغسې غوُندیانې ، لږډېرې سمې مځکې او یا دَ غره لمنې وې ، چې ځای په ځای په کې واړه کلې او کورونه آباد ؤ ، خو سترګو ته يې سکون بخښلو - څه مختته دَ ټېکسي ډرائیور ، چې وړه کوُنډۍ توره ږیره يې په مخ درلودله زما او دَ جمعه خان کاکړ دَ بېلابېلو سوالونو په ځواب کې دومره معلومات راپه ګوته کړو ، چې مورږ دَ ایراني ماحول، لږډېر رسم و رواج او څه څه دَ هغوئ دَ قانون په دائره کار هم بلد شولو - لاکن دَ هغه ډرائیور دغې خبرې مورږ ډېر پرېښانه کړې ؤ ، چې ګنې...

ketabton.com - The Digital Library

" پام کوئ پام ... داسې نه ، چې په یوه وړه غونډې ورانې مو سرونه قلم شي " موږ هم ملامت نه ؤ ، ولې چې رقم رقم وسوسو سره ګنډلې ویرې مو هغه وخته لا په زړونو او ذهنونو کې ځای نیولی ؤ ، چې دَ ایران په باره ر راننوَ تلو په وخت په لومړي نظر دَ ستر امام خمیني دَ عکسونو سره په دېوالونو نوښته شوې نارې لوستلې وې - ګوا دَ سترو مذهبي هیروګانو دَ زنده باد له سلوګنانو سره ( مرګ بر امریکه ، مرګ بر اسرائیل ) رنګه دَ نفرت دَ انتها ښودنه ... نه یوازې دا بلکې دَ دغسې نارو پرته دَ اسلام دَ سر لوړۍ، دَ اسلام دوستۍ په حق کې بېلابېل قومي جهادي نظر او دَ کُفر په زد ډېرې نارې په هر دویم دېوال او لګېدلې بېنر باندې لیکل شوې وې - خو بیا چې دَ ټېکسي ډرائیور خبرې لا په کې ورګډې شوې ، نو زه او زما ملګری لا نور هم وارخطا شولو او یَو بل ته مو داسې په بیا ورکتلو لکه موږ چې به ډېر ژر له یَو بله بېلېږو - نو ځکه مې جمعه کاکړ ته وئیل، چې...

" وروره !! ما و تا خو دَ آزادې فضا مارغان یُو ... لاکن خیال به کوؤ ... ډېر په سوچ او پام به دلته په دې هېواد کې قدمونه ږدو "

" هو ... دَ دې خلګو هیڅ پته نه لګي - دوئی تر اوسه لا په حالتِ جنګ غونډې کېفیت کې دي او له ذهنونو څخه یې دَ ماضي تراخه وختونه نه دي وتي – داسې نه چې سرونه وَ بائیلو "

او دغه وجه وه ، چې موږ دواړه له ډرائیور سره هم په ډېر جیو جار خبرې کولې – هڅه مې دا کوله ، چې یَوه داسې کړه یا ترخه خبره مې له خُلې ورته نه راوَخېږي چې لاسونه یې زموږ تر غاړو راوَرسېږي - هو ، که څه هم هغه پخپله ټوله لاره دَ دې هېواد دَ انقلابي او اسلامي نظام په زد راته ګډه ؤ او دَ پاکستان تر ټاک اوینبتې خپلواکۍ یې په درنو ټکو کې ستائیله - لکه دا خبره ، چې به یې په مختلفو حوالو بیا بیا کوله ، چې ...

" په پاکستان کې که نور هیڅ هم نه شته ، خو دَ خلګو دغه ځانته په خپله خوښه ژوند کول یې غټه معنا لري او بس "

ketabton.com - The Digital Library

دا او داسې نورې خبرې يې لا سرته نه وې رسولې ، چې يوه ګړهه تېره شوه او موږ زاهدان نامي ايراني ښار ته وَرسېدلو او په نه ساعت کې بيا دَ ګېراج نامي ځای ، چې ورڅخه دَ تهران دپاره بسونه تلو کې له ټېکسي څخه کوز شولو - دا دَ ښار يوه خوش رنګه برخه وه – بلوڅي او فارسي په کې وئيل کېدله - که يوې خواته ته ټول نرينه په انګرېزي جامو کې پټ ؤ، نو بلې خواته يې ښځو تور غټې پړونې په ځان داسې راپېچلې ؤ ، چې بې دَ سپينو او غوُنډو څېرو يې دَ بدن بله يوه برخه هم نه ښکاره کېده - دلته دَ بسانو درې غټې کمپنۍ وې.. لکه T.B.T ، ايران پېما او شرکت تعاوني ... او دَ هرې کمپنۍ دفتر مختة ښائيسته او نوي جوړ مرسډيز بسونه ولاړ ؤ - په ايران پېما دفتر کې مې دَ تهران دپاره دوه ټکټونه واخيستو او بيا يې دفتر سره جوخت هوټل ته دَ ډوډۍ خوړلو په نيت ننوَتو –

دَ دې ځای دَ وخت په سمه درې نيمې بجې خواته بس دَ تهران په لور مخه وکړه - بس څه ؤ، تيار جهاز ؤ، پاسته او غټ سيټان يې درلودلو، پراخه پراخي وه په کې او تر ټولو ښه خبره لا دا وه چې دَ ښائيسته ناستو انسانانو همسفري دَ اوږده سفر ټولې ويرې او وسوسې زموږ له زړونو څخه نه يوازې وَ ايستلې ، بلکې په بس کې دَ ناستو ايراني خلګو دَ خواپاکۍ او دَ خوش اخلاقۍ مظاهرو موږ ته هم دَ هغوئ په انسانيت وزمه ماحول کې دَ برخه جوړېدلو احساس له تلقين سره ملګری راپه برخه کړو - نه يوازې په بس کې دا خبره رامخې ته شوه بلکې ما او جمعه خان دَ بس اډې دَ خواپاکې پرته دَ هغه هوټل چې موږ په کې خواړه خوړلې ؤ ، هم په ښو ټکو ستائيلې ؤ - ګوا ما او زما ملګری دَ دې هېواد له باډري ښار زاهدان څخه لا دَ دې خلګو په حقله ښه دروند تاثر غوره کړې وې - هو ، شايد ، چې دا خلګ دَ دې حديثٍ نبوي مبارک ( النظافت من الايمان ) معنا او مفهوم ته سم په نره رسېدلي ؤ ، چې دَ شاته پاته شوې اډې په هر دفتر، انتظار ګاه او هن چې په دې بس کې هم يَو ځای کې ليکلې شوی ؤ - دا خو ؤ دَ ايران او ايرانيانو دَ صفائي حال ... سړکونه او په سړکونو روان ټرېفک يې داسې تاثر

ketabton.com - The Digital Library

راکولو ، چې دَ ایران خلګ چې زموږ له ( دَ بودګانو سره دَ مطابقت لرلو تر هانده ساده ) خلګو څخه یوه پېږۍ مخته وتې وي - دلته دَ منظمه انساني ژوند پرته داسې څرګند ېږي لکه په دې هېواد باندې چې کله هم جنګونه یا خوني انقلابونه راغلي نه وي - ولې چې نه مې چرته مات پُل تر سترګو شو او نه مات دېوالونه - نو له دې څخه دا څرګندېدله ، چې انقلاب تش دَ شاه او شاهي نظام په زد نه ؤ راغلی ، بلکې دغه انقلاب دَ اسلام او انسانیت په اړه هر اړخیزه انقلاب هم ؤ - ګڼې يَو هېواد هم دَ نړۍ دَ نورو هېوادونو دَ مرستې بغېر دغه رنګه ژوند ته په همت او مړانه اوږه نه شي ورکولی ... لکه دَ ایران اوسنی اسلامي او جمهوري حکومت چې یې خپلو وطنوالو ته دَ ژوند ساتنې په حقله ورکوي - او بل، دا هر څه داسې ښکاره کوي ، لکه ایراني قام چې يَو وار بیا په خپل سر دَ زغمنې او مړانې ، هغه رنګه ښوؤنه کولو ته جوګه شوی دی ، کومه چې ډېر پخوا زمانې کې دَ پارس یا فارس ( دَ نن ایران ) وګړو دَ چنګېز خان او هلاکو خان دَ ظلم او بربریت په زد کړې ؤ - نه یوازې دا ، بلکې دَ ایرانیانو دې همت دَ فرهاد دَ جنون یادَونه هم تازه کوي ، چا چې دَ خپلو متو په زور دَ شېرینۍ ، چې دَ باچا خسرو پروېز ( **۵۹۰** - ۶۲۸ ) رانۍ وه ، دَ مینې په نشه کې دَ بېستون نامې غره څخه دَ شوُدو ویاله دَ هغې تر مانۍ پورې وړې وه –

ماځُستن وَ خواته بس ، چې دَ ایران خلګ ورته اوتوبوس وائي ، یوه ښار ته دننه شو ... بازارونه بند ؤ ، خو خال خال هوټل او يَو نیم دوکان ، چې په لویه لاره جوړ ؤ ، دَ مسافرانو دپاره خلاس ؤ - بس دَ یوه هوټل له مخه تم شو او ټولې سوارلیانې دَ ډوډۍ خوړَلو او نور حاجت سر ته رسَولو په نیت ورڅخه کښته شو - دا کرمان نامې ښار ؤ - دلته مو په هوټل کې جوجا کباب، چې دَ ایران په خاصو خوراکونو کې يَو خوراک دی وَخوړَلو ... او سلېماني چائې مو له نخودو سره وَڅیښلې - او بیا دَ ماځُستن لمونځ کولو ورسته په بس کې کښېنستو - دلته دا خبره لیکل ضروري ګڼم چې که څه هم سفر ډېر خوندَور ؤ ، بدني او ذهني ستړیا یې نه درلودله ، خو دَ پاسبانانٍ انقلاب دَ عسکرانو ښځي زیاتې او بیا بیا

ketabton.com - The Digital Library

تلاشیانو له سوبه مو ساه ځلې ته راغلې وه - دَ لوې لارې هر ورکې او غټ ښار ته ورننوتلو څخه مخ کې یا ورڅخه وتلو په وخت په یوې نا یوې عسکرې چوکۍ باندې به خامخا اوتوبوس شل یا پنځوېښت منټه دپاره درېدو او سوارلیانې به دَ تلاشۍ او تپوسونو دَ زړه ازارَونکو تر هانده مرحلو څخه خامخا مخامخ کېدې - بیا یې هم کور ودان، چې موږ یې نه تنګولو ... بس فقط پوښتنې به یې راڅخه کولې او تش زموږ پاسپورټونه به یې کتل - لاکن خپل هېواد وال ، په تېره بیا ځوانان خو یې دَ سر له ویښتانو بیا دَ پښو تر نُوکانو پورې تلاشي کولو اوچپه راسته پوښتنې به یې ورڅخه ډېر په جابرانه انداز کولې - داسې حال ته اشاره کولو په وخت زما ملګرې وئیل ، چې ...
"دا خو عسکرې چوکیانې نه ، بلکې تیار امتحاني سېنټران دي"
او خبره وه هم دغه رنګه - ولې چې دَ مخ او دَ شا دَ تلاشي کولو پسته دَ دغو ځوانانو دَ خشم ، بې زارۍ او کرکې کېفیتونه دَ هغوئ په څېرو له ورایه ښکاره کېدو ، خو هیچا ځُله نه شوه څېړلی او نه یې اظهار په تورو کې کولی شو – بس یَو بل ته به یې ګاهی ګاهی وَ کتلو او سرونه به یې یوې بلې خواته وَښورَولو - هرڅه هرڅه ، خو دَ هغو ځوانانو دَ تندیانو ګوُنځو به یې دَ زړه حالونه وئیلو - رښتیا خبره دا وه، چې دَ انقلاب دَ ساتنې دا شکي او ازاري انداز یې زما نه شو خوښ ... خېر، یَو وخت مې سترګې سره ورَغلې وې – که یې دَ یامان نامي ښار په اوله چوکۍ نه وای بس درَولی، نو ممکنه وه، چې تر سهاره به په خوارږه خوب ویده وم -
سهار شپږ بجې خواته اوتوبوس دَ لارې په یَو غټ او ښائیسته غوندې هوټل باندې تم شو ... دا دَ لوې لارې هوټل دَ صفائي او ښائیسته والې او انتظام له جوره زموږ دَ غټو ښارونو دَ لوړ سټېنډرډ له ریسټورېنټونو څخه هم یَو په لسه ښه ؤ - دَ خوراک څیښاک دَ اوچت معیار او خواپاکۍ دَ بې ساري کېدو پرته دَ دې هوټل واش رومان دَ ستائینې وړ ؤ – خو دلته هم په یوه واش روم کې په دېوال باندې په څلورو رنګینه قلمونو باندې لیکل شوې فقره ، ګوا " لعنت بر

ketabton.com - The Digital Library

رژیم آخوند " داسې خبره زړه ته راواچوله ، چې ګنې اوسنی انقلاب یې په خطره کې دی - ولې، چې په واش رومونو یا حاجت ځایونو کې دَ خلګو دَ کنځلو تحریري اظهار دَ کرکې او بې زارۍ انتها ګڼل کېږي - دغه رنګه سوچ یوازې ما نه درلودلو ، بلکې زما ملګرې جمعه خان کاکړ هم په دې هوټل کې دَ چائی په مېز راته وئیل، چې...

" دَ دې هېواد دَ خلګو دَ سپینوالې وجه چرته دا خو نه ده، چې دَ بې ځایه حکومتي بندېځونو له سوبه وینې په کې وچې شوې دي ؟"

دائی په خپله خبره کې که صحیح نه ، نو غلط هم ځکه نه ؤ ، ولې چې هر یَو سړی یا کس دَ دې هېواد سامَولی ښکاره کېدو - هوټل دَ خلګو څخه ډک ؤ ، لاکن ژغژغه یې دومره نه درلودله ، چې څومره په کار وه - او نه مې په یَوه مېز باندې آزاده ګپه تر غوږه شوه - ګنې دا خلګ دَ جامو او کړو وړو په ظاهري وضحه په معاشي توګه خوشحاله هم ښکاره کېدو -

*****

لمر ښه بالا په سر راغلی ؤ ، چې موږ دَ رفسان جان او بم نامې ښائیسته ښاري علاقو څخه ښه ډېر مخته تېر شوي ؤ - او بیا څه وخت ورسته خم نامې ښار هم په یَو اړخ شاته پاته شو - اوس موږ دَ اصفهان په لور مخه کړې وه - دَ خوند خبره مې دا ولیدله ، چې رک له باډره تر دې ځایه او بیا مخ مخته هم درست روډ په یوه حالت او روغ رمټ ؤ - له دې خبرې څخه مطلب دا راوَتو ، چې دلته لر او بر ته په یوه سترګه کتل کېږي - که هغه سمه وي او که غر ، په یوه وټه کې تلل کېږي - ګوا دَ باچا نوشېروان عادل ( ۵۳۱ - ۵۷۹ ) دَ عدل و انصاف تاریخي خاصیتونه دَ پلارنې میراث په څېرلا څه څه دَ نن په دې ایراني حکمرانانو کې هم منتقل شوي ؤ -

دلته دَ سړک دواړه اړخه مځکې دَ زمینداری دپاره جوړې شوې وې ، خو له بده مرغه مې چرته کشت کرونده تر سترګو نه شوه، شاید چې دا یې موسم دَ کروندې نه ؤ - او نه مې ونې په ګڼ شمېر چرته وَلیدې - که څه هم دَ ټېلې فون

ketabton.com - The Digital Library

او دَ بجلۍ ټولې تمبې يې له نرئيو او سمو سکو ونو له ډَډونو څخه جوړې ، ولاړې ښکاره کېدې - نو دا خبره مې مزغو ته راغله، که په دې سيمې يا لاره کې ونې نه شته هم، نو ايران به خامخا ځينې ځنګلي سيمې لري ، چې دا ستنئيانې يې ورڅخه جوړې کړې دي - او دا دی اوس اصفهان ښار هم يَو خوا ته پاته کېږي لګيا دی – دَ خپل نامه په شان ښائيسته او ډېر په ترتيب جوړ دغه خور وور ښار مې دننه ځکه نه وَليدو ، چې موږ په يَو اړخ ګوا بائی پاس باندې ورڅخه تېر شولو - او چې څنګه څه مختهلاړو ، نو اوتوبوس دَ يَو هوټل مخې ته وَدرېدو او دَ چائيو څيښلو او دَ غرمې دَ ډوډۍ خوړلو په نيت سوارليان ورڅخه کوُز شولو- دلته دا خبره هم کوم، چې دَ ايران خلګ، دَ جوجا او چلو کباب پرته دَ هندوانې او ختکې يا کدو بيجان هم ډېر په خوند خوُري - او پيسته ځکه دومره زياته نه خوري، چې دَ ببخي زيات پېداوار له سوبه يې ها غه " دَ کور دَ چرګې او دال برابر " خبره يې لکه چې منځ ته راغلې وه – ما او جمعه خان کاکړ بيا پيسته په دې زياته خوړَله، چې يَو خو ارزانه وه او بل تازه او په خوند مزېداره هم -

دَ قم نامي غټ ښار څخه بيا رک تر تهران پورې نه يوازې علاقه دَ کتو وړ وه، بلکې اوتوبوس هم دَ رفتار په اړه وزرونه کړي ؤ –ولې چې ، درې هوار او تک تور سړکونه له يَو بل سره څنګه په څنګ داسې جوړ کړل شوي ؤ، چې په يَو سړک له دې خوا ټرېفک تلو، او په بل ، له هغې خوا راتلو ... او دريم سړک دَ غټو او درنو ټرکانو او ټرالرانو دپاره ټاکل شوی ؤ - دَ مځکې په سر هر څه ، که څه هغه انسانان ؤ او که جوړ کورونه ، ودانيانې او يا دَ کشت کروندې دپاره سمې شوې مځکې او پټيان ... يَو دم بدل بدل ؤ او سترګو ته ډېر ښه ښائيسته برېښېدو – ولې چې تهران اوس په څه واټن باندې ؤ - او هغه وخت هم راغلو، چې اوتوبوس دَ ايران زړه ، ګوا تهران ښار، چې ښې ډېرې درختې په کې ولاړې وې ته منډه وهله - هو، څنګه څنګه چې بس دَ تهران ښار په منځنۍ برخې ته لاره لنډَوله، نو چاپېريال نور نور ښائيسته کېدو لګيا ؤ - لاکن دَ سړک ښي لاس ته جوړه تکه ژېړه ببخي غټ ماجت وزمه ودانۍ، چې مينارې يې تر لرې لرې پورې

ketabton.com - The Digital Library

ښکاره کېدې ، دَ سترګو وړاندې ښه ښکاره کېدو - دا دراصل دَ ستر امام خميني زيارت ؤ، چې ورسره جوخته دَ اکېډمۍ دپاره ودانۍ هم زيرِتعمير وه – دَ ايران دَ وخت په سمه ماځيګر څلور بجې اوتوبوس دَ تهران وَ مشهوره بس ترمينال ته وَرسېدو - دغه بس ترمينال څه ؤ، يَو غټ پوخ مېدانی ؤ ، چې په منځ کې يې دوه منزله ګېړدۍ ودانۍ دَ بسانو دَ دفترونو دپاره جوړه وه ، او دَ هرې کمپنۍ بسان خپل خپل دفترونو مخته په لائنونو کې ولاړ ؤ - که څه هم موږ ډېر ستړي شوي ؤ، خو دَ ستړيا دَ وساکولو دَ مخه مو غوښتلو، چې دَ ټُرکي دَ استنبول دپاره دَ سبا ټکټان تر لاسه کړو- دَ پوښتنې کولو ورسته راته پته وَلګېده، چې دَ ټُرکي دپاره بسونه دَ آزادۍ ترمينال څخه ځي - نو ځکه بېګونه په اوړو راټال زه او کاکړ صاحب په ټېکسي کې تر ياد شوې بس اډې پورې ځانونه وَ رسَولو او هلته مو دَ سبا نه بلکې دَ بل سبا ، ګوا ۳۱م اکتوبر ۱۹۹۳ع دپاره وَ استنبول ته دَ تلو په نيت دَ شرکت تعاوني شمارې له دفتر څخه دوه ټکټونه تر لاسه کړو او بيا نېغ دَ اسکوائر ائيريا په هوټل وصال ، چې زوړ نوم يې دَ منېجر له قوله کاسا بلانکا ؤ ، کې خوُنه وَ نيوله او دَ ۲۴ ګنټهو دَ ستړيا دَ وسا کولو په نيت دواړه ملګرې په خپل خپل پلنګ وَغزېدو –

دَ آرام کولو ورسته ماخُستن اتهه بجې له هوټل څخه دباندې راوَوتو .... رښتيا خبره دا وه، چې په لومړي ځغلانده نظر مې په زړه کې دا شک پېدا شو، چې موږ چرته غلط ځي ته خو نه يُو راغلې او يا بيا خود لکه چې خوب مې ليدو- لاکن دا نه خوب ؤ او نه غلط ځای ... بلکې دا دَ ايران زړه ؤ ، چې تهران نومېدو - هر طرفته په تورو څادرونو کې پټې ښځې په دومره زيات شمېر په روډونو باندې ښکاره کېدلې ، چې په کې نرينه دَ نه برابر ؤ - شاوخواته ښائيست او ځواني وه، او دلته په سينه کې دَ شاعر يَو حُسن پرسته زړه ؤ، چې قابو کېدو نه – نو ځکه په سر باندې راټال دَ جلاد دَ ساتول دَ احساس پرته هم، سترګو په مخکه باندې راکښته شوؤ دې شاپېريانو ته کتلو راکتلو ... دَ سترګو په جنګ کې دا ښځې هم څه کمې نه وې – داسې يې سترګې په سترګو کې اچولې ، لکه له عُمرو عُمرو

ketabton.com - The Digital Library

چې ترې وي – لاکن دَ دې هر څه پرته یې کولی ځکه هیڅ نه شو، چې په خواهشاتو باندې یې بند پځونه ورته لګولې ؤ - بس فقط یې په کتلو راکتلو او دَ ښائیسته سترګو دَ ښو په غښنو باندې دَ زړونو په ویښتلو ګزاره کوله –او بله ناشُوده خبره خو دا وه، چې زما او زما دَ ملګري جمعه خان په پرته ، تر لرې لرې پورې بل غېر ملکي هم نه ښکاره کېدو – هم دغه وجه وه، چې موږ دواړه په خپلو حېثیتونو کې لکه دَ لارې کاڼي ... یوې بلې خواته په اوږو وهل کېدو راوهل کېدو ... خو، رغړېدو ځکه نه ، چې پښې مو درلودلې - کله کله به مو دَ پېغلو وَ پښو ته هم پام شو، چې په تورو اوږدو ماسیانو کې پټې وې..دا ښکاره کولو، لکه دَ اوږدو تورو تورو پړونو کې دا پېچل شوې پېغلې چې په سکرټونو کې ملبوسې وي - یوې خواته دا حال ؤ، او بلې خواته په دې ښار دَ ماجتانو کمبوت زما وَ زړه ته دا شک دَ یقین په لور بوتللو، لکه دلته چې لا راج دَ اسلامي مملکت نه وي - دَ دې ټولو خبرو او مشاهدو په رڼا کې دَ ایران دَ نور حال احوال په پرته ، ما دَ ډائرۍ په یوه پاڼه نیمې شپې خواته داسې وَلیکلو ...
" شک نه شته، چې ایران دَ سرو زرو یَو قفس دی ، چې په کې ښائیسته میناګانې او طوطیان بندیوان کړل شوي دي"
او خبر نه یم، چې دا خبره ما دَ خپل واکه انسان په توګه نوښته کړه او که دَ آزاد فکره شاعر په حېث ؟

*****

سهار نهه بجې دَ آزادۍ پارک په لور دواړه ملګرې پیاده روان شولو... دَ روډ دواړو څئیو ته دَ خپل نوعیت جوړ ښائیسته دوکانونو پرته دَ زړه ټکورَونکې خوش رنګۍ له سوبه دَ یوې ګنټهې په مزل ګرسره پوهی نه شولو او دَ آزادۍ پارک وَ ښکلاګانو ته مو ځانونه وَ رسولو – دا پارک دراصله یَو ببخې غټ راؤنډ اباؤټ ؤ- دَ وړو غټو شنو چمنونو او رقم رقم بُوټو پرته دَ آزادۍ دَ یاد ژوندی ساتلو دپاره په دې پارک کې دَ منځنۍ یادګاري نخښې ، چې دَ سنګِ مرمر له خښتو او ټائلونو څخه جوړه وه شاوخوا دَ فوارو څنګ څنګ ته په

ketabton.com - The Digital Library

چمنیانو کې ناست ډله ډله یا په سېل کې بوخت ګرځنده خلګ دَ سېلانیانو سترګو دَ خوږَولو سوب ګرځېدلې ؤ - په بېلابېلو زاوئیو باندې عکسونه اخیستلو ورسته دَ یَو ښائیسته غټ بُوټې سره په چمني کې کښېنستلو - اوس چې به مې څنګه څوک له څنګه تېرېدو، نو داسې په عجیبه نظر به یې موږ ته راوَکتلو، لکه موږ چې په غلط ځاي ناست ؤ - بیا چې به مو نورو ناستو خلګو ته پام شو، نو زړونه به مو په ځای شو - ګوره چې اصل معامله څه وه؟ موږ خپله په زړونو کې غله ؤ او که هغوئ په هر غېر ملکي باندې دَ شک نظر ساتلو ؟ څه وخت ورسته ما وَ ملګري ته وئیل ... چې ښه به دا وي، چې له دې پارک څخه په بله لاړ شو - داسې نه چې دَ شک په بنیاد وَنیول شو – ده هم راسره خوښه کړه ، خو چې څنګه ولاړ ېدو، نو نېږدې تېرېدونکې یَو ځوان ، چې تور سوټ یې په تن ؤ رابانديې ژغ وکړو ...

" پاکستانیان یاست ؟"

موږ وئیل ...

" هو، يُو خو ...."

دی راوګرځېدو، که موسېدلی نه وای ، نو کېدلی شو، چې بې وخته قیامت راباندې راغلی وای – خو زموږ له ښه بخته هغه ځوان په اخلاق دومره ښائیسته او په خوُیه داسې مهذبه ؤ ، چې هره ویره مې له زړه څخه وَوته ...

"زه پاکستان ته څو کاله دَ مخه تللی وم"

دَ هغه ایراني ځوان دَ دې خبرې په ځواب کې مې ورڅخه دَ پوښتنې همت وکړو ...

" څنګه دې وَ سنجوَلو زموږ هېواد ؟"

ده یَو وار شاوخواته وَکتل ، بیا وور غوندې داسې وَ موسېدو، لکه دَ یَو شي نفي چې کوي ... خو ده چې څو لمحې ورسته ژبې ته حرکت ورکړو، نو شکر مې وَیستو ... ولې چې ده دَ پاکستان په حقله ډېره ښه رائیې درلودله ... په خاص توګه دَ انتظامیې څخه یې متاثر ښکاره کېدو - زه پوهې شوم ، چې دَ دې ځوان دَ خوا دَ پاکستان ستائینه فقط دَ خپل هېواد یعنې ایران دَ اسلامي انقلابي عسکریت

ketabton.com - The Digital Library

غندل ؤ - که څه هم هغه ځوان یوه هم داسې خبره نه وه کړې ، خو مطلب یې کټ مټ دَ خپل ساه تنګې چاپېریال ښکاره ؤ - ده ډېره څه وئیل، لاکن مورِ دَ ده په فارسي سم پوهېدو هم نه - مورِ چې څنګه مخته ګامونه اوچت کړو ، نو هغه هم راسره په دې سوب ملګری شو ، چې دَ هغه له قوله دَ ده کور هم زمورِ دَ هوټل شاوخوا چرته دی - په لاره کې دَ یوې پوښتنې په ځواب کې دې ځوان راته وئیل ، چې...

" دا هر څه چې تاسو دلته په دې هېواد کې وینئ ... دا دَ شاه رضا شاه پهلوي کال ۱۹۲۰ع دَ دولس نکاتي پروګرام ، چې هغه وخت یې وائټ ریوالوشن یعنې سپین انقلاب هم ورته وئیلو... پاته شوې نخښه ده"

او بیا یې مخته که څه هم هیڅ نه وئیل، خو دَ ده دَ خاموشۍ څخه دا مطلب څرګندېدو ، لکه دَ پخوا په سر چې نن هو مره تعمیري کارونه نه وي شوي –

*****

ماځیګر خواته، مورِ پیسې بدلولو په نیت مېدانِ خمیني چې ورسره دَ ټېلي فون ایکسچېنج عمارت ؤ ته لاړو - ۲۰۰ امریکن ډالرونه مې په ایراني تومن کې مات کړو - دَ یوه ډالر په بدل کې ۱۵۵ تومن کېدو ... دلته خلګ ډېر زیات ؤ ، چې یوې بلې خواته ګرځنده ښکاره کېدو- دَ دې پارک وزمه مېدانِ خمیني په حقله دا خبره مشهوره ده، چې دَ دې مېدان ماځیګری دومره په بېلًابېلو مشغولاګانو کې دَ سېلانیانو دَ دلچسپۍ سوب ګرځي - چې تهران ته راغلی هر کس خامخا ورته یَو ځل راځي - او وئیل کېږي ، چې دا پارک دَ انسانانو دَ رش ګش له سوبه دومره ډک وي ، چې په کې لاره نه کېږي - لاکن خدائی شته ، چې دَ دې پارک په لیدو باندې مې دَ "آخیر څله ؟" رنګه سوال وَ ځواب ته مازغه راسترِی کړو ، خو تر پایه مطمئین ځکه نه ... چې دلته داسې هیڅ راته نه شو تر سترګو ، چې سترګې پرې خورې شوې وای- او بل ګوره چې دا دَ نن ماځیګری دَ دې مېدان څله دَ رش په حواله سورِ غوندې هم ؤ ؟ پوښتنه مې هم له چا څخه نه شوه کولی – ولې چې خبره بیا دَ شک منځ ته راغلې وه ... لاکن زما خو ، په بدن کې هغه وخت

ketabton.com - The Digital Library

زلزله راغله، چې کله مې دَ يَو سړي ، چې زموږ دَ څنګه تېرېدو ، دَ څُلې څخه دا خبره تر غوږه شوه ....

" مادام.... مادام "

او يَو يې بل رنګه توری هم له څُلې په هم دغسې تکرار بيا بيا وتو ، خو دومره ځوکه ګډ ؤ ، چې په ګرانه اورېدل کېدو- خود يې "دارُو... دارُو" يا "پوډر" .. پوډر" دَ وئيلو مطلب ؤ - ولې چې داسې مې له ځينو ملګرو څخه اورېدلې ؤ ، چې دلته دارُو هم خرڅول کېږي - بس بيا نه يوه شوه او نه بله... داسې په تېزو قدمونو له دې پارک څخه هوا شولو ، لکه چا ، چې لړګی راپسې اخيستی وي - حريان وم، چې دا اوس څه چکر دی ؟ يَو خوا ته په خلګو باندې روا کړل شوې داسې ويرې ، چې پخپله خوښه خندلی هم نه شي او بلې خواته دومره زړَورتيا .... او هغه هم دَ اسلامي انقلاب دَ باني ستر امام خميني په نوم منسوب مېدان کې – او بيا دَ جمعه خان کاکړ دا خبره زما زړه هم څه وَمنله... ګوا " کېدلی شي دَ هغه سړي دَ بُوڼ بُوڼې مطلب هم دَ متعه يعني دَ لنډې مودې له واده څخه وي " مګر بيا مې وئيل، چې که څه هم په ښار کې دَ دې غرض دپاره دفترونه خلاس دی ، نو دلته داسې په پټه او په ويره باندې څله ؟ اوس مختـه خدائی خبر، چې اصل حقيقت څه ؤ ؟ هر څومره چې به مې په مزغو زور ورکړو- نو خبره به بيرته په دې فکر تمامه شوه، چې دَ حوا يوه لوُر ، که دَ لنډې مودې په شرعي واده دَ چا سره وَ تړل شي او يا که خپل سر ته آزاده پرېښَول شي – نو توپير به په کې دَ حق ناحقه څنګه کوؤ ؟ ... ولې چې په دواړو اړخونو کې دَ دغې تور سرې په برخه دَ يوه کور غولی نه ورځي –

ماځُستن چې څنګه له بازار څخه دَ هوټل وَ خوُنې ته راغلو، نو يَو دوه منټه ورسته دروازه وَ ټکېدله - دروازه چې مې څنګه خلاسه کړه ، نو ګورم، چې يوه اناګو له يوې چټې پېغلې سره، چې عمر يې له شپاړس کلونو څخه زيات نه ؤ ... دَ دروازې مخې ته ولاړه وه - زړه مې په ټوپو شو او بدن مې مړ غوندې شو –اوس به لا ما ځان .. سره دَ خپل ملګري دَ جلاد دَ ساتوُل په سرپرېکړو شهيدانو کې

ketabton.com - The Digital Library

شمېرلو ، چې هغې اناګو دَ خپلې کوټې دَ خطاکولو دپاره بخښنه وَغوښتله او زموږ دَ خونې سره جوخټې دې بلې خونې دروازې ته وَدرېده - چې څنګه یې هغه دروازه وَټکوله... نو زه په خپل حال کې راغلم -

لاکن دا زړه مې ګوره چې څله تر ډېره پورې بیا هم درزېدو ؟ چرته چې انسانان استوګنه کوي ، هلته به دغه په غم او خوشحالۍ کې راګېر ژوند تېرَولو دپاره حق نا حق ضرور وي - لاکن په ایران کې دَ نورو هېوادونو په مقابله کې ژوند او ژوندکونکي انسانان دَ حق او رښتیا سره مخامخ محسوسَول کېږي - ګوا دلته قامې کلتور له مذهب سره که یوې خواته ګنډلی برېښي ، نو ځینې داسې رسمونه او روئیې یې هم دي ، چې ورسره متصادم دي - دَ هرې خبرې ذکر زما په خیال ، چې وخت ضائع کول دي - دا ځینې رسمونه یې دَ فعاشت په لارې کې خنډ او دَ حق ملګري ګڼم - لکه دلته واده تر هغه وخته پورې نه تر سره کېږي ، چې نر په قرآن او قسم او ښځه دَخپل پېغلتوب Virginity دَ واده په شپه خپل مېړه او خواښې ته نه کړي ثابت - ګوا دَ ښارونو انجونې به دَ خپل واده له مخه دَ پېغلتوب مېډیکل سرټیفیکېټ دَ هلک وَ پلار ته ضرور لېږي ، چې ګوندې هغه په خپل درست ژوند کې بل نر ته نه ده نیږدې شوې - لاکن اکثره پېغلې دَ واده په شپه دَ خپل مېړه وَ پلار ته دَ وینو لړلې ټوکر ورته لېږي - که داسې وَنه کړي او یا خپل پېغلتوب نه کړي څرګند ، نو واده په دې دویمه ورځ وران شي - له دې سوبه هاغه دَ بوریوالو په اصطلاح .... دلته پېغلې او ځوانان دَ "وَچ مجلس" څخه پرته په مینه کولو کې مخته ګامونه نه اخلي - هر څه په خپل ځای او داسې دَ انجلۍ له خوا دَ هغې پېغلتوب یقیني کولو رسم یا خواهش په پښتنو او عربو کې هم لږ ډېر مروج دی ، خو کومه خبره چې مې مزغو ته په ځواب راؤړلو کې هر کله ناکامه کېږي ... هغه دا ، چې دلته دَ پېغلتوب ثبوت دَ هلک وَ پلار ته څله... دَ هلک وَ مور ته څله نه ؟ او تر څو پورې چې دَ متعه تعلق دی ، هغه دَ سخت قانون له نیوکو څخه دَ ځان ساتنې دپاره ښه رول ادا کوي - ګوا سړي ته نه دي په کار ، چې دَ داسې روا شوؤ یا په قانوني توګه جائز کړل شوؤ رسمونو رواجونو

ketabton.com - The Digital Library

پرته دي هم دَ ناروا جنون حدونه وَولانګي - دا ښېله خبره ده، چې په مختلفو اسلامي فرقوکې دَ متعه په حقله ښېلې آراء مخې ته راځي - څوک يې مني او څوک نه... او يا ښېلاښېلې پېمانې ورته دَ رواکېدو دپاره ټاکي –
دا نه، چې ، دلته په ايران کې انسانان نه... ټولې فرښتې اوسېږي - بلکې حقه خبره ده، چې دلته هم له فرښته وزمو انسانانو سره په څنګ څنګ کې شېطانان دَ سړي په مزغو کې دغسې ښېرغونه دَ خپل بريتوب درَوي لکه هر چرته چې داسې کېږي - او له دې حقيقت څخه سترګې اړَول زما په خيال چې سترګې پټَول وي - هو ، که څه هم، زيات خلګ دلته دَ سر دَ خطرې له سوبه خوائشات سر ته نه شي رسَولی ... دا يوه خبره به ضرور کوم، چې په ايران کې اسلامي چارې په مذهبي جنون نه ، بلکې دَ جمهوري او معاشرتي حقيقتي اسلام له لارې هوارې کول کېږي - او دا دَ ايراني رژيم هغه مثبت سوچ دی ، چې دَ مسلمانانو سره سره دَ هرې سيمې انسانان هم متاثره کولی شي –
*****
دَ سهار ناری کولو په وخت ملګري کاکړ دَ ښې ډېرې خندا ورسته سترګې وَموږَلې او راته وائي ...
" ښه ، نو بيا مخته څه وَشو ؟ "
ما بيرته کيسه شروع کړه ...
" نو لاس تړلی يې يَو مېدان ته راويستم - په مېدان کې ښېخي زيات خلګ په تورو جامو کې ناست ؤ او ټولو ماته کتلو - زړه ته يَو دم دا خبره راغله، چې بس اوس مې پهانسۍ ته خېږَوي "
خبره چې تر دې ځايه ورسېده، نو کاکړ لکه ديغ شوی چې وي ، راته وائي ...
"او بيا يې پهانسۍ ته وَ خېږَولې... هان... دغسې دي که يَه ؟ "
ما وئيل ...
" يهَ ... هلته په سټېج باندې نه خو دَ پهانسۍ انتظام ؤ ، او نه دَ سر قلم کولو دپاره تخته او ساتوُل - بلکې په سټېج باندې درَولو سم دستي يې زما لاسونه

ketabton.com - The Digital Library

راخلاس کړو .... دومره خوشحاله وم، چې پوښتنه مه کوه - مګر دا خوشحالي مې سرته نه وَرسېده، ولې چې....˝

ما به خبره مخته کوله ، چې جمعه خان راباندې ژغ وَکړو ...

˝ ښه ښه وایه !˝

ما په ځواب کې ورته وئیل...

˝مخته به څه خامخا ؤ ... بس که تا نه وای راژغوَلی˝

او مورِ بیا دواړو په یوه صلاح وَخندلو ، او تر دېره پورې زما په دې نیمګړې خوب وَژغبېدو ... ټولې خبرې په خپل خپل ځای ، مګر دَ ملګري کاکړ دا خبره مې نه یوازې خوښه شوه، بلکې تر اوسه مې په یاد هم ده، چې وئیل یې ...

˝ دا لا ښه خبره ده، چې په خوبونو باندې بندېځ نه شته ، ګنې زما او ستا رنګه خلګو خو بهلا ډېر پخوا سرونه خوړلي وای˝

ښېشکه، چرته چې دَ سترګو په دید پابندي وي ، ژبه ژغبېدلی نه شي ، سوچونه عملي کېږي نه او دَ شپې او ورځې په لانجو او ګروم سترې مازغه خپله سترِیا وسا کولی نه شي ، هلته ژوند دَ خوړلو ، څیښلو او سملاستلو پرته نور څه دی ؟ هو ، که دی هم، نو بیا فقط دَ مرګي په لورې ورځې شپې لنډول دي او بس...

*****

دَ پروګرام په سمه دَ ۳۱م اکتوبر ۱۹۹۳ع دَ ورځې په یوه بجه زه او کاکړ صاحب دَ ۴۸ ګنټهو په اوږده مزل ، په اوتوبوس کې کښېنستو او مخته روان شولو - په اوتوبوس کې چې زیاتره ایراني نرینه ځوانان او پېغلې انجونې او څه ښځې ،سره له یوې پاکستانۍ جوړې، چې تازه تازه یې واده کړی ؤ هم ناستې وې - بس چې څنګه روان شو ، نو هغو دواړو چې زمورِ مخته سیټ کې ناست ؤ او په هنې مون باندې استنبول ته روان ؤ، راته کتلو ورسته ژغ وکړو ...

˝ آپ دونون بهي پاکستاني هین کیا ؟ یعنې ( تاسو دواړه هم پاکستانیان یاست ؟ )˝

ketabton.com - The Digital Library

او موږ چې ورته سرونه په اثبات کې ځنګه وښورَولو ، نو څلور واړو دَ اُردو ژبې دَلاري په خبرو کې دومره ژر بيا سره نيږدې شولو ، لکه موږ چې پخپلو کې له ډېره وخته راهسې پېژنو- ځوان نويد او ښځه پروين نومېده - خبر، چې ځنګه ځنګه سفر مخ په وړاندې لنډېدو ... په موسم کې سړوالی راتلو - چې اووه بجې يعنې قضائي ماښام خواته رنجان نامي ښار ته وَرسېدو، نو په شړک باران ورېدو - لاکن عجيبه خبره دا وه، چې دَ دومره باران پرته هم دَ درست رنجان ښار بجلۍ بلېدله .. ګنې هاغه دَ نويد خبره ، چې ...

" که داسې باران زموږ په هېواد کې کله اوري ،نو بجلۍ بنده کړلی شي "

ما او جمعه خان هم ورسره " هو " ځکه وکړو ، چې په پاکستان کې که بل ځای داسې کېږي او که نه ... خو په کوئټه او شاوخوا علاقو کې تېز باران او بجلي ، ګوره چې تر خپلو ځله نه سره مني ؟ ... يَو خواته شپه وه او باران او بلې خواته نري يخ او زړه ټکورَونکی دَ بس دننه ماحول ... زما خو زړه کېدو ، چې ژر مې ډوډۍ خوړَلې وای او کرار په سيټ باندې دَ خوب کولو په نيت غزېدلی وای – لس بجو خواته دَ ډوډۍ خوړَلو ورسته ، لا بس کې ځينې سوارليانې دَ يَو بل سره په خبرو کې اخته وې، چې ډرائيور دَ شا دَ سيټونو ټولې بتۍ مړې کړې او بيا داسې چپه چُپيا شوه، چې که چا ته خوب ورتلو او که نه، ټول په خپلو سيټونو باندې وَ غزېدلو – زه هم په هغو کې يَو وم ... کله ويښ، کله ويده - دغه رنګه دَ سهار تر نهو بجو پورې دَ ګهړۍ ستنې وَرسېدې - دَ سهار دَ چائيو غورَپلو ورسته بيا بس داسې مخته په تېزۍ روان شو ، چې چرته په وړو ښارونو باندې وَ نه درېدو ... نو ځکه دَ سفر کولو دَ ستړيا سره سم دَ سفر خوند هم کرار کرار په دې وجه زياتېدو ، چې دَ ايران دَ ورستۍ پُولې ښار چې بازرګان نومېدو رانيږدې کېدو لګيا ؤ - او بل دا سيمه زرغونه هم وه او ځای ځای شينګشتي هم برېښېدله –نه يوازې دا ، بلکې دَ دې علاقې دَ خلګو جامې ، دَ ژوند کړه وړه او کلي کورونه هم يَو دم دَ ايران او پاکستاني اړخ دَ څنډې دَ خلګو څخه ښه ببېل او

ketabton.com - The Digital Library

بدل ... هن چې په نوي طرز کې ورنغاړلي ښکاره کېدو- دوې بجې خواته، نوید ، چې بیا بیا په دې لاره تللی راغلی ؤ .. په موږ ژغ وَکړو ...

" دا مخته ، چې کومه آبادي ښکاري ... دا بازرګان نامي ځای دی - بس به په پنځلس یا شل منټه کې ورته وَرسېږي "

متل دی، چې " هر څرکېدونکی شئی سره زر نه وي " ... هو، په دې باډر باندې چې مې څه تر سترګو شولو او یا مې وَسنجَولو ، نو نه یوازې یې دا پورتنی متل رښتیا کولو ، بلکې په زړه کې مې دا خبره پخه هم شوله ، چې ګوندې انسان ، او په تېره بیا دَ نن انسان ، چې څومره هم په یوه نظریه یا ماحول کې وَ روزَلی شي ، نو هم دائی دَ انسانیت په تول پوره نه وَځي اوهر کله مانده وي - ګوا که هرڅومره اغیارو ته په ظاهري بڼه ځان مهذبه ( دَ جامو او ګفتار په اړه ) ښکاره کړي .... نو ځای په ځای ورڅخه نابېره دَ خپل غوره شوي جبلتي خوُی او بُود او خمیر په سمون داسې کارونه یا روئیه سرزده شي ، چې دَ هغه دَ پېژندګلوۍ برعکس به وي - دلته زما مطلب دَ ځینو نورو شیانو پرته دَ لالچ او زړه ازارَولو څخه دی - کوم چې په ایران / تُرک بارډر باندې دواړو اړخونو ته ډېر زیات له مسافرانو سره روا کړل کېږي - او ګوره چې دلته څله ښو او بدو ته په یوه سترګه کتل کېږي ؟ که څه هم تُرکیان په ظاهري کړو وړو باندې تر ایرانیانو زیات یورپئین وزمه برېښي ، خو په دې بارډر باندې دَ ایرانیانو مخې ته په هره معنا کې مانده او هیڅ ښکاري –

غرض دا ، چې څه وخت موږ بېګونه په اوږو راوَځنَولو او دَ تُرکي په مځکه چې موقدمونه ځنګه ږدلو ، نو دَ زړه له سوخته مې یوه سړه شان اوږده ساه را ایستلو پس مې له ملګرې نوید څخه پوښتنه وکړه ...

" دَ مخ په باډرانو باندې به هم دغسې زړه چاؤدې حال وي ... که ځنګه ؟ "

خبره مې لا سمه سرته نه وه رسَولې ، چې نوید وَوَئیل ...

" نه بابا ... چې له دې بارډره بل داسې بارډر نه شته مخته "

او بیا یې مخته وَئیل ...

ketabton.com - The Digital Library

" خبر نه یم، چې دلته دا خلګ څله مسافران زیات تنګوي ؟"
دَ نوید له دې خبرې څخه مې یَو دم زړه کې راغلو او ورته وَمې وئیل ...
" زما په خیال چې دلته له کسته داسې کېږي"
" نو څله.... ؟ "
دَ جمعه خان دَ دې وړې پوښتنې په ځواب کې ورته ګډ شوم ... ما ورته وئیل ، چې ...
" هغه ځکه چې کېدلی شي ، چې په تُرکي کې ښځي زیاتې آزادۍ له سوبه ژوند بې لګامه دی .. او بلې خواته ایران ، چې یَو اسلامي مملکت دی ، دا نه غواړي چې انسانیت دې په حېوانیت کې ورګډ شي - په دې وجه خو .... یَو خواته اورونه دي او بلې خواته اوبه ، چې نه سره مني ... او بس په دې Tussle کې مسافران خواران په تکلیف کې ورګېر شي"
اوس ګوره چې زه په خپله وینا کې څومره صحیح وم ... په دې نه وم خبر ... مګر دَ تُرکي په مځکه لومړی قدم مې دَ بې باکې آزادۍ په لورې پېښه وګڼلو –

# دَ جمال په درشل کې

## تاثراتي لنډیز

" چې تاریخ او غوره تاریخي آثارو ته وکتلی شي ، نو تُرک دَ یَو مارشل قام په حیثیت په نړۍ باندې ځان منلی ؤ - مګر دَ دې قام دَ نن معاشي بدحالۍ او دَ پیسو سره دَ بې کچه مینه دَ دوئی تاریخي حېثیت ګوره چې څله شکمن غوندې کړي ؟ ولې ، چې دَ تُرکیانو دولت پرستي سړی په دې وئیلو مجبوره کړي چې" دَ دې هېواد خلګ دَ اتا تُرک سره مینه په دې وجه زیاته کوي ، چې په کرنسي نوټ ( لیرا ) باندې یې تصویر چاپ دی" دَ پاکستان او مسلمانانو سره یې مینه په خپل ځای لاکن دلته دَ اتا تُرک دَ غوره شوي قانون پابندي کولو پرته بل داسې مثالي اسلامي خاصیتونه مې تر سترګو نه شو ... چې دَ نوښته کولو وَړ

ketabton.com - The Digital Library

مې ګڼلی وای - هو ، که څه هم دَ دُنیا په سر دلته ماجتان بېخي زیات دي ˜
( شوق )

# که ته ځَو یې ؟

وایه ! ستا څونې خبرې دي ؟
چې په هر څه کې وَ ماته
محسوسېږې
ښکاره کېږې
ته موسم خو چرته نه یې ؟
چې بدلېږې رابدلېږې
لا خو وخت یې
بل څه نه یې
دَ ورو ورو لمحو ته
که یَه ....
ته وائې ، چې یَو یم
یکې یَو . په یوه بڼه
نو بیا زه یمه پخپله
کړیچې کړیچې یَو هنداره

( شوق )

---

ketabton.com - The Digital Library

آزادي څه ته وائي ؟ دَ دې خبرې ځواب هغه وخت ما وَ موندلو، چې کله مې ایراني همسفره ځوانان دَ هغوئ له خپل هېواد څخه دَ وَتلو سم دستي دَ ټُرکي په ښندره وَلیدو - که څه هم شین یخ وُ او واؤره ورېدله ، خو دا ځوانان دَ ډیوټي فري شاپ دَ شرابو په بوتلانو داسې ورمات شولو.. لکه دَ مودو مودو تږي چې دَ اوبو په چینه باندې ورچپ شي - اوس یې نه یوازې بوتلان په غاړو اړَولو ، بلکې له تهران څخه دَ ایران تر ورستني بارډر پورې تړلې ژبې یې هم په حرکت کې داسې راغلې وې - چې، چا خپل نظام ښکنځلو او چا خپل باداران... وایم ، چې ورته په کتو مې سترګو باور نه کولو ... او سوچ مې کولو، چې دا هم هغه پټ ځُولي خلک دي چې تېرې شوې څلیرویښت ګنټې یې له موږ سره ګډ په یوه بس کې تر دې ځایه سفر کړی وُ او که یَه ؟ او بیا ګوره چې تر څه میانه بیا پېغلو څادرونه غورځولي وُ ، چې هره یوه یا خو په جینز پېنټ کې ښکاره کېدله او یا بیا په اوږده سکرټ کې - دغو انجونو که څه هم نه ځیښلو، خو ځواني او بدمستي جذبې یې دَ سترګو په ککو کې له ورایه بربېښېدلې – موږ څلور واړه پاکستانیان ، یعني زه، ملګری جمعه، نوید او پروین چې دَ تهران څخه تر بازرګان پورې دَ خبرو او خنداګانو په اړه په درسته لاره کې دَ ژوند علامتونه ګڼل کېدو ... اوس زموږ حرکتونو معناؤې څکه بائیللې وې ، چې لا خو هم هغسې په پخواني حالت کې وُ – منم ... چې نوي هېواد ته په راتګ موږ هم خوشحاله وُ - لاکن بدمست او بې حاله بیا هم نه-

*****

بس هغه وُ، مسافران هغه ... مګر که بدل وُ ، نو دَ طبعیتونو موسم ... ګوا، چا سندرې وئیلې ، چا خپرې ټکولې او چا بوتل په لاس کې یو بل اړخ ته غورځېدو کم ، خو له یوه سیټه دَ بل سیټ په لور دَ سرور په ټالونو کې ځنګېدو راځنګېدو زیات - او موږ که څه هم دَ هغوئ سره په مستۍ او بدحالۍ کې نه وُ ورګډ ، خو دَ هغو ځوانانو تود محفل او دَ ناستو ولاړو پېغلو شوخیانې او خنداګانې مو په هډونو اخیستلې او په تشه توره ورته خوشحاله کېدو هم - دَ کال ۱۹۹۳ع دَ

ketabton.com - The Digital Library

لومړي نومبر دَ میاشتې دا مانښام دَ زړخوښو هنګامو څخه را په دې خوا ، ما ته دَ قدر وړ ځکه ۆ، چې دَ یورپ دَ دروازې په لور روان وم - ولې ، دا زما غټه غوښتنه وه چې دَ استنبول په لاره یورپ ته پېښبه وکړم او ښه له نیږدې څخه دَ دې براعظم سمه او غر او کلي ښارونه وَوینم - دې وخت دباندې هیڅ نه ښکاره کېدو ... هر لور تیاره وه – بس یوازې دَ مخ تور روډ ، چې څه څه واؤره وربانذې پرته وه، دَ اوتوبوس په بتیانو کې ښکاره کېدو –

دَ پاکستان دَ وخت په سمه دَ شپې دولس بجې او دَ ترکې دَ نهو بجو خوا ته بس دَ آکرې نامې ښار په یو هوټل دَ ډوډۍ دپاره وَدرېدو – دې هوټل هم دَ ایران دَ لوې لارې دَ هوټلانو په رنګه په یَو غټ او ښائیسته هال باندې اړه درلوده ، چې مېزونه په کې په ترتیب لګول شوي ۆ - دلته مو ږ دَ ملګري نوید ، چې څو کاله یې په ترکې کې روزګار هم کړی ۆ ، په خوښه "کرومنولیا " ګوا دَ واړه دال خوندَوره شوروا مو له ډبل روټیانو سره وَخوړَله او یَو یَو کپ سلېماني چائی مې دَ نخودو سره نوش کړې - په کاؤنټر ناست بابک چې دَ غالب چاچا غوندې سره خولۍ یې په سر ایښې وه ، بِل را وړاندې کړو- نو دې بِل ته په کتو ایله بې هوشه نه شوم ، ولې چې بِل باندې یَو لکهه پنځه څلوېښت زره لیرا رقم نوښته ۆ – لیرا خو نه وې راسره، نو ځکه مې ورته خواست وکړو ، چې ...

"دا لیرا دې په امریکن ډالرو کې راته واړَوه ... که یَه نو پاکستانۍ روپۍ هم لرم" دائی راته وائي ...

"یولس ډالره راکړه –"

بِل ادا کولو ورسته مې دَ نوید څخه پوښتنه وکړه ، چې ...

"په یوه ډالر کې څو لیرا کېږي ؟"

دَ څه سوچ کولو ورسته ده وئیل ...

" زما په خیال چې نن سبا ۱۳۵۰۰۰ لیرا په یوه ډالر کې ماتېږي ، او دائی په خپله اندازه صحیح ۆ –

ketabton.com - The Digital Library

دَ ترکې له آګرې نامې ښار څخه چې زموږ اوتوبوس يعنې بس مخته روانېدو ، نو يَو ځل بيا نرۍ نرۍ واؤره ورېدله ... او څنګه څنګه چې مخ مخته تلو ، واؤوره نوره نوره تېزېدله لګيا وه - اوس که څه هم په اوتوبوس کې دننه دَ ايرانيانو دَ ښېبنلو سلسله ختمه شوې وه ، خو يَو ښائيسته غوندې ځوان دَ ګوګوش سندرې داسې په خوند خوند وئيلې ، چې ټولو سوارليانو خوند ورباندې اخيستو - تر څه وخته پورې ما او جمعه خان کاکړ هم ورته ناست اورېدلو مې - لاکن چې معامله اوږده شوه ، نو دَ سندرو خوند يې هم بې خونده کېدو لګيا ؤ ، نو ځکه موږ هم سيټونه شاته ديکه کړو او په خپلو سيټونو باندې دَ خوب کولو په نيت وَغزېدو - دَ هڅې کولو پرته چې هم خوب نه راتلو ، نو مې په پټو سترګو باندې سوچونه وهلو ته لستونې وَغړل ، او ډېر ژر بيا ما هيلې لوبوَلې ، چې...
" کشکې چې زه ټول عُمر هم دغه رنګه روان او بس روان وای "
خو بيا چې به مې کور او ماشومان تر سترګو شولو ، نو دَ اولاد مينه او کورنۍ چارې به دَ شوق په لاره کې راته خنډ شولې ... هو ، په داسې رنګه ګډو وډو سوچونو کې مې سترګې ايله سره ورَغلې وې ، چې بس په جتهکه وَدرېدو - يَو دم مې سترګې راخلاسې شوې - څه ګورم ، چې دَ بس مخته څو سړي دَ توپکانو سره ولاړ دي... زړه مې حلق ته راغلو ... په جمعه خان مې ژغ وکړو ...
" غله دي ... هله کښېنه "
جمعه هم په نه ساعت کې له ويرې په سيټ کې جګ کښېنستو او وائي ...
" کوم دي ؟ "
نه يوازې موږ ، بلکې دَ اوتوبوس ټولو مسافرانو غاړې هسکې هسکې کولې ، دَ هيچا له خُلې څخه ژغ نه وَتو – خود لکه چې هر يَو پرېښانه ؤ - ما په کليمې برسېره کليمه په ځان او په بس باندې چُوف کوله لګيا وم ، چې دَ بس دروازه خلاسه شوه او يَو عسکر چې شنه وردۍ يې په تن وه او په غوږونو يې مفلر پېچلی ؤ بس ته راوَختو او ډرائيور سره په خبرو اخته شو - ما دَ خپل سيټ مخته ناست ، دَ نويد په اوږو لاس کښېښوَلو او پوښتنه مې ورڅخه وکړه ...

ketabton.com - The Digital Library

" څه کيسه ده نو يده ؟"

هغه وئيل ...

" کيسه خبره ده ، دا عسکر وائي ، چې مخته دَ کُردانو او مامورينو تر منځه جنګ روان دی - تر څو چې دَ لارې دَ کلئيرينس حتمي آرډر دَ مخ له عسکري چوکۍ نه وي راغلی ... بس مخته نه شي مخته تلی "

شکر مې وَ ايستو او بيرته مې زړه ځای ته راغلو ... واؤره په هم هغه شان وربدله - که څه هم اوتوبوس دننه تود ؤ ، خو لږ ډېر يخ بيا هم محسوسېدو - ډېره هڅه مې وکړه، چې بيرته دَ خوب وَ هغو ټاپوګانو ته ورشم، چې څه وخت وړاندې ورڅخه راستون شوی وم - لاکن ګوره چې خوب څله نه راتلو - راسره څنګ کې ناست ملګری جمعه مې داسې په خوند ويده ؤ ، چې کله به يې خرکی شو،نو نيت به مې وربانديې بد شو ... دلته اوتوبوس درې ګنټهې سټارټ ولاړ ؤ ... يَو وخت چې دَ کلئيرينس سګنل راکړلی شو، نو بس دَ روانېدو سم دستي زه بيا په ځان نه يم خبر شوی -

*****

سهار په لمر ختو اوتوبوس دَ ترکي Kotak نامي ځای په هوټل وَدرېدو - دَ مخ لاس پرېمنځلو او چائيو څيښلو ورسته چې څنګه بس مخته روان شو، نو دَ ژمې په دې تمک يخ کې دَ شنېزې څادر په مځکه باندې خور وور ډېر عجيبه او ښائيسته ښکاره کېدو - ټوله غرئيزه سيمه وه، داسې ښکاره کېدو لکه موږ چې په درو او ناؤو کې روان ؤ - دواړو خواؤ ته واړه او غټ غرونه ؤ، چې شا شا ته پاته کېدو، ځای ځای دَ غرو په لمنو کې واړه کلي هم ډېر ښائيسته او په ترتيب باندې جوړ شوې برېښېدو- خاص خبره دلته دا وه، چې دَ دوئی په دې وړو کلو کې فقط يَو يَو ماجت چې سپينه مناره به يې تر لرې لرې پورې ښکاره کېده - او بله خبره دا ، چې دَ ايران په رنګه دلته هم دَ روډ وَ يوې څۍ ته ولاړې بجلۍ او ټيلي فون تمبې دَ لرګيانو له ستنئيو څخه جوړې وې – مګر عجيبه په دې نه ښکاره کېدې ، چې شاوخواته ځنګلي اوږدې او نرۍ درختې هم ليدل کېدې -

ketabton.com - The Digital Library

زمورږ دَ بلوجستان او پښتني سيمو په رنګه دلته هم کلي او آباديانې له لوې لارې سره مېښته ښکاري - دَ ښځو دَ مخ دَ پټولو رواج دلته هم نه ؤ- که په پټيانو او ښاري يا کليوالو سيمو کې يې نرانو پتلونان اغوستلو ؤ، نو دَ ښځو يې لانګ سکرټ وزمه قميصونه په تن ؤ او دَ ګونډو دلاندې يې پښې يا خو لُوڅې وې او يا يې په اوږدو تودو ماسيانو پټې - په سرونو يې ګلداره دُسمالونه پېچلي ؤ - دنګې دنګې وې ، خو په سُرت باندې زمورږ تر ښځو تندرسې بربښېدې – دَ دې تندرسۍ راز څه ؤ ؟ په دې نه شوم پوهی - خو په رنګ سپينې دغه ترکۍ ښځې يوې بلې خواته ډېرې ښکاره کېدې ، شايد چې دلته هم دغه ښځې له نرانو سره سمې کار روزګار کوي - دَ غرمې ډوډۍ مې په عثمان چېک نامي ځاى کې وَخوړله او مخته تېر شولو - اوس ژر ژر واړه کلي شاته پاته کېدو او بس په هوار سړک مخته مزل ډېر په چټکۍ لنډَولو -
ارضِ روم دَ ټُرکي يو مشهوره تاريخي ښار دی ، چې اوس مورږ په کې مخ مخته روان ؤ ... لاکن دَ ښار په يوه څنډه ، نو ځکه خو مې سم وَ نه ليدو او دَ ګولۍ غوندې ورڅخه تېر شولو - مورږ کولی هم څه شو، زمورږ دَ کاروان باګې دَ اوتوبوس دَ ډرائيور په لاس کې وې ، چې هغه دَ برايه شپې دَ درو ګنټهو ځنډ اوس په دې ورځ برابرَولو - خېر ، دَ درو بجو وَ خواته بس په يَو غټ هوټل باندې برېک وَلګولو ، ډرائيور وئيل...
" اوتوبوس څه خرابی لري ، تاسو چائی وَ څيښئ او لمونځونه وَ کړئ ... زه به بس دې هوټل سره نيږدې مېکنيک ته ښکاره کړم "
دلته دَ اوتوبوس دَ درو ګنټهو سټاپ په مزغو راته بار ځکه شو، چې دَ استنبول او انقره دَ ټؤرسټانو درې ډک بسونه ښه تر ډېره پورې ولاړ ؤ او دَ رش ګش پرته دَ قسم قسم خلګو موجودګي مې دَ شاعر زړه دَ سکون سوب ګرځېدلې وه - بس غم دا ؤ ، چې په ژبه نه ورسره پوهېدو، ګنې ځينو مې دَ زړه دَ رباب تارونه څېړلو هڅه کړې وه - خو نغمه ځکه نه وربان‌دې څېړل کېده ، چې دَ اظهار ژبه ګونګۍ

ketabton.com - The Digital Library

وه - دا درست تُرکیان ؤ خو تیار انګرېزان، هو ... که په ژبه نه، نو په ښکاره کړو وړو ضرور –

ماښام شپږ بجې خواته اوتوبوس دَ انقره په خوا مخه وکړه ... خوشحاله وم، ما وئیل ، که مې هلته Botanic Garden ، چې دَ تفریح په اړه زړه ته سکون سپارونکی مشهوره دی ، نه هم وَلیدو ، نو دَ خپل تاریخي حېثیت له سوبه یې دَ ښائیسته ښار څه برخې هم وَوینم ، نو ځان به خوش قسمته وَ ګڼم - ولې چې تاریخ وائي ، چې دَ دویم جنګ عظیم ورسته په ترکي کې استنبول او ازمېر په پرته انقره ښار هم دَ تمامې دُنیا دَ توجه مرکز ګرځېدلی دی - او بیا عجیبه خبره دا وه، چې بس دَ انقره سره په ځنګ ځنګ کې تېرېدو ، دَ دې ښار وړو ، غټو او ښائیسته په ډېر ترتیب جوړو بلډنګانو داسې ښکاره کوله لکه دا ښار چې دَ تاریخي اهمیت پرته دَ دې دور تقاضې هم په پوره ډؤل پوره کوي - دَ سپینو دېوالونو او سرو بامونو ښار انقره تر لرې لرې پورې خور وور ښکاره کېدو - خبره دلته بیا هغه وه، چې زړه مې په دې مځکه باندې قدم ږدلو ته کېدو ، خو زما خوښه دَ منلو ځکه نه وه، چې دَ بل په بس کې ناست وم - دَ رڼاګانو له دې ښار څخه چې زموږ اوتوبوس دَ استنبول په خوا روان ؤ ، نو روډ له اول حاله لا نور نور هم آرام ده شوی ؤ او سترګو ته دَ شاوخوا دَ جل بل رڼاګانو له وجې سفر ډېر خونده ور محسوسېدو –

دَ شپې یولس بجې خواته اوتوبوس استنبول ښار ته دننه کېدو له مخه په سمندر باندې جوړ مشهوره پُل Bosphorus Bridge باندې تېر شو – دا پُل دَ خپل جوړښت او ښېخې اوږدوالې له سوبه دَ دُنیا په ځینو نوموړو پُلونو کې یَو او ځانګړی دی - او له دې ورسته بیا دَ استنبول جل بل ښار ؤ ، چې موږ ته یې دَ ستړیاګانو دَ وساکولو په صله کې دَ خاموشۍ په ژبه هرکلی وئیلو او زموږ اوتوبوس په کې په یَو روډ بل روډ مخ مختنه روان ؤ - چې ځنګه ګهړۍ دَدې هېواد دَ وخت په سمه دولس بجو ته ستنې وَرسَولې ،نو اوتوبوس دَ استنبول په مشهوره برخه Laleli نامې کې تم شو - ورڅخه راکوُز شولو - دې وخت دَ ˜

ketabton.com - The Digital Library

بلېک سي ˜ او دَ ˜ مېډيټېرينئين سي ˜ په سنګم باندې جوړ په تاريخي ښار استنبول، چې ورته دَ ˜ يورپ دروازهٔ هم وئيل کېږي باندې چپه چپيا خوره وه- دَ ټېکسيانو او دَ يَو نيم سړي پرته هيڅ قسم رونق نه ښکاره کېدو ... نرى نرى باران ورېدو او سړه يخه هوا هم ګلېدله... نويد ته مې وئيل ، چې ...

˜ اوس ته پوهې شوې او ستا کار... ته له مخه او موږ درپسې... وايه ! چرته به اوسېږو ؟ ˜

ده وئيل ...

˜ سرکې جي ته به ځو... هلته هوټلان ارزانه دي ˜

او بيا په ټېکسي کې دَ سرکې جي نامي علاقې په لور روان شولو - داسې ښکاره کېدو ، لکه استنبول چې په وړو وړو غونډيانو باندې جوړ ښار دی - په شل پنځلس منټه کې ټېکسي په ˜ سرکې جي ˜ کې ˜ هوټل هالي ډې ˜ مخته وَدرېدو - دوې خونې ، چې دَ يوې خونې کرايه دوه نيم لکهه ليرا وه مې وَنيولې - زه او جمعه خان په يوې خونې کې او نويد دَ خپلې ناوکۍ سره په بلې خونې کې دَ سترِيا وساکولو دپاره لاړو –

*****

دَ ترکي دَ وخت په سمه سهار نهه بجې ، څلور واړه ملګري دباندې راوَوتو- چې څنګه مې شاوخواته لومړی نظر وَځغلولو ، نو باور مې نه راتلو ، چې دا ګوندې دَ مسلمانانو ښار استنبول دی - ولې چې يَو اړخ بل اړخ جوړو ودانيانو او مخامخ شنه پارکونو داسې تاثر راکړو ، لکه دا چې دَ جنت له ټوټو يوه ټوټه وي او بيا ترکۍ پېغلې خو هم دَ حُورو څخه کمې نه وي... چې يا خو يې پېنټونو سره جېکټونه په تن ؤ ، يا بيا په دې يخ کې لانګ او مني سکرټونه ... په قد جګې ، نرۍ سپين مخې او په ژېړبخونو وېښتانو کې دَ مځکې مخلوق نه ښکاره کېدو ... په مينه باندې لکه دلته چې هيڅ بنديځ نه وي، ځکه خو لاس په لاس ځوانې جوړې يوې بلې خواته ليدل کېدې – دا نه، چې موږ وَ ترکۍ پېغلو او نريناؤ ته آسماني مخلوق ښکاره کېدو - مګر زموږ په لور يې زيات راکتلو

ketabton.com - The Digital Library

شاید په دې ، چې موږ درې واړه نران څه کم کم ، خو پروین ورته زیاته عجوبه ځکه ښکاره کېده - هو ، دَ هغې دَ پنجابي وزمه ښائیست او ځوانۍ په وجه نه ، بلکې هغې چې کومې پنجابي طرز جوړې شوې جامې اغوستې وې ... هغه که زما او دَ جمعه خان رنګه کلیوالو په مزاج دَ کتو وړ وې، نو دلته ترکۍ پېغلو ورباندې پسخوند وهلو او تر خپلو یې ورباندې خندلو او شاید چې ریمارکس یې هم ورباندې پاسَولو – ځکه خو چې به یې دَ هغې په لور سترګې ورته واړَولې، نو به یې سرتر پایه ورته کتلو ورسته په شونډو پسخوندي موسکا خوره شوه - بس په پارک کې ایله خلګ راپسې نه شولو رامات – ګنې په سترګو کې هر چا پروین اخیستې وه ... هم دغه وجه وه، چې نوید ورته وئیل ...

" پروین !! ته هوټل ته درځه.. داسې نه چې دَ ترکیانو جلوس راپسې وَلګېږي "

او پروین هم خبره مائینډ ځکه نه کړه، چې نوید ورته په خندا وئیلې ؤ او بیا دا خبره دَ هغې په حق کې بهتره هم وه – ځکه خو یې وئیل ...

" هو ، زما هم دغه خوښه ده ... په سر مې دړد دی ... زه به څه آرام وکړم "

او بیا موږ درې سره تر هغه ساعته ورته ولاړ ؤ، چې پروین دَ هوټل په ګېټ ننوته ...

"هان ځه شکر دی ، چې اوس خپل چکر ته خلاس شولو "

دَ دې خبرې سره سم نوید چې داسې وئیل، نو سم دستي یې پوښتنه هم ورسره داسې وَتړله ...

" ښه نو اوس به په کومه ځو ؟ "

ما ورته وئیل ...

"یاره نویده ! تا خو هم ناشُوده وکړه ... موږ نو اوس څه خبر یُو "

دائی وَموسېدو او وئیل یې ...

"نو بیا درځئ چې سېل درباندې وکړم او دَ استنبول څه پټ او ښکاره ژوند او شیان درته وَښېږم "

ketabton.com - The Digital Library

او بیا ده مورِ دواړه له ځان سره ښي لاس ته روډ باندې سم کړو - دلته دَ روډ په منځ کې دَ رېل ګاډی پټړی هم تېره شوې وه -

" دلته په یوه وخت باندې رېل ګاډی او نورې ګاډیانې په دې روډ باندې چلېږي "

نوید چې دا خبره کوله ، نو یَو عجیبه غوندې هارن مې تر غوږه شو او په دوؤ غټو ډبو باندې اړه لرونکې رېل ګاډی دَ چوک له خوا راښکاره شوه ... که څه هم تله څوکه او کرار کرار ، خو په لومړي ځل کتو راته عجیبه غوندې ښکاره شوه –

په دې کې شک ګرسره نه شته، چې استنبول دَ ماجتانو ښار دی – ولې چې هر لور دلته په دې ښار کې تاریخې او غټ غټ ماجتان او دَ هغو هسکې هسکې میناري تر لرې لرې پورې ښکاره کېږي - خو ، په قول دَ نوید ...

" په دې ښار استنبول کې دَ دې دومره زیاتو ماجتانو پرته هم، دَ دې ماجتانو ملایان په لاؤډ سپیکرانو دَ آذان په چپه تقریرونه څه ، چې دَ جمعې خُطبه هم نه شي ورکولی او یا یې نه ورکوي - ولې چې هغوئ او حکومتي قانون پالونکې دواړه په دې صلاح شوي دي ، چې ماجت به تش دَ عبادت کولو دپاره په کارَولی شو ... اوجلسه ګاه به ورځخه جوړَوؤ ... لکه زمورِ دَ هېواد ملایانو چې دَ خدائی او دَ رسول دَ لارې تر تعلیماتو زیات دَ سیاست مدارانو په حق او یا خلاف کې له ماجتانو جلسه ګاؤې جوړې کړې دي او هر رنګه روا ناروا خبرې په کې کوي"

او بیا یې مخته وئیل ، چې ...

"او بل دلته دَ ماجتونو په شمېر دَ لمانځیانو تعداد بېخي کم هم دی "

نوید دا خبرې داسې په سنجیدګی وکړې لکه هغه چې دَ خپل هېواد " مملکتِ خداداد " دَ حق په لاره مامور شوي وظیفه خواره دَ ناحقی په تور نیول شوي په ظاهره مجرمان دراصل دَ حق صحیح پاسداران ګڼلو –

مورِ خبرې هم کولې او مخ مخته هم روان ؤ ، په تنګو او خوش رنګو بازارونو کې یوې بلې خواته ګرځېدو ، چې یَو وخت مو دَ استنبول لویه ډاک خانه ، چې له دباندې دَ عدلیه دفتر ښکاره کېدو تر سترګو شوه - درې واړه په یوه صلاح ور

ketabton.com - The Digital Library

دننه شولو... په دې نیت چې خپلو خوارو ته په خبریت دَ رارسېدو لیکونه وَ لېږو- دَ دې ضرورت راته ځکه پېښ شو ، چې موږ له کورونو څخه دَ یوه نیمې میاشتې دپاره راوتلې ؤ - نو ځکه دَ کور دَ غړو پرته مو خپلو نیږدو یارانو لکه سهېل جعفر او قدوس ترین ته هم خطونه نوښته کړو او هلته مې پوستې کړو- اوس دا بېله خبره ده، چې دَ خطونو دَ مخه موږ پخپله کورونو ته وَرسېدو او دَ دې سفرنامې تر چاپَولو پورې خو لا نه دي رسېدلي –

دَ "سرکې جي" او "کراکوي" دَ علاقو تر منځه په سمندر باندې جوړ پُل ، که څه هم عجوبه نه ښکاره کېدو ، خو دَ بېخي زیات رش ګش له سوبه دا ځای دَ وخت تېرَولو دپاره ښه او په زړه پورې ؤ - له دې خوا دَ "سرکې جي" سمندري غاړه او دَ هغې بلې خوا دَ "کراکوي" سمندری غاړه دَ وړو او غټو کشتیانو څخه دومره ډکه وه، چې دَ چلاؤ لاره یې ګوره چې څنګه پېدا کوله ؟ په دې پُل باندې مخته تېر شولو او دَ "کراکوي" تنګو تنګو بازارونو ته مو ځان وَ رسَولو –دَ استنبول دا برخه بېخي زړَه او روائتي ترک علاقه ده ... دلته زیاتره زاړه خلک هم هغسې دَ زړې زمانې دَ ترُکیانو په رنګه پي کېپ په سر او آزاد پردوګ وزمه پتلونونو کې دَ دوکانونو مخته یا په رېستورینټونو کې ناست چُولمان چې دوئ ورته شیشه وائي څکولَو او سلېماني چائیو څیښلو کې بوخت ښکاري–

دَ "سرکې جي" دا زړَه علاقه تر ډېره کتلو ورسته نوید پنجابي په یوې تنګې کوڅې باندې ورسم کړو او وئیل یې ...

" درځئ... چې کارخانه درته ښکاره کړم"

ما ورڅخه وښتنه وکړه...

" دَ چیشې کارخانه او څه په کې جوړېږي ؟ "

دائی وَ موسېدو او په خپل شرارتي انداز کې یې وئیل ...

" خبر ... خپله به یې وَ وینې ..."

او بیا دَ کارخانې په لوی ګېټ وردننه شو ... موږ هم ورپسې پسې -

ketabton.com - The Digital Library

کارخانه څه وه ؟ یَو تود بازار ؤ ، چې دَ تنګ روډ دواړو خواؤ دوکانونو مختته غتې غتې له شیشو جوړ شوکېسونه لګېدلې ؤ - په اول نظر داسې ښکاره کېدو لکه دَ پېغلو مجسمې چې په کې ولاړې وې – لاکن چې ښه مې ورته وَ کتلو ، نو څه ګورم ، چې دا خو مجسمې نه بلکې دَ ترکي نسل حُورې وې ، چې په بېلا بېلو پوزُونو او اداګانو یې دَ کتونکو توجه نه یوازې ځانته اړَولو هڅې کولې ، بلکې دَ کتونکو هر خوائش یې ور پوره کولو دپاره خپل خدمات هم شاید چې وړاندې کولو - په تندي خوله را ایله شوه او جمعه خان مې له لاسه نیولې بیرته غبرګېدو دپاره دَ شا په لور کش څه کړو ، چې نوید هم راسره سم دباندې وَختو او په موسکني انداز کې راته وائي ...

" خود لکه چې دا کارخانه مو نه شوه خوښه ... ښه ده ، نو درځئ چې بله تر دې هم ښه او غټه کارخانه درته ښکاره کړم "

موږ دلته لا په ځان ټُوکلې ؤ ، چې دائی راته لا دَ بلې کارخانې دَ کتلو ست کوي ... نو ځکه مې په سنجېدګۍ لاسونه ورته جوړه وَنیولو ، چې ...

" یاره ... یَو بل داسې ځای راښکاره کړه ، چې دَ کتو وړ وي ، مګر داسې هم نه ، لکه دا اوس چې دي دهوکه کړو..... پلیز "

ده وئیل ، ښه دی او بیا دَ ده په راهنمائي کې دوې بجې خواته موږ په Princess Island ، ګوا دَ شهزادګیانو په وړې تاریخي جزیرې ( ټاپو ) باندې دَ لانچ له واړه سفر ورسته کښته شولو - لومړی قدم مې لا سم دَ دې ټاپو په غاړه ورته ایښی نه ؤ ، چې مې دَ څُلې څخه نا ببره وَوتو ...

" واه نویده ! دا خو نو اوس ځای دی "

ولې چې دَ دې ځای دَ شاوخوا سمندري غاړې خوش رنګیانو پرته ، دَ شهزادګیانو دَ اوسېدلو او دَ سېل ځایونه ، که په تارخي اړَو دَ کتو وړ ؤ ، نو واړه غټ پارکونه او تالابونه هم بد نه ښکاره کېدو - دلته زیاتره غېرملکیان ، چې دَ بلغاریه، رومانیه ، یونان او روسي ریاستونو سره یې اړه درلودله سېل کولو ته راغلې ؤ - وائي ، چې دا ټاپو څه یَو زر یا یولس سوه کاله دَ مخه دَ

ketabton.com - The Digital Library

شهزادګیانو او مینځو دَ استوګنې دپاره په کار راوړل شوی ؤ - جمعه خان یَو ځای وائي ...
" کشکې ، چې دا جزیره مې خپله وائی ، نو ... "
ده به لا نور څه وئیلو ، چې ما یې خبره دا سې سرته وَ رسَوله ...
" ..... هو ، نو بې ټکته به دي بیا څوک ورته نه پرېښوَلو .... که څنګه "
دا خبره څه وه ، چې زما دَ ډېر ضد په پرته یې هم دَ دې ټاپو په حقله خپله خبره پورا نه کړه - موږ به لا نور نور په دې ټاپو باندې ګرځېدلو ، که نوید دَ بیرته ستنېدو خبره نه وای ټینګه کړې ... وئیل یې ...
" درخئ چې ځو ، پروین به دیغه شوې وي او زما لاره به ګوري "
نو ځکه بیرته په لانچ کې کښېنستو او دَ خپل زاړه وتاک په لور ور روان شولو -
*****
ماښام شپږ بجې چې څنګه له خوبه راکښېنستم ، نو دَ دې هوټل په کاؤنټر ناستې پېغلې ته مې زړه وَتخنېدو ، ولې چې ظالمه بې اندازې زیاته ښائیسته او نازکه جوړه وه - په قد جګه ، سپینه ګېړدۍ څېره ، ژېړېخونې سترګې او خلاس ژېړ وېښتانو یې بلا خوند کولو او ښه خبره دا وه ، چې انګرېزي یې هم زده وه- نو ځکه مې ټېلې فون ته لاس کړو – دَ سلام کولو ورسته مې دَ بلغاریه دَ سفارت خانې اته پته ، چې مازې بهانه وه ، ورڅخه وَپوښتله ... هغې وئیل ...
" نه یم خبره "
که یې خبره په دې ځای ختمه کړې وای ، نو ما به په ټېلې فون ایښې وای ... لاکن دې چې بلغاریه ته زما دَ تګ دَ اصل وجې تپوس وکړو ، نو په ځواب کې مې مزاقاً ورته وئیل ...
" دلته څه دي ... ځکه خو ورڅخه بلې خواته وځم "
" څه غواړې ؟ "
دَ دې دا سې پوښتنه بې معنا نه وه ، یَو وار لا زړه راته وئیل ، چې نېغ په نېغه ورته وَوایه ... لاکن بده خبره وه ، ځکه مې خبره بلې خواته واړَوله ....

ketabton.com - The Digital Library

" نوم دي څه دی ؟ "
" ساسیلا " دې وئیل
" ښه نوم دی ... مسلمانه یې ؟ "
دې وئیل ...
" هو ، الحمدالله "
" واده دي کړی دی ، که یَه ؟ "
په ډېره عاجزۍ مې ورڅخه پوښتنه وکړه ... دا یَو وار چپ غوندې شوه او بیا وائي ...
" یَه ... مګر زه بوائی فرېنډ لرم "
دا خبره یې داسې وکړه، لکه دلته چې په مېړه او په بوائی فرېند کې انجونې توپیر نه کوي – ما به اوس اجازه غوښتله، چې دا دَ خپلې خوا راته ګډه شوه ...
" په ټُرکي کې دَ استنبول دَ تاریخي ځایونو پرته ډېر څه دَ کتلو دي "
" مثلاً ، لکه .... ؟ "
زما دَ مثلاً په ځواب کې هغې وئیل...
" لکه دَ انقره میوزیم، چې په کې دَ حضرت عیسی (ع) څخه هم قریباً ۷۰۰۰ کاله دَ مخه دَ Anatolian Civilization شیان پراته دي او بیا دَ دې پخواني طرز تهذیب ببخي زیات او دَ بېلو بېلو زمانو لرغوني آثار لکه Antique City of Perge او داسې نور نور دَ کتلو وړ دي - نه یوازې دا ، بلکې دَ Catholic عقیدې له کبله حضرت مریم چې په کوم کور کې دَ ژوند آخري ورځې شپې تېرې کړې وې، هغه زوړ طرز جوړه شوې ودانۍ دَ Selcuk نامې ځای څخه فقط اووه کلومیټره لرې ده - دا انجلۍ باخبره وه، نو ځکه مې نه غوښتلو، چې ما نور په امتحان کې واچوي... په دې خو مې ورته وَوئیل ...
" زه به هڅه کوم، چې ستاسو دَ ټوُرزم دَ څانګې څخه یا خو ټوُر واخلم یا بیا پخبل انتظام دا هر څه وَوینم "
دا خبره چې مې څنګه وکړه، نو انجلۍ دَ خپل اصل مطلب په خوا راواوبښته ...

ketabton.com - The Digital Library

" ته خپله هيڅ تکليف مه کوه ... که غواړې،نو موږ دَ ټوؤرستانو دَ ټوؤر دپاره پورا پورا انتظامات لرو "
داسې کښېوتم، چې انکار راته کول ګران شو ... ما څه ګڼلو او دا څه وَوته ؟ او دغه خو وجه وه، چې دَ بيا خبرو کولو په بهانه مې اجازه ورڅخه واخيسته – ما چې دَ ټېلی فون رسيور ږدلو ، نو جمعه خان دغه ؤ ، چې کښېنستو او سترګې موږلَو ورسته يې پوښتنه يې وَکړو ...
" دَ چا ټېلي فون ؤ "
ما ورته وئيل ...
" دَ دې هوټل دَ لابي ساسيلا ټېلي فون "
ده وئيل ...
" ښه ښه په نامه يې بيا خبر هم شوې ؟ "
موږ به لا خبره مخته کښَوله، چې نويد او پروين راورسېدو - نويد هغه نويد ؤ ، خو پروين هغه پروين څکه نه وه، چې جينز پېنټ يې اغوستی ؤ – زما دَ پوښتنې له مخه بيا نويد راته وائي...
" دا پېنټ مې پروين ته لاندې په دوکان کې واخيستو "
او بيا خپله وائي ...
" زما په خيال چې بد ورسره نه ښکاري "
موږ نو څه وئيلی شوی ، چې ده له خپلې خوا سرټيفيکېټ ورکړو - دَ ښو ډېرو ګپو کولو ورسته محفل په دې خبره برخاست شو، چې سبا سهار به اول دَ بلغاريه سفارت خانې ته دَ ويزې لګولو دپاره ځو ، بيا به په لالېلي نامي علاقې کې هوټل نيسو -
****
په دې بله ورځ غرمه لس بجې موږ څلور واړه ملګري دَ بلغاريه دَ سفارت خانې وَکهړکۍ ته ولاړ ؤ – که مو هرڅو زارۍ ورته کولې ، خو دَ کهړکۍ شاته ناستو دواړو ښځو کې يوې هم زموږ خبره نه منله او وئيل به يې ...

ketabton.com - The Digital Library

" تاسو بلغاريه کې له چا سره ملاقات کولو ته ځئ او دعوت نامې کومې دي ؟ "
او مور ورته وئيلو ، چې ...
" هلته ستاسو په هېواد کې نه څوک لرو او نه مو له چا سره دَ ملاوېده مطلب دی .. مور مازې دَ يَو څو ورځو په سېل ورته دَ تلو اراده لرو او بس ... "
غرض دا چې مور ورته په خواست کولو ستړي شولو ، نو نويد ورته دَ سلو ډالرو نوټ له جېبه راويستو ... هغوئ نوټ ته به ډېر حسرت وه خو کتلو ، لاکن سرونه يې هغه رنګه يوې بلې خواته وَښورَولو - چې ورځخه مايوسه شولو ، نو په خپله لاره بيرته را روان شولو - په نورو ملکرو نه يم خبر ... زما خو طبعيت ډېر پرې خراب شو ، نويد ته مې وئيل ...
" درځه چې يَو ټرېول ايجنټ سره خبره خلاسه کړو "
ګوره ، چې يورپ ته ننَوتل مې په قسمت کې نه ؤ شوي ... چې ايجنټانو هم يوه خوا نه کوله - که څه هم مور داسې لا ورته وَوئيل ، چې ...
" دَ ټوؤر دَ پيسو پرته به مور خپل ټکټونه پخپله وَکړو ، خو دَ بلغاره يا يَو بل يورپي هېواد ټوؤر راته کنفرم کړی بس "
لاکن هيڅ يوه ايجنټ راسره زمور خوښه نه وه منله - له دې ځايه هم دَ ماتې خوړَلو ورسته مې جمعه خان کاکړ ته وئيل ...
" درځه وروره ! چې نن نن له دې ځايه وَځو "
ده وئيل ...
" هو ، ټکټان به نن واخلو ، مګر ځو به بل سبا ... سبا به دَ استنبول ستې ټوؤر وکړو - لا خو مې هيڅ نه دي ليدلي "
که څه هم زما نه وه خوښه ، خو دَ ده دپاره مې ورسره هو کړو –
يوه بجه ماځپښين بېګونه په اوږو راټال دَ " سرکې جي " ځخه " لالېلي " نامي پُررونقه علاقې ته په ټېکسي کې وَرسېدو - دَ لالېلي په مېن بازار کې په يَو هوټل کې مې دوې خونې وَنيولې –بېګونه مو په خونو کې وَغورځول او دباندې دَ ډوډۍ خوړلو دپاره راوَوتو - او په نه ساعت کې يَو بلې پُر رونقه علاقې ته

ketabton.com - The Digital Library

ورګډ شولو - دا علاقه یعنې دَ "لالېلي" سره جوخته دَ "تقسیم" نامي علاقه وه – دومره دَ غېرملکیانو څخه ډکه وه، چې لار په کې نه کېده - دَ نوید په قول ...

" دَ استنبول دغه سیمه چې غېر ملکیان ورته راځي ، دَ خلګو دَ توجه مرکز ځکه هم ده، چې یَو غټه شاپنګ سېنټر ائیریا ده او بل په دې ائیریا کې دَ بلغاریه ، رومانیه ، یونان او روسي ریاستونو په څُورو باندې نه یوازې دَ سترګو تنده ماتېږي ... بلکې دَ خوائشاتو بارُ هم پرې ماتېدلی شي"

دَ نوید خبره مې په دې زړه وَ منله ، چې دلته سړي کم او غېرملکي ښځې ، چې زیاتره په کې پېغلې وې ... ګرځېدلې - او بیا چې څه وخت موږ دَ ټي – بي – ټي ایراني بسونو دفتر ، چې زموږ له هوټل څخه په څه واټن باندې ؤ ته دَ ټکټانو دپاره تلو، نو تر موږ څه شاته پاته شوي ملګري کاکړ صاحب ته یوې پېغلې ، ګوره چې دَ کوم هېواد وه، سترګه وهلې وه او دَ لاس په اشارو یې دَ لسو ډالرانو غوښتنه هم ورڅخه کړې وه- ده چې بیا راته ځنګه دا خبره وکړه ، نو که څه هم کیسه څه شکمنه غوندې وه، خو زړه راته وئیل ، کېدای شي هاغه دَ نوید خبره رښتیا وي دَ دې علاقې په باب - خبر ټکټان خو مې تر لاسه کړو، لاکن دَ دریمې ورځې یعنې دَ ۷م نومبر ۱۹۹۳ع - ولې چې سبا او بل سبا دَ دوئی دَ کمپنۍ دَ بسونو وار وَ ایران ته دَ تللو نه ؤ - نو نن په چپه دوې ورځې له موږ سره نورې هم دَ سېل دپاره وې - که مې څه هم زړه مات ؤ، خو حتمي هڅه مې دا کوله ، چې وخت ښه په خوشحالۍ تېر کړم، چې ملګری مې دیغ نه شي - هم دغه وجه وه، چې دَ ډوډۍ خوړَلو ورسته سم دستي موږ دَ Poli Tour له دفتر څخه دَ ننني شپې دَ "اورینټ هاؤس هوټل کلب" او دَ سبا دَ ورځې دَ استنبول ستي ټوؤر دپاره ټکټونه تر لاسه کړو ... او بیا مې درست ماځیګری دَ لالېلي او تقسیم ائیریا دَ روډونو په فُټ پاتهونو باندې تېر کړو، چرته چې خوش رنګو څېرو له خوش ذائقه طبعیتونو او موسکاګانو او موسمي خوش ګواره رنګونو سره سترګو ته ښکلاګانې او زړونو ته دَ سکون بېلابېل خوندونه سپارَلو - یَو شاعر

ketabton.com - The Digital Library

نور څه غواړي ؟ بس چې ښکلاګانې ورته چاپېرچل کې موجودې وي ... بیا خو یې دَ خپتې غم لا هم هېر وي - خو دا شاعر زړه مې خپله خوښه کله کولی شوه، ولې چې ملګری جمعه خو هم ورځرمه شوی ؤ –نو ځکه دَ نه غوښتلو پرته هم یَو دوه ځله مې سلېماني چائی له هغه سره نوش کړې - دلته یَو کوپ چائی په لس زره لیرا باندې خرڅېدو – دَ دې علاقې رنګین ماځیګری په خپل ځای... خو دلته زه دا خبره کول ضروري ځکه ګڼم ، چې دَ دې مسلمان ملک مغرب وزمه آزادي وَلوستونکو ته ور په کوته کړم - ګوا دلته په دوکانونو کې که شراب په آزادۍ خرڅېږي ، نو هم دغسې شراب خانې یا بارونه هم لري - هم دغه وجه ده، چې قضائي ماځیګر خواته یَو نیم سړی دَ سړک څنډې ته یَو بل اړخ ځنګېږي هم - لازمي خبره ده، چې زیاتره ښځې به یې هم څیښني، خو تر سترګو مې یوه هم داسې ښځه تر دې ساعته نه شوه، چې څیښلو یې ، یا دې بې خوده غوندې په فُټ پاتهونو ګرځي - لاکن دلته ښځې سګرېټونه ډېر په شوق او خامخا څکوي - دلته خلګ چې له خپلې ژبې ، دَ بل په ژبه نه پوهېږي او نه چاته بله ژبه ورځي... یَو څو ماتې ګوډې خبرې لکه "کش برا" یعنې ( څومره یا په څو باندې ) ، "اوُچ دانه سوخ سُو" یعنې ( درې ګلاسه سړې اوبه ) ، "آفندم" او "آفندي" او داسې ځینې نورې خبرې یا توري مورږ هم ورباندې چسپَولو - ګوا خبره دا، چې څوک هم تُرکي ته ځي ، نو به دَ لاس په اشارو ژغېږي یا به څه څه خاص خبرې دَ ډوډۍ پېدا کولو او شاپنګ کولو دپاره حتماً زده کوي ... ګڼې حال به یې زما او دَ جمعه خان په رنګه وي - دا خو لا دَ نوید پنجابي یې کور ودان، چې څو کاله یې په تُرکي کې تېر کړي ؤ او تُرکې یې په رواني سره وئیله - که دائی نه وای ،نو زه او زما ملګری به په هر دویم ګام له یوه نا یوه غم او ناکړده پېښې سره مخامخ کېدو - دا منم، چې مورږ به هم څه نا څه یا ډوډۍ په اشارو پېدا کړي وه، خو غم دا دی ، چې دغه باډي لېنګویج او اشارې خو هم هر ځای معنې او مطلبونه بدلوي -

*****

ketabton.com - The Digital Library

ماخُستن اتهه بجې دَ پولي ټوؤر وبګن مورږ له خپل هوټل څخه سپاره کړو او اتهه نيمې بجې يې دَ " اورينټ هاؤس کلب " چې دَ استنبول په يَو څو مشهورو نائټ کلبونو کې ځانګړی نوم لري ته وَرسَولو - دلته لومړی او دَ خوند خبره دا کوم، چې دَ دې کلب په لويه درازه کې يوه ټُرکۍ پېغله خپلې تُرکي روائتي جامې په تن.. سره له اوږدې ترکۍ سرې خولۍ په سر باندې ايښې ولاړه وه او هر راتلونکې سړي او ښځې ته يې ښه راغلی په خپله ژبه کې وئيلو ... زه او زما ملګری چې يې له څنګه تېرېدو ، نو ملګری ورته وَدرېدو او په پښتو کې ورته ګډه څه شو ، چې هغې ورسره ځان جوخت په دې نيت وَدرَولو ، چې دا انجلۍ زما له وور قده ملګري په درخته اوږده وه او بيا يې خندل هم ... ګوره چې دَ هغې دَ خندا تر شا څه ؤ ؟ خو زما ملګري په ټوکو کې راته وئيل، څنګه مې درته پښتنه کړه ؟ او بيا دَ ده دا خبره ما او هغه تر ډېره پورې دَ ځينو نورو پُوچوخبرو سره ګنډلې خورا انجوای کړه او بيا يَو غټ عالي شان هال ، چې په منځ کې يې دَ ډيسکو او ډانس کولو دپاره ګېړدۍ دوکانچه جوړه وه چې له بامه ورندې رنګينې رڼاګانی له يوه نري او خواږه ساز سره دَ باران غوندې راورېدې او دَ دې دوکانچې شاوخواته مېزونه او کرسيانې پرتې وې - په دې هال کې په خپلو چوکيانو باندې کښېنستلو ورسته چې څنګه موسترګې وَمورږلې ، نو څه ګورو ، چې په هال کې يَو بل ځای ترکۍ انجونې ، مختصرې جامې په تن ... په ببلې ډانس کولو کې اخته وَليدلې ، چې په هال کې ناست غېرملکيانو دَ سفر ستړياګانې يې په خوږو موسکاګانو او ډېر په مينه يې په بازاري خلوص وساکولو پوره پوره هڅې کولې -

په دې هال کې هر سړی او ښځه بدمسته وه، او سره شنه لاکن په سائز غټ او اوږده ګلاسونه په لاس کې په ناستو ځنګېدلو او له څنګ ملګرو سره يې خپلې خوشحاليانې ګډَولې لګيا ؤ، خو ما او جمعه خان دلته هم دَ کوک واړه بوتلان تر نرئيو غاړو نيولې نوش کولو - هم دغه وجه خو وه ، چې دلته رقصېدونکې ببلې ډانسرې هم مورږ ته کمې رانيږدې کېدلې – خو دَ خپل بازاري طبعيت

ketabton.com - The Digital Library

درلودلو له سوبه پـه مورِ باندې هم په خپل خپل وار چې به له ستېجه راکوزې شوې.. نو به یې مورِ ته هم دَ خپل عادت په سمه حاضري راکړه ... هغوئ دَ ډانس په چپه څه نور هم وئیلو، خو مورِ ورسره هیڅ نه منلو ... البته یَو نیم تصویر مو ورسره په دې واخیستلو، چې دا موقعه سهار راته دَ ژوندي یاد په توګه بیا بیا دَ استنبول شپه راپه زړه کوي - لاکن مورِ دَ هغوئ له نور نیزدېکته ډډه کوله او ورسره داسې تر غاړې وتلو نه ... لکه نور ټوؤرستانو چې به کولو – لنډه دا، چې ډوډۍ مو هم دلته وَخوړَله او تر دولس بجو پورې مو دَ ترکو پېغلو ښځو او ماډرن ډانسونه داسې په رنګارنګ رېښمینو جاموکې کتلو، چې په عامه ژبه کې جامې په هیڅ اړه نه شي وئیل کېدای -

دَ شپې دولس بجې چې څنګه له دې کلب څخه دباندې راوَوتو، نو دَ پُولي ټوؤر سرې مورِ دواړه تر لاس وَنیولو او ژر تر ژره یې په خوش اخلاقۍ دَ هوټل څخه دَ ایستلو هڅه کولو سره سره راته وئیلو ...

" دې وخت ګڼډکپان جیبونه وهي او څه نورې نورې پېښې هم کېږي ... خیال کوئ "

*****

دَ پروګرام په سمه سهار اتهه نیمې بجې دَ پولي ټوؤر ګاډۍ مورِ له خپل هوټل څخه پورته کړو او دَ استنبول ښار او تاریخي ځایونو راښکاره کولو باندې یې پئیل وکړو - په دې بس کې زمورِ پرته پنځلس شل نور سړي او ښځې هم وې – ګاډۍ چې څنګه مخته روانه شوه، نو ګائیډ چې نوم یې آصفه ښئیلو ، څُلې ته مائیک وَنیولو او په انګرېزۍ کې دَ هرکلي وئیلو ورسته وائي...

" تُرکي ، ګوا دغه سیمه دَ حضرت عیسی علیه السلام څخه هم دوه زره کاله دَ مخه او بیا دَ ده دَ مرګ ورسته تر پنځلس سوه عیسوي پورې دَ نړئیز ژوند ژواک په اړه مرکز پاته شوې ده - او سره له دې دَ Anatolian Civilization ( اناتولوي تهذیب) موجودګي دَ دې سیمې تاریخ په زرهاؤ کلونو لا نور نور شاته وړي - عثمانیه حکمرانان له ۱۴۰۰ع څخه تر ۱۹۱۸ع پورې په دې خاوره

ketabton.com - The Digital Library

باندې حکمراني کړې ده - او دلته ښاري ژوند لومړی له رومنو او عثمانيه دورِحکومت څخه پېئيل شو او نن چې تاسو په خپل چاپېرچل کې دَ استنبول پخواني جوړ غټ غټ ماجتان ، ماڼيانې ، ودانيانې وينئ ګورئ ... دا دَ ټُرکي تاريخي عظمت څرګندَوي "

دَ څه مزل کولو ورسته ، ګاډی يَو ځای تم شوه او ټول ټوؤرستان ورڅخه راکوُز شول - او دَ ګائيډ په راهنمائی کې يوې لوړې اوچتې پخوانۍ ودانۍ، چې دَ مسلمانانو ماجت ښکاره کېدو په خوا روان شولو او چې څنګه په لويه دروازه وردننه کېدو ، نو آصفه ( ګائيډ ) وئيلو ...

" دا کرسچن چرچ دَ سېنټ صوفيه په نامه دَ نړۍ په لوړو تاريخي چرچونو کې ځانته يَو نومو ړی چرچ دی ... چې رومن واکمنو ببخي پخوا جوړ کړی ؤ "

په دې چرچ کې دَ زړه راکښونکولاسي کار او نقش نګارۍ پرته دَ ښائيسته جوړو شوؤ ګومبتو ، دېوالونو او ګيرډۍ تمبو ( ستنيانو ) ځانته دَ ځانګړې جوړښت په اړه دَ پخوا زمانې کاري ګرو فن لوړتيا څرګنده وله- په دې چرچ کې يوې بلې خواته ګرځېدلو په وخت داسې راته ښکاره کېدو لکه دا چرچ چې کله ماجت هم پاتې شوی وي - خو ګائيډ په دې باب سر نه کړو راخلاس چې آيا زما او يا زما دَ ملګري په مزغو کې دَ دې چرچ په اړه راپورته شوی ګمان صحيح هم ؤ او که غلط - خبر ، دَ دې چرچ کتلو ورسته ګاډی مخته روانه شوه او ګائيډ وئيل ، چې ...

" اوس موږ دَ "بليو ماسک " په لور روان يُو ، کوم چې په درستې نړۍ کې ساری نه لري "

او بيا يې مخته وئيل، چې ...

" استنبول ښار ، که څه هم په درو ټاپوګانو باندې آباد ښکاري ، خو په اصل کې دا ټاپوګان نه دي ، بلکې دَ نقشې له رُويه ابشئين استنبول دَ براٍعظم ابشياء په خوا کې دَ وچې مځکې په دوؤ غټو څنډو باندې آباد دی - او دلته دَ دوؤ

ketabton.com - The Digital Library

سمندرونو ګوا "بلیک سي" او " مېډیټېرینئین سي " سنګم داسې شوی دی ، چې دَ دواړو سمندرونو دَ غاړو څخه ټوؤرسټان خوندونه اخیستی شي "
که څه هم ګائیډ مخته څه نه وئیلو ، خو دا خبره څرګنده وه، چې دَ استنبول ټاپووزمه برخې ، ځای په ځای په پلونو له یَو بل سره تړل شوې وې - دَ څلورو پخو پلونو ، چې دَ غټو تمبو په کومک ولاړ ؤ څخه پرته دَ ابشیاء او یورپ تر منځه په سمندر برسېره باسفورس پُل او فتح سلطان پُل دَ کتو او حېرت وړ ځکه ؤ ، چې دې پُلونو دلاندې ستنې نه درلودلې او په هوا کې ولاړ له پورتنئیو اوچتو تمبو سره دَ اوسپنو په غټو غټو رسیانو داسې تړل شوي دي، چې دَ سړي عقل ورته حریان شي - نه یوازې دا ، بلکې له دې پرته هم ځینې داسې تاریخې جوړ ځایونه په دې ښار کې شته، چې سترګو ګټلو سره سره سړی په سوچ کولو هم پارَوي -
دې وخت چې موږ په بلیو ماسک کې ګرځېدو ، نو داسې محسوسېدو ، لکه دا غټ ماجت چې ډېر پخوا یعنې په اولسمه صدۍ کې نه ، بلکې په ننني دور کې جوړ شوی دی - ولې چې دَ ښائیست والې پرته دومره غټ ؤ ، چې په ګرځلاؤ سړی په کې ستړی کېږي او دلته سترګې په هر څه باندې وازې پاته کېږي - په دې غټ تاریخي ماجت کې له تکو شنوټائیلونو او بې شمېره ستنیانو او ګومبتو پرته په سر شپږ داسې اوچتې میناري هم لري چې تر لرې لرې پورې ښکاري - هرڅه هرڅه ، خو په استنبول کې دَ ماجتانو ډېرښت داسې څرګنده وي ، چې بېخي پخوا مسلمانانو دَ اسلام خورَولو پرته بله هیڅ وظیفه نه درلودله - ځکه خو یې اسلام دَ نړۍ تر ګوټ ګوټ پورې رسَولی ؤ –
له دې ځایه موږ دَ تُرکۍ غټ میوزیم او اسلامک سېنټر ، چې دَ پخواني باچا ابراهیم پاشا په ماڼۍ کې جوړ کړل شوی ؤ ته یُو وړل شولو – دلته ۲۰۰۰ کاله پخواني شیان دَ ښوؤنې دپاره خوندي کړل شوي دي - لکه دَ کور دَ استعمال له خټو او اوسپنو څخه جوړ لوښې ، چړې، تُورې او نېزې او دَ دې سیمې جوړې غالیانې ، خولیانې او دَ رواجي جامو نمونې هم دَ کتو وړ دي –لاکن دلته مې دَ

ketabton.com - The Digital Library

خانه کعبه اوله له لرګي  څخه جوړه دروازه ، چې دَ لاس کار ورباندې شوی ؤ په لیدوً مې سترګو او زړه سکون وَموندو – غوښتلو مې چې ښکل یې کړم، لاکن شیشه داسې ورباندې را جارباسلې شوې وه، چې وَس مې نه په رسېدو - دلته ګائیډ دَ اناتولوي تهذیب ځینې شیان هم راښکاره کولو په وخت وئیلو ، چې ...

" دَ دې په پرته دَ دغه زاړه او تاریخي ژواک ځینې آثار نورې نخښې په " اناتولیا " نامي علاقې کې دَ لرغونې آثارو په توګه خوندي کړل شوي دي - لکه دَ Ekhesus " ایفاسیس " غټه مجسمه ، چې دَ دېوي مور ، یعنې Mother goddess " مدر ګاډس " په توګه دَ مځکې اوله خدائینه مور ورته وئیل کېږي - دَ Artinis " اینټینس " په نامه شهرت لري - دَ دې په بدن ېبخي زیات لګېدلي تیان دا څرګنده وي ، چې دا خدائینه مور ژوند سپارونکې وه - دَ اناتولیا ۷۰۰۰ کلنه زوړ ښار دَ هغې دپاره جوړ کړل شوی ؤ - دَ دې " مدر ګاډس " څخه په بېلو بېلو وختونو کې نقل شوي یولس زره وړې او غټې مجسمې هم دَ دُنیا په ځینو عجائب ګهرونو کې پرتې دي"

دا خبرې چې یې کولې ، نو بس دَ استنبول په تنګو تنګو بازارونو یا لارو باندې یوې بلې خواته روان ؤ ، او دلته په بس کې ګائیډ وئیلو ...

" دلته یعنې په تُرکي کې دَ نورو تاریخي آثارو پرته دَ Lymira " لائیمېرا " دَ کاڼو پخوانۍ ګومبته او دَ Aspendos " اسپنډوس " جوړه ودانۍ چې په بېلو بېلو زمانو کې جوړه شوې ده – که تاسو غواړئ، نو موږ درته دَ ټوؤر اهتمام کولی شو "

له دې خبرو سره سم ګائیډ زموږ پام دَ میوزیم سره جوخت آرټ سېنټر ته واړَول شوه ... دلته دَ تُرکي دَ هرې سیمې دَ خلګو دَ جامو او استعمال شیانو نمونې ... په خاص توګه دَ ناستې او په دېوال راځړَنګې غالیانې نه یوازې دَ نمائش دپاره ایښول شوې دي ، بلکې خرڅېدې هم ... یَو ځای مې جمعه خان ته وئیل ، چې ...

" راشه چې یوه دَ غالب چاچا ټوپۍ او دا اوږد کوټ واخلو "

ده راباندې وَخندل او وئیل یې ...

ketabton.com - The Digital Library

" ولې ځان په درنېوؤ ... اول مو بېګونه لږ درانه دي او بیا داسې ټوپیانې خو په پاکستان کې هم پیدا کېږي"
ګوره چې اوس دَ ده اشاره په پاکستان کې دَ کومې سیمې دَ خلګو او دَ چا په لور وه ؟ خېر، چې له دې ځایه راوتلو، نو تر دې له مخه مې دَ ژېړو جوړه یوه ښائیسته غاړګۍ، چې په ډیوټې ولاړې ښائیسته پېغلې دَ راښکاره کولو دپاره په غاړه باندې راوَځړَولې او بیا یې په وار وار راته وئیل ، چې ...
" دا ګوره ، څومره ښائیسته ښکاري"
اوس که غاړګۍ ښائیسته وه، او که نه ... خو دَ هغې سره یې ښېخي خوند کولو - که څه هم زما دَ ملګري په خیال دا سودا ګرانه وه، خو شاعر زړه راته وئیل ، چې دَ هغې ښائیسته انجلۍ موسکاګانې چې ورسره وَ تلې ، نو ارزانه سودا مې کړې وه - ولې چې دَ ښکلیو دَ موسکا قیمت په هر څه هرڅه ارزي او چرته بیا دومره دومره ډېري موسکاګانې، چې په کاڼو یې لا خولې کولې ... زه خو لا یَو انسان وم -
له دې ځایه پیاده موږ دَ تاریخي حمام په لور مخه وکړه - حمام څه ؤ ، یوه غټه خونه وه ، چې په منځ کې یې یوه دوکانچه جوړه وه ، چې دَ ګائیډ له قوله دلاندې یې اور بل وي او په شا وخوا وړو وړو غسل خانو کې دَ غسل کولو مخته او ورسته په ګډه باندې په دې غټې دوکانچې باندې سټیم بات اخیستل کېږي او تر ډېره وربانديې تر درځن زیات غسل کونکې پراته وې او بدنونه ټکور کوي - که څه هم په جلا جلا وړو غسل خانو کې دَ غسل کولو اهتمام ؤ، خو شروع او اخیره یې له دې تودې دوکانچې کېدله–
ګائیډ مخته وئیلو چې...
" دغه رنګه حمامونه په افغانستان کې تر اوسه لا هم رواج لري"
وئیل ، خو یې صحیح ... خو خوارکۍ لکه لا سمه خبره نه وه، چې نن په افغانستان کې دَ وژللو راوژللو او دَ یو بل دپاره قبرونه خیندلو پرته هیڅ نه دي پاته شوي -

ketabton.com - The Digital Library

*****

دې وخت دَ پولي ټوؤر ګاډی دَ اتا ترک له تاريخي دفتر او استوګن ځای ، ګوا دَ هغه په استعمال کې پاته شوې رهائشي ماڼۍ په لور روان ؤ، چې ګائيډ وئيلو ...

" دې وخت په ۷،۷۹،۴۵۰ مربع کلو ميټرانو خور وور هېواد تُرکي چې په کې ۵،۸۲،۸۷،۰۰۰ خلګ آباد دي- باني ستر مصطفی کمال اتاترک دَ لومړي جنګ عظيم ورسته لومړی صدر ؤ - دَ تُرکي په ټولو حکومتي ځانګو کې يې انقلابيً بدلون راويستی دی او سېکولر جمهوري نظام يې نور نور ټينګ کړو ... په خاص توګه ، ښځه يې په لومړي ځل دَ نر سره په څنګه دَ دروَله "

ګائيډ لا خبره سمه سر ته نه وه رسَولې ، چې ګاډی يوې توربخونې او غټې ماڼۍ مخې ته وَدرېدله - دا هغه ماڼۍ وه، چې اتا ترک په کې په سرکاري توګه استوګنه کوله او اوس دَ ده يادونه تازه کولو دپاره دا ماڼۍ دَ تاريخي او قامي نخښې په توګه خوندي کړل شوې وه - په صدر دروازې کې يې دوه عسکران دا سې الرټ ولاړ ؤ لکه هغوئ چې له کاڼو جوړ ؤ - ولې چې په لومړي نظر هغوئ ژوندي کم، مړه بُتان زيات ښکاره کېدو - له دباندې خوا چې دا ماڼۍ ځومره سترګو ته ښه ښکاره کېدله ، نو حقه خبره ده، چې دننه به لانور نور دَ کتو وړ شيان په کې وي ، ځکه خو ګائيډ وئيل ...

" بخښنه غواړم ، موږ دې ماڼۍ ته بې له انټري پاس نه خو ور دننه کېدلی شو او نه پاس دومره ژر جوړېدلی شي - يوه دوې ورځې انتظار ورته په کارېږي "

او بيا يې خپله خبره دا سې مختته کش کړه ...

" په تُرکي کې زموږ ( توبه نعوذُ بالله ) دوه خدائيان دي .. يَو عظيم خدائی او بل اتاترک ... ولې چې نه خو دَ قرآن شريف آيتونه رد کولی شو او نه دَ اتا ترک فرمانونه او جوړ کړل شوی قانون ... "

له دې خبرې څخه دَ هغې ګائيډ دَ خدائی پاک په وړاندې شريک دروَل نه ؤ، بلکې دا يې وئيبل غوښتلو ، چې دَ جديدې تُرکي باني اتا تُرک بنيادي نظريه ،

ketabton.com - The Digital Library

چې دَ سبکولرزم په اړه ده په خپل ژوند کې وړاندې کړې وه - هغه نه یوازې خوندي شوه بلکې ژوندۍ یې هم وساتله -

یوې بجې خواته ګاډۍ دَ تاریخي بازار، چې دوئ اوس ورته " ګرېنډ بازار" وائي په لور دَ استنبول په تنګو هوارو ، خو په لوړو ژورو علاقو کې جوړو روډونو باندې روانه وه او ګائیډ وئیلو ...

" دَ حضرت ایوب انصاري مزار ، انقره او فیشرمېن ویلیج ته که دَ تلو نیت لرئ ، نو خپل نومونه او پتې را وَلیکئ ... ستاسې دَ خوښې په سمه موږ دَ ټوؤر انتظام کولی شو"

او بیا یې ځکه دَ ذکر شوؤ ځایونو پرته ، تر یَو درځن زیات نورو ځایونو دپاره دَ ټوؤر کولو وختونه او دَ خرڅې خبرې په ډالرانو کې داسې په خوند خوند کولې ، چې خپل دې ملګري جمعه خان راته وئیل ، چې ...

" غوږ ورته وَنیسه خیالوَرې ته ... څنګه په خوند خوند دَ پیسو خبرې کوي ؟ "

ما هم آسره تاوان وګڼله او ورته مې په ځواب کې وئیل، چې ...

" دلته اتا تُرک ترکیان په دې وجه نه مني، چې تُرکۍ ته یې نوی ژوند ورکړو ، بلکې هغه کاغذونه دَ دې خلګو کمزوري ګرځېدلې دي، چې دَ اتا تُرک تصویر ورباندې جوړ دی "

زما په دې خبره چې ملګري جمعه خان غاښونه څنګه سپین کړو ، نو هغې ګائیډ هم زموږ په خوا په ډېره مینه وکتو ، او وَموسېدله .. اوس به لا موږ بل څه سنجَولو ، چې دا څه رامخته شوه ، او وائي ...

" تاسو لکه چې له موږ سره په بل ټوؤر باندې هم دَ تلو اراده لرئ "

غرض ... غرض او تش غرض .. یَو وار لا په زړه کې راغلو ، چې په سخته او غوټ ورته یَه کړم ... لاکن بیا ګوره چې څله مې په کراره ورته وئیل، چې ...

" موږ به صلاح وکړو "

او بیا مې په معنې خېزه موسکا کې دَ جمعه په خوا مخ ور واړَولو ...

" زه خو ورسره ځم، وایه ! ستا څه خوښه ده ؟"

ketabton.com - The Digital Library

دائی چې لا يې هغه رنګه غاښونه سپين نيولي ؤ ، راته واي ...
" حريان يم، چې ستا اوس کومه يوه خوښه ده او کومه نه ... چې يَو ځای هسې نامې مخ يا څېره وَوينې .. زړه ورته په لاس کې ږدې "
او ما هم ورسره ګپه خوږه ځکه کړه ، چې خبر وم ، چې يار مو ټوکې کوي -
او بيا چې په خپل حېثيت ځانګړي او تاريخي ګرېنډ بازار ته وردننه کېدو ، نو ګائيډ وئيل ...
" په دې بند غوندې تاريخي بازار کې ۴۵۰۰ واړه او غټ دوکانونه دي "
دَ دې بازار دَ دوکانونو دَ ښائيست او جوړښت څخه پرته، په دې مارکېټ کې دَ دوکانونو تر منځه دومره پراخه لاره تېره شوې وه، چې اوس که داسې مارکېټ زموږ په هېواد کې جوړ وای، نو تاريخي حېثيت به يې داسې نه وای پاته –ولې چې که رکشې او دَ خرو رېړهيانې په کې نه چلېدې ، نو سائکلونه او دَ لاس رېړهيانې خو به حتماً په کې يوې بلې خواته لېدل کېدې - دلته زياتر غېرملکيان ؤ ، چې سوداګانې يې په کې کولې - دَ سرو زرو دَ کاروبار ډېر زيات دوکانونه په کې موجود ؤ- دَ دې مارکېټ په سېل کولو کې دا خبرې مې زړه ته بيا بيا راتلې، چې ګنې ...
" ټُرکيانو ، چې زرهاؤ کلونو دَ مخه کوم کاروبار کړی ؤو هغه دا دی ښکاره دی.. خو يَو موږ يُو ، چې من حېث القوم دَ تېر شوؤ تاريخي مشرانو په قبرونو دَ کاټو دَ څلو پرته که نور څه لرو ، نو هغه دي .... خبرې او تشې خبرې ، چې په کتابونو کې يې دَ تاريخي پېښو په توګه خوندي لرو او بس ... "
په ګرېنډ بازار کې دَ ګرځېدو راګرځېدو او يَو نيم شئی اخيستلو ورسته په ګاډی کې ماځيګر خواته خپلو خپلو هوټلانو ته ټوؤرستان وَرسَول شولو - او يَو ځل بيا زه وم او ملګری جمعه خان او دَ لالېلي دَ بازارونو خوش رنګيانې، چې دَ شپې تر لسو بجو پورې په کې دَ نويد او پروين سره ګرځېدو –
*****

ketabton.com - The Digital Library

دَ شپږم نومبر درسته ورځ یا خو موږ دَ هوټل په خوني کې تېره کړه او یا بیا یو دوکان او بل دوکان دَ شیانو په اخیستو را اخیستو کې ستړي ؤ - نن موږ دواړو دا خبره وَ سنجَوله چې ترکیان دَ پاکستان دَ خلګو سره مینه لري او قدر یې کوي – ګوره چې په څه وجه ؟ بس چې به چا هم پوښتنه دَ سودا په وخت کوله، نو زموږ دَ ځواب ورسته به یې فقط دومره وئیلو ، چې...

" تُرک پاکستاني آګردش " ګوا تُرک او پاکستانیان وروڼه وروڼه یا دوستان دوستان -

او بله خبره مې دا هم نوټ کړه ، چې دلته په سودا کې بارګېننګ ډېر زیات کېږي –که څه هم دَ تُرک دَ مشرانو دا خبره ډېره مشهوره ده ، چې ....

" Don’t Buy house , Buy a neighbour "

لاکن له بده مرغه دا خبره ما دَ دوئی په روئیو کې وَنه سنجَوله ... خو په خوُی او بُود بد او رَډ خلګ نه ؤ .. بس په پیسو څه زیات مئین راته وَ برېښېدو –

سبا ته زما او دَ جمعه خان خپلو کورونو ته دَ تلو نیت ؤ - نو ځکه مې غوښتلو ، چې نن شپه تر ډېره په استنبول کې پیاده وګرځو او دغه رنګه مې وَ هم کړو - نوید او پروین چې دلته یې څو ورځې نورې هم تېرولو اراده درلودله .. هم له موږ سره پوره پوره ملګرتیا وکړه - او بیا چرته چرته نه وګرځېدو - که څه هم کله کله نرې څاڅکې دَ باران او یا نرۍ نرۍ واوره ورېدله – خو موږ دَ لیونیانو غوندې یوې بلې خواته آواره ګردي کوله او دَ استنبول دَ ساړه موسم خوندونه مو دَ رڼاګانو سره ګنډلي دَ زړونو او رُوحونو دَ سکون سوب ګرځولو – لاکن تر کومه پورې؟ .. کله چې دَ استنبول دَ شپې رڼاګانې دَ یخو هواګانو سره تورو خاموشو تیارو ته ستنېده شروع شوې ، نو موږ هم کرار کرار ستړیا ته غړې هم اچولو ... نو ځکه خو ، په بېلا بېلو تنګو او پراخو لارو باندې پیاده دَ لالېلي په لور قدمونه تېز کړې ؤ او غوښتلو مو ، چې ژر تر ژره خپل هوټل ته وَرسېږو ، ولې چې اوس خو په روډونو هم خال خال کسان ښکاره کېدو - هوټل ته لا نه ؤ رسېدلي ، چې په لالېلي کې دَ یَو خلاس دوکان مخې ته یوې ولاړې انجلۍ ، چې

ketabton.com - The Digital Library

مخته یې څه سامان هم پروت ؤ ، په ما او جمعه خان باندې ژغ وکړو – موږ ورته وَدرېدو او پوښتنه مې ورځخه وَکړه ...

" خیر خو دی ... ولې دې راپسې ژغ وکړو ؟ "

دا خبره څه وه ، چې هغه انجلۍ په خپله ژبه کې ګډه شوه – نه زما سر دَ هغې په خبرو خلاسېدو او نه زما دَ ملګري - بس هېښ هېښ ورته ولاړ ؤ ، چې دا اوس څه وائي او یا څه غواړي ؟ څه وخت ورسته شاته پاته شوي پروین او نوید هم راوَرسېدو ، او تپوس یې راڅخه وکړو ...

" څه کیسه ده ؟ "

ما ورته وئیل ...

" په دې خبره خو موږ هم حریان یُو ، چې دا انجلۍ څه راته وئیل غواړي ... ته پوښتنه ورځخه وکړه "

مګر ناشُوده خبره خو دا وَشوه ، چې اوس دَ هغې انجلۍ بله خوندَکۍ چې له دوکان څخه ورته راوَ تلې وه هم ورسره ولاړه وه ... دَ نوید په خبرو هم نه پوهېدله ... چې څنګه هغه انجلۍ له خپلې خوندَکۍ سره زموږ په باب په خپله ژبه کې ګډه شوه ، نو نوید په موسکا کې راته وئیلو ...

" موږ ځو هوټل ته ... تاسو ورسره جوړ شئ "

او خپله ناوکۍ پروین یې تر لاس وَ نیوله او مخته تېرېدلو په وخت موږ ته وائي ...

" دا بلغارین پېغلې دي "

"نو زموږ یې څه ... درځه جمعه چې ځو "

دومره وئیلو سم دستي چې ما ګام دَ نوید په لور اوچت کړو ، نو ملګري تر لاس وَ نیولم او راته وائي ...

" څه کوې چې ځغلې ... ځُوري خو دي نه ... ورسره په ګپه کولو به ټکه نه درباندې لوېږي "

ketabton.com - The Digital Library

هو ، ده صحیح وئیل ... وَ یې نه خوړم .. خو دَ سترګو په خمار یې داسې په مزه مزه لاهو کړم ، چې که هر څو مې ورته سر په انکار کې یوې بلې خواته ښورَولو ، لاکن زړه مې ماته ورته منلې وه - هم ځکه خو زما دَ ژبې انکار ... انکار تر ډېره نه شو پاته - او نه مې ملګری جمعه خان ورڅه خلاص کړو - ولې چې په هغو دواړو پېغلو کې یوې زما او بلې زما دَ ملګري شاوخوا داسې په هنر تلکې ودرَولې، چې دَ تېښتې لاره راڅخه ورکه شوه او تر ډېره هانده مو دَ موسم په رحم وکرم ځانوه پرېښَولو –

*****

داسې پېښه په ژوند کې په لومړي ځل راسره شوې وه ، چې زه منزل ته دَ رسېدو دَ مخه .. ګوا له نیمې لارې څخه بیرته دَ پاته شوؤ پلونو په نخښو راغبرګ شوی وم - دې وخت زه او جمعه خان کاکړ دَ تي – بي – تي کمپنۍ په اوتو بوس کې ناست دَ تهران په لور روان دَ اتهه څلویښت ګنټهو په اوږده سفر روان ؤ - اوتوبوس بیا له ایراني ځوانانو او ښځو څخه ډک مخته روان ؤ - ګوره چې څله په اوتوبوس کې له دې خوا نه چا خبرې کولې او نه چا هغسې دَ خوشحالۍ سندرې وئیلې او نه هغسې دَ مستۍ اظهار چا کولو - هم ځکه دَ دیغیت له لاسه دَ ګهړۍ ستنې مخته نه تلې - زیاتره وخت په پټهو سترګو او خوب کولو په ناکامه هڅو راباندې تېر شو- دې بله ورځ دَ ښې ډېرې بدني او ذهني ستړیا ورسته دَ ایران څنډې ته وَرسېدو ... اوس یَوځل بیا په اوتوبوس کې ناستې ایرانۍ ښځې ، چې له استنبول څخه دَ ترکي تر ورستي بارډره پورې په جینز کې برېښېدې بیرته بدلې او په غټهو تورو څادرونو کې سر تر پایه پټې ښکاره کېدې –

له کوره چې راتلو ، نو دَ هر هېواد په څنډه باندې به مې دَ ګهړۍ ستنې یوه نیمه ګهنټهه شاته کولې ... خو اوس چې مې بیرته په هر بارډر باندې مخ مخته دَ ګهړۍ ستنې څنګه پېچلې لګیا ؤ .. نو ګوره چې زړه مې څله ډُوبېدو ؟ په خپله نه هېرېدونکې ماتې باندې او که دَ تُرکي څخه دَ رابېلېدو له سوبه ؟ داسې نه

ketabton.com - The Digital Library

چې زه یوازې له داسې کیفیتونو سره مخامخ وم ، بلکې دَ جمعه خان کاکړ بڼه مړَغونې وه ... خبرې یې راسره کولې، خو تندی به یې ګونځې ګونځې ؤ او څُله یې خندا یا موسېدو ته نه جوړېدله - بس یَو علي نامې ایرانې ځوان ؤ، چې دَ استنبول څخه یې زموږ مازغه خوړَلو چې خوړلو او ظالم سترِی کېدو نه - او خبرې یې هم داسې بې لګامه کولې، چې دَ خپل آخوندي نظام په زد کرکه ښرګندولو سره سره یې سیکس هم سر ته ختلی ؤ ... موږ به په ښه خوند ویده ؤ، نو دې لېونې او مست علي به را وَژغولو او بیا بیا به یې وئیل...

" انډیا ... مادام مادام .... بیوټي فل ... لټل مني ... نائټ نائټ .... اوووف ډیلیشئیس"

دغه یَو څو دَ انګرېزۍ تورې یې زده کړي ؤ، چې په موږ یې راچسپَولو او غوږونه یې راته خوړلو - یو څو ځله چې به یې داسې ګردان راته تېر کړو .. نو ما او زما ملګرې به هم له ډېره خشمه ورته دَ هغه په انداز کې داسې خبره بیا کړه ....

"آون ... ایران ... یُو ... آخوند ... هېډ کټ کټ ... اف نو ستاپ "

دائی به له خندا شین شو ، خو دا خبره به څهً بده هم ورباندې وَلګېده ... نو ځکه به یې له جمعه خان سره یاري جوړه کړه او دَ ده هغه یوه ماته ګوډه انګرېزي فقره به بیا هغسې تکرارېدله – په ما دَ هغه تېز ژغ ځکه بد لګېدو ، چې زه دَ ده او دَ جمعه په مابېن کې ناست وم - غال مې ورسرنه شو کولی ... بس کله کله به مې په لغازي موسکا ښه په خپل خشم پوهی کړو - او هغه ساده او بې وقوف به له خندا بیا شین شو او کله کله خو به یې دَ "هېډ کټ کټ اینډ فنش " رنګه تورې هم له څُلې وتلو -

*****

په تهران کې مو دَ نهم نومبر کال ۱۹۹۳ع شپه خو تېره کړه – مګر دَ بېخي زیاتې ستړیا له سوبه له هوټل څخه فقط دوه ځله او هغه هم دَ ډوډۍ خوړَلو او چائیو ښیښلو په نیت دَ ملګرې سره وَوتم او بیا دریم ځل په دې ، چې اوتوبوس دَ اډې په خوا مې مخه کړې وه – له تهران څخه تر زاهدان پورې دَ ۲۴ ګنټهو سفر دَ ۲۴

ketabton.com - The Digital Library

کلونو څخه کم ځکه نه ؤ، چې خوب نه راتلو او تش دَ میلانو ډبرې مې نه یوازې کتلې ، بلکې شمېرلې مې هم - بیا چې څنګه دَ قفس دروازه خلاسه شوه او ما چې څنګه دَ خپل هېواد په خاوره قدمونه ږدلو ، نوزړه مې غوښتو ، چې په چیغو چیغو وَژاړم ، مګر ژړلی مې نه شولو ، ګوره، چې څله ؟ او په تېره بیا زما شاعر زړه .. نو ځکه دَ دې پېښې اظهار په نظم کې کول راته ضروري شو ... هو ، داسې نه ... چې ...
داسې نه.... چې

---

له ما مه کوه پوښتنه
ته دَ ځان په پاب هیڅکله
داسې نه چې تر خلې راشي
دَ ځواب د پاره خپله
زما زړګی درته پخپله

---

( شوق / تفتان / کال ۱۹۹۳ع )

ketabton.com - The Digital Library

# دَ جنت ځخه لرې جنت

تاثراتي لنډيز---

"دا خو به وَ منم ، چې سري لنکا دَ سیمې دَ ښائیست په توګه په نړۍ کې ساری نه لري - هم ځکه خو خدائی پاک حضرت آدم علیه السلام له جنت ځخه په دې جنت وزمه مځکې باندې راکوُز کړو - دَ دې ثبوت ، دَ ده جوړ پنځه فټه ، ځلور انچه اوږد او دوه نیم فټه پلن پَل دی ، چې تر اوسه دلته دآدم پیک نامې غره په څوکه باندې وجود لري - مګر دَ سري لنکنو وَ بُت پرستۍ او تر ټاک اویښتې غرضې ژوند ته چې پام وَکړم، نو دا سوال په مزغو کې را اوچت شي ، چې دَ نړۍ دَ نورو هېوادونو خلګ دَ دوئی په رنګ او خوُی ځله نه دي ؟ که ځه هم په دې خاورې باندې زموږ ورَ نیکه ګونو او لومړنئیو انسانانو ژوند کړی دی "

( شوق )

---

# دَ پرونی ځبرې په لټون

هغه هنداره
زما دَ سوچ هنداره
هغه هنداره
زما دَ خوب هنداره
چې یو ځبره یې په ما تل لیدله
دا سې ځبره
دا سې ژوند وزمه ځبره

ketabton.com - The Digital Library

چې هم مې خپله وه ،
هم خپله نه وه
ځکه خو ما به په هنداره باندې
دَ تجسس او دَ حسرت منګولې
په مينه مينه لګولې مُدام
په دغه نيت
چې زه يې وَ پېژنم
لا يې دَ خان په باب څه وَ ژغوم
خو ، دَ نصيب لکه چې نه وه خوښه
چې يوه ورځ
هغه وړه هنداره
زما له لاسو ناڅاپه وَلوېدله
او دَ طلب هغه ماشومه څېره
په سل توکرو ځله وَ وېښل شوه ،
بس له هغې ورځې تر ننه پورې
زه په لټون دَ هغې ښکلې څېرې
هرې جنۍ ته زړه په لاس کې ږدمه
او لا ، دَ سترګو په کچکول کې ځينې
په ماته څُله خېرات دَ مينې غواړم
ځکه چې څوک په رنګ مُونږې ورته
دَ چا په سترګو کې هغه سترګې دي
څوک په تندي
او څوک په زَنه هغه
څوک په شُونډانو
څوک په پوزه هغه

ketabton.com - The Digital Library

## ( شوق )

دَ بابا آدم علیه السلام دَ پَل دَ نخښې ښکلولو دَ پاره زه، سره دَ درو ملګرو په ۲۳مه جنورۍ ۱۹۹۴ع پاؤ کم دولس بجې دَ کراچۍ په هوائي ډګر ، په ائیر لنکا ( الوتکه ) کې کښېنستم او الوتکه په لس منټه بالا دولس بجې والوته - ګوره چې زما دَ ملګرو ، ګوا نصیب ترین ، رضا ترین او جمعه خان کاکړ په مزغو کې څه ؤ ، لاکن زما ټول سوچونه په سري لنکا کې بند ؤ ... ما فکر کولو ، چې ګوره دا هېواد به څومره شائیسته وي ؟ چې خدائی پاک بابا آدم علیه السلام دَ جنت څخه ورباندې کښته کړی ؤ - او دَ لومړي قدم پَل یې په دې خوش بخته مځکه باندې ( دَخلګو له قوله ) تر اوسه لا وجود لري - او بیا دَ دې هېواد دَ علاقائي ښائیست سره سره به یې خلګ څومره ښکلې وي ؟ خو ، بیا چې به مې دَ ائیرلنکا په دې الوتکه کې دې تکو تورو او بې خونده ائیرهوستهسانو ته پام شو ، نو به زړه ماتې غوندې شومه - ولې ، دَ دې هوائي کوربنو پېغلو په څېرو کې راته هیڅ قسم کشش نه ښکاره کېدو ... وایم، چې دَ تناره دَ لړونې غوندې لغوَړنې څېرې یې که څه هم انساني څېرې وې ، خو انساني سترګې نه پرې خوږېدې .. چرته بیا شاعرانه نظر ؟ خو دَ دې هرڅه پرته به مې هم وَ خپل زړه ته په دې خبره تسلي ورکوله، چې کېدلی شي ، هلته مېښته خلګ دغه رنګه بې ډؤله نه وي –بس په داسې رنګه سوچونو کې جهاز دَ درو ګنټهو مزل کولو ورسته ، ګوا دَ سري لنکا دَ وخت په سمه څلورنیمې بجې کولمبو ته وَ رسېدو –

دَ کولمبو دَ ائیرپورټ په ودانۍ کې چې څنګه وردننه شولو ، نو څه ګورو ، چې دَ کسټم سړي په پاکستاني مسافرانو باندی داسې شاوخوا راوګرځېدو ، لکه جوړه چې مسافران نه ، بلکې خطرناکو سمګلرانو یې وطن ته پښنه راکړې وي - دَ یوه یوه مسافر سامان یې داسې پلټلو ، چې که یَو شئی نه هم ؤ په کې .. نو یې

ketabton.com - The Digital Library

هم دَ ډالرانو ترلاسه کولو پورې به یې مخته نه ایله کولو – دغه رنګه یې موږ یعنې څلور ملګرو ... سره دَ نورو پاکستانیانو کم او زیات پنځه ګنټهې دلته وَځنډَولو او دَ سهار نهو بجو خواته یې له خپل غیر قانوني او غیر انساني حصاره چې خوشي کړلو ... نو دَ هر یوه مسافر په تندي دا یَو سوال له ورایه ځلېدو ، چې دې لغوَړنو دا موږ په کومه ګناه کې په ائیرپورټ کې ټوله شپه راګېر کړي ؤ - اوهغه هم داسې، چې نه یې په ائیرپورټ کې دَ اوبو څیښلو دپاره څه بندوبست ؤ او نه دَ چائیو - ظلم خو لا دا ، چې که به هر څو موږ ورته دَ یوه ګلاس اوبو دپاره خواست کولو ، نو یوې خواته به یې داسې دیکه کړو ، لکه ښکنځا چې مې ورته کړې وي - خېر ، دَ دې خیرن ائیرپورټ دباندې مې په وَچ حلق دَ یَو ټېکسي ډرائیور سره خبره وکړه، چې ...

"وروره جانه ! موږ نابلده یُو ، دَ یَو ګزارې هوټل ته مې بوځه"

دَ"وئیل...

" په کولمبو ښار ، چې له دې ځایه ورته دَ یوې ګنټهې لاره ده، کې هوټلان ډېر ګران دي – که زما منئ ، نو دلته نیږدې دَ نیګامبو ساحل په یَو ریسټ هاؤس کې استوګنه وکړئ - زیاتره ټوؤرسټان دَ نیګامبو دَ سمندري غاړې سره جوړ ریسټ هاؤسونو کې اوسېده خوښَوي – ولې چې دَ خواپاکې علاقې او ځایونو پرته ، له سهاره تر ماښامه پورې بسونه له هغه ځایه کولمبو ته ځي داځي"

موږ څلور واړه ملګرو دَ صلاح کولو ورسته خبره له هغه ډرائیور سره جوړه کړه او په نیمه ګنټهه کې یې الپائن نامي وړوکې ریسټ هاؤس ته وَرسَولو - د شنه سمندر له غاړې سره جوخت دغه ریسټ هاؤس ، دَ یَو بنګالي ځوان مسټر مامون ، چې له بجیانو سره خپله هم په کې اوسېدو ملکیت ؤ – سترې دومره زیات ؤ ، چې دَ چائې غوړَپلو سم دستي په پلنګونو وَ غزېدو -

*****

دلته ګرمي دومره زیاته وه، چې ماځیګر خواته دَ لمبېدو ورسته ، چې څنګه له ریسټ هاؤس څخه دباندې راوَوتو ، نو سم دستي مې بیا بدن خولې خولې شو –

ketabton.com - The Digital Library

دا لا هیڅ خبره نه وه، خو طبعیت مې هغه وخت لا نور خته شو، چې خپل شاوخوا مې دَ سري لنکا ځاي خلګو ته پام شو - که ښځه وه، او که نر، ځوان ؤ او که زوړ او یا ماشومان، چې په رنګ خو تور ؤ ... چې ؤ، خو دَ جامو په اړه هم ډېر شاته پاتې او سترګو ته سخن سخن ښکاره کېدو - بله خبره دا، چې زیاتره خلګ دلته په لوُڅو پښو ګرځېدو - یَو ځای دَ رضا ترین وار نه وَشو او په لغاړې خندا کې یې وئیل ...

" تر دې خلګو، خو هاغه زموږ دَ سیمې لچیان لا ښائیسته او خوا پاکې دي " نصیب ترین هم خبره ورسره خوږه کړه، وئیل یې ...

"هو .. په لوُڅو پښو خو نه ګرځي"

او دا خبره ما او جمعه خان رَد کولی ځکه نه شوه، چې دَ دې خلګو کړه وړه جامې او دَ ژوند کولو طریقه یا لارلیکه یې ببخی زموږ دَ پښتونخوا دَ خواستګرو تورو لچیانو ته شوې وه، دا څه بده خبره نه وه، خو چې موږ او نورو غېر ملکیانو ته به یې په حېرانتیا کتلو، نو په زړه کې به شکمن غوندې شوم - ما وئیل .. چې چرته دَ سري لنکنو دا دعوه، چې ګنې ..." په دې هېواد کې دَ تعلیم شرح ۸۹ فیصده ده " ... مازې دَ خبرو تر حده خو نه ده؟ ولې چې تعلیم سړي ته دَ ژوند طور طریقې ښئیلو سره سره دَ اناپرستۍ، خوداري او شخصي تشخص غوره کولو درس هم ورکوي - دا خبره مې مزغو ته نه یوازې دَ دې ښځو او نریناؤ نادیده سترګو له سوبه ... بلکې په دې هم راغله، چې که څه هم واړه لاکن پاخه خپل یا دَ کرایې کورنه یې درلودلو، خو کوُړې کوُړې امبارونه یې دَ کورونو مخته پراته ؤ - او افسوس په دې خبره هم راتلو، چې خدائی دا سې زرغون او ښائیسته وطن ورکړی ؤ، چې سترګې یې په کتو نه مړېدې - هرلور ته دَ شنو شنو، وړو، غټو بُوټو، چمنیانو او نورو ونو پرته دَ ناریل او رقم رقم ځنګلي ونې دَ کتو وَړ وې - دَ سمندر په غاړه باندې یې بیا بل رنګه خوندونه ؤ - سره سپین ټوؤرستهان چې په کې نران او ښځې او ماشومان هم ؤ تر لرې لرې پورې لمبېدو

ketabton.com - The Digital Library

يا ګرځېدو - دَ څه ګرځېدلو ورسته زمونږ هم صبر نه وَشو او دَ سمندر ترڅ اوبو ته ورګډ شولو -

*****

نيګامبو يَو وړوکی ځای ؤ ، ځای په ځای په کې ريسټ هاؤسونه جوړ ؤ ، چې په کې دَ بېلابېلو هېوادونو څخه راغلي ټوؤرسټان اوسېدو - دلته دَ سبزي مارکېټ پرته دوه درې کتاره دوکانونه هم ؤ - چې په کې دَ ضرورت هر شئی ، چپ دَ اوړو له پستې ډودۍ پېدا کېدلو - ولې چې دې خلګو له ډبل روټيانو او ساده پخو وريږو سره بوږ خوړلو عادت ؤ - په زياترو چوکونو باندې دلته دَ حضرت مريم بي بي او حضرت عيسی عليه السلام دَ مجسمو پرته ، دَ هندوانو ببل ببل بهګوانان ، چې رضا ترين ورته پالوانان وئيلو دَ عبادت دپاره ږدل شوي ؤ - دَ اسلام په نظريه تړلې خلګ که څه دلته لږ ډېر شته خو دَ مسلمانانو دَ يوه ماجت پرته مې نور تر سترګو نه شو - مسلمانان ، چې سپينې خولۍ به يې په سر باندې اينښې وې هم خال خال په دې بيچ ستي نيګامبو کې ښکاره کېدو ...

لاکن په رنګ او لباس يا په لنګونو دَ هغو نورو تورکيانو ورته ښکاره کېدو - دلته چې کومې دوې ژبې وئيل کېږې ، هغه "تامل" او "سنهاله" دي ، چې په کې دَ "ډ" ، "ړ" او "ګ" تورې ډېر زيات استعمالېدو - که څه هم په سري لنکا کې دَ "ګوتم بدها" يا "ماتما بت" منونکو "بُدهمتو" شرح ۷۹ فيصده ده ، خو ګوره چې دلته په نيګامبو کې ؤ نه او که دَ بدها بُتان يې په چوکونو کې لګول دَ خپل مذهبی پېشوا توعين ګڼلو ؟ وائي .. چې دَ بُدهمتو په چپه په سري لنکا کې ۱۵ فيصده هندومت ، ۸ فيصده مسلمانان او ۸ فيصده عيسايان مېښته دي -

*****

دَ ماځيګر دَ سېل پرته دَ نيګامبو لومړۍ شپه په دې اړه ډېره په خوند راباندې تېره شو ، چې دَ ريسټ هاؤس څخه په څه واټن باندې په يَو پراخ مېدان کې " اوپن ائير تهېټر" شو وه - ځکه مونږ هم ورته پېښه وکړه - مېدان له خلګو ډک ؤ - دَ څه هلې ځلې ورسته مونږ څلور واړو هم ځايونه پېدا کړو او کښېنستو - دَ

ketabton.com - The Digital Library

ښېښتني دوکانچې غوندې جوړ ستېج باندې دَ خاکو، سندرو پرته دَ پېغلو
ډانسونه هم په هره اړه دَ کتو او دَ زړونو دَ خوشحاله ولو وَړ ؤ - دَ دې دمامې
ځخه موږ دَ سري لنکنو په حقله دا تاثر واخيستو، چې دا خلګ چې ځومره په
ښکاره مړَغونې بربښي، دغه هومره دننه دننه مستي هم لري – او بيا دَ خوند
خبره دا هم وه، چې دا شو دَ نرانو پرته ښځو هم ورسره په ګډه کتله - او کله کله به
يې دَ يَو مستې سندرې سره ژغونه هم راپورته کړو – دولس بجو خواته چې دا
مېله سرته وَرسېدله، نو دَ زيات رش له سوبه مې دومره ديکې وَخوړَلې، چې دَ
کوټلو بدنونو سره دَ ريستې هاؤس په وړو خوُنو کې دَ غوماشو او زړو پنکهو دَ
کړَپې په پرته هم تر سهاره پورې ښه کرار ويده ؤ –

*****

سهار دَ چائيو په غټې مېز زموږ ليدل کتل دَ جان هوګر نامې انګرېز، چې له لندن
ځخه راغلی ؤ او په دې ريستې هاؤس کې اوسېدو سره وَشو - په يوازې ځان
دومره ديغ شوی ؤ، چې مازې يې دَ هېلو هائی بهانه غوښتله او بيا که ده دَ خپلو
ملګرو پېغلو، دَ ده له قوله نن ماښام دَ " آدمز پيک " ځخه بيرته راستنېدې ذکر
نه وائی کړی.... نو رضا ترين به ضرور ورته جوړه لاسونه نيولي وای - ولې چې
دا سړی دومره ژغېدو او داسې کړې وړې او ورانې خبرې يې کولې... لکه جوړه
چې دائی په دريمې نړۍ کې نه بلکې تر اولې نړۍ هم ځه مخته جوړې نړۍ دَ خپل
مخته آزادو ځوانانو په محفل کې ناست وي - بله دا، چې ده بل چا ته دَ خبرې
وار نه ورکولو... يوازې جان هوګر نه، بلکې دَ ريستې هاؤس په پټه او غلا
راغلې بنګاليان، چې دَ ريستې هاؤس وَ شاته جوړو شوؤ وړو خونو کې استوګن
ؤ، هم داسې راباندې بُوښېدلو، لکه موږ چې انسانان نه... عجوبې ؤ – اوس
ګوره، چې ځله دې خلګو نه يوازې په درنو سترګو راته کتلو، بلکې نزد ېکت ته
يې هم زړونه تخنېدلو - که ځه هم موږ دَ هغوئ په رنګه دَ ختو ځخه جوړ انسانان
ؤ -

ketabton.com - The Digital Library

دغه ورځ لس بجې خواته په بس کې کښېنستو او دَ کولمبو په لور مو مخه وکړه - دَ بس دا سفر زما دَ ملګرو ، په خاص توګه رضا ترین او جمعه خان د پاره دَ سکون وړ ځکه ؤ ، چې تر نرانو په کې ښځې زیاتې وې او هغه هم دومره زیاتې چې په یَو بل کې سره چیخلې چیخلې ناستې یا ولاړې وې ... که څه هم هاغه دَ جمعه خان خبره " ټولې تکې توري دي " ، خو دَ ملګري رضا په قول " دي خو ښځې " ... نو ځکه مو دا سفر له نیګامبو څخه تر کولمبو پورې په خندا او خوشحالۍ تېر شو او نصیب ترین چې دَ جمعه او رضا په خبرو او ټوکو یې خوند اخیستو بیا بیا وئیلو ، چې ...

" دَ پرون د رسته سترِیا او دَ ائیرپورټ دَ لغوَړنو هغه تنګول یوې خواته ... دا دَ نن دَ زړه له اخلاصه خندا بلې خواته ..."

دَ خندا اصل سوب دا ؤ ، چې یَو خو سره ګرمي وه او بل په دې بس کې راسره څنګ په څنګ په یوه یوه سیټ کې دوې دوې یا درې توري لچۍ وزمه پېغلې ناستې وې ، چې دَ بدنونو تودښت یې لا نوره سا راتنګه کړې وه او خولې یې راباندې ماتې کړې وې - له دې علاوه موږ په درست بس کې دَ هغوئ په نسبت سپین پوسته ؤ ، او څه څه دَ هغوئ په معیار پوره غوندې هم - نو ځکه به یې موږ ته بیا بیا او په نېغه کتلو - زما ملګرو خو به له یوې نیمې په سترګو کې سترګې داسې هم ورکرارې کړې ، چې شاوخواته ولاړو به پرې خندلو او ګوره چې هغو پېغلو ته به یې مبارکي ورکوله او پسخوندونه به یې ورباندې وهلو ؟

حال زما هم بد ؤ ... خولې راباندې ښې ډېرې را ایله وې ، خو ګوره ، چې دې زړه مې څله نه غوښتلو ، چې له چا سره خبرې وکړم ؟ خېر ، دَ یوې ګنټهې دَ مزل کولو ورسته دَ کولمبو ، چې دَ پاکستان دَ یَو ښار په رنګه ؤ په سخنې خیرنې بس اډې کې کښته شولو-

" دا خو پاکستان دی"

"هو ، هیڅ فرق یې نه شته "

ketabton.com - The Digital Library

دَ نصیب ترین له دغه خبرې سره موږ درې واړه ملګرې ځکه متفق شولو ، چې دَ
دې ځای په دوکانونو ، په فُټ پاتهونو او ماتو ماتو روډونو کې هیڅ تو پیر راته
نه شو ښکاره ... بس که بیا هم زموږ او دَ دې خلګو تر منځه څه توپیر ؤ ، نو هغه دَ
رنګت پرته دا... چې دَ جامو په اړه دَ دې ځای ښځې او نران تر ډېره هانده انګرېز
وزمه هم ؤ - تر یَو څه وخته پورې په کولمبو کې یَو روډ بل روډ پیاده وګرځېدو ،
خو داسې بله عجوبه چې موږ ورته حریان شوي وای مو تر سترګو نه شوه چې دَ
ذکر وَړ مې بللی وای - چپ له دې خبرې ، چې موږ یې په سوچ وهلو پارَولي ؤ ...
ګوا ، دَ اډې شاوخو او بیا تر لرې لرې پورې دَ روډونو یوې بلې خواته په تړو
باندې دَ لاټرۍ ټکټونو دَ خرڅلاؤ کاروبار دومره ګرم ؤ ، چې په کتو ورڅخه دَ دې
ځای دَ خلګو دَ معاشي بدحالۍ او لالچ اندازه ښه لګېدلی شوه - ولې چې زما
په خیال ...
" څوک چې په لاټریانو یا جوارۍ باندې خپل قسمت ګوري ، نو پوهی شه ، چې
یا خو یې کار دَ لاسه نه کېږي او یا بیا صلاحتونه نه لري او له ځانه یې هیله ختلې
ده "
دَ کولمبو په ګال نامي روډ باندې چې له ټېکسی څخه کښته شولو ، نو نصیب
ترین چې ښه ډېر په روسي ریاستونو کې ګرځېدلی ؤ ... یَو دم داسې وَوئیلو ...
" دا روډ او دَ روډ دواړو خواؤ ته جوړ دوکانونه او نورې ودانیانې ارومرو په
روسي ډول جوړې دي "
هو ، دَ ده خبره صحیح وه ، یَو روډ بېخي پراخ او ښائیسته ؤ او بل دَ پنډو
دېوالونو او غټو غټو دروازو دا دنګ دنګ او په جدید طرز جوړ دوکانونه او
کمرشل پلازې او دفترونه سترګو ته ډېر ښائیسته ښکاره کېدو .... رضا ترین ،
چې تر ډېره یې په حېرت ورته کتلو ، یَو ځای وَوئیل ، چې ...
" کشکې دا خلګ یې هم هغه رنګه ښائیسته وای
دَ جمعه خان کاکړ هم وار نه وَشو ، او خپله خبره یې داسې منځ ته راوَغورځوله ...

ketabton.com - The Digital Library

" بس دغه خو بدبختي ده .... چې چرته علاقه ښائیسته ده ، هلته خلګ بد رنګه ..
اوس ګوره ، چې په دې کې دَ خدائی پاک څه مصلحت دی ؟ "
او زه چپ په دې وم، چې ورږی وم او شاوخوا مې ریستورینټ لټولو - یَو وخت
چې موږ په دې روډ کې ، چې ورسره ورته تک شین سمندر او صفا سمندري
غاړه وه ... په خوا روان ؤ –نو دَ مسلمانانو یَو ریستورینټ مې تر سترګو شو -
دَ "حلال "لیکلی توری مې په بورډ باندې لیدلو په وخت ایله له خلې دَ
خوشحالۍ چیغه نهوَوته –او بیا په یو بل پسې څلور واړه ملګرې وردننه شولو
- په دې ریستورینټ کې دَ سرې لنکا دَ ځای خواړو څخه مو لا سم لاسونه نه ؤ
راټول کړي، چې موږ ټوله په خولو کې لانده خیښته شولو –دَ هر یوه ملګري له
خُلې څخه شپېلکیان په دې وتو ، چې ترخو مرچو یې خپل اثر ښکاره کړی ؤ -
دومره ترخه خواړه؟... وایم چې کله ما په ژوند کې نهٔ خوړلې –لکه دلته چې دَ
خېټې لوږې په ما او زما په ملګرو باندې وَخوړلو - زړه مې غوښتو ، چې منډه
کړم او وَدې نیږدې سمندر ته ورټوپ کړم - لاکن داسې مې کولی ځکه نه شو ،
چې پښتو نیولی وم– خیر، چې کله له دې ریستورینټ څخه ولاړېدو ، نو رضا
ترین چې له خلې فوُفوُفوُ غوندې توري وتلو .... په لغازي خندا کې واي...
"اوس پوهی شوم، چې دَ دې ځای خلګ دومره تک تور څله دي ؟"
او بیا په تېزو قدمونو څلور واړه ملګرې دَ سمندر دَ غاړې په لور روان شولو –
دَ کولمبو دَ سمندر دا غاړه، چې څومره ښائیسته وه، دغه هومره خلګ ورباندې
کم کم ښکاره کېدو ... او چې خال خال لیدل کېدو ، نو په هغو کې هم زیات دَ
بېلابېلو هېوادونو ټوؤرسټان ؤ - دلته دَ سمندر له غاړې سره ورته جوړه ګیږدۍ
ودانۍ دَ نورو ماډرن طرز جوړو ودانیانو په منځ کې ډېره ښائیسته او په زړه
پورې بربښېدله- دَ تصویرونو اخیستلو او دَ څه نور ګرځلاؤ ورسته یَو ځای
کښېنستو ... دَ نورو ګپو پرته رضا ترین چې دَ اوله یې لا په زړه کې جوړه کړې
وه .. خبره داسې منځ ته واچوله ...

ketabton.com - The Digital Library

" یَه ملگرو ! مورِ دلته پیسې دَ څه د پاره ګارَؤ ؟ نه خو دلته دَ کتو د پاره څه شته او نه بل څه ... ولې بنکاک ته دَ یو څو شپو د پاره نه ځو "
ده لا خبره سمه سرته رسَولې نه وه ، چې نصیب ترین لکه جوړه چې له هغه سره په صلاح وي ... یَو دم دَ ده خبره دا سې په تائیدي انداز کې مخته کش کړه ...
" هو ، دائی ربنتیا وائي ... دَ بلې میاشتې تر ۲ تاریخه خو به دلته چمچې وکړو – درځئ چې څو شپې هلته په تهائي لبنډ کې وکړو - بیا که جبېونو اجازه راکوله ، نو به دلته یوه نیمه شپه دَ راغبرګېدو په وخت وکړو "
جمعه خان چپ ؤ ، نه یې دَ هغوئ سره " هو " کولو او نه یې زما خبرې ته غوږ نیولو - که څه هم ما ډېر ډېر وَ یارانو ته وَوئیل ، چې ...
"دَ آدمز پیک دَ کتو بغېر دا زمورِ راتګ وَ سري لنکا ته بې معنا دی او بیا که تاسو ځئ .. نو لاړ شئ ... زه به دلته پاته شم ، ولې چې زه اول هم ورَغلی وم "
لاکن بیا چې کله جمعه خان هم له هغوئ سره په "هو" کې "هو" ورګډَول شروع کړو ، نو زه هم چپ پاته شوم او له ملګرو سره مې خوښه کړه - دَ دې سمندر له غاړې سره نیږدې دَ ائیرلنکا مېن آفس ته وره غلو ... بیا څه وخت ورسته دَ ائیرلنکا کنفرم ټکټونه دَ بنکاک د پاره ، چې دَ بل سبا یعنې دَ ۲۷مې جنورۍ ۱۹۹۴ع سهار اتهه بجې ورته تګ یقینې شوی ؤ ... چرته څخه چې به مورِ په ۳ مې فرورۍ بیرته راغبرګېدو ... په لاس کې دَ ائیرلنکا دفتر مخې ته دَ ټېکسي په انتظار ولاړ ؤ –
قضا ماځپښین دَ کولمبو په بس اډې کې دَ نیګامبو وَ بس ته وختو ... دا بس که څه هم دَ رش له سهارنۍ دلچسپیانو څخه خلاس ؤ ، خو دَ ملګرو ګپه په خپلو کې دومره سره خوږه وه ، چې دَ یوې ګنټهې سفر راباندې داسې تېر شو ، چې ګرسره وربانديې پوهی نه شوم - په خولو کې لانده خیښته دَ نیګامبو په بس اډې کې کښته شولو او نیږدې سبزي مارکېټ ته ورچپ شوؤ –هلته مې دَ خپلې خوښې دَ سبزۍ رانیولو پرته څو بندې کوپرې هم واخیستې او دَ ریسټ هاؤس په خوا مخه وکړه - دَ ریسټ هاؤس څخه ښه رالرې په یوه کوڅه کې چې څنګه

ketabton.com - The Digital Library

راوګرځېدو ، نو دَ یوه واړه کور مخته مو یوه تکه توره پېغله چې ښخي نرۍ جامې یې اغوستې وې .. په لمبېدو تر سترګو شوه .. دَ پلاستیک بالټۍ یې څنګ ته پرته وه او ډکې لوټې یې په ځان داسې ژر ژر اچوَلې ، لکه په وجود کې چې یې اور بل شوی وي – دا منظر په موږ کې دَ یوه خوښ شو ، خو دَجمعه خان دَ زړه خبره داسې په خُله باندې راغله ...

" واه ... خو دَ پښتو دَ فلمونو دَ باراني سینو نوبار مې پرې مات شو "

خبره وه هم دغه رنګه ، ګوا دَ هغې تورې انجلۍ دَ بدن هر اندام دَ لمدې او نرۍ جامې څخه ښکاره کېدو او بیا یې حیاء دومره غورځولې وه ، چې موږ ته یې کله پام شو ، نو په وازَکې انداز یې خندلو لا راته ببېل – بیا یَو وخت چې موږ ښه ډېر مخته ورڅخه تېر شولو ، او په بله کوڅه کې ښې لاس ته ګرځېدو له مخه چې مو په ورستې ځل شاته وَکتلو ، نو هغې خپلې خلاسې زُلفې دَ وچولَو په نیت یوې بلې خوا ته څنډلې لګیا وه او زموږ په لور یې لا هم هغسې دَ خوږلو په انداز راکتلو –ګوره ، چې اوس دا سپین سترګې وه او که موږ نادیده ؤ ... یا بیا دلته داسې غوندې حرکتونه کول څه عېب نه ګڼل کېږي -

په ریسټ هاؤس کې جان هوګر ، لکه زموږ په انتظار کې چې ناست ؤ .. زموږ په لیدو دَ چمني څخه را ولاړ شو او موږ ته یې هرکلی په ډېره مینه وَوئیلو - دَ هېلو هائی کولو ورسته زما واړه ملګرې خپلو خپلو کوټو ته مخه وکړه او زه دَ سره یار هوګر سره دَ مېز هال په صوفه باندې کښېښستم -

" ولې ... هغه ستا دوې ملګرې لا نه دي راغلې ؟"

زما دَ پوښتنې په ځواب کې ده وئیل ...

" یَه ... لا خو نه دي راغلي ... ځکه خو دیغ یم او دا ټوله ورځ مې دلته یوازې تېره کړې ده "

او بیا یې له خپلې خوا راته وئیل ، چې ...

" هغه دواړې زما ډېرې خوږې ملګرې دي – مګر دَ یوې سره مې هم جنسي تړون نه شته .. ولې چې ما ته تش دَ انډین انجلۍ سره سیکس کولو کې خوند راځي "

ketabton.com - The Digital Library

دا خبرې يې چې کولې نو په خپل شوخ انداز کې راته دَ ټوکو کولو په موډ کې برېښېدو ، نو ځکه مې ورڅخه پوښتنه وکړه ...

" انډين انجلۍ څله؟"

ده چې بيا په خندا خندا کومه خبره وکړه ... هغه دلته دَ ليکلو وَړ نه ګڼم .. ولې چې زه نه غواړم، چې خپل لوستونکې جنون ته وَرسَوم – خېر، ما بيرته دَ ده فکر دَ دې خبرې په خوا ور واړَولو ، چې ...

" دَ ده څله دَ انګرېزي انجلۍ سره نه لګېږي - که څه هم موږ. اورېدلي دي چې هغوئ ملګري په ډېر اخلاص کوي"

خو ده وئيل...

"هو ، اخلاص يې په خپل ځای، لاکن جيبونه خو هم خالي کوي"

نو دَ جان هوګر مطلب دا شو ، چې انډين انجونې له سرو سپينو انګرېزانو او يورپئينو سره بې غرضه دوستياني کوي - دا سې يې نورې خبرې هم وکړې او يَو وخت يې په خبرو خبرو کې دَ خپل مور او پلار

چې تر خپلو دَ بېل شوې ؤ په اړه وئيلو، چې ...

" مسټر شوق ! زموږ. په مغربي ژوند کې دَ سړي ساه تنګېږي .غرض غرض فقط غرض ، نفسانفسي او شپه او ورځ کار کار ... زما خو له انګلېنډ څخه بد کېږي .. ځکه اکثره انډيا ته ځم راځم"

او دغه رنګه ما او ده په خبرو کې دَ ماځُستن نهه بجاؤ کړې ، چې دَ ډوډۍ دَ مېز په خوا تلو ، نو يې راته وئيل...

"چې زما ملګرې څنګه راشی ، نو له تا سره يې ضرور ليدل کتل کوم"

او بيا موږ. دَ خپلو نورو درو ملګرو سره په دوډۍ باندې ورمات شولو -

*****

سري لنکا ، چې ډېر پخوا دَ برصغير سره تښتې برخه وه ، يَو وخت دَ مست سمندر او بو له وَچې مځکې څخه بېله کړه او اوس دَ بحرِهند او دَ Bay of Bangal په منځ کې ځانته په يَو بېل ټاپو باندې جوړ هېواد دی- رقبه يې په

ketabton.com - The Digital Library

۲۵، ۶۰۲ مربع کلومیټرانو باندې اړه لري - او ۲۰،۱۷ ملیونه ژوندي سرې انسانان په کې اوسېږي - دَ نرانو اوسطاً متوقع دَ ژوندي پاته کېدو عمر ۷۲ کاله او دَ ښځو ۷۸ کاله دی – که څه هم کولمبو دَ سري لنکا تر ټولو غټ کمرشل ښار دی ، خو دارالحکومت یې Javewardenepur نامې ځای دی - دَ کولمبو آبادي ۶۴۳۰۰۰ خلګو باندې اړه لري .. په سري لنکا کې سرٍکال دَ کښتې درجه حرارت 16* C او دَ لوړې درجه حرارت 27*C ده -

اوس به لا ما " دي مېګزین آف ائیرلنکا" دَ Serendih نامې رسالې څخه نور معلومات تر لاسه کولو ، چې دَ شپې یولس بجې خواته دباندې په مېن هال کې دَ ښځو ژغ راپورته کېده شروع شو - زړه مې غوښتلو چې ورپورته شم او وګورم، چې څه پېښېږه ده ؟ اوس به مې لا دَ ولاړېدو هڅه کوله، چې دروازه وَټکېدله ... ور پورته شوم او دروازه مې خلاسه کړه ... څه ګورم ، جان هوګر ولاړ دی او وائي راته ...

"بخښنه غواړم ... ستا دَ خونې بتې مې بله تر سترګو شوه ، نو ځکه مې زحمت درکړو ... راځه ، چې له خپلو ملګرو سره دي پېژندګلوي وکړم "

او بیا لږ ساعت ورسته زه له هغوئ سره ولاړ وم او هوګر وئیلو ...

" دا زما ښې لاس ته اوله پېغله" لنډا " نومېږي او هغه دویمه چې په سُرت ښه چاغه ده .." نکي "..... ده"

نکي، چې دَ جان هوګر په ټوکه یې نري نري خندلو راته وائي ...

"هائي "

او دې بلې هم دغه رنګه توری تکرار کړو او بیا ما هم خپل نوم ورته وَښئیلو – خبرې دَ پېژندګلوئ څخه یَو دم دَ " آدمز پیک " پورې وَرسېدې - دوئی وئیلو ...

"موږ وَ دې ساده خلګو ته حریان یُو ، چې دا خبره یې څنګه وَمنله چې دا دَ آدم پَل دی ؟"

ما پوښتنه وکړه ...

ketabton.com - The Digital Library

" څله... دا خبره تاسو په کومه حواله وکړه ؟"
لنډا ، چې په سترګو کې دَ خبرو کولو خورا غښتلې وه ، زما دَ پوښتنې په ځواب کې وئیلو ...
" زما په خیال دغه رنګه نخښې اکثره په غرونو کې لیدل کیږي او بیا دومره غټې پَل ... اوو مائي ګاډ .. چې اوږدوالی یې پنځه فُټه او څلور انچه او دوه نیم فُټه پلن ؤ ... زړه مې نه مني.. چې دَ انسان دَ پښې پَل دی "
دَ لنډا دَ خبرو مطلب هم دا ؤ ، چې دَ سري لنکا مسلمانان او عیسایان په دې باب چا غولولې دي - ما سر خو ورته پورته کښته وَښورَولو ، لاکن په سوچ کې ورک ځکه شوم ، چې زما دَ معلوماتو په سمون د پښې دَ دې پَل په باب که څه هم دَ سري لنکا او ځینې نورو هېوادونو مسلمانان په دې یقین سره وائي ، چې کله خدائی پاک بابا آدم علیه السلام دَ جنت څخه دَ غره په دغې څوکه ، چې قریباً ۷۰۰۰ فُټه هسکه ده، راکښته کړو ، نو ده دَ خپلې غلطۍ دَ بخښنې دَ پاره زرهاؤ کلونه په یوه پښه وَدرېدو ، او په ژړا ژړا یې خدائی ته فریادونه وکړو-
خو خبره شکمنه په دې شي ، چې دِ آدم بابا دا پَل چې Sri Pada هم ورته وئیل کېږي ، دَ بُدهمت مذهب منونکې یې دَ بُدها دَ پښې پَل ګڼي او وائي چې... کله ماتما بُدها له دې غټې جزیرې څخه وتو ، نو په یوه پښه ولاړ یې دلته ریاضت کړی ؤ - نه یوازې دا ، بلکې هندوان بیا دا یقین لري چې دا دَ رام چندر دَ پښې پَل دی - ګوا دَ یَو روایت په سمون ، چې کله رام چندر دَ خپلې اغوا شوې ښځې سیتا دیوي دَ بري کولو په نیت دَ هندوستان څخه سېلون خواته پېښه وکړه، نو دَ خپل فوځ دَ راهنمائي کولو په نیت یې دا پَل جوړ کړو- نو ځکه درې واړه دَ مختلفو مذهبونو منونکې ، هر کال په جنوري او فروري میاشتو کې آدمز پیک نامې دَ غره څوُکې ته خیږي او زیارت یې کوي -
څوک په حق او څوک ناحقه ؟ خو دَ مسلمانانو دَ دې اسلامي تاریخي روایت څخه هم انکار نه شي کېدلی ... چې ګڼې دَحضرت آدم علیه السلام وجود دَ مکه مکرمه او طائف له منځنۍ علاقې ( چې تاکنه یې نه ده شوې ) له خاورې څخه ،

ketabton.com - The Digital Library

نه یوازې جوړ کړل شوی ؤ – بلکې تر ځلو ښښت کالو پورې دلته بې روح او بې ژونده پروت ؤ ... او بیا دَ جنت څخه په مځکه راکښته کولو په حقله وئیل کېږي ... چې دائی په سري لنکا کې هم په دغه غره باندې راکښته کړلی شو - او دَ روایت په سمه دَ آدم بابا قد ۲۰ فُټه ؤ ، نو لازمې خبره ده ، چې دَ پښې پَل به يې هم دَ نن دَ عام سړی دَ پَل څخه ببخي غټ ؤ - مګر دا خبره ببله وه ، چې دې لنډا نامي انګرېزي انجلۍ زړه دَ دې حقیقت دَ منلو څخه ځله منکره ؤ- یَو وار لا زړه ته راغلو ، چې ورته وَوایم ، چې که دَ پخوا زمانې هغه ډائناسور ، دَ یوه وخت خوراک يې دَ یوې اندازې په سمه دَلس څخه تر پنځلس ټنو پورې ؤ ... که دَ ماهرینو په اندازه په ارتقائي عمل کې راتېرېدو ورسته دَ نن دَ وړې چرمشکۍ په جُوثه بدلېدلی شي ، نو بیا دَ دُنیا دَ لومړي انسان دَ پښې پَل به دَ نن دَ انسان په مقابله کې غټ ځله نه وي- دا خبره ورته دَ کولو وه ، خو وَمې ځکه نه کړه ... چې مباحثه ورځخه جوړېدلو امکان ؤ او ما نه غوښتلو ، چې دَ شپې په دې نا موذونه وخت باندې ریستټ هاؤس په سر واخلم -

خبر ، لنډه دا ، چې دا ټاپک ځنګه ختم شو ، نو دَ ځینې نورو خبرو ورسته هوګر راته وائي ...

" زما اراده ده ، چې دَ دې ټوؤر ورسته دَ ټوړرسټانو ګروپ جوړ کړم او په بس کې په نیمې نړۍ باندې راوګرځم "

په دې خبره کې چې ما هم ځنګه دَ خپلې خوښې اظهار وکړو ، نو لنډا وائي ...

" هو ... که ته زموږ سره په دې ټوؤر کې ملګري وکړې ، نو ښه خبره به وي "

نیکې هم زما په ګډون کې دلچسپۍ ځرګنده کړه ، ما ورته وئیل ...

" کېدلی شي ... مګر چرته به سره غواړو او بیا زه به په تاسو کې بد نه ښکاره کېږم که ځنګه ؟ "

هوګر زما دَدې خبرې سم دستي تر برېتونو دلاندې وَموسېدو او وائي ...

" ستا پته راسره ده ، کله چې هم داسې پروګرام جوړ شي ، نو خط به درته وَلیکم او ټول پروګرام به په کې نوښته کړم

ketabton.com - The Digital Library

ما به لا ورسره خوښَوله، چې هوګر بیرته په پسخوندي او شرارتي خندني انداز خبرو ته چمتو شو ...

" لنډا یا نیکي به درسره ملګري وکړي "

ما دَ موسپدلو ورسته په طائرانه نظر یَو ځل لنډا او بیا نیکې ته په دې نیت وکتلو ، چې ګوره دوئی څه ردعمل ښکاره کوي ؟ لاکن دَ دواړو له خوا هیڅ قسم ریسپانس نه راغلو مخې ته - بلکې دَ هوګر دا خبره دواړو لکه چې په ځانونو بده هم ګڼلې وه ، ځکه خو چپ غوندې وې .. ما هوګر ته په شرارتي موسکا کې وئیل ...

" خبر دی .. زه به بې دَ ملګرې درسره ملګرې شم ، هغسې هم یوازې یم "

دا خبره چې مې کوله، نو لنډا یَو وار په برګو راته کتلو ورسته په موسکا کې وائې ...

" No problem , I will join you "

که څه هم هغې ټوکې کولې، او زه هم په غلط فهمۍ کې نه وم مبتلا شوی دَ هغې په داسې خبرې ... خو خبر نه یم، چې بیا تر څو پورې په دې محفل کې ناست وم، نو دَ ځینو ټوکو او شوخیانو سره ګنډلې خبرو پرته شین سترګې لنډا په سترګو سترګو کې ګوره چې څله خبرې راسره شروع کړې وې ؟ هرڅه هرڅه ، خو زه په دې خبر وم، چې په انګرېزانو کې دوستي او ملګرتیا دَ مشرقي معاشرې په رنګه په یوه معنا کې نه اخیستل کېږې .. نو ځکه دې وخت زما او دَ لنډا سترګو ، ګوره چې په یَو بل کې کوم تړون موندلو ... مینه او که دوستي .. یا هسې ټائم پاسي؟

*****

"شوقه !لاړې زموږ له کاره وَوتې"

دا خبره سهار دَ نهو بجو خواته چې موږ دَ چائیو په مېز راغونډ شوي ؤ ، جمعه خان کاکړ په خندا ځکه وکړه ، چې زه دې وخت دَ جان هوګر، لنډا او نیکي سره

ketabton.com - The Digital Library

په خبرو اخته وم - خبره یې ډېره غټه او بامعنا کړې وه، نو ځکه مې دَ ملګري جمعه په خوا مخ واړَولو ...

˝یاره ! داسې خبره هم نه ده ... مسافران دي او بیا یې زړه راسره غواړي هم ˝ ما چې ځنګه خبره کوله، نو په سُرت چاغې نیکي پوښتنه وکړه ...

˝ دا روسی ژبه ده چې تاسو یې وایاست ؟˝

یَو وار مې لا زړه ته راغلو، چې ورته وَوایم، چې˝ هو ˝ لاکن دَ دننه پښتون مې سر راپورته کړو او ورته وئیل مې ...

˝ یَه .... دا پښتو او افغاني ژبه ده ˝

زما په دې ځواب لنډا وائی ...

˝ یس یس افغانستان ... ډز ډز .. سیول وار ˝

که څه هم دې دا خبره په خندا کې وکړه ، خو داسې راباندې وَلګېده لکه ټک چې یې راباندې کړی وي ... خو وَ مې زغمله - ځکه چې ښځه وه او راباندې اوس لړه لړه ګرانه هم ... ولې چې خپل ښائیست یې دَ شنو سترګو په اشارو کې راباندې لوګی کولو له نیت سره سره فرېنډ فرېنډ هم راته وئیل شروع کړي ؤ ..

رضا محمد ترین چې له ډېره وخته چپ ناست ؤ او سترګې یې په دغو انګلسی پېغلو کې داسې کرارې کړې وې ، چې یوې بلې خواته یې نه کتلو ... هم اوس یو بل سګرېټ ته تیلی پورې کولو ورسته دَ خپلې سینې څخه دَ یو ګڼ لوګي خړُوسکه را یستله او په موسېدلې انداز کې وائي ...

˝ درځئ چې دَ سمندر غاړې ته ځو ... اوس خو خپله پښتو راڅخه هېرېږي ˝

او بیا له مورږ سره دغه انګرېزان ملګرې هم دَ ریسټ هاؤس څخه دباندې وَوتو ... مګر زمورږ مخه دَ سمندر دَ غاړې په لور وه او دَ هغوئ قدمونه دَ نیګامبو دَ ګڼې آبادی په خوا ...

که څه هم دَ بلې میاشتې په درې تاریخه به دلته دَ دوؤ درو شپو دپاره له بنکاک څخه بیرته راتلو ، خو له دې خوا ، دا زمورږ آخیري ورځ وه - نو ځکه مورږ غوښتلو چې دَ دې بیچ پرته دَ نیګامبو ټولې کوڅې هم کچ کړو او نور نور

ketabton.com - The Digital Library

زړخوشیانې دَ خپلو دیغ شوؤ زړونو دَ سکون دپاره لوګی کړو - یوې بلې خواته آواره ګردي کولو په وخت چې کله مې یَو داسې تور ځوان ته پام شو، چې دَ ناریل دَ بېخې نرۍ او دنګې غوندې ونې وَ رک سر ته ورختلی ؤ .. نو مې نابېره له خُلې څخه وَوته ، چې ګنې...

" وئ خوائیه ! دَ ناریل په داسې نرۍ وَنو ، چې دا خلګ خېږي.. نو ماتېږي څله نه ؟"

رضا چې زما وَ څنګ ته روان ؤ، زما په دې خبرې اول وَ خندلو او بیا یې وئیل ...

" دا نو اوس کله خلګ ؤ ... خو ، ټول دَ ونو مړې دي او دَ مړو یا چرُمشکیانو په زور ونې کله هم نه ماتېږي"

دا خبره څه وه، چې موږ ټولو ترډېره پورې پرې خندلو او په خندا خندا مو له دې ټوکې سره ترلې نورې نورې خبرې دَ سري لنکنو په باب تر خپلو زیرِبحث راویستې -

دلته چې زموږ له چا سره هم خبره شوې وه، هر یَو په انګرېزۍ یا خو پوهېدو او یا یې ښه په خوند وئیلی شوی- او بله دَ خوند خبره دا هم، چې موږ هم دَ هغوئ په رنګه ترډېره په لوُڅو پښو وَګرځېدو - هم ځکه چې چا به هم راته کتلو، نو نه یوازې به یې ترډېره راته کتلو ، بلکې دَ خبرې له تاثره به یې له ورایه راته داسې وَ برېښېده ... لکه هغه چې زموږ په دغه حرکت باندې ډېر خوشحاله وي - او دَ خپلوئ په نظر به یې راته کتلو- دَ ماښام ډوډۍ که څه هم موږ دَ شپې دَ لس نیمو بجو خواته وَخوړله ، خو خاص خبره په دې ډوډۍ کې دا وه –چې یَو خو، خواړه جمعه خان او رضا ترین دَ نصیب ترین په کومک تیار کړي ؤ .. او بل جان هوګر ، نیکي او لنډا زموږ خصوصي مېلمانه هم ؤ - رضا او نیکي چې څنګ په څنګ ناست ؤ ، دَ ګپو پرته یې غُوڅي په خپلو کې بیا بیا داسې سره لګولو هم ،،، لکه جوړه چې له پخوا راهسې پاخه او خواږه دوستان یا مائینه او مېړه وي سره - خو غم دا ؤ، چې له دې پرته یې هم په خبرو باندې یَو بل سم نه شو پوهی کولی - ولې چې نیکې په خپل حلق کې په ګرانې انګلسۍ کې ژغېدله او رضا ترین دَ

ketabton.com - The Digital Library

ګلابي انګرېزۍ سره په پښتو هم ورته ګډ ؤ - دلته يَو وخت چې مورِ ټولو دَ رضا په ګپو خندلو ، نو رضا په خپله مخصوصه خندا کې وَ وئيل ...

" يَه ملګرو ! تاسو ولې زما او دَ دې په تعلق او مينه سوځئ ؟"

نصيب ترين ، چې له ډېري خندا يې لاس په خېټه نيولی ؤ .. ورته واي ...

" دا دې خدائی ستا نصيب کړي ... انډيا ته به ورسره ولاړ نه شې "

رضا چې دَ خلې ځخه يې ځنګه ..." هو ، ځم ورسره ... ځم ورسره " غوندې توري وَ وتو ، نو ګوره چې لاس يې دَ نيکې په غلط ځای وَ لګېدو او که په اوږه يې دَ رضا لاس اچول خوښ نه شو ، چې يَو دم سنجيده شوه او دَ رضا ځنګ يې پرېښولو ..

ولاړه شوه او دَ جان هوګر سره کېنې لاس ته په خلاسې چوکۍ باندې کښېنستنه - بيا رضا که هر ځومره دَ هغې توجه خپل ځان په خوا اړَولو هڅه کوله ، خو نيکې هيځ ريسپانس نه ورکولو ...

" آخر مې سره ياره راځخه خفه کړه "

رضا که څه هم دا خبره په خندا وکړه ، خو نصيب ترين په سنحيدګۍ کې ورته وَوئيلو ...

" رضا بس يې کړه ..داسې نه چې دا خلګ زمورِ په حقله بد تاثر واخلي "

له دې واقعې پسته محفل سنجيده غوندې شو –دَ ډوډۍ خوړَلو ورسته دَ جان هوګر په خوښه دباندې لان ته وَوتو .. او بيا دَ شپې دولس بجې ځنګه بجاؤ شوې ؟... په دې ګرسره نه شولو پوهی -

دَ ۲۷ مې جنورۍ سهار ځلور نيمې بجې مامون وَژغوَلو .. دَ چائی ځيښلو او ضروري تياري کولو ورسته بيا ځلور واړه ملګرې پاؤکم شپږ بجې په ټېکسي کې دَ ائيرپورټ په خوا روان ؤ - دلته دوي ګنټهې انتظار کولو ورسته چې جهاز ته وَختو ... دَ جهاز په دروازه کې دوؤ ولاړو ائيرهوسټېسانو دَ مسافرانو هرکلی په خپله ژبه کې داسې کولو ...

" Ayubowan ….. Ayubowan "

ketabton.com - The Digital Library

او ډېر ژر بیا مو ږ تر اوریځو هم ښه بالا دَ تهائي هېوا د دَ حُورو دَ ښار په لور مخه کړې وه ... دا سفر په هره اړه خوندَور ؤ - هو ، سفر به ولې ښه او خوندَور نه وای ، چې یَو ځل بیا دَ " دَ حُورو دَ ښار " په لور روان وم - نو ځکه مې دَ ګڼو وډو خیالاتو په رڼا کې دا نظم ، یَو وخت په ډائرۍ کې نوښته کړو ...
"ستا په لورې در روان یم"

زه هم ستا غوندې انسان یم
ژمی ، دوبی
سپرلی ، منی
په وجود محسوسَومه
او به ځیښمه
ډوډۍ خورمه
او ساه ګانې لوبَومه ،
خو ، که فرق شته ما او تا کې
نو ، هم دومره
فقط دومره
چې ، ته اوسې په خپل ځان کې
دَ شیشې غوندې مکان کې
او ما ستا دَ غم دروند پېټی
په اوږو باندې اخیستی
ستا په لورې در روان یم
( شوق / کولمبو څخه دَبنکاک په لور په فضائي سفر کې / ۱۹۹۴ع )

ketabton.com - The Digital Library

# هلته لمر دَ شپې راخېږي

## تاثراتي لنډيز...

---

" چرته چې لمر دَ شپې راخېږي ... نو حقه خبره ده ، چې هلته به خلګ دَ ورځې دَ رڼاګانو څخه نه يوازې بې خبره وي .. بلکې دَ کار او زيار څخه به هم تنګ وي - هو ، دا دَ هغې پټايا بيچ خبرې دي ، چې ځان ته دَ شپې دَ ژوند کولو په اړه په درستې نړۍ کې سارى نه لري ... دلته دَ ښځو راج دی ... نران شته په کې ، مګر دَ ښځو تر واک دلاندې - دا بېله خبره ده ، چې ظلم بيرته هم نران وربانديې روا کوي او هغه هم دَ دغو ښځو په خپله خوښه – هم ځکه خو دَ نړۍ دَ هر هېواد څخه ډک ډک جهازونه ، که څه هم خالي کېږي په بنکاک کې ... خو مخه يې دَ سوارليانو دَ پټايا بيچ په لور وي "    ( شوق )

---

" دَ سلو يار "
څوک چې ګوري راته
وايم ... دا به ته يې
څوک چې خاندي راته
وايم... دا به ته يې
دا به ته يې
دا به ته يې
دا به ته يې
بس په دغه رنګه
زه په " دا " او " دا " کې

ketabton.com - The Digital Library

پەلټون ستا دَ څېرې
دَ سلو یار شوم
(شوق / دَ کراچۍ څخه دَ بنکاک پەلور پە هوائي سفر کې / ۱۹۹۴ع)

---

ها غه څه وائی ... " یار دَ یار دَ پاره خوري دَ غوا یه غوښې " که څه هم زما خوښه نه وه، خو دَ یارانو دَ ضد مخې ته مې وسله اچولې وه - او په ۲۷مې جنورۍ ۱۹۹۴ع ماخپښين يوه بجه په ائيرلنکا کې دَ " دَ ګُورو ښار " يعنې بنکاک په ائيرپورټ باندې له ملګرو سره ګنډلی کښته شوم .. انتهري ويزا لګولو ورسته چې دَ ائيرپورټ څخه دباندې وتو ، نو ملګري ډېر خوشحاله ؤ او هر يوه په خپل خپل طرز دَ ائيرپورټ دَ ښائيست پرته دَ دې ځای دَ خلګو او ښائيسته څُوئيونو ستائينې کولې ... او جمعه خان خو لا داسې هم وَ وئيلو ، چې ...
" چرته دَ کولمبو او نيګامبو غوماشې او چرته دا خواپاکي او ښائيست "
ده لا نور وئيلو ، چې نصيب ترين ورته وئيلو ...
" زور خو دا خبره راکوي ، چې بيرته به هم ورځو "
مګر رضا ترين چې دې وخت يې حريان حريان شاوخواته کتلو ، خپله خبره داسې وَکړه ...
" غم مه کوئ دا يَو څو شپې او ورځې خو به ښې تېرې کړو "
او بيا چې په ټېکسي کې کښېنستو ، نو مې يارانو ته وئيلو ...
" دَ پيسو سره به خيال کوؤ .. دلته پيسې ډېرې ګارېږي "
دا خبره چې مې کوله، نو ټېکسي دَ ائيرپورټ څخه مېن روډ ته را وتی ؤ – دَ جي- پي – او ائيريا کېنډې ريسټ هاؤس داسې خو دَ اوسېدو وَړ نه ؤ ، خو شبه مې په کې تېره شوه - دَ شپې په ښار کې ډېر زيات ګرځېدلو او راګرځېدلو ... يو نيم ځای خوراک او څېښاک کولو ورسته چې ريسټ هاؤس ته راغلو ، نو په ځای دَ آرام کولو ... ښه تر ډېره ناست ؤ او دَ نورو ګپو پرته مو دَ سهار دپاره دَ تهائي هبواد دَ تاريخي او زوړ ښار چيانګ مائي ته دَ تلو پروګرام

ketabton.com - The Digital Library

چې ځنګه حتمي کړو .. نو خپلو خپلو بسترو باندې دَ خوب کولو په نیت وَغزېدو-

سهار ته چې مې سترګې خلاسې شوې ، نو اتهه بجې وې – دَ تیاري کولو او پیاله پیاله چائی څیښلو ورسته دَ بنکاک په ښار کې دَ سېل کولو په نیت ورګډ شولو - که څه هم ماته دَ دې ځای چاپېر نابلده نهٔ ، خو بیا مې هم ښه ډېر خوند ورباندې اخیستلو - له یوه مارکېټه څخه بل مارکېټ ته چکر څه ... چې دغه رنګه موږ په بلا مارکېټونو باندې راوګرځېدو ...

"ډېر ښائیسته او پاسته خلګ دي دا تهائیان"

نصیب ترین چې دا خبره ځنګه وکړه ، نو رضا دَ سګرېټ په کش کې واي ...

" هو ... په خاص توګه دغه تهائي پېغلې دوکاندارانې ... چې هر کاروبار په ډېره خندا خوشحالۍ کوي"

دَ هغه په "هر کاروبار" باندې ټولو دَ هغه په لور ورو وَکتلو ، خو بیا هم یوه دَ هغه دَ دې خبرې نفي نه وکړه - ولې چې دلته که نر دی او که ښځه په ظاهره ډېر خوشحاله برېښي ... ګوا له غمه خلاس خلګ او ټوؤرستانو ته احترام لري - نور داسې هیڅ بد نه شته په دې خلګو کې ... بس که یَو ټورسټ یا مشاهده کونکی دغو خلګو ته ګوته نیسي .. نو هغه ده ، دَ دوئی بې لګامه او ناروا عیاشي – سترې شوی هم ډېر وم په دې سېل کې - خو دَ ټولو ملګرو په خوښه مو دا فېصله وکړو ، چې په سترېا وسا کولو کې دَ وخت ضائع کولو ځای به دا خبره بهتره وي ، چې دَ ماځیګر په ټرېن کې دَ چیانګ مائي په خوا روان شو او درسته شپه په خوب کې تېره کړو... او دغه رنګه مو وکړو - ګوا قضا ماځیګر خواته په ټرېن کې کښېنستو او دَ خپل منزل په لور مې پېښه وکړه - داسې خو دا ټرېن څه خاص نهٔ ، خو دَ صفائي او پراخه پراخې له سوبه یې سړی متاثره کولی شو - او بل دَ ټرېن دا ډبه ، چې موږ څلور ملګري په کې ناست ؤ ... دَ تهائی ښځو څخه دومره ډکه وه ، چې دَ نه غوښتلو پرته هم په درو بې خونده تهائي پېغلو سره په ګپو کولو کې کښېوتو –او خبرې مې په خپلو کې سره ایله شوې - دا څه نوې او

ketabton.com - The Digital Library

خاص خبره نه وه - زه ښه خبر وم، چې دلته زياتره پېغلې دَ سړيانو سره ملګرتيا دپاره مازې بهانې غواړي –

" تر بنکاک خو دا دَ ټرېن سفر يَو په لسه ښه دی

ګوره چې نصيب ترين دا خبره په کومه حواله وکړه و خو رضا ترين چې دَ يَو بې ډؤله غوندې جوړې تهائي پېغلې سره جوخت ناست ؤ ، دَ نصيب ترين خبره داسې مختته تائيد کړه ...

" هو ، داسې ماحول خو خوش بختو ته نصيب کېږي ... څنګه کاکړ صاحب .. صحيح وايم که غلط ؟"

او کاکړ صاحب هم ورته وئيل ...

" په خوند کې يې هيڅ شک نه شته ، مګر دې شوق ته ګوره چې په کومه يې روان کړي يُو "

چې خبره تر ما پورې وَ رسېده، نو ورته وئيل ،،،

" چيانګ مائي ښار مې ليدلی نه دی ، خو له خلګو مې اورېدلي دي چې دا ۷۰۰ کلن پخوانی جوړ شوی ښار دی ( چې دَ ۱۱۰۰ کاله پخواني جوړ دَ بُدها ټېمپلز پرته يې شنې درې دَ کتو وَړ دي ) بله دا ، چې دا ښار دَ تهائي لېنډ دويم غټ ښار دی "

ټرېن چې به کله په يَو ستېشن وَ درېدو ، نو موږ به هم ورځخه دَ څو منټو دپاره کښته شولو – دلته مې دا وَ سنجَولو ، چې ستېشن غټ ؤو که ووړ ... هر ځای خوش رنګې دَ بنکاک په حال وه - بس که تر منځه يې توپېر ؤ ، نو په لباس کې ... ګوا دَ بنکاک په چپه دَ تهائي لېنډ په منځنئيو برخو کې پېنټونه او سکرټونه کم ليدل کېږي - دَ لارې دَ ستېشنانو نومونه مې ځکه په ډائرۍ کې نوښته نه کړو ، چې دَ اشارو په ژبه هغو درو پېغلو ، چې درې واړه دَ چيانګ مائي اوسېدونکې وې سره سم نه پوهېدلو ... بس يَو مې دَ صوبه "لامپانګ" ،څه غټ غوندې رېلوې ستېشن ؤ ، چې لامپانګ نومېدو دَ "لامپانګ" نامې ښار کې يَو خواته جوړ ؤ .. او بل ، يَو وخت موږ په "لامفون " نامي ستېشن باندې دَ لس منټه دپاره کوُز

ketabton.com - The Digital Library

شولو- او بیا چې څنګه څنګه ترېن دَ چیانګ مائي په لور مزل لنډَولو ، نو هغه درې واړه انجونې، چې دَ یوې نوم Nid ؤ ... نورې نورې رانیږدې کېدې –که څه هم زما سر دَ هغوئ په مطلب خلاس ؤ ، چې دا انجونې په موږ باندې ځانونه راناوان کول غواړي –خو ، یارانو دَ خلې دَ بازۍ پرته دَ لاسو بازۍ هم پېئیل کړې وې او ناشُوده دا ، چې په دې ډبه کې ناست نورو مسافرانو په هیچا باندې هیڅ باک نه درلودلو- هر یَو خپلې مخې ته آزاد ؤ ، زه لا ښه وم، یَو دوې ګنټهې خوب مې هم وکړو –خو یارانو دَ دوؤ لمحې دپاره هم سترګې نه کړې پټې –ولې چې هاغه دَ جمعه خان خبره ، چې ...

" بیا چې کله کورو ته وَ رسېږو ، نو ښه ډېر خوبونه به وکړو - دلته په خوب او خوراک باندې وخت نه دی ضائع کول په کار "

نه یوازې دا دَ جمعه خان نظر ؤ ، بلکې ورسره نورو دوؤ ملګرو هم دغه رنګه وئیلو - لنډه دا ، چې دا یادګار سفر ،چې په ۷۵۱ کلومیټرانو باندې یې اړه لرله په څورلس ګنټهو کې سرته وَرسَېدو او اتهه بجې سهار مو دَ چیانګ مائي په غټ ښار کې قدمونه کښېښولو –

*****

په هوټل کې دَ څلور ګنټهو دَ خوب او آرام ورسته ، ماښپښین دوؤ بجو خواته په ستهي ټوؤر باندې وَوتو - لومړی موږ Wat Chiang Man ته ورَغلو –چرته چې په کال ۱۲۹۲ کې جوړه شوې دَ بُدها مجسمه نه یوازې دَ نمائش ، بلکې دَ تهائیانو دَ عبادت دپاره ږدل شوې وه - دا ځای ښځې پخوا دَ چیانګ مائي باچا Mengrat دَ استوګنې دپاره په استعمال کې راغلی ؤ - دلته دَ بُدها له یَو بُت سره په تختۍ باندې دَ هغه دَ بنیادي نظرئیې اصول په انګلسۍ کې داسې لیک ؤ ...

( ترجمعه ) ....." په دُنیا کې ( توبه نعوذوبالله ) یَو خدائی هم نه شته - بس دَ ښو او بدو کارونو صله انسان ته په خپل ژوند کې دَ سزا او جزا په صورتونو کې ورپه برخه کېږي "

ketabton.com - The Digital Library

دَ دې ورسته موږ درې واړه ملګرې Wat Phra Sing او Wat.U. Mong ... چې دراصل يَو نغم ؤ ، ته ورَغلو – دلته هر ځاى دَ بُدها پخوانى مجسمې پرتې وې ... يوه نيمه مجسمه ، چې عمر يې تر زرو کالو هم څه زيات ؤ .. دَ کتو وَړ ځکه وې ، چې دغو بُتونو په کړو وړو کې بُدها ته څه څه تهائي وزمه بڼه ورکړل شوې وه او داسې يې ښکاره کړى ؤ ، لکه هغه چې دَ نيپال په لومبېنې نامې ځاى کې نه بلکې هم په دغه تهائي سيمه کې پېدا شوى وې - او دَ دې ځاى دَ تهائيانو خيال هم څه دغه رنګه ؤ - هو ، لکه دَ ځينو ماهرينو دَ رائيو له مخه دَ باميان له جوړ شوې غټ بُت سره دَ بُدها استوګنه تړې - ګوا دا خبره مې مزغو ته بيا بيا سوال کېده ، چې دَ بُدها منونکې دَ بُدها په اړه صحيح معلونات نه لري او که له خپلو يې خپلې سيمې سره يې منسوب کول دَ هغه سره دَ زيات عقيدت ښوؤنه کوي ؟

په Wat Suan Dok نامي ټېمپل وزمه ځاى کې جمعه خان کاکړ دَ ۵۰۰ کلنې پخوانى له Bronze څخه جوړې مجسمې سره په څنګ کې ولاړ وئيل يې ...

" خدائى ته وَ ګورئى ... درځئ چې ځو ، داسې نه ... چې دَ بُدها په مذهب ته ور وا نه وړو "

نصيب ترين هم ورسره خبره خوږه کړه ...

" موږ خو څه دَ بُدها زيارت ته نه يُو راغلي ، چې له يوه بُت څخه يې بل بُت ته درېږو "

آخر دَ صلاح مشورې ورسته مې ټکټونه وکړو او دَ Doi Suthep Tour په وېګن کې کښېنستو ... هلته يې هم لومړى دَ بُدها زيارت راباندې وکړو او بيا يې سم دستي قامي لرغونې آثار دَ نمائش وَ ځاى ته يُوړو - دلته دَ تهائي خلګو تاريخي او ډېر پخواني رقم رقم دَ استعمال شيان دَ ښوؤلو دپاره اينښې ؤ - له دې پرته دلته دَ لاسې جوړو شيانو پرته دَ " لانا " lanna تهائي آرټ نادرې نمونې په دې وجه دَ کتو وَړ وې ، چې په هرڅه کې يې دَ مذهب رنګ له ورايه برېښېدو – دَ چيانګ مائي په يونيورسټۍ ائيريا کې Trible Resaerch Centre دَ کتو وَړ او په زړه پورې ځاى ځکه ؤ ، چې دلته دَ تهائي قبائلي علاقو

ketabton.com - The Digital Library

ځينې رواجي او په استعمال کې راتلونکې څېزونه دَ نمائش دپاره ړدل شوې ؤ - غرض دا، چې تهائي لېنډ که څه هم دَ چيني او انډين ژواکونو تر اثر دلاندې روزل شوی ښکاري ، خو بيا يې هم دَ لباس، استوګنې او دَ ژوند کولو طور طريقې په هره علاقه کې څه څه بدلې بڼې لري - او بله مې دا خبره هم وَسنجَوله چې تهائي خلګ دَ خپل مذهبي جنون پرته دَ کلتور او ژواک ساتلو په اړه هم ساری نه لري - او هيچا ته اجازه نه ورکوي ، چې هغه دي دَ دوئی په جامو، دَ ژوند کولو په طريقو او يا دَ بُدها په شان کې ګستاخي وکړي... دلته دَ ښځې او نر تر منځه دَ ملګرتيا په حقله دَ دواړو خوښې ته اهميت ورکول کېږي –

The Rose of North يعنې دَ چيانګ مائي زاړه طرز جوړ بازارونه دَ ماښام خواته دَ سېل او خوند وَړ ځکه دي ، چې هر لور هر اړخيزه رنګينيانې خورې ورې وي - دَ زړه هر رقم ارمان که څوک وَغواړي دلته په آسانه پوره کولی شي - خو څه څه حياء او شرم هم شته ... داسې حال هم نه وي لکه په بنکاک يا پتايا بيچ کې دَ سپين سترګې تر هانده وي - کېدلی شي چې دا خبره له دې سوبه وي ، چې چيانګ مائي دَ تاريخي ښار پرته په مذهبي اړه مقدس هم ګڼل کېږي - خو بيا هم ځای په ځای په کې ترتاک اويښتې ځايونه هم څه کم نه دي ، چې ټوؤرستهان په کې له ځانونو څخه دَ يو څو لمحو دپاره داسې وځي، چې راستنېده يې که څه هم ژر وي ، خو دَ يادونو په اړه ورسره ټول عمر تړلي وي - دَ تودو ماښامونه او دَ تهائی پېغلو دَ سوداګانو کاروبار شايد چې دَ تهائی هېواد په معاشي سوکالۍ کې دَ يوې لوې انډستړۍ مثال لري - او دغه انډستړي تهائي هېواد دَ مخته وتو هېوادونو سره په څنګ کې که نه هم درَوي ، خو ورپسې روان يې ضرور ساتي - ولې چې دلته دَ ټوؤرستهانو جېبونه که لږ ډېر دَ تاريخی ځايونو په کتو سپکېږي ، نو دَ ښځو دَ لاسه پوره پوره خالي کېږي هم - څنګه څنګه چې ماښام دَ ماځُستن په لور ور روان ؤ، نو دَ بازارونو رش کمېدو او دَ ډيسکوګانو، بارونو او کلبونو په لور دَ خلګو سېلاب ورماتېدو لګيا ؤ - هرڅه

ketabton.com - The Digital Library

هرڅه ... خو زه چې په دې هېواد کې له کوم شي څخه زيات متاثره کېدم ، نو هغه ؤ دَ تهائيانو خوږه ژبه او بل ته دَ احترام په نظر کتل -

*****

په دې بله ورځ ماځېګر ۵ بجې چې دَ ۱۱۰۰ کلنې دَ بُدها دَ زړې مجسمې په نوم ورجار شوي ښار څخه وتلو دپاره بس ته ختو ، نو زړه مې نه غوښتو ، چې دومره ژر ورڅخه لاړ شم - لاکن يَو خو دَ موږ سره ورځې کمې وې او بل ياران هم په ضد ؤ ... بس په هائی وې نمبر ۱۰۲ يعنې دَ لومړي غټ سټاپ ˜لامفون˜ په خوا روان شو - دَ لمر تر پُټېدو پورې سترګې دَ روډ دواړو خواؤ په قدرتي جوړ غر او سمه او وړو غټو کلو ته په کتو بوخت وې ... خو بيا چې مو څنګه سترګې پُټولې، نو بس دَ ˜لامفون ˜ په يوه هوټل باندې وَدرېدو - دلته زموږ دَ بس سوارليان چې په کې زياتره ټوؤرستان ؤ ، په دې هوټل کې چې څه پاخه ؤ ورباندې مات شولو ... خو ، موږ دلته په وريږو او سبزيانو خوړلو باندې دَ خېټو لوږه مړه کړه – له دې ځايه بنکاک ۵۲۰ کلوميټره په واټن باندې ؤ –

مخته له ˜لامپانګ˜ نامي ځای څخه بس په هائی وې نمبر۱ باندې دَ بنکاک په لور مخه وکړه – خوب په بس کې دَ دې هوار روډ له سوبه ښه کېدو - لاکن څنګه چې په کار ؤ ، هغسې نه شو کېدلی – ګوا حال دا ؤ ، چې نه ويښ وم او نه ويده - آخر چې سهار شو ، نو ۷ بجې خواته موږ دَ بنکاک په يوې بس اډې چې Ekmai Bus Stop نومېدو باندې له بس څخه کوُز شولو .. نو له خوبه تيار ځنګېدلو او سترګې مو نه خلاسېدې ، خو دَ پروګرام په سمه مو دَ پتايا بس سټېښن ته ځان وَرسَولو او ټکټ کولو ورسته بس ته چې څنګه وختو ، نو بيا دومره هم نه شولو خبرو چې بس څه وخت له اډې څخه مخته روان شوی ؤ ؟ موږ ټول ملګري په خپلو سيټونو داسې په خوند ويده شوي ؤ ، چې يَو وخت چا وَښورَولم ، چې ...
˜ مسټر مسټر ... کښته شه .... پتايا بيچ سټې راغله˜

ketabton.com - The Digital Library

سترګې چې مې څنګه خلاسې کړې، نو دَ سهار نهه بجې وې - ټېکسي مې کرايه کړو او په نيمه ګنټهه کې J.P Inn نامي هوټل ته ورسېدو ، چې دَ سېکنډ بيچ روډ او Soi – 7 په کونج کې جوړ ؤ ته ورَغلو –

*****

دَ ښه ډېر خوب کولو ورسته څلور واړه ملګرو دَ نيږدې سمندر غاړې ، چې ورته پټايا بيچ وئيل کېږي .. په لور مخه وکړو - دا دَ شنه سمندر صفا غاړه له يوه سره تر بله سره پورې دَ بېلابېلو هېوادونو دَ ټوؤرسټانو څخه ډکه وه ... هر لور سرې ، شنې ، ژېړې او دَ لرګيانو څخه جوړ سايه وانونه ولاړ برېښې – موږ دَ يوه سايه وان دلاندې کښېنستو او دَ شاوخوا دَ ښائيسته مخلوق په ننداره شولو –

" اوس مې نو زړه ايله ځای ته راغلو ... ګنې دَ بنکاک څخه چې په دې خوا رااروان ؤ ، نو ډېر خفه وم .. ما وئيل ، چې ګوره دا شوق مې بيا کوم ځنګل ته بوځی ؟ "

دَ رضا ترين ، چې دې وخت په اوږده چوکې کې غزېدلی ؤ ، دَ دې خبرې په ځواب کې ما ورته وئيل ، چې...

" بې غمه شه .. پټايا بيچ څه معمولي ځای نه دی - دَ دې ځای رونړه شپه په دُنيا کې مشهوره ده "

ما به لا مخته خبره وړله، چې نصيب ترين منځ ته راولوېدو او وائي ...

" هون ... ځه ښه وَشو ، چې خوبونه مې په ايډوانس کې ورته کړي دي "

او دې وخت زموږ دَ مخه يوه دَ پاخه عمر ښځه ګوره چې دَ فرانس وه او که روسۍ تېره شوه – زموږ توجه يې خکه دَ ځان په لور واړَوله ، ولې چې تيان يې ښکاره او په خېټه راځنېدلو - جمعه خان دَ هغې په لور کتلو ورسته وائي...

" توبه توبه ... څه لوڅ لغړ خلګ دي... دَ حيا ء دَ نوم شئی لا نه شته په کې "

او بيا په دې ټاپک ښې ډېرې خبرې منځ ته راغلې - بيا چې موږ دَ ماځيګرې تک ژېر لمر دَ سمندر اوبوته وَ سپارَلو، نو پورته شولو او دَ علي بابا رېسټورينټ پو لور مې دَ ډوډې خوړَلو دپاره مخه وکړه –

ketabton.com - The Digital Library

دَ "جي - پي اِن هوټل" سره ورته په غټ مېدان کې جوړ ستهال وزمه "بارونه" چې تش انجونو په کې کار او روزګار کولو ، که دَ کتو وَړ ؤ ، نو دَ بیچ رود چې ورته فرسټ روډ هم وائي خوش رنګیانې او تود ژوند په خپل خپل ځای ممعناؤې درلودلې – له یوه بار څخه تر بله باره پورې ... دَ "Go Go" څخه تر "ډیسکو" پورې ... غرض دا چې ښه ډېر په کې وګرځېدو راوګرځېدو -

" دلته خو بې دَ غټې دهندې لکه چې بل هیڅ کار نه کېږي "

دَ جمعه خان دا خبره بې معنا نه وه ، ځکه خو نصیب ترین ورته وئیل ...

" دَ تهائیانو دا بې غېرته او دَ بې حیائۍ انداز مې نه شو خوښ .. او بیا حریان په دې یم ، چې باشعوره ځوانان لا هم په کې اخته دي "

ما په طنزیه موسکا کې وئیل ، چې ...

" دغه خو وجه ده ، چې په دې ملک کې امن دی "

او مختـه رضا ترین هم زما خبره داسې په پسخوندي انداز مختـه کش کړه ...

" هو ، ولې چې خلک یې په عیاشۍ کې بوخت ساتلي دي ... ځوانان دَ سوچ او فکر کولو موقع لا نه لري "

دغه رنګه موږ دَ لیدو کتو پرته په تهائي خلګو کې دَ خپل خپل نقطه نظر په سمه شپې خواته سترې او خوبَولې غوندې دَ خپل هوټل په لور روان شولو –

*****

په دې بله ورځ ، ګوا دَ فروري په دویمه نېټه کال ۱۹۹۴ع چې په لانچ کې کورال آئي لېنډ ته وَرسېدو ، نو ملګري ډېر خوشحاله ؤ ، چې په جامو کې نه ځائېدو او هر یوه دَ دې وارِه او دې ښائیسته ټاپو په باب دَ خپلو رائیو اظهار په ډېرو درنو ټکو کولو – یوه وئیل ...

" دَ دې جزیرې شین ګشتي په هر څه ارزي - کشکې داسې ټاپو زموږ په هېواد کې هم وای "

دویم وئیل ...

ketabton.com - The Digital Library

" دومره زيات انګرېزان...؟ ماته خو داسې ښکاري ، لکه موږ چې دې وخت په ته تهائي لېنډه کې نه.. بلکې دَ انګرېزانو په يَو هېواد کې يُو "
او سم دستي دريم ملګرې دَ خپلې خوښې اظهار څه داسې وکړو ...
" واه ... دومره رنګينې خو ما په ژوند کې چرته نه وه ليدلې ، لکه دا دلته چې يې وينم "
او زه چپ ځکه وم ، چې دلته زه په کال ۱۹۹۲ع کې هم راغلی وم او بل دا ، تر لومړي ځل په دې ورځ خلګ يَو په لسه زيات هم ؤ .. ځکه ورته حيرت وړی وم او ورته په کتو باندې بوخت وم - زما درې سره ملګرې په خپل خپل ځای صحيح ؤ –ولې چې سرو او سپينو ښځو ، چې Bikini او Bra يعنې دوې ګوټې نيکرانو او بېخې مختصرو سينه پوشونو کې اورونه وره ولو او دَ بدنونو نمائش يې ډېر په هنري انداز کولو او دَ دې شنه ټاپو په ښائيست کې يې له خپلې خوا ښکلاګانې ورګډَولې - دلته په دې ورځ دَ لمبېدو او سن بات کولو پرته دَ بيچ مساج معاملې هم څه زياتې ښکاره کېدې - دَ واټر سکوټر چلولو او دَ واټر بوټ سره په رسۍ تړلو پېراشوټ کې دَ سمندر بالا الوتلو ورسته موږ هم لمبېدو ته ملاؤې وَتړلې او بيا رک تر ماځيګره پورې دَ دې ټاپو دَ غاړې په ژېړبخون رېګ باندې غزېدلې پراته ؤ –بيرته چې دَ پتايا ستې په لور په کوم لانچ کې راتلو ، نو لانچ بې اندازې زيات دَ ټوؤرستانو څخه ډک هم ؤ –
بيا هغه رنګه شپه وه او موږ ، چې تر نيمې شپې پورې دَ ښار په روډونو او کوڅو کې ګرځېدو –
" قيامت که راتلو ، نو پئيل به يې له دې ځايه کېږي "
دَ نصيب ترين دا خبره مې په زړه ځکه وَ لګېده ، چې دلته په هر محفل، هر سټېج او هره شو کې دَ ښځو کردار که په ظاهره خونده ور ښکاره کېدو – خو دَ ښځې توب څخه دَ ستر او حياء څادر پورته کولو سوب هم ؤ - داسې ولې کېږي او دلته ښځې ته دَ ښځې په نظر څله نه کتل کېږي ؟ دَ دې پوښتنې په ځواب کې دغه لوُڅې او دَ شرم تر ويالې ټوپ شوې ښځې وائي.. چې هغوئ دَ نرانو ، که څه

ketabton.com - The Digital Library

هم هغه پلار وي، که مېړه یا ورور ... په خوښه خو دا هر څه کوي او ټوؤرستانو ته سکون ورپه ګوته کولو کې هغوئ نه دَ هغوئ دَ نرانو خوائش مخې ته ږدل شوی دی - ولې چې دَ دې ښځو په سپکاوي کې دَ هغوئ وَ نرانو ته ښې ډېرې پیسې په لاس ورځي - که داسې نه وکړي، نو نران یې له کورونو باسي او یا په هغوئ باندې ظلمونه روا کوي - ښځې په کورونو کې تر هغه وخته پوري احترام لري چې ځواني یې نه یوازې ملګرې ، بلکې دهنده یې ښه روانه وي - په داسې کورنئیو کې چې څه وخت یوه ښځه زَړه شي ، نو هغه یا له کوره وَشړلی شي او یا په کور کې دَ مینځو په رنګه کارونه ورځخه اخیستل کېږي - هو ، دا هغه خبرې دي چې حقیقت بلل کېږي .. ولې چې دلته اکثره خبرات ټولونکې ښځې په عمر زړې وي - دلته مې ځان سره وئیلو ، چې جار شم تر اسلام چې ښځې یې په نرانو باندې دَ ستر او حیاء له لارې درنې کړي دي - زما دَ زړه دغې وینا زما سترګې په دې باندې وَ پارَولې چې هر نر تهائي ته دَ کرکې په نظر وګورم - وایم، چې ایله به مې وس نه ورباندې رسېدو ، ګنې ښه به ورسره جوړ شوی وم - په دې باب زما دَ ملګرو هم دغه رنګه احساسات او جذبات ؤ – ځکه خو موږ هرې مېلې یا دمامې ته په کتو نه یوازې دَ حېرت ګوته په غاښ ؤ، بلکې دَ زړونو تاؤ مو ورباندې په پسخوندي خبرو او غندلو سړَولو هم -

*****

نن زموږ دلته ورستۍ ورځ وه، سبا ته به دَ خېره کولمبو په لور بیرته ورتګ ؤ – که څه هم طبعیتونه مې خراب ؤ، خو اراده مې دا کړې وه، چې ښه ډېر به ګرځو او داسې یَو ځای به نه پرېږدو، چې دَ کتو وَړ وي - داسې نه، چې ورسته ارمانونه پسې کوؤ - نو ځکه اول سهار بیا په ټېکسي کې ناست دَ پتایا پارک په لورې روان ؤ - په دې ښار کې چې مخته روان ؤ، نو دَ دې ځای دَ خواپاکۍ سوال مې له ډېرو ورځو په مزغو کې بیا بیا سر پورته کولو ... خو ځواب مې هغه وخت لاس ته کړو ، چې دَ هر هوټل ، دوکان او کور مخته مې له کچرو څخه ډک تور تور پلاسټکان تر سترګو شولو ، چې دَ میونسپلټۍ په یَو ټرک کې ناستو ورکرانو

ketabton.com - The Digital Library

ټولوَلو او ټرک ته يې ور اچوَلو - خو عجبه خبره دا وه، چې دَ ځينو پلاسټک کڅوړو چې سرونه يې خلاس ؤ، کې زياتره دَ شرابو خالي بوتلان او کنډوم رنګه ګډ وډ څېزونه له لرې ښکاره کېدو - نو ځکه خو دَ داسې کڅوړو په ليدو رضا ترين په مخصوصه خندا کې وَ وئيل ...

" لا ګوره چې څومره کنډومز به په ګټړانو کې بهول شوي ؤ ؟"

دَ هغه دَ دې سوال په ځواب کې به لا موږ نورې نورې خبرې ځواب کولې ، چې پټايا پارک ته وَرسېدو .. په دې پارک کې په شنو شنو غټو سوئمنګ پولونو کې دَ بې شمېره سرو او سپينو خلګو بې باکه لمبېدو له موږ څخه هم هر څه داسې هېر کړو - چې په نه ساعت کې يې موږ هم دَ خپل خپل وَس په سمه برخې وَګرځېدو او لمبېدو ته مو ملاوې وَ تړلې -

" څه مې وګټو او څه مې وَبائيلو ؟"

احساس يې راته هغه وخت وَشو، چې ورڅخه وَتو - لنډا دا ، چې په دغه ورځ موږ دَ پټايا ستې او ورسره منسوب زياتره مشهوره ځايونه له يو سره تر بله ... داسې وَکچلو، چې په بدنونو کې مې سېک نه شو پاته - ګوا دَ Jamthien Beach له خوش رنګه ځايونو څخه واخلې بيا رک تر Nong Nooch Tropical Garden پورې پياده وګرځېدو - څه وخت چې دَ هوټل په لور روان ؤ، نو لمر هم پټ شوی ؤ - او مخته ، دَ څه آرام کولو ورسته دَ دې ځای دَ شپې په رڼاګانو کې دَ تېرې شپې په شان يَو ځل بيا برخه ګرځېدلو هڅې کولو ته چمتو شوي ؤ -

*****

دَ فرورې ۱۹۹۴ع په دريمه نېټه ، په ائيرلنکا کې ناست يَو وار موږ بيا وَ کولمبو ته مخه کړې ده - ولې چې کراچۍ ته زموږ دَ بيرته غبرګېدو ټکټان په شپږ تاريخه له کولمبو ائيرپورټ څخه ؤ -

" اُوووف خدائيه ! درې شپې به دَ غوماشو سره په جنګ څنګه تېروَمه ؟"

ketabton.com - The Digital Library

که څه هم له ځان سره وَبُونېدمه ، خو دې فکر مې په سر کې درد را په برخه کړو - داسې حال تش زما نه ؤ، بلکې هر ملګری په خپل سیټ کې په پټه خله ناست ګوره چې څه څه سوچونه یې وهلو – او بل زما وَ "آدمز پیک" ته دَ تلو نیمګړی ارمان هم نه شو پوراکېدلی - ولې چې دَ تلو پاره ښې ډېرې شپې ورته په کاربېدلې – تر کولمبو پورې دَ جهاز دا سفر په داسې ګډو وډو فکرونو کې راباندې تېر شو - او یَوځل بیا موږ ځلور واړه ملګري دَ مامون بنګالي په الپائن نامي ریسټ هاؤس کې په ماتو زړونو استوګنه کوله – که دَ رضا ترین ټوکې نه وای ، نو که نور نه ... دَ غوماشو په خوړلو به مې پاکستان ته ملېریا تبې خامخا راوړې وای – او بل ریسټ هاؤس ته مخامخ دَ جوړو ورو کورونو ځینې تورې پېغلې زموږ په بیرته راتګ څه په ځانو باندې هم غلطې شوې وې – ځکه خو یې دَ کتلو او خندلو راخندلو پرته دَ مستیانو ښې ډېرې ښودنې هم کولې - لاکن زموږ له خوا دا حال ؤ، چې نه مو دَ هغوئ وَ ښورېدلو زړونو ته دَ عمرونو ګروم اچولی شو او نه موږ سره دومره وخت - بس وخت ته مو دیکه ورکوله - ګواورځ په کولمبو ښار کې او مائیګریان دَ نیګامبو په سمندري غاړو تېرَول اوس زموږ معمول جوړ شوی ؤ –

داسې ورې پېښې خو ډېرې راسره وَشوې ، خو دا یوه پېښه دَ بیانولو وړ ځکه ګڼم ، چې په زړه کې مې نوښته شوی ده – یوه ورځ قضا ماځپښین خواته، چې دَ کولمبو څخه په بس کې دَ نیګامبو او بیا پېدل خپل ریسټ هاؤس ته ورسېدو ، نو څه ګورو چې دَ ریسټ هاؤس مخې ته دُنیا راجمه شوې وه – خدائی حق دی چې په لیدو یې وینه راوچه کړه او قسم قسم ویرې او وسوسې په زړه کې راماتې شوې – او بیا چې ریسټ هاؤس ته ننوتو ، نو پولیس چې په ګېټ کې ولاړ ؤ دننه تلو څخه وګرځولو – مخته موږ هم هیڅ خبره نه وکړه او په جمه خلګو کې وَدرېدو او تماشه مې کوله - یَو رنګ مې په څېره تلو او بل راتلو ... ما وئیل ، کېدای شي ، چې پولیسان په موږ پسې راغلې وي - او بیا مې زړه ته تسلي په دې خبره ورکوله ، چې موږ دا یُو دباندې ولاړ یُو ... که داسې څه خبره وای، نو له

ketabton.com - The Digital Library

مور، سره به يې سپينه کړې وه - دَ تپوس کولو ورسته پته ولګېده، چې دَ پوليس سړي دَ هغو بنګاليانو پسې راغلي دي ، چې دلته دَ خپل هېواد څڅه په غلا باندې په سمندري لاره راغلي ؤ - زړه مې لا سم په ځای شوی نه ؤ ، چې پنځه دَ پوليس سړي دَ ريسټ هاؤس دباندې په خندنئيو څېرو را وَختو - او بل ورسره هيڅوک هم نه ؤ ... نو دَ دې مطلب دا ؤ، چې دَ دې هېواد دغو محافظان هم لکه دَ پاکستاني پوليس عسکروله هغوئ سره خبره خلاسولو دپاره ورته راغلي ؤ - که دا سې خبره نه وه، نو هغه بنګاليان به کله هم دَ ريسټ هاؤس دباندې په آزاده نه ګرځېدلو –

په شپږمه فروری کال ۱۹۹۴ع چې سهار اتهه بجې په جهاز کې کښېنستو... جهاز لا الوتی نه ؤ، چې ما دا وړوکی غوندې نظم چې برايه شپه مې لا دَ زړه په تختی نوښته کړی ؤ ... په خپلې ډائرۍ باندې دا سې واړَولو ....

"دَ آدم پَل"

ما غوښتل ، چې ښکلوم به
دَ آدم دَ قدم پَل زه
او يَو دوې سلائې خاوره
به په سترګو لګومه
چې په ژوند مې دَجنت باړ
څه پرې مات شي
او زړه ښاد شي
خو، چې څنګه ور روان شوم
نو، دَخپل ړومپې قدمه
رګ تر پَله دَ آدمه
ځای په ځای باندې لېوانو
په جُوثه دَ انسانانو
دومره دومره وَداړلم

ketabton.com - The Digital Library

چې په ځای دَ سجدې ما
پَل ته پورته کړو لاسونه
او په خپلو پلو راستون شوم
( شوق / نیګامبو ... کولمبو /۱۹۹۴ع )

---

" څه وجه ده ، چې له کوره وَځمه ، نو په خوشحالیانو او بیا چې دَ کور په لور راځمه نو هم خفه نه یم ؟"
دا هغه سوال ؤ ، چې ما په ډائرۍ کې دَ نظم ورسته نوښته کړو او دائرۍ مې بنده ځکه کړه ، چې دَ ډېر سوچ کولو پرته مې هم ځواب په ګوتو نه راغلو .... خو بیا چې کور ته وَرسېدم ، نو نور نور دَ دې خبرې دَ ځواب پسې پرېښانه شوم - ولې چې دَ دباندې وتو او دَ بیا وزَر کولو تمې او خواهش مې په زړه کې سر راپورته کړی ؤ - بس نه یم خبر ... چې څله او داسې به تر کومه راسره کېږي او تر څو به کړېږم ... ګوا کله دَ غم په سرو سکروټو او کله دَ خوشحالۍ په بېباکو کېفیتونو کې ؟

---

خوب مې لیدو --- خو ، ویده نه وم
تاثراتي لنډیز ---

---

" منم --- چې چرته ښځې خپل مخته آزادې پرېښول شي . هلته په نریناؤ باندې ژوند بار ( په معاشي توګه ) کم شوی دی ... خو دغې آزادۍ دَ کور تقدس او دَ خوشحالې کورنۍ تصور دَ مخه وړی هم دی - ګوا ، نر نه دی نر پاته شوی او ښځه ښځه نه ... ولې چې دواړه په خپلو کې اول خو دَ رښتې ساتلو ته تیار نه دي او که تیار دي هم ... نو تړون یې په داسې نازک سپېنسي شوی دی ، چې شلېده یې ګرسره وخت نه غواړي - او چې چرته دَ ښځې دَ ژوند اختیار دَ سړیانو په لاس کې دی - هلته نه یوازې ښځې ته په درنه سترګه کتل شوې دي ، بلکې سړیانو هم قدر موندلی دی .... دلته زما دَ خبرې څخه مراد دا ، چې نن که څه هم

ketabton.com - The Digital Library

مسلمانانو دَ ژوند په لوبه کې ( دَ تعمیر او ترقۍ په اړه ) ماته خوړلی ده – خو کورونه یې دَ جنت څخه کم نه دي ... او هیڅ شک نه شته ، چې په دې اړه کریډټ اسلام ته ځي " ( شوق )

---

" وسوسه "
ما یې زړه ته لاره وکړه
هم یې سترګو کې مېښته شوم
خو ، چې څنک ته یې ورتلمه
لا به نور نور ورځکېدمه
چې ناڅاپه مې ورپام شو ،
نو خولې شولې راماتې ...
پښې مې ځای په ځای شوې شلې
په وجود کې مات رامات شوم
او له ډاره دَ مرګي زه
په هیڅ هم نه پُوهېدمه
چې ، په کومه وَ تېښتمه
شاته بند دَ خوُنې ورؤ
دواړه اړخ مې دېوالونه
او همت مې کوی نه شو
دَ "یُوپا " په لورې ځکه
چې یې خُلې کې کوکېدلې
دَ غاښو په ځای سکروټې
او له پوزې یې اورونه
غورځول اژدها غوندې
( شوق / تهیم:- پتایا بیچ - تهائي لېنډ ...۱۹۹۴ع / نظم:- پښېن ۱۹۹۵ع )

ketabton.com - The Digital Library

" ته ما دوست جوړ وي "

راسره نيږدې ناستې تورسرې ، چې دَ ډېره وخته يې سوچ را په کې بند ؤ ... او په وار وار يې دَ وړو سترګو تر کونجونو راته کتلو ، په بلنه خولې راباندې ځکه نه شوې را ايله ، چې دلته دوستانې جوړَول دَ انجونو مشغله نه ، بلکې کاروبار هم ګڼل کېږي - ما دَ هغې انجلۍ دَ خواست په ځواب کې څه وئيلو دَ مخه سر تر پايه ورته وکتلو – انجلۍ چې جينز پېنټ او سره شرټ کې بدن نه ښکاره کېده – ورته په پسخوندې انداز وَموسېدم او په لغازي ډؤل مې ورته وئيل ...

" تهائي او دوستي ؟ناممکن ناممکن ..."

لا به مې نور څه ورته وئيل ، چې هغې زما په سترګو کې سترګې داسې را واچولې، لکه زما په پسخوند چې خشم ورَغلی وي – که څه هم ماته دَ خپلې غلطۍ احساس شوی ؤ ، او اوس به مې بخښنه ورڅخه غوښتله، چې هغې لاس راوَغزَولو او په نره يې راته وئيل ...

" No Money , only friendship "

زه چې دَ دې په لومړۍ غوښتنه باندې لا ست شوی وم ، لاس په لاس کې ورکړو او بې واره مې دَ خلې څخه وَوتو ...

" واه ... دا نو اوس خبره شوه "

داسې مې ځکه ورته وئيل، چې زما په ذهن کې دَ هغې دَ جسم په اړه هيڅ داسې طلب نه ؤ ... ځکه خو مې دَ هسې يَو دوست په نيت دوستۍ ته اوږه کښېښوله - او بيا په دې " لکي بار " کې دَ څه ناستې ورسته ورسره دَ ډيسکو په خوا دَ پتايا ستې په فرسټ روډ ، چې بيچ روډ هم ورته وئيل کېږي باندې روان وم – دې وخت دَ ګهړۍ ستنې دَ شپې دولس بجو څخه اوښتې وې -

ما خوب نه ليدو ، بلکې دا هر څه دَ سترګو وړاندې ؤ – دَ کرسمس دَ رنګارنګ پروګرامونو ليدو او دَ زاړه کال دَ نوې کولو په شوق کې زه نن سهار دَ تهائي ائېر وېز انټرنېشنل په جهاز 58 – TG کې دَ کراچۍ څخه دَ تهائی هېواد دَ " حورُو

ketabton.com - The Digital Library

ښار" ته رسېدلې وم ... اوبیا دَ یَو څو ورځو تېرَولو دپاره نبغ له ائیرپورټ څخه دلته پټایا ستې ته - ولې چې زما اصل منزل مقصود سنګاپور او له سنګاپور څخه دَ انډونیشیا یوه نیمه نوموړې جزیره ( ټاپو ) لیدل هم ؤ - لاکن سنګاپور ته دَ ډائریکټ فلائټ سروس نه درلودلو له سوبه VIA بنګاک ورته تګ ممکن ؤ - نو ځکه له دواړو خواؤ څخه زما ټکټان .. په هم دغه تهائي هېواد باندې تېرېدو راتېرېدو دپاره کنفرم شوي ؤ- نن ګوا په ۲۴م دسمبر ۱۹۹۴ع شپه دَ نه غوښتلو پرته هم زه دَ "ابن" ، چې کرسچن وه او له برما څخه یې تعلق درلودلو او ډېر پخوا له خپلې مور او پنځه کلنې لوُر سره دلته راغلې وه ... په انسانیت وزمه دوستۍ کښېوتم - هغه انجلۍ څه، دَ باد مسته ځپه وه ، چې زه او زما هرڅه یې دَ مخه کړي ؤ - دَ ګرېس ډیسکو څخه دَ راوتلو په وخت مورِ دا عهد کړی ؤ، چې زمورِ تر منځه به دوستي له هر رقم غلط سوچ او غرض څخه خلاسه وي - ګوا هغه به ما سړی نه ګڼي او نه به زه دا ښځه ... په هم دې خو مې ورسره په نره دَ ساتلو هڅه کوله -

" سبا سهار به نهه بجې راځم او تا به له ځان سره کور ته بوځم –ولې ، زه غواړم، چې زمورِ دَ کرسمس په خوشحالیانو کې ته ګډون وکړې –زما مور او وړه لوُر به ستا په لیدو ډېره خوشحاله شي"

او بیا "ابن" دَ خپلې Yah نامې خوندکۍ ، چې دَ چیانګ مائی اوسېدونکې وه سره دَ هغې په موټر سائکل یَو خوا ته مخه وکړه - زه هم خوبَولی غوندې دَ .K K. Inn په خوا روان شوم –په لاره کې مې سوچ کولو ، چې چرته مېړه خو یې مړ نه دی ، چې په کور کې یې دَ موجودګۍ ذکر په خله نه راځي –او بیا ګوره، چې ځله کرسمس په خوشحالیانو کې زما ګډون ضروري ګڼي ؟ چرته دَ مېړه دَ لیدو باړ خو را باندې نه ماتوَي ؟ هر څه هرڅه ، خو زه له دې سره په بې غرضه دوستۍ کولو شرمنده ځکه نه وم ،چې زمورِ تر منځه داسې هاسې غرضونه نه ؤ – ولې چې زه خپلې پښتو نیولی وم او دا خپل کست... مګر وېرېدم بیا هم ورځخه -

*****

ketabton.com - The Digital Library

دَ کرسمس په ورځ دَ سهار تر نهه بجو پورې دَ کې - کې –ان په وړه لابي کې دَ " اېن" چې اصل نوم یې "یوپا کیوسري کران" ؤ ، دَ تریخ انتظار ورسته راولاړ شوم او دې هوټل ته مخامخ .. دَ روډ بلې غاړې ته جوړ الفردوس ریسټورنټ ته وره غلم – بار والا ته مې دَ چائیو آرډر ورکړو او سترګې مې دباندې په ښکاره روډ دَ اېن لاره څارَلو کې بوختې کړې – یو وخت اشرف الدین لالا چې پښتون ؤ او دَ دې هوټل مالک هم... دَ چائیو ټرې خپله را اخیستې وه –چې ټرې یې په مېز ایږدله ، نو یې په پښتو کې راته وئیلو ...
" پښتون راته برېښې... پښتون یې ؟"
ما وئیل ...
"هو ، پښتون یم"
دومره ورته وئیلو ورسته مې دَ هغه له خوا راغزَولی لاس کې لاس ورکولو په وخت به مې لا دا پوښتنه ورځخه کوله چې... څنګه یې دا اندازه وَلګوله چې زه پښتون یم ؟ خو زما له پوښتنې یې دَ مخه خبره داسې خلاسه کړه ، چې ...
" ستا دَ مخ کاسې ، سترګو او په خاص توګه چې مې دا ستا برېتونو ته پام شو ، نو ما وئیل... چې دا ځوان پښتون دی"
بیا یې دَ نامه پوښتنه وکړه ... او ما چې څنګه خپل نوم ورته وَښائیلو ، نو ده څه سوچ کولو ورسته وئیلو ، چې ...
" دا نوم راته څه اوربدلې شانتې ښکاري... ته چرته هغه افضل شوق خو نه یې چې ، شلېلی امېل نامې کتاب یې لیکلی دی ؟ "
ډېر حریان شوم او ورته وئیل مې...
" هو.. هو ، زه هغه افضل شوق یم ... لاکن ..."
زما دَ "لاکن" تورې ورسته اشرف الدین خبرې ته نه پرېښولم او راته وئیل یې ... چې" ستا کتاب"... دا تورې له خلې رایستلو ورسته یې وئیل "یَو منټ" او بیا ولاړ شو

ketabton.com - The Digital Library

اوس به لا ما دَ چائیو کوپ خلې ته وړلو ، چې څه ګورم ...˝ اېن˝ دَ روډ په هغه بله ځی بانديې ولاړه ... ماته ګوري او خاندي ... ما ورته په لاس اشاره وَ راتلو وکړه او دا را روانه شوه – په تور شرټ او جينز سکرټ کې په خلاسو ويښتو ډېر ښکلې ښکاره کېده ، چې څنګه را وَرسېده ، نو وائي ...

˝ سوري سوري وَ ځنډ ېدم ˝

او لاس راکولو ورسته په مخامخ چوکۍ کې کښېنسته – موږ خبرې کولې ، چې اشرف الدين لالا بيرته راغلو او راته وائي ...

˝ دا ګوره ستا کتاب ، چې څه موده مخکې زما ملګرې نسيم الرحمان له پاکستان څخه رالېږلی ؤ˝

داسې وئيلو ورسته يې اېن ته وَکتلو او موسکنی غونډې شو ...

˝ دا څوک ده ؟˝

ما وئيل ...

˝ هسې دوست˝

دومره خبره چې مې کوله، نو دائی له اېن سره په تهائي ژبه کې اخته شو – ګوره چې څه يې وئيلو او هغې څه؟ خو بيا چې يې زما کتاب ورته ورکولو ، نو دائی ماته وائي ...

˝ دا ماته تهائي انجلۍ نه ښکاري ، ولې چې ژبه يې سمه نه ده ˝

اوس اېن دَ کتاب پاڼې اړَولې را اړَولې او اشرف الدين لالا ، چې زما په څنګ کې په چوکۍ کښېنستو راته خپله کيسه پئيل کړه او واي ...

˝ ببخي پخوا زما پلار دلته راغلی ؤ - اوس موږ دَ دې هېواد ځاي خلګ يُو .. دا ګوره زما شناختي کارډ ... او موږ دلته ډېر غټ کاروبار لرو – زما کشر ورور چې زما دَ تهائي مور څخه دی امير سيد نومېږي ... دې وخت دَ پتايا ستې مئير دی – زما پښتو سوچه ځکه پاتې ده، چې ما په پاکستان کې دَ خپل پلار دَ ورونو ( اکاګانو ) سره ډېر وخت تېر کړی دی – دَ امير سيد هم لږه لږه پښتو زده ده – مګر زما زوئی کريم او لوُر ... هغه ګوره چې په کاؤنټر باندې ولاړ دې ... او

ketabton.com - The Digital Library

ښه ډېره پښتو یې په دې زده ده، چې زه یې په کال کې یَو یا دوه ځله پاکستان ته ځان سره حتماً وړم ˝
ده بهلا نور څه وئیل، چې ابن وَمنځ ته راولویده او وئیل یې ...
˝ ناوخته شو .... درځه چې ځو ˝
ما ورته وئیل...
˝ لږ صبر وکړه ... لاړ به شو ˝
او اشرف الدین لالا ته مې وَوئیل...
˝ ښه ، نو خبره دې کوله ˝
دائی وَموسېدو او دَ ابن په لور یې ورکتلو ورسته وَوئیل ...
˝ دَ دې تازیله ده ... ورسره لاړ شه .. ما او تا به بیا خبرې کوؤ او بیا زه غواړم ، چې نن دَ ماځېګري دَ چائیو بندوبست درته په کور کې وَکړم.... امیر سید سره به دی هم لیدل کتل وَشي ˝
دَ هغه دَ تکراري ضد دَ مخې مې وعده ورسره کولو ورسته له اشرف الدینه څخه اجازه اخیستله –او بیا زه او ابن دَ ریستورینټ څخه دباندې وَوتو –
یَو وخت ټېکسي دَ یَو وړوکې هټ وزمه کور مخې ته تم شو او مورِ دواړه راکښته شولو - یوه وړوکې ماشومه انجلۍ، چې دَ دې کور مخته ولاړه وه ...
زمورِ په لیدو په منډه منډه راغله ... ابن په ډېره مینه په غوزۍ کې واخیسته او ښپ کولو ورسته یې راته وئیل ...
˝ دا زما لوُر ده ˝
ما یې په سر لاس تېر کړو او بیا هټ وزمه واړه کور ته روسره دننه شولم ... یَو وړې خونې ، چې مخته یې وړه شان برانډه په لرکیانو جوړه وه ته وره غلو - دلته خورا ډېرې ښځې هم وې ، څوک ناستې ، څوک ولاړې ... خو زمورِ په ورتګ یوې بلې خواته وَ وېښل شوې او مورِ څو قدمه مخته تېر شولو - یوه زړه ښځه ، چې ابن ورته ماما یعنې مور وئیله راولاړه شوه ... څه مخته راغله او زما په سر یې لاس داسې تېر کړو .. لکه زه چې دَ هغې زوئی یا زوم وم او راته په خپله ژبه

ketabton.com - The Digital Library

کې ګډه شوه – په ژبه يې نه پوهېدم، خو په سترګو کې يې ځرکېدونکو اوښکو ټول حالونه راته تېر کړو ... او بيا اېن په خپلې مورکې باندې غوزې، واچوله او په اوږه يې دَماشومې غوندې سر په اوږه ورته کښېښولو او څه وخت ورسته چې يې سر پورته کړو او خواره واره ويښتان يې دَ څېرې څخه په يوه جټهکه چې لرې کړو .. نو څه ګورم سترګې يې دَ اوښکو څخه ډکې وې – مګر زما دَ زړه ساتلو دپاره يې په شونډو مصنوعي خندا راويستله او راته وائي ...

" ته کښېنه ... ولې ولاړ يې ؟ "

زه کښېنستم ، خو ټولو ښځو داسې راته کتلو ، لکه زه چې دَ اېن دَ کورنۍ غړی وم - غرض دا چې دَ کرسمس کېک ، چې په تهائي ژبه کې ورباندې خود لکه چې " هېپي کرسمس " ليک ؤ ، زما مخې ته په واړه مېز باندې کښېښول شو .. او اېن راته وائي ...

" پليز کاټ يې کړه "

ما چې په خپل ژوند کې په داسې موقعو باندې کېک نه ؤ کاټ کړی ، دَ اېن دَ زړه ساتلو دپاره مې چاړه راپورته کړه او چې کېک ته مې ور وړله ، ، ،نو دَ اېن لاس هم راوَرسېدو او دواړو په ګډه کاټ کړو - ښځو دې وخت په ګډه ، ګوره چې کومې سندرې وئيلې او دلته اېن دَ کيک اول پيس په غاب کې کښېښولو ورسته ماته وړاندې کړو - او زه دغه رنګه تر ډېره وخته پورې په ښځو کې ناست تماشه جوړ شوی وم – يَو وخت چې له دې محفله راولاړېدم ، نو دَ اېن لوُر ته مې څو نوټونه په لاس کښېښولو او دَ اېن سره دباندې راوَوتم – مور يې هم تر دروازې پورې راغله - اېن تر نيږدې سړک پورې راسره راغله – ماته يې ټېکسي وَنيولو او خپله دَ کرسمس خوشحاليانې لمانځلو دپاره دَ کور په خوا روانه شوه - اوس چې زه په ټېکسي کې دَ ښار په لور رارَوان وم ، نو زړه راته وئيل، چې .. چرته اېن ( يوپا ) دَ زړه ساتنې په ثواب کې خو مې دَ دغه وړه کورنۍ په زاوال کې نه واچوله ؟ چې زما په ورتګ يې دَ کرسمس دَ خوشحاليانو په ځای دَ خندلو ... وَ ژړَلو ؟

ketabton.com - The Digital Library

دا هغه سواليه خبره وه ، چې زه يې دَ خوب پ لټون کې په لومړي ځل دَ انسانيت په اړه له يَو داسې امتحاني کشمکش سره مخامخ کړی وم، چې ما داسې سنجولَو لکه دا زمونږ يعنې دَ انسانانو ترمنځه چې دَ بېلا بېلو اصنافو په نامه دَ کرکو و يښن چې نه يوازې ناروا کار بلکې غېر انساني الميه هم وي - ولې ، چرته يَو غرئيز پښتون او هغه هم نر ... او چرته دَ تهائي يا برما دَ سيمې بازاري کس ... او هغه هم ښځه ؟ چې تر منځه يې دَ انسانيت په نوم ملګرتيا تر دې هانده دوام مومي ، چې يَو بل ته دَ کور دَ مقدسه غړې وئيلو په وخت عار نه محسوسوي ..... هو، زه له يَو داسې رېښتونې حقيقت سره په روحاني توګه مخامخ شوی وم، چې په ژوند کې په اول ځل ... ما ځان ته انسان په نره وئيلی ؤ -

*****

ما ځيګر دَ خپل قول په سمه زه دَ اشرف الدين لالا سره دَ ده وَغت کور ته وره غلم - په دې بنګله غوندې جوړ غټ او ښائيسته کور ، چې ورسره جوخت يې يَو غټ دَ بوزُو او پُسونو فارم هم درلودلو ، کې يوې خواته دَ چادرو دَ بام دلاندې کټونه داسې برېښېدلو ، لکه جوړه چې پښتني حجره وي ... دلته کښېنستلو په وخت مې ورځخه وکړه ...

" پښتانه لکه چې درته راځي ؟"

لالا وئيل ...

"هو ، زما دَ کلي خلک ېخې زيات ماته راځي"

دومره وئيلو ورسته خپله مخته وائي ...

" مونږ که هرڅو اوس تهائيان يُو ، خو خپله پښتو او پښتانه مې نه دي هېر کړي او هڅه دا کوم ، چې زما په کور کې دې پښتو هرکله ژوندۍ وي"

"بېشکه ... پښتون ، خو پېژندلی کېږي په پښتو باندې"

ما هم ورسره دَ خپلې شېرينې ژبې په حق کې داسې وَ وئيلو او بيا مونږ تر دې موضوع دلاندې خورا ډېرې خبرې وکړې -

ketabton.com - The Digital Library

لنډه دا ، چې دَ چائیو ځیښلو په وخت مو تر خپلو دَ ځینو نورو ګپو شپو وهلو ورسته ، چې را ولاړېدم ، نو اشرف الدین لالا راته وائي ...
" لږ صبر وَکړه ، چې په یک تاره باندې درته پښتني لاره واؤروم"
او بیا یې نوکر ته ژغ وکړو ...
" هلکه .. هغه زما یک تاره راواخله"
اوس دَ یک تارې په تار چې ده ګوتې وهلې ، نو سترګې یې پټې وې ... لکه جوړه چې چا په زړه باندې ویښتلې وي .. او بیا څه وخت ورسته چې په ګاډی کې کښېښمستو ، نو دائی وائي ...
" درځه چې دَ امیر سید سره دې پېژند ګلوی وکړم "
او ګاډی یې په کوڅو کې یوې بلې خواته سمه کړه ... چې کله په یَو ګېټ ننوتو ، نو یې وئیل ...
" دا دَ امیر سید بنګله ده ... او ورسره ګېراج ، چې په کې تر دوه درځنه زیاتې ګاډیانې ولاړې وې ، دَ عالي شانې بنګلې مخې ته ولاړ نوکر ته یې ژغ کړو ... او په تهائي ژبه کې یې دَ امیر سید پوښتنه ورځخه وکړه، بیا ده بیرته ګاډی راوګرځوله او وائي ...
" امیر سید دباندې وتی دی ... خېر بله ورځ به ورته راشو "
او بیا یې لاره کې راته وئیلو ، چې ...
" امیر سید دَ دې ښار په مړَو خلګو کې یَو دی ، ، ، تېرو ورځو کې یې په ۲۰ ملیون باتهو باندې یوه مځکه خرڅه کړې وه "
چې دَ کې – کې – اِن هوټل مخته یې کښته کولم ، نو راته وائي ...
" هر کار یا لانجه چې وي ... نو حکم کوه .. دلته زموږ هولډ دی "
او بیا مخته تېر شو -
شپه دَ پخوا په شانې په ګرځېدو راګرځېدو راباندې تېره شوه او ډیسکو ټیک ته هم وره غلم - لاکن په ډیسکو مئینه اېن هلته هم نه وه راغلې ...
" خېر ... سبا نهو بجو ته خو راځي "

ketabton.com - The Digital Library

زړه ته مې په دې خبره تسلي ورکړه او دَ خپل هوټل په خوا روان شوم – دَ هوټل په کاؤنټر باندې چې مې دَ خونې چابۍ اخيستله، نو په کاړنټر ولاړ ځوان راته وئيل...

" ماښام خواته يوه انجلۍ ستا پوښتنې ته راغلې وه "

ما ورځخه پوښتنه وکړه، چې څنګه انجلۍ وه .. مګر زړه ته يې دَ څېرې کړه وړه نه راتلو او ملامت هم نه ؤ .. ولې دلته خو په درځنو انجونې ځي راځي - دا خوښه راته پته وه، چې دَ ابن سبوا بله څوک کېداى شي ؟ او بيا په خپله خونې کې په پلنګ باندې وَغزېدم – سترګې مې پټې کړې – مګر خوب نه راتلو – که به مې هر څو کوشش وکړو او يَو اړخ بل اړخ به اويښتم ... خو خوب لکه راځخه مرَور شوى چې وي ... ګرسره نيږدې نه راتلو - کله يَو سوچ او کله بل سوچ او بيا چې يَو وخت مې په بُدها کې سوچ بند شو - نو دا سوال به مې مزغو ته راغلو – ګوا يَو خواته دَ دې تهائيانو دَ بُدها سره دَ عقيدې درلودلو دا حال ؤ ، چې په شان کې يې ګستاخي نه يوازې اخلاقي ، بلکې قانوني جرم ګڼل کېږي – او بل خوا ته دَ ده وړې او غټې مجسمې په بارونو، کلبونو او پبونو کې څه ... وايم، چې په هغه هالونو کې هم پرتې دي ، چې چرته دَ ښځو له سرونو څخه دَ حياء پړونې اخيستل کېږي... داسې څله کېږي ؟

دَ دې سوال په ځواب کې به مې کله ذهن او زړه وئيلو ، چې کېدلى شي ، دا خلګ وَ بُدها ته دَ هغه دَ دې نظرئيې ثبوت ورکول غواړي ، چې ګوندې " بس دغه ژوند دى او دلته چې څه کوې ،،، نو هغه به رېبې " ولې چې دلته دغه يَو کاروبار خوښَول کېږي – شرافت، غېرت ، همت او انسانيت دلته خپلې معناؤې بائيللي او تقاضې بدلې کړې دي – نر په هر حال کې په دلالي حېثيت خوښ دى او ښځه په هرقيمت دَ خپل مخالف سيکس دَ خواهشاتو تنده ماتولو په کار کې سکون محسوسوي –

که داسې خبره هم نه ده، نو بيا څله له بُدها سره دَ عقيدت پرته، دَ بُدها دَ مجسمو په وړاندې بې حيائۍ ته جوګه شوي دي ؟ او بيا دَ حېرت خبره لا دا هم ده ، چې

ketabton.com - The Digital Library

تهائي قانون او انتظاميه چې ټوؤرستانو څخه دَ بُډها دَ احترام توقع کوي ، مګر په داسې لړلې حال چپ دي... هو ، شايد په دې چې ... که دوئی پابندي لګوي، نو خو معيشت يې متاثره کېږي - غرض دا ، چې په دا رنګه ګڼ ولړ سوچونو کې يَو وخت خوب په خپله غېږه کې اخيستی وم – بيا مخته نه وم خبر ... چې زه خپل جنت وزمه کور کې پروت وم او که دَ اژدها په خلې کې ؟

*****

سهار نهه بجې خواته زه او اېن په ټېکسي کې ناست دَ پتايا پارک په لور روان ؤ - دَ اېن سترګې داسې سرې غوندې راته برېښېدې لکه جوړه چې يې ډېر ژړلي وي – مګر مانه غوښتلو ، چې په پرهارونو يې مالګې وَدُوړَوم - بيا څه وخت ورسته دَ ليدلي کتلي پارک غټ سوئمنګ پولونه ؤ او مورِ – چې نه يوازې لمبېدو ، بلکې ورسره ورته سمندري غاړې باندې ښه تر ډېره په ژېړ او صفا رېګ باندې کښېنستو هم - بس يوه خبره چې ماته به يې زور راکولو .. او يا له پېښتو څخه اړَولو باندې بيا بيا مجبوره کولم ... نو هغه ؤ، دَ اېن بدني کړه وړه، چې په سوئمنګ کاسټيوم کې يې دَ کتونکې ايمان خطا کولو .. چې به مې څنګه سترګې ورباندې کراړې کړې ... نو دې به وَخندلو .. هم ځکه به يې زه نور نور په غلط فهمۍ کې مبتلا کړم - لاکن همت مې بيا هم دَ وئيلو ورته نه شو کولی – ولې ، چې پېښتو راته دَلارې خنډ وه - بس دننه دننه به سوځېدمه – که څه هم له خپلې خواهغې په خپله مخوصه لهجه کې دَ انګرېزي دا تورې زما تر غوږو بيا بيا تېرَولو ... يعني وئيل به يې ...

"مي لائي يُو ... يُو لائي مي آر اټ ؟"

غرض دا ، چې ماځيګر خواته مورِ له دې پارک څخه بيرته دَ پتايا ستي په لور راغلو.او دلته دَ څه ګرځېدو ورسته چې کله دَ لانچونو پلېټ فارم په لور روان ؤ ، نو دَ دې پلېټ فارم سره ورته .. ګوا دَ روډ خواته جوړ دَ بُډها دَ واړه مندر ، چې په کې بُډها په ښکاره پروت ؤ او مخته يې څوقسمه نرينه شرمناک نوسونو په ليدو وَچ وَ درېدم ... حريان شوم، چې دا نرينه بلاګيان له بُډها سره څه اړه لري ؟

ketabton.com - The Digital Library

پوښتنه مې له اېن څخه څکه نه شوه کولی ، چې دې خپله زما توجه په هغې خوا اړَولولې وه ... شوق يې په خلې سم نه ورتلو ، وئيل يې ...
" سو سو ... لوګ لوګ "
او بيا هغه وخت زما دَ حيرت انتها نه وه، چې يَو وخت دَ بُدها وَ مجسمې ته ولاړې دوې پېغلې له سلام کولو ورسته شاته ورڅخه څو قدمه راغلې او دَ ببېل ببېل ډؤل جوړو ( نوسونو ) مخې ته وَدرېدې ... لاسونه يې ورته جوړه وَنيولو او په ډېر احترام ورته تر ډېره سرونه ځڼَولې ؤ -

لنډه دا ، چې زه په دې هر څه ليدو په سوچونو کې ورک، چې کله پلېټ فارم باندې مخته روان وم. نو مې همت وکړو او له اېن څخه مې پوښتنه وکړه ...
" دا ما څه وَليدو او هغه هم دَ بُدها مخته پراته ؟
دې يَو ځل وَ خندلو او بيا يې له شرمه مخ په لاسونو کې پټ کړو او څو لمحې ورسته چې په خپل حال کې راغله ، نو راته وائي ...
" دلته ځينې تهائيان دا يقين لري چې دَ بُدها له دې نوس څخه انسان او انسانيت زېږېدنه کړې ده – ځکه خو يې دَ بُدها مخته ږدي او پوجا يې کوي "
په عقلي دليل خو يې خبره بده نه وه کړې ، لاکن دَ بُدها په اړه څله ؟ ولې چې دَ بُدها تر زېږېدو دَ مخه خو هم انسانان ؤ ... هو، دا کېدلی شي چې دا خلګ دَ دې عضو احسان من ځکه وي ، چې دَ دې له برکته خو يې معاشي سوکالۍ موندلې ده –

*****

وخت مخ په وړاندې روان ؤ .. او آخير ۳۰م دسبر ۱۹۹۴ع هم راغلو - دا ورځ زما او دَ اېن دپاره دَ خفګان ځکه وه ، چې زه سبا يعنې په ۳۱م دسبر ۱۹۹۴ع سنګاپور ته روان وم - او دغه وجه وه، چې دَ اول سهاره بيا دَ اشرف الدين لالا په ريسټورينټ کې ناست ؤ او ګپې مې لګولې – يَو وخت چې په بله تلو دپاره راولاړ شولو ، نو دَ جيب څخه مې دَ ۵۰۰ باتهه نوټ راويستلو او اېن ته مې

ketabton.com - The Digital Library

وړاندې کړو ... داسې خو اېن دا نوټ واخيستو .. مګر په لاسو کې يې دَ مرووړلو پسته راباندې په ډېره غصه وَغورځولو او Finish Finish چې دې Finith Finith وئيلو ورسته په تېزو قدمونو له ريسټورينټ څخه وَوته – يَو څو قدمه خو لا زه هم ورپسې وره غلم او نارې مې ورپسې وکړې ... خو هغه وه، چې تر شا يې نه راته کتلو -

دَ اېن په تلو دَ نن ټول پروګرامونه سره ګډ وډ شولو –نه پوهېدم چې څه وکړم ... دَ دې خفګان راباندې دومره وَ غمېدو ، چې ځان راته ظالم او دَ هغې دَ پاکې رښتې مجرم ښکاره کېدو –ولې چې ما يې په مينه باندې ټوکه کړې وه او قيمت مې ورته ټاکلی ؤ - او بيا مې دا هم يقين شو ، چې راځي به خامخا .. مګر دَ درستې ورځې دَ انتظار کولو پرته هم نه راغله - مطلب دا ، چې دَ شپې هم ... او په داسې رنګه تريخ انتظار کې مې سترګې سره وره غلې وې ، چې يَو وخت دَ خونې دروازه په زوره زوره ټا په لغتو وَوېښتله .. سپک راپورته شوم او يَو دم مې له خلې وَوتو " يا الله خېر" په سامولې انداز مې ګھړۍ ته وکتلو - دَ شپې څلور بجې وې - زړه مې له ويرې او وسوسې دَ حلق ژبه ښکلول شروع کړو.. خو آخير پښتون وم ،،، همت او غېرت مې سره يَو ځای کړو او دروازه مې خلاسه کړه - دا څه ؟ حق حريان پاته شوم ... ولې چې اېن مخته ولاړ ه وه او وړه غوندې په پلاسټک کې بنده ګلدسته يې لاس کې وه او .... سوري سوري وئيلو کې يې ګلدسته راوړاندې کړه - ما ځان ورباندې تللو دپاره تندی تريو کړو او بيرته غبرګ شو او په خپل پلنګ پرېوتم .... هو ، شايد دا مې غوښتلو چې پخلا مې کړي - لاکن هغه په دروازه کې ولاړه وه ... آخر تر کومه ؟ سر مې راپورته کړو او ورباندې ژغ مې وکړو ورباندې ... او بيا دا لومړی ځل ؤ ، چې هغې زما په خونې کې قدم ايښی ؤ - او هغه هم په داسې پاک نيت ... چې نه زه دَ ځان په رنګه وم او نه هغه دَ ځان .... بس دغه يوه خبره به يې بيا بيا په ماته ګوډه انګلسۍ کې کوله چې..

ketabton.com - The Digital Library

"ما له تا سره دوستي ځکه وکړه، چې ستا بڼه زما وَ هغه مېړه ته شوې ده، چې له تېرو درو کلونو څخه يې هيڅ درک نه شته .. خبره نه يم چې مړ شوی دی او که ورک ؟"
او بيا زما ګڼ تصويرونه يې په پرس کې اچولو په وخت په وار وار دا خواست راته کولو ... چې زه دې هغې ته هر کله دَ يَو ښه دوست په حېثيت خطونه ليکم -
او بيا چې يو دوې ګنټهې ورسته زه په ټېکسي کې کښېنستم، نو دَ هغې سترګې له اوښکو څخه ډکې وې - وخت تېرېده لري ... خو يادونه په زړه پاتې شي او په خاص توګه دَ داسې بې غرضه دوستانو، لکه اېن ( يوپا ) چې په تهائي لېنډ غوندې ځای کې هم دَ پاکې او صفا دوستۍ په تقاضو پوره پوره وَوتله - نو ځکه خو مې دا نظم دَ هغې دَ ياد دَ تاثر دلاندې په بنکاک کې خپلې ډائرۍ ته وَسپارلو ...

" اورونه "

دا چې
ستا په نامه ګُله !
زه ساړه اسوېلي باسم،
نو خو، پوهی شه
چې په ما کې
ستا دَ مينې بل اورونه
لا هغه رنګه بلېږي
لا هغه رنګه تاؤېږي

---

(شوق / بنکاک.. تهائي لېنډ / ۱۹۹۴ع)

ketabton.com - The Digital Library

له ښکلا څخه تر ښکلا پورې
تاثراتي لنډيز ...

---

" اسلام او کُفر .. دَ ښکاره تقاضو په اړه تر اوسه لا په انډونيشيا کې دَ يوه بل په ضد .. که ښکاره نه پټ په پټه خپل خپل منونکې روزي –ګوا دَ زرګونو ټاپوګانو په دې هېواد کې ، چې چرته مسلمانان په زيات شمېر مېښته دي ، هلته دَ ژوند کاروبار نه يوازې سوړ ، بلکې پټ هم تر سره کېږي - بيا چې چرته دَ هندوانو ، عيسايانو يا سېکولر خلګو اکثريت دی .. هلته ژوند نه يوازې دَ ژوند په رنګه دی بلکې دَ سېلانيانو دَ تفريح دپاره زړه خوښونې هم لري –مخته به ګورو ، چې کوم تهذيب او مذهبي نظريه دَ انډونيشيا ټاپوګان په خپل اثر کې اخلي ؟ هو ، که څه هم ښکاري داسې لکه اسلام چې څومره په تېزۍ دا ټاپوګان په خپل اثر کې اخيستې ؤ .. هم هغسې په تېزۍ ورځخه خدائي په امانۍ هم وائي ... لګيا دي" ( شوق )

---

" أوف کولی نه شم"
څه دي وَ خوړم په سترګو
څه دي چُور کړمه په حُسن
څه دي خپل کړم په نازونو
څه دي يُوړم په خبرو ...
بس که پاته دي نور څه لا ،
زما په دې خالي وجود کې
نو هغه دي ستا غمونه
او يا هغه حسرتونه
ارمانونه او يادونه

ketabton.com - The Digital Library

چې هم ستا په ذکر فکر
ما په ځان ځان کې دننه
په مزه چیچي او خوُري ، خو
زه خوار اُوف کولی نه شم
داسې نه ، چې ستر خالق دي
زما په آه باندې وَنیسي
( شوق )

---

په پتایا ستهي کې دَ زړه بائیللو ورسته ، زه دَ بنکاک ائیرپورټ څخه په تهائي ائیرویز انټرنېشنل کې دولس بجې غرمه ناست سنګاپور ته ژر تر ژره رسېدو په تمه ځکه وم ، چې دَ خپل جوړ کړل شوي پروګرام په سمه ما دَ نورو خلګو سره په ګډه زوړ کال نوی کول غوښتو – ګوانن ۳۱م دسبر ؤ - دَ راتلونکې شپې په یَو منټ بالا دولس بجې به کال ۱۹۹۵ع نوی کېدو - څنګه چې جهاز آسمان خواته پورته شو ، نو ګوره چې زه څله بې غمه غوندې شوم ؟ که څه هم دَ تقدیر په حواله زما دَ رسېدو امکان په سل کې سل نه ؤ او بیا څه وخت چې جهاز دَ سنګاپور په ائیرپورټ کښته شو او انټري کولو ورسته زه یَو وار بیا دَ نوؤ ولولو سره ملګری دَ ائیرپورټ دَ رنګینې دُنیا څخه دباندې راوَوتم – په ټېکسي کې کښېنستم او ډرائیور ته مې وَوئیل، چې دَ آرچرډ روډ په شاوخوا کې مې یَو ښه او ارزانه هوټل ته بوځه – ټېکسي مخته روان شو- تر ډېره پورې په ټېکسي کې چپه چبیا وه- یَو وخت چې خوب وَځنګولم ، نو ځان بېدار ساتلو دپاره مې په ټېکسي ډرائیور باندې ژغ وکړو ...
" په سنګاپور کې ډېره ګراني ده "
ده وئیل...
" هو ، دَ سړي وَس نه په رسېږي "
او بیا یې مخته خپله وئیلو ...

ketabton.com - The Digital Library

ˮ زما په خيال چې ته دَ مخه هم راغلى يې، چې په آرچرډ روډ خبر يې ؟ ˮ
ˮ ته درست پوهی شوی يې .. دا زما دويم ځل دی چې سنګاپور ته راځم ˮ
بيا مې خبره مخته داسې کش کړه ...
ˮ تا ته پته ده ، چې دَ نيو ائير خوشحاليانې دَ آرچرډ روډ په کومه علاقه يا ځای کې ښه لمانځل کېږي ؟ˮ
ده وئيل...
ˮ نيو ائير ... ته لکه چې نيو ائير لمانځلو ته راغلی يې ؟ ˮ
ما به لا اوس ورته ˮ هو ˮ کولو ، چې ده زما دَ اولې خبرې په ځواب کې خبرو ته داسې اوږه ورکړه ...
ˮ داسې خو دَ دې آرچرډ روډ په پراخو فُټ پاتهونو باندې زيات رش وي ، خو دَ غټو هوټلانو په لانونو او هالونو کې يې دَ لمانځلو خوند بيا جلا وي - لکه آرچرډ هوټل ، ډائنا ستي هوټل ، ماندرين هوټل او دغه رنګه نور نور ˮ
او بيا يې ګاډی بل روډ ته ګرځولو په وخت وئيلو ...
ˮ هوټلان دلته ډېر ګران دي ... ولې تاسو ګيسټ هاؤس کې نه اوسېږئ ؟ چې پُرسکونه هم وي او ارزانه هم ˮ
ده به خبره مخته وړله ، چې ما ورسره خوښه کړه او ورته وئيل مې ...
ˮ مګر دَ آرچرډ روډ شاوخوا کې دې وي او بس... ˮ
ˮ اوکې .... اوکې ˮ
دَ ده له خلې څخه دومره راته وَوتلو ...
پوهی شوم ، چې دا ډرائيور زياتې خبرې نه خوښَوي .. نو ځکه ما هم بله خبره ورسره نه وکړه ...
ˮ انسان هم بلا شئی دی، چې دَ لاسه يې کېږي. نو دَ سر په مځکې جنتونه جوَوي او چې سستي يې وَ نيسي، نو دَ لاس خيرې لا هم نه شي صفا کولی ˮ

ketabton.com - The Digital Library

دا خبرې مې ایله مزغو ته نه راغلې ،، بلکې دې وخت دَ روډ دواړو اړخونو ته ولاړ دنګو دنګو بلډنګانو ، چې شیشه او دَ قیمتي کاڼو ټائیلونه په کې بېخي زیات په کار راوړل شوي ؤ ته په کتو زړه دَ سنګاپور په ستائینې مجبوره کړم –
یَو وخت ټېکسي دَ لکي ګیسټ هاؤس، چې په یوه پراخه کوڅه کې جوړ ؤ مخته وَدرېدو- په ګېټ کې ولاړ یَو ځوان ترګاډي پورې راغلو او دَ ګاډي دروازه خلاسولو سم دستي ورسته وائي...
" خونه دي په کار ده ؟ "
ما به لا اوس "هو" ورته کولو ، چې ډرائیور په خپله ژبه کې ورسره ګډ شو .. خود لکه چې دَ کرایې پوښتنه یې ورڅخه کوله .. هم ځکه خو دَ هغه ځوان دَ ځواب ورسته ډرائیور راته وائي...
" دا ګیسټ هاؤس ښه دی او کرایه یې هم زیاته نه ده ،،، بس فقط ۳۰ ډالره سنګاپورین "
که څه هم دا رقم پاکستاني شپږ سوه روپۍ جوړېدې ، خو ورسره وَ مې منلو ځکه چې دَ برایه شپې بې خوبۍ زه دې وخت سر لګولو ته په هر قیمت مجبوره کړی وم -
دَ ګیسټ هاؤس دا وړه خونه څه خاص نه وه، لاکن دې وخت مې خپله وه .. نو ځکه ښه بې غمه په پلنګ وَغزېدم او بیا دومره دَ ځان جهانه بې خبره ویده شوی وم، چې کله مې سترګې بیرته راخلاسې شوې ، نو دَ ماخُستن پاؤ کم لس بجې وې – که مې خېټه خالي نه وای، نو دا هم کېدلی شو ، چې کال په خوب کې رابانديې نوی شوی وای - ژر مې غُسل وکړو .. جامې مې بدلې کړې او دباندې راوَوتم ..
خو دَ ګیسټ هاؤس څخه دَ وتو له مخه مې په لابي کې دَ واړه کاؤنټر شاته ناستې زَړې ښځې څخه دَ آرچر روډ پوښتنه وکړه، نو دَ مور په شان یې په ډېره مینه راته وئیل ...
" داسې وَکړه ، چې دباندې وَ وتې ، نو راسته لاس ته به روان شې – بیا چې په چپه لاس په اوله کوڅه وګرځې ، نو نېغ به آرچر روډ ته وَرسېږې

ketabton.com - The Digital Library

ما هم دغه رنګه وکړو- په کوڅه کې دَ راسته لاس په خوا ورسم شوم – که څه هم دا پراخه کوڅه ویجاړه نه وه .. ښه ډېر سړي او ښځې په کې ګرځېدلې – خو ما ته دَ خپلې ایکړۍ احساس په سر کې نرۍ دړد را اچولی ؤ - ما وئیل..

" کشکې په دې موقعه یَو ملګری راسره وای .. که په خوږو یارانو کې یو هم نه .. بس خو " یوپا " یعنې " اپن " راسره وای ، نو نن به مې په نیو ائیر خوندونه اخیستی وای - په داسې ارمان زه دَ چپه لاس په کوڅه وګرځېدم – دا کوڅه دَ خلګو دَ رش په اړه کوڅه نه ... بلکې سم بازار ؤ ، چې نېغه دَ رڼاګانو په لور وتلې وه - څنګه څنګه چې مخته تلم، ګڼې وډې رڼاګانې واضح کېدې – بیا ښه مخته چې دا کوڅه دَ جل بل او بېخي خوش رنګه آرچرډ روډ ته ورګډه شوه، نو لومړی نظر مې دَ روډ په هغه بل اړخ جوړ عالي شان هوټل ماندرین باندې وَلګېدو ... هوټل څه ، یَو محل ؤ ، چې په سرو او شو، او ژېړو رڼاګانو کې کوکېدو او ورسره جوخت یَو بلډنګ، ګوره چې دا دَ دې هوټل برخه ؤ او که ځانته بېل ، چې ورباندې لیک ؤ ... " هېپي نیو ائیر سېریموني پروګرام " - نه یوازې دا ، بلکې روډ له یوه سره تر بل سره پورې کوکېدو لګیا ؤ - دلته آرچرډ هوټل ؤ، که ډائناستي هوټل ، لکي پلازه وه ،که پلازه سنګاپوره، یا بیا دنګ دنګ آرچرډ ټاؤرز، هر یَو ځان ځانته دَ کتو او حېرت وَړ ؤ - هر څه هرڅه، مګر دَ سنګاپور پېغلو، چې زیاتره په لانګ سکرټونو کې لیدل کېدې، دَ دې روډ ښائیست لا نور نور زیات کړی ؤ- خېر، یَو ځای مې دَ خېټې لوږه په برګر خوړلو باندې ماته کړه او بیا مخته تېر شوم–

دَ شپې یولس بجې خواته مې تر ډیسکو هال پورې ځان وَرسَولو - په دې ښائیسته او غټ هال کې دَ مابین ګردي ډیسکو سټېج شاوخوا واړه مېزونه او چوکیانې لګېدلې وې او ښځې نران، چې جوړه جوړه ؤ ورباندې ناست ؤ - دَ خوند خبره دا وه، چې دَ هر چا په سر باندې دَ کاغذانو جوړه رنګینه خولۍ چې اوږده څوُ که یې دراودله پرته وه – زه چې څنګه په یوې چوکۍ باندې کښېنستم، نو زما په سر باندې هم خولۍ کښېښوله - دَ هوا او ګېس څخه ډکې

ketabton.com - The Digital Library

پوکنې، چې نه يوازې دَ بالا چهت څخه راځړېدلې ، بلکې په هر مېز باندې هم دوه درې درځنه په سپنسيانو تړل شوې وې - پُوکنې په هوا کې ولاړې وې – او مخامخ په ستېج باندې په درځنو انجونې، چې پخوانۍ چيني او سنګاپورين رواجي رنګينې جامې يې په تن وې .. دَ شاپيريانو غوندې په خوږو رقصونو وړاندې کولو کې اخته وې - دَ ډيسکو زياتره سپيکران چپ ؤ - بس يَو نيم ژغېدو- نه خو زه يوازې دَ خپلې ايکړۍ احساس تنګولم ، بلکې په وار وار دَ ډيسکو دَ رواياتو په سمون انجونو هم زما دَ ايکړوالي غم خوړلو پوره پوره هڅې کولې – مګر زه وم، چې دَ دې پرته هم دَ چا په تندي خال نه شوم – خو ترکومه؟ آخر يوه جګه نرۍ سنګاپورين پېغله ، چې دَ جامو او ښکاره کړو وړو په اړه ښه هم لګېده ، داسې راڅرمه شوه، چې که به مې هرڅو ورته دَ ولاړېدلو ورته وئيلو .. خو دغومره رانږدې کېدله – خود ، لکه چې دې هم ملګرې نه درلودلو –اوس که يې زړه ما ته تخنېدو او که نه، خو دَ هال دَ نورو خلګو مخته يې خپله ايکړې، (چې دلته په داسې موقعو دَ يَو انجلۍ دپاره دَ بې عزتۍ سوب وي) پُتولو دپاره له ماسره ناسته وه – پرله پسې يې هڅه کوله چې زما توجه دَ ځان په خوا واړَوي –

خير، دولس بجو ته لا يَو منټ پاته ؤ، چې ستېج دَ ډانسرو څخه خالي شو او بيا څو لمحې ورسته دَ بام له خوا يوه ځانګو کرار کرار په کوزېدو شوه - ځانګو څه وه، تياره ګلدسته وه- دا غټه او اوږده ګلدسته چې کله دَ ستېج تر فرشه پورې راوَرسېده – نو دَ سپکنډو ستنې هم دولس بجو څخه اوبښتې وې – ګلدسته وَښورېده او دَ اسرافيل تر شپېلۍ په زوره، مګر په اورېدو خوږه نغمه دَ هال په غټو سپيکرانوکې داسې خوره شوه، چې ايله مې دَ غوږونو پردې وَ نه شلېدلې –او ګلدسته هم په ستېج باندې پانې پانې شوه –اوس په ګلونو کې پټه څُوره، چې په سر باندې يې تاج پروت ؤ او ګڼې جامې يې په تن وې - په ستېج ولاړه موسېدله او بيا چې څنګه دې انجلۍ دَ شېمپېن بوتل خلاس کړو، نو دَ ¨ هېپي

ketabton.com - The Digital Library

نیو ائیر " تکراري آوازونه راپورته کېدل پئیل شول - او دلته په مېزونو به خلګو ډکې پُوکنې ،چې له رنګینو کاغدانو څخه ډکې وې په ستنو چاؤدلې او هلته دَ ډیسکو غټې سپیکران هم داسې خلاس شو ، لکه جوړه چې قیامت راغلی وي – اوس درست هال دَ خلګو په غورځېدلو راغورځېدلو ځنګېدو- نه یوازې دا ، بلکې په درست هال کې جوړه جوړه ښځې او نران دَ مستۍ څخه په ګډا اخته ؤ - زما مخته ناسته انجلۍ هم څه کمه نه وه مسته، چې اوس یې دَ سترګو دَ غال او دَ خلې دَ خبرو سره سره لاسونه هم زما په لور په وار وار راغزېدلو- مګر زه وم، چې دَ دننه مستۍ مې تر پایه دباندې نه راوَیسته.. بس دَ مستانو په مستۍ مې خوند اخیستلو – او دا مې ګڼلو، چې دَ مغرب په رنګ لړلي سنګاپورین دَ خوشحالۍ اظهار ځنګه کوي ؟ او ما دا وَ سنجولو ، چې دا خلګ هم په هیڅ یوه معنا دَ اروپایانو او امریکنو څخه کم په دې نه دي، چې درسته شپه یې په سر اخیستې وه -

*****

دَ نوي کال ۱۹۹۵ع په لومړۍ ورځ ماځیګر خواته دَ ګیسټ هاؤس څخه دباندې وَ وتم او په ټېکسي کې نېغ میلر سټریټ ته وره غلم – هلته مې دَ " ګرې لاین ټوؤرز " دفتر څخه دَ " توُري بیچ " دَ سبل دپاره دَسبا سهار دَ نهه بجو په " فېري ټریپ " کې نوم نوښته کړو او په ۳۲۵ سنګاپورین ډالرانو مې ټکټ تر لاسه کړو - توُري بیچ، چې په انډونیشیا کې دَ " باتام " په وړو جزیرو کې دَ یوه واړه زرغونه ټاپو ساحلي برخه ده، په دې سبل چې په دوؤ ورځو شپو یې اړه لرله کې دَ هوټل پرته ، خوراک څیښاک او دَ سبل ټول خرڅونه په پورته ذکر شوې کمپنۍ باندې په یوه ټکټ کې تاوان ؤ – ټکټ جېب ته اچولو ورسته مې دَ سنګا پور دَ بې ساري پلازو، بازارونو او روډونو په خوا مخه وکړه - ځای ځای پیاده او یا چرته په بسونو او ټېکسیانو کې - غرض دا، چې ایمرالډ هل روډ ، پېراډائز شاپنګ سېنټر هم په ښائیست څه کم نه ؤ - دلته دَ الیکټرانکس سامان پرته بیوټې تهراپي او مېک اپ سېنټرانو زیاتوب دا خبره مزغو ته را واچوله، دَ دې

ketabton.com - The Digital Library

واړه او ښائیسته هېواد دَ ښځو دَ ښائیست رازونه په دې ذکر شوي سپنتړانو کې مستوره دي - او بیا دَ بیچ روډ ګولډن مائل ټاؤر او پلازه هوټل نامي ودانیانو که دَ حېرت ګوته په غاښ کړی وم، نو هینډرسن روډ ، تهامس روډ او ساؤت برج روډ هم ځان ځان ته ښکلاګانې او ځانګړې خوش رنګیانې درلودلې - مګر دَ اینسن روډ دغه ماښام زما ځکه نه هېرېږي، چې دَ انټرنېشنل پلازه دننه او شاوخوا راغونډ عالم ته په کتو او خوندونو په زړه اخیستلو دَ سوبه ځان له حاله وتی وم او څه چې مې دَ سنګاپور دَ شپې ژوند په حقله اورېدلې ؤ، نو تر هغه هم ځو واره زیات په بوګس سټریټ کې ما په خپلو سترګو ولیدو - دلته په هر دویم قدم مستي وه ، خواني او دَ زړونو راکېږولو دپاره خوش رنګه او خوش ذائقه تلکې دَ ډیسکوګانو، بارونو، کلبونو او ځینو نورو نومونو سره ګنډلې دروَل شوې دي - دلته څه وخت تېرَولو ورسته په ټېکسی کې دَ ګیسټ هاؤس په خوا روان شوم – په لاره کې زما دَ یوې پوښتنې په ځواب کې تعلیم یافته ټېکسي ډرائیور وئیلو ...

" سنګاپور، چې تش په ۲۱۲ مربع کلومیټرانو باندې قریباً په ۳۳ لکهو مېښته خلکو پورې اړه لرونکی ووړ ملک او ښار دی ، ته دَ رڼاګانو او دَ رنګونو ښار وئیلو پرته دَ ګڼو ثقافتونو ښار ځکه وئیل کېږي، چې دلته دَ چینیانو پرته، مسلمانانو، چې سلطان ماجت سره په عرب نامي سټریټ کې مېښته دي ، هم دَ دې ښار پخواني ځاي خلګ دي - او انډین، چې دلته په برطانیه دورِحکومت کې دَ برصغیر څخه دَ مزدورۍ په غرض راوړل شوي ؤ، هم په ګڼ شمېر په سرنګون روډ ، ګوا لټل انډیا کې اوسېږي – او بیا رېفلس نامي ځایونه او ودانیانې ځکه ډېرې دي، چې " سر سټېمفورډ ریفلس " هغه لومړی انسان ؤ، چې دا خطه یې دُنیا ته په ګوته کړې وه - او دَ سنګاپور دریاب له خوا یې پېښه راکړې وه ... چرته چې دَ " ټانګ کانګ " ودانۍ پرته ، دَ دُنیا لومړی دنګ او هسک هوټل " ویسټین سټېمفورډ " هم دَ کتو وړ دی–

ketabton.com - The Digital Library

سهار نهه بجې دَ ټوؤرستانو فېري (کشتۍ یا لانچ) دَ سنګاپور " فنګر پئیر " نامي ساحلي پلېټ فارم څخه یَو خواته په سمندر کې مخه وکړه – دې وخت په کشتۍ کې له ما څخه سېوا ۱۳ ښځې او سړي، چې دَ بېلابېلو هېوادونو سره یې اړه لرله هم ناست ؤ - لکه څنګه چې دَ دوئی په ما کار نه درلودلو، نو دغه رنګه ما هم دَ سمندر دَ څپو ننداره کولو سره سره دَ ډائرۍ په پاڼو څه داسې هم نوښته کولو ...

" دا منم چې دَ نړۍ ځینې هېوادونو خلګو له مونږ څخه دَ ژوند لوبه په هره معنا او هر ډګر کې ګټلې ده، خو ناشُوده دا، چې سمندرونه یې هم زمونږ تر یوازیني سمندر او سمندري ساحل له اوبو صفا، شنه او مست دي – بد بوی هم نه ورڅخه ولاړېږي لکه زمونږ دَ کراچې سره په څنډه موجود سمندر څخه چې راځي ... چرته زمونږ او دَ دوئی دَ سمندري مخلوقاتو تر منځه خو هم ..."

دا فقره مې ګوره چې څله مخته پوره نه کړه - ډائرۍ مې بنده کړه او دَ مایوسۍ دَ دې احساس غم غلطولو دپاره مې سګریټ ته تیلۍ بله کړه .. بیا مې تر ډېره پورې دَ خلې څخه دَ لوګیانو سبینې لوخړکې وتلې .. زما خیال دا ؤ، چې دا سمندري مزل به تر ډېره پورې وي - خو هغه وخت زه ډېر حریان شوم، چې فېري په پاؤ بالا لس بجې خواته دَ یَو تګې شنې جزیرې ( ټاپو ) " توُري بیچ " په صفا او غرئیزه غړه باندې وَدرېدو او ژغ وَشو ...

" مونږ خپل منزل ته وَرسېدو "

چې دَ کشتۍ څخه وَ بلې وړې کشتۍ ته ورکښته شولو، نو زړه ته مې دا خبره راغله، چې چرته دا ساحلي برخه چې دَ " توُري بیچ " په نامه پېژندل کېږي - دَ سنګاپور دَ ښار سره نښتې جزیره خو نه ده؟ بیا مې خپله وئیل، چې یَه که داسې خبره واي، نو په فېري کې به یې څله دلته راوړلو –

دَ " ګرې لائن " سور سپین ستګر دَ قمیص په جېب برسېره رانښتی دَ انډونیشیا دَ ایمیګرېشن بُوت څخه دَ ګائیډ په مرسته مخته تېرېدو سم دستي دَ نورو ملګرو سره په سپین " بیمو " ګوامني بس کې کښېنستم او دا بیمو مخته روان

ketabton.com - The Digital Library

شو – مور لا خو په سیټونو کې سم کښېنستې نه ؤ، چې مني بس څه نیم درځن هټونو، چې شاوخوا وربانديې ورو کې دېوالونه راجاروتې ؤ څخه مخ ته وَدرېدو - دې هټونو دَ شنو ګڼو ونو او چمنیانو په منځ کې کټ مټ دَ زیارت، چوتېر یا مري دَ یَو کلې نندارہ وراندې کوله - که مخامخ یې روډ په هغه بله څۍ باندې دَ لرګي له درو او بانسونو څخه جوړ واړه واړه هټونه نه ښکاره کېدلی ...نو ما به یقیناً دا ګڼلی وی، چې په دې زرغون ټاپو باندې دې وخت له مور څخه پرته، که نور ژوندي سرې شته، نو هغه به ځناورن وي – هو، که څه هم داسې خبره نه وه، ولې چې مور دَ اسلامي نړۍ ترټولو غټ هېواد انډونیشیا په ۱۷۵۸ ټاپوګانو کې دې وخت دَ " تورُي بیچ " په نامه پېژندل شوې زرغون ټاپو په مځکه باندې دَ زرګونو ټوؤرستانو او ښو ډېرو ځاي خلګو، سره دَ سېل په غرض مېښته ؤ – خبر، خپلو خپلو خونو ته تلو دَ مخه ګائیډ مور ته وئیل..

" په پنځلس منټو کې به دننه دننه تاسو ټول په دې پراخ چمني، ګوا غولې کې راغونډ یږئ ... ولې چې بیا به دباندې په سېل وَځو "

دَ ټوؤرستانو څخه ډک " بیموّ "، چې څنګه مخته روان شو، نو ګائیډ چې دَ ډرائیور سره په سیټ کې ناست ؤ، مخ را اړَولو ورسته وئیلو ...

" هېواد انډونیشیا چې په زرګونو ټاپوګانو باندې اره لري، کې کم او زیات ۱۹ کروړه انسانان مېښته دي – په کوم کې چې ۲۵ فیصده په بالي او جاوا کې اوسېږي ... مطلب، دلته داسې واړه ټاپوګان هم شته، چې انسانان یا خو نه شته وربانديې او یا بیا ببخې لږ دي - دغه ټاپو چې دې وخت یې مور دَ " تورُي " نامي سمندري غاړې ته روان یُو کې تر ځاي خلګو دَ نورو هېوادونو څخه راغلې سېلانیان زیات لیدل کېږي – چې یَو خو دلته لکه تاسو چې یې خپله خپل چاپېریال کې هم وینئ .. دَ قدرتي نندارو سره سره شنېزه زیاته ده او بل دې ټاپو ته دَ سنګاپور له خوا دَ بېلو بېلو هېوادونو دَ ټوؤرستانو راتګ آسانه او وړیا هم پربوځي "

ketabton.com - The Digital Library

دا خبره سرته رسَولو ورسته ګائیډ زموږ پام دَ روډ دواړو څنډو ته اړَولو په وخت وئیل ...

" تاسو ته به هم کېدی شي ، چې په لومړی کتنه کې دا ښکاره هټونه او وړې دَ لرګیانو او بانسونو جوړې ودانیانې دَ کلو کوُډلې ښکاره شوې وي ... مګر رښتیا خبره دا ده ، چې دا هر څه حکومت دَ ټوؤرسټانو دَ استوګنې دپاره په داسې ډیزائن ځکه جوړې کړې دي، چې دلته ټوؤرسټان دَ آرام سره سره ځانونه دَ ځنګل او دې ځنګلي کلې وال چاپېر برخه وګڼي - هم دغه وجه ده، چې دَ نورو ټاپوګانو په سر دا ټاپو ورځ په ورځ دَ نړی دَ توؤرسټانو پام دَ خپلو ښائیستونو او زړخوښیانو په لور اړَوي -

بیمو، چې یَو ځای دَ ښې لاس په خوا راګرځېدلو، نو په دې ګاډی کې ناستو ملګرو کې یَو ځوان دَ ګائیډ څخه دَ دې ټاپو دَ شپې دَ ژوند په حقله چې پوښتنه وکړه، نو ګائیډ دَ هغه په داسې پوښتنه یو وار وَموسېدو او بیا یې داسې وئیلو ته ملا وَتړله ..

"منم چې دلته دَ "بالي" په ډؤل دَ شپې ژوند تود نه دی ، خو بیا هم دَ ټوؤرسټانو دَ سېل او خوند اخیستلو دپاره لږ ډېر "بارونه" ، "اوپن ائیر ریسټورنټس ، سره دَ خواږه ژوند له احساسه پرته یوه ژواکې شو هم اهتمام کړې ده - دلته تر نیمې شپې پورې دَ ټوؤرسټانو دپاره خواږه وېښې - خو هر څه په یوه دائره کې –ولې چې دلته کلیوال ماحول دی..."

او بیا یې خبره مخته داسې کش کړه ..

" او دَ "بالي" په ټاپو کې مسلمانان دَ نه برابر دي ... ولې چې هلته ۹۲ فیصده هندوان اوسېږي – دا به هم وَ وایم، چې دَ بالي څخه پرته سماټرا ، جاوا ، کالي مانټېن، سلواسي او ایریان جایا نامي مشهوره ټاپوګان ، نه یوازې دَ زیاتې آبادی په سوب غټ دي.. بلکې کمرشل ښارونه او غټ بازارونه هم لري"

دَ ایریان جایا ټاپو په ذکر لا یَو وار زړه راته وئیل ... چې دَ ګائیډ څخه پوښتنه وکړم - ګوا چرته دا هغه ټاپو خو نه دی، چې تر اوسه وربانذې په ځینې ځنګلي

ketabton.com - The Digital Library

برخو کې زیاتره خلک ځناور وزمه دي او په غارو کې اوسېږي او جامې هم نه اغوندي او دَ دې ځای خلک ، که څه هغه ښځې دي او که نران په خپل خپل سر څو څو ودونه کوي – پرته له انساني غوښو خوړلو ، دا خلک دَ دُښمن سر په دې پرېکوي او ځان سره يې تېول عمر خوندي ساتي ، چې دَ هغوئ دَ عقيدې له کبله دَ دُښمن روح بيا دَ دوئي په واک کې دَ همېش دپاره ورځي - خو دَ دې معلوماتو کنفرمېشن مې دَ ګائيډ څخه ځکه نه وکړو ، چې ما وئيل.. چې چرته دَ ده دا خبره شکمنه نه شي، چې وئيلي يې ؤ ، چې...

" ګوندې دَ سهېلي لمرختيځې اېشيا په دې هېواد کې اسلام ببخي په لږه موده کې خور شوی دی"

لنډه دا ، چې څنګه مې دا سوچونه سرته رسَولو ، نو بيمو يعنې وېګن يا مني بس دَ توُري بيچ هغه ريسارټ ته وَرسېدو ، چې خلک ورباندې سترېيا وساکولو سره سم دَ قدرتي ننداروڅخه خوندونه هم اخلي – او دَ لرې لرې ځايونو څخه ورته راځي -

دَ سمندر دا زرغونه او غرئيزه غاړه ، چې په معنوي او فکري توګه ارومرو دَ پښتني ګودر په رنګه وه - دَ نورو سمندرونو دَ پراخو او هوارو غاړو څخه يَو دم سترګو ته بدله او خوندَوره ځکه ايسېدله، ولې چې دلته دَ سمندر له اوبو سره جوختې ۱۵۲ چيني او انډونيشين طرز وړې وړې ودانيانو چې دروازې او براندې يې دَ سمندر په خوا راخلاسېږي.. نه يوازې دَ ستائينې وَړ وې ، بلکې دَ ساحل ښائيست يې هم سېوا کړی ؤ - دَ ګائيډ له قوله ، دلته يوازې دَ NTUC کلب ممبران اوسېدو ته راځي او يا بيا دَ مينې په رښتو کې تړلې Couples ... هو، خبره وه هم دغه رنګه، ولې چې دَ هرې ودانۍ په برانډه کې يا دَ دغو ودانيانو مخته جوړ غټو سوئمنګ پولونو شاوخواته جوړه جوړه خلک ليدل کېدو - او بل .. که يوې خواته دَ غرو زرغونې څوکې په اوبو کې دننه او دباندې ډېرې ښائيسته ښکاره کېدې - نو په ژېړبخون او خواپاکې رېګ برسېره دَ شنو اوبو ښائيست ، هغو خلګو لا نور نور زيات کړی ؤ ، چې يَو بل خواته ګرځېدو او

ketabton.com - The Digital Library

یا په رنگینو ټوکرانو باندې پراته ؤ - ځای په ځای دَ لرگیانو او خاشو جوړ گېړدي سایه وانونه او دَ ځینو درختو لاندې په رسیانو هوډل شوې ځانگوگانو لا بېلې سترگو ته ښې ښکاره کېدې - هرڅه هرځه ، خو ما دا خبره هم وَسنجَوله، چې دَ نورو سمندري غاړو په ډؤل دلته نه چا په چا پسې منډې وهلې او نه څوک په مستیانو کې بوخت ؤ - دَ دې مطلب دا ؤ ، چې دلته خلک ستړیا وساکولو ته راځي او بس - او بیا رښتیا خبره دا وه، چې زما یوازېنی حېثیت تش ماته بد ایسېدو ، نه چې هاغه دَ تهائی لېښه په رنگه نورو خلگو .. په تېره انجونو ته ... ځکه خو مې جوړه جوړه خلگو ته دَ حسرت په نظر کتلو او دَ یکړۍ احساس راباندې غمېدلو - لاکن ها څه وائي ، چې ( بنده حریانه .. خدائی مهربانه ) گوا ، کله چې دَ اوبو څخه دَ یوه سایه وان په خوا را روان شوم ، نو زما له اړخه تېرېدونکې فېرنگۍ ژغ راباندې وکړو ...

" هېلو مسټر "

او ما چې ځواب وربیا کړو ، نو هغې ځان رانیږدې کړو او وئیل یې ...

" بخښنه غواړم ... هغسې هم دواړه دَ یوه سایه وان په لور روان یُو .. نو غواړم چې ستا سره څه خبرې وکړم "

"هو ، ولې نه ... ولې نه ... یقیناً "

او بیا مې سر تر پایه ورته وکتلو – دا سره سپینه ښځه، چې دَ سر په ژېړو وېښتو کې یې څه څه سپین وېښته هم راشنه شوي ؤ .. او په عمر تر ما غټه ښکاره کېدله ... خو بیا هم په ښکاره کړو وړو زړه خوشحالونکې او خوُی خصلت درنه مونېدله - گوره چې څه یې په زړه وره غلو ، چې په اوږو راټال دَ کڅوړې غوندې خړېخون پرس څخه یې یَو کتاب وزمه شئی راوَیستو او راته وائي ...

" البم دی ... یَو نظر یې وَگوره "

په تگ تگ کې چې مې څنگه هغه البم پرانستلو ، نو دا وائي ...

" په دې کې چې دَ کومو ماشومانو تصویرونه دي ... دا هغه څوک دي ، چې خپل مخه او شا ته هیڅوک نه لريّ

ketabton.com - The Digital Library

" ښه ښه لاکن ...
ما به لا خبره مخته کشوله چې هغې بیا وار لاس ته کړو ...
"دا ماشومان زموږ په فلائي ځانګه کې روزل کېږي "
" چرته او څنګه ؟"
ما پوښتنه وکړه ...
دې فرنګۍ په مخ را ایله وېښتان په لاس شاته واړول او سترګې یې په سترګو کې داسې راته واچولې ، لکه ما چې په خپل اصل مطلب پوهی کوي او بیا وائي ...
" دا ګوره ... ډېرو خلګو دَ خپل وَس په سمه ډونېشنز ( عطیې ) را کړي دي "
او بیا یې دَ چندې کاپۍ را مخته کړه ... خو ما بیا ورځخه پوښتنه وکړه ...
" تا زما دَ دې خبرې ځواب نه کړو را ، چې ته دَ کوم ځای څخه راغلې یې ؟"
دا چې اوس له ما سره په څنګ څنګ دَ بې سته ګرل فرېنډ غوندې را روانه وه ... دَ موسېدو ورسته وائي ...
" دَ هرې خبرې ځواب به درکوم .. راځه چې دلته دَ دې سایه وان دلاندې په چوکیانو کښېنو"
موږ دواړه دَ سایه وان دلاندې پرتو چوکیانو باندې کښېمستو – زه څه غوندې جګ کښېنستم، خو دا څه په خپلې اوږدې ساحلي چوکۍ باندې وَ غزېدله او راته وائي...
" زه دَ انګلېنډ څخه راغلې یم "
"انګلېنډ ... ؟"
داسې مې انګلېنډ په مزغو کې ځکه سوال شو ، چې ما خو دا اورېدلي ؤ ، چې انګلېنډ خو ، یَو فلائي مملکت دی او هلته دَ ملک هر غړی په حکمت تاوان وي - ګوا که څوک روزګار نه شي کولی یا یَو څوک دَ معزورۍ له سوبه بله سهارا نه لري .. نو حکومت وظیفه ورکوي - ځکه خو مې بیا په ډېر لغازي انداز ورته وَ وئیل ...

ketabton.com - The Digital Library

˝ پوهی نه شوم ... مطلب راته ښائیه ˝

˝ چنده ...˝

دې به لا مخته څه وئیل، چې وار مې دَ مخه کړو ...

˝ مطلب دې دَ ډالرانو څخه دی هان ؟ ˝

˝ هو... هو، یقیناً ˝

دې چې څنګه دا تورې له خلې په نره را وَیستلو، نو زما له خلې ورته وَتو ...

˝ مګر ˝

دَ مګر مخته مې خبره ځکه له خلې څخه نه راوَوتله، چې دَ ډالرانو هیلې یې په خوږې موسکا کې زما زړه ته منګولې راواچَولې ... ګوره، چې هپناټائز یې کړم که څه غم ؤ، چې دَ نه غوښتلو پرته هم زما لاس خپل جېب په خوا راتېول شو ...

او بیا مې ښه په یاد دي، چې کله یې ډالرونه زما دَ لاسه اخیستلو، نو په سترګو کې یې نورې نورې ناښکاره خبرې هم داسې په ښخینه هنر وکړې، چې دَ یَو څو لمحو دپاره زه له ځان ورک شانتې شوم - لنډه دا، چې اوس زه یوازې نه وم- ځکه خو مې پېښې په یَو ځای نه تم کېدې .... کله یَو خوا او کله بل خوا .. رک تر ماښامه پورې په دې سمندري غاړه ورسره ګنډلی ګرځېدم -

که یوازې وای نو دَ شپې دَ دې ځای ثقافتي شو به ما تر پنځه یا لس منټه زیاته نه وای کتلی – بس خو خبره دا وه، چې یوازې نه وم .. ځکه تر پایه مې وکتله - دَ انډونیشیا دَ خلګو دَ ژوند ژواک او په کلیوالو جامو کې دَ انجونو او ځوانانو رواجي رقصونه .. که څه هم ساړه ساړه غوندې ؤ، خو دَ سترګو وړاندې ښه ایسېدو ... او بیا چې دَ دې شو کتلو ورسته په بیمو ( مني بس ) کې ناست دَ هټونو په خوا راتلو، په لاره کې دا خبره مزغو ته راغله، چې دا سوشل ورکره چې نوم یې سارا ؤ .. چې نن سهار له سنګاپوره راتله، نو یوازې نه وه .. ولې چې په فېرې کې چپ له ما تېول جوړه جوړه ؤ – اوس څله راځرمه شوې ده؟ چرته ... هو، یَو دم ډؤل وسوسو په سر واخیستم – که به مې زړه ته هر څو تسلیانې ورکړې، خو دَ مزغو څخه مې یوه نابلده ویره نه وتله - ما نو څه کولی شو .. بله

ketabton.com - The Digital Library

چاره هم نه وه، ګوا زړه مې هغه وخت بيرته په ځای شو ، دَ رښتيا په مېدان مې خپلو ټولو واهمونو ته ماته ورکړه –

*****

دَ سهار ناری کولو ورسته دَ بيمو ( منې بس ) په ځای، ګائيډ دَ درو بګيانو ، چې دلته ورته ډوکرز وائي سره راغله- زمور دَ پوښتنو په ځواب که ده وَوئيل ...

" دَ دې ټاپو سبل نور نور خوندَور کولو دپاره ټوؤرنګ کمپنۍ دَ دې بګيانو انتظام کړی دی"

دا ډوکرز نامي بګيانې زمور دَ بګيانو په ډوَل ځکه نه وې، چې يَو خو يې اربې دَ ربړو وې او بل ورې هم – خو په اربو برسېره يې دَ لرګيانو جوړه باډۍ تياره خونه ښکاره کېده .. چې يَو آس يې مخته ترلی ؤ – ګوا څلور کسان په کې په کراره کښېنستی شو – دا بګيانې چې په ببلو لارو دَ دې زرغون ټاپو وَ يوه واړه کلې ته وَرسېدې، نو دَ دې کلي چاپېر راته عجيبه ځکه نه ايسېدو ، چې زياتره کورونه دَ لرګيانو او بانسونو څخه داسې جوړ شوې ؤ ، لکه زمور دَ کلو کوُډلې – او هرې کوُدلې مخته چرګان ، هېليانې، بُوزې او مېژې ګرځېدلې – بس که زمور او دَ دوئی په منځ کې څه توپير ؤ ، نو هغه دَ جامو ؤ.. او بس - ولې چې نزان او ښځې يې زياتره په لنډ غوندې لنګونو کې ښکاره کېدو – دَ نرانو قميصونه سپين يا ژيړ ؤاو دَ ښځو زياتره شنه او ګلداره ... بل که دَ نرانو خوليانې په سر وې ، نو ښځو يې دُسمالونه په سرونو پېچلې ؤ - سارا ، چې دې وخت زما له څنګه ناسته وه .. تر ډېره پورې پټه خله دَ خپل چاپېر ننداري کوله – او ما هم کار ځکه نه پرې لرلو ، ولې چې په ډائرۍ کې مې دَ دې کلي خاص خاص خبرې نوښته کولې – زه لا په ډائرۍ ليکلو اخته وم، چې دَ سارا په زړه کې دَ ډالرو لالچ سر راپورته کړو او مخامخ ناست سپين سرې فېرنګې ته ګډه شوه – ګوا هغه پرونۍ برغزو يې ورته کوله – خو عجبه دا ، چې دَ قابو کولو دامونه يې هم هغسې ؤ.. په کومو چې يې زه تر دې دمه اسير کړی وم – يَو وخت داسې هم راغلو ، چې دَ دې په دام کښېوتې سپين سرې فېرنګې دَ ما څخه دَ چوکۍ بدلولو خواست وکړو او بيا دغه بابک

ketabton.com - The Digital Library

چې زما په خالي چوکې باندې له سارا سره اوږه په اوږه کښېنستو ، نو که څه هم دواړه پلار او لوُر ښکاره کېدو – خو دَ ساراحرکتونو او دَ سارا دلچسپیانو داسې ځرګندَولو ، لکه جوړه چې دَ مودو مودو ترې سره یَو ځای شوي وي – او بیا چې بابک له خپلې بتهوې څخه ډالران ورته وایستلو ، نو دَ سارا څېره او سترګې دَ کتو وَړ وې – ولې چې دَ تازه ګل غوندې غوړېدله– زما دغه شک آخیر په یقین هغه وخت بدل شو ، چې دَ ماځېښین خواته یې موږ دَ سمندر په هغه غاړه ، له چرته څخه چې به په فېري کې سنګاپور ته تلو .. بیرته کښته کولو ... نو زما دَ مخه هغه تازه جوړ Couple لاس په لاس کښته شو – ما لا دَ سارا توجه دَ ځان په خوا را اړَولو دَ پاره تر لاسه وَ نیوله، خو دې لاس کش کړو او په موسکا یې آخر هم راته وَوئیل ...

" ما او تا ښه وخت تېر کړو .. خوشحاله اوسه "

دلته دَ غرمې دودۍ خوړَلو ورسته، چې په فېري کې دَ سنګاپور په خوا روان شولو ، نو دَ خپل پخواني یار جان هوګر .. هغه وینا ، چې ده تېر کال په نیګامبو کې راته کړې وه .. زما زړه وَ منله ، ګوا ...

" انګرېزه ښځه وفا نه کوي .. تش دوستي کوي او هغه هم دَ ډالرانو دَ ورښوَلو دپاره "

دَ ۳مې جنورۍ ۱۹۹۵ع شپه مې په هغه پخواني لکي ګیسټ هاؤس سنګاپور کې په خواږه خوب تېره کړه او په دې دویمه ورځ بیا زه وم او دَ مونکي ګاډ جنت روډونه او دنګې دنګې شاپنګ پلازې .. چې په کې په ګرځېدو او لیدو کتو مې دَ ستړیا احساس لا هم مزغو ته نه راغلو - دَ لوي سکاټس روډ ، فار ایسټ پلازه او سکاټس شاپنګ سېنټر ، چې څو اړخېزه دلچسپیانې یې درلودلې .. تر پښو ایستلو ورسته ماځېښین خواته دَ دې ښار دَ سمندر وَ هغې ښائیسته غاړې ته وره غلم ، له کومه ځایه چې لانچونه او کېبل کارونه تر سېنټوزا سېل ځای ته ځي راځي - هلته دننه دې سېنټوزا ته ځکه نه وره غلم، چې درې کاله پخوا لا ورته وره غلی وم – دَ ګرځېدو او کتو راکتو جنون مې دې ځای ته رسېدلی وم. چې

ketabton.com - The Digital Library

ماښُستن زه دَ چائینا ټاؤن دَ ښکلاګانو او رنګارنګ رڼاګانو څخه په ټېکسي کې دَ خپل ګیسټ هاؤس سره جوخت آرچرد روډ کې تېرېدم، نو دَ فېشن شو بورد په لیدو دَ تیکسي څخه کوُز شوم او نېغ دَ ماندرین هوټل په دې فېشن شو هال کې ورننوتم – ټکټ په لاس کې دَ انګریزي U په طرز جوړ ښائیسته او جل بل ستېج په خوا مې مخه وکړه – دَ دوکانچې شاوخوا په کرسیانو کې خورا ډېر نران او سړي ناست ؤ او هغو ښائیسته سنګاپورین حُورو ته یې کتلو، چې په عجیبه او سترګې خوشحالونکو جامو کې یې دَ خپل ښائیست او دَ بدن ښودنې کولې - دا مېله زما دپاره نوې په دې وه ، چې مخکې مې داسې شو نه وه لیدلې – چې څنګه له ماډل له پړدې څخه راښکاره شوه ، نو شاوخوا ناستو خلګو به ورباندې دَ کېمرو سپینې رناګانې دَ برېښنا غوندې غورځولې – او ما خپله کېمره ځکه نه را ایستله، چې زما کېمره دَ خلګو دَ غټو او قیمتي کېمرو دَ مخه هیڅ وه – تر دېره پورې په ښکلو څېرو سترګې خوړولو ورسته خوبَولی خوبَولی دَ ګیسټ هاؤس په خو روان شوم –

*****

دوې ورځې او شپې نورې دلته تېرَولو ورسته، په شپږمه جنورۍ ۱۹۹۵ع دَ ماښپښین دوې بجې په جهاز کې کښېنستم او بیرته په هغه پخواني لور ورغبرګ شوم - خوشحاله ځکه وم، چې دَ تهائیانو دَ "کرانګ تهیپ" یعنې دَ حوُرو ښار ته روان وم - او تر لسم تاریخه پورې دَ هغه هېواد دَ ساحلونو څخه دَ خوند او مزې اخیستلو دپاره خورا ډېرې ورځې شپې راسره وې - او داسې مې سنجولو لکه زه چې به ډېر زیات وخت دَ ساحلونو په ژېړ رېګ باندې په سن باتهونو کولو کې تېرَوم او هغه ملګری ، چې په هره معنا یې ماسره صفا او پاکه دوستي کړې وه سره بلا ډېرې خبرې هم کوم او دې ځل به ور څخه دَ هغې دَ ژوند څه ناپېښې هم اورم، چې ماته نور نور دَ دې خلګو دَ روئیو او فطري خاصو او خامیانو اندازه وَلګېږي -

ketabton.com - The Digital Library

خو ، دَ خدائی لکه چې نه وه خوښه - له بنګاک څخه یَو ، ځل بیا چې څنګه پټایا ته وَرسېدم، نو په خپلو هغو زړو لارو ور چپ شوم، چې ما ورباندې دَ خپل ښه بخت له رُویه فرښته موندلې وه ... هو ، دَ یَو داسې دوست په حېث ، چې ما یې په حقله په ډائرۍ کې خورا صفتونه کړی دی او دا مې څرګندَولو هڅه هم کړې ده... چې په مردارو او سخنو ډم اوبو کې هم دَ نرګس دَ ګل په شان ښائیسته ګلونه دَ ژوند دَ زلفو زینت جوړېدلی شي– هم ځکه خو مې یَو بار .. بل بار او دغه رنګه هر هغه ځای وَ لټولو ، چې دا دَ نرګس ګل په کې خپل رنګونه وښنلي ؤ – خو هیچرته چې مې هم نه کړه پېدا ، نو مې دَ هغې تر خوندَکۍ Yah پورې ځان وَ رسَولو- او په ساهکېدلې انداز کې مې ورڅخه پوښتنه وکړه ...

" یوپا چرته ده ... ؟زه یې نن شپه په لټون پسې ستړی شوم "

دَ یوپا دې خوندکۍ په موسکا او په ډېر ویاړ ځواب راکړو ، چې ستا دَ تک په دویمه شپه هغې دَ یَو جرمن چې دې ورته ایلامني وئیلو ... ځوان سره دوستي وکړه – مخته بیا ما له Yah څخه پوښتنه په دې نه وکړه، چې آخر پښتون وم ... خپله لاره مې په مات زړه مخ مخته له دې سوچ سره وهل شروع کړه ...

"څه چې خدائی کوي ... ښه کوي "

او بیا دا پاته نورې ورځې شپې څنګه تېرې شوې ؟ دا دَ یَو داسې سوال ؤ ، چې هر شپه به یې دَ محرمیانو په غېږ کې ساتلم او هر سهار به یې زه دَ نوؤ هیلو سره ملګری دَ یو نامعلومه سمت په لور ګامونه اوچتَولو ته پارَولم - او هم دغسې له ما سره اکثره کېږي او زه نه یم خبر ، چې دا زه څه لټوم؟ .. دا خبره کېدی شي ، چې زما تر مرګه پورې سر ته وَنه رسېږي ... خو تر خپل وَسه پورې لګیا یم ، چې دَ روح تنده څه نا څه ماته کړم ... هو ، که څه هم رښتیا خبره دا ده ، چې سرابونو غولولی مسافر یم ... او مسلسل غولېږم .... لکه زما دا نظم

"سرابونو غولوَلی مسافر"

څوک چې ستا تپوس له ما وَکړي لالیه !

زه دَ سوچ په توُنده اسپه باندې کښېنم

ketabton.com - The Digital Library

او ګودر ګودر دَ ژوند وَلټومه
خو هیچرته چې تا نه وَوینم ، راشم
او خولې دَ تندي وچې په دُسمال کړم
بیا څوکه غوندې په ماتو ګوډو تورو
وَ هغه سړي ته زه داسې ګویان شم
" ما په سترګو دَ څېرې نه ده لیدلې
ها جنۍ چې زه یې تل خبرې اورم
دَ دفتر دَ ټېلي فون په رسیور کې"
نو زما په دې ځواب هغه مُوسکی شي
خُله کږه کړي او پسخوند کې راته وائي ....
" شوقه یاره ! واقعي چې ته شاعر یې
سرابونو غولوَلی مسافر یې "
(شوق/ بنکاک څخه دَ کراچۍ په لور په هوائي سفر کې / ۱۹۹۵ع )

---

دَ سبلانی په څیر--- خپل ځاني سفري تاثر---

"یَو داسې سوال ، چې زه یې ځواب ته رسول غواړم... هغه شاید چې ما دَ ژوند تر ورستۍ لمحې پورې وَکړوي راوکړوي ، ځکه چې زه خوبونه رښتیا کول غواړم... هغه خوبونه چې زه یې په ویښو سترګو وینم ... هو ، دَ یَو داسې انسان... ښکلې انسان خوبونه ، چې زه یې دَ رحمان دَ اشرفیت او افضلیت په دعوې کې اغیزل شوې هغه هنداره کې دَ لیدلو متمني یم ، چې ابلیس ته ځکه په ویاړ ښودل شوی وه ، چې هغه یانې دغه لعین ابلیس په کې خپل ځان دَ شېطان په بڼه نه یوازې وَ ویني بلکې خپل ځان دَ دغه اشرف المخلوقات په مقابله کې وړوکی هم وَ سنجوي - هو .. دَ دې غښتلي انسان په زد ، چې نن دَ خپلو ځناوري روئیو په سوب په هر مېدان کې دَ شېطان وَ لمسیانو ته نه یوازې ماته ورکوي ، بلکې په غېر ارادي توګه غواړي هم ، چې اوس ابلیس ورته دَ خپل شېطاني فطرت په

ketabton.com - The Digital Library

سمون جوړه هغه هنداره ښکاره کړي ... چې په کې هره ښکاره کېدونکې څېره ښکرَوره برېښي " ـــــــــ ( افضل شوق )

*****

"ما چې کله او چرته هم دَ ځان پېژندګلوي دَ خپل هېواد په نامه کړې ده ،نو ماته دَ کرکې به نظر کتل شوې دي ... بیا که مې هر څو ځان ورته سپینولو دباره دَ پستو او ښائیستو خبرو څخه کار اخیستی دی – لاکن دَ انسان په څیر منل شوی نه یم – ولې چې تر ما دَ مخه زما اکثره هېوادوالوپه دباندې نړۍ کې د ع خپل کردار څنګه څنګه ښودنې کړې دي .. هغه ، که څه هم دَ هغوئی په وختي ګټه ، خو دَ قام او هېواد په تاوان تمامې شوې دي - نو ځکه چې اوس له ما څخه هم څوکم پوښتنه کوي .. نو زه بیرته په هاغه کس باندې خبره پرېږدم ،" ګوا وایه ! ستا په خیال زه څوک او دَ کوم هېواد غړی کېدلی شم؟ " مخته بیا دَ ده خوښه ، ما څوک او څه ګڼي ؟ " ـــــــــ ( افضل شوق )

*****

" هر څو که زه له خپلې پښتني سیمې څخه زړه ماتی وتی یا تښتېدلی یم ... نو زه بې پښتو شوی ځکه نه یم ، چې دَ پښتني خمیر درلودلو له سوبه مې نه یوازې دَ یَو سیال پښتون په حېث دَ هر مثبت نړئیز او آفاقي ژوند څخه ساهګانې مستعار کولو له هڅې سره سره دَ مینې ، سوکالۍ انساني روئیې او سوچونه خپلولو هلې ځلې هم کړي دی او بیا مې په خپل ذات کې رانغاړل شوې دې هر اړخیزه کلیوال او غرئیز پښتون ته په فکري توګه نه یوازې سوال کړي دي ، بلکې دغه سوال مې دَ هغوئ دَ سترګو دَ خلاسَولو له یوازینې ځواب سره په دې منطقي دلیل ځواب کړي هم ځکه دي ، چې زما دَ دغې بې سواده او ساده ... لاکن همتګري پښتون قام دَ بقاء ژوند تش او تش دَ نړۍ په سر له آفاقي ادراکي شعور خپلولوسره سم دَ وخت له ستنو سره په عقلي ځغل کې دی --- نه چې دَ هغوئ دَ متهو په زور کې " ـــــــــ ( افضل شوق )

*****

ketabton.com - The Digital Library

" ژوند "

بند کړه کتاب... که معنا غواړې دَ ژوند
په توکل سفر ته ملا وَ تړه
شه مخامخ دَ موسمونو سره
کائينات وَ څېړه په خپلو سترګو
او په رنګونو کې ځان وَرنګوه
بيا مې يقين دی ، چې دَ غرو لمنې
ساحل ، ګودر او دَ اوبو شنې چينې
غټې ، وړې او زرغونې جزيرې
سوئمنګ پوُلونه ، او پارکونه به ستا
دا مضطربه رُوح کړي تږی دومره
چې دي دَ وَچ حلق تر دُرشله زړګی
داسې په منډه ، په ټوپونو راشي
لکه ژوندون چې وي فقط يو تنده
او ته دَ تږو آرزوګانو کاروان
چې مزلونه لنډوَي همېشه
خو ، تر مرامه نه رسېږې کله
(شوق / دَ کراچۍ څخه دَ کوئټې په لور په سفر کې / ۱۹۹۴ع)

---

اختتام

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*